وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ (الآیۃ)

۳

# زاد الخطباء

بیانات

## مولانا اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب و تخریج

## مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب

فاضل دار العلوم کراچی

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبۃ الہاشمیہ



واٹس ایپ گروپ
کفایت دینی کتب خانہ
کفایت اللہ ابن صدیق
ٹیلی گرام واٹس نمبر
+923247442395
+923052488551
کفایت pdf واٹس ایپ ٹیلی
گرام چینل دینی کتب خانہ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# زاد الخطباء

## (بیانات)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

جلد: (۲)

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

## د طباعت او کتابت حقوق محفوظ دي:

- د کتاب نوم:......................زادالخطباء
- بیانات:......................مولانا اطیع الله صاحب
- ترتیب وتخریج:......................حافظ کلیم الله صاحب
- نظر ثاني:......مولوی عبدالشکور صاحب او حافظ عبدالصمد صاحب
- کمپوز:......................شبیر احمد "متعلم درجه اُولیٰ"
- تعداد:......................۱۱۰۰
- ضخامت:......................۶۲۰
- سنه طباعت:......................۱۴۳۹ھ
- ناشر:......................مکتبه سلطانیه الهاشمیه

---

### د ملاوېدو ځایونه:

۱. مکتبه عمریه:...................... اباسین روډ چمن
۲. اسلامي کتب خانه:......................تاج میر خان روډ چمن
۳. شکیوال کتب خانه:......................سپین بولدک
۴. مکتبه غفاریه:...................... ارګ بازار قندهار
۵. جامع مسجد حاجي عبدالودود:......................چمن
۶. سعادت کتب خانه:......................عبدالرحمن کهول روډ چمن
۷. حمیدیه کتب خانه:......................نیازي مارکیټ کچلاګ

# تقریظ

استاد المفسرین و المحدثین محدث العصر، نمونه اسلاف، جامع المعقول والمنقول، شیخ الحدیث حضرت مولانا **نظر محمد** صاحب افغاني

دامت برکاتهم العالیه

لله الحمد رب السموات والارض رب العالمین.

والصلوة والسلام علی قائد الغر المحجلین محمد و علی آله و صحبه دعاة الحق وهداة الدین.

اما بعد: قد طالعت نبذًا یسیرًا من زاد الخطباء لاخینا في الله المولوي اطیع الله فکما قیل ان الثمرة تنبئ عن الشجرة والانموذج یخبر عن البیدر وجدته قد لخص فیه من مهمات الدعوة وضوابط الابلاغ مع ان قضیة الدعوة لها اهمیة کبیرة في نفسها فجزاه الله تعالی خیرًا و جعل مُصنفه نافع للخطباء وسائر من اراد. (آمـــین)

وانا عبد الفقیر الی الله خادم الاحادیث النبویة.

# تقریظ

استاد المفسرین والمحدثین فقیه العصر قدوة العلماء شیخ الحدیث حضرت مولانا

**عبد السلام صاحب دامت برکاتهم العالیه**

باني جامعه دارالعلوم حمدیه چمن

الحمد لله الواحد الرحمن، والصلوة والسلام علی سید الانام، وعلی اصحابه الذین قلعوا اثار الاصنام، وعلی التابعین الذین اجتهدوا في القرآن، لاسیما علی امام الهمام الذی اوسع طریقة الاسلام، سیدنا الامام ابو حنیفة النعمان.

وبعد حمدا وثناء خدای پاک لره وایم چي په هر وقت او په هره زمانه کي یې حقاني علماء او حق پرسته خادمان د اسلام پیدا کړي دي.

لکه: جناب محترم خادم الاسلام حق بین و حق شناس حضرت مولانا الحاج جامع العلوم کا الشمس بین النجوم مولوي اطیع الله صاحب چي زاد الخطباء یې دپاره د اصلاح د عقائدو د مسلمانانو په خلاصه او مختصرو عباراتو تصنیف کړی دئ او دلائل حقه د قرآن حکیم او احادیث نبویه ﷺ یې په لنډو عباراتو او په ښه توګه بیان کړي دي.

الله ﷻ دي د دې کتاب نفعه او برکت و ټولو مسلمانانو ته ورسوي او د مؤلف سعی دي په قبول حسن سره قبوله کي او د آئنده دپاره دي الله ﷻ دغسي نورو خدمتو توفیق ورپه نصیب کي آمین.

(مولوي عبد السلام القندهار مسکنه الاصلي والشمن مسکنه الفعلي)

## د عنوانانو اجمالي فهرست


| شماره | | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱. | د لمانځه فضیلت: | ۲۹ |
| ۲. | په لمانځه کې خشوع کول: | ۵۵ |
| ۳. | د لمانځه کوتاهیاني: | ۷۹ |
| ۴. | د حرامې نفقې څخه ځان ساتل: | ۱۰۳ |
| ۵. | د حرامې نفقې بله طریقه: | ۱۲۵ |
| ٦. | د حلالې خوړکې اثرات: | ۱۴۷ |
| ۷. | د نظر حفاظت کول: | ۱۷۵ |
| ۸. | د بدنظرۍ حقیقت: | ۱۹۹ |
| ۹. | د ژبې حفاظت کول: | ۲۲۵ |
| ۱۰. | غصه قابو کول: | ۲۴۹ |
| ۱۱. | خپل مرګ یاد ساتل: | ۲۷۷ |
| ۱۲. | د الله تعالی یاد ساتل: | ۳۰۱ |
| ۱۳. | احسان د الله دپاره کول: | ۳۲۷ |
| ۱۴. | د بل بدسلوک هیرول: | ۳۵۱ |
| ۱۵. | اخلاص کول: | ۳۷۷ |
| ۱٦. | د علماؤ توهین نه کول: | ۴۰۳ |
| ۱۷. | قرآن د ژندګۍ دستور دی: | ۴۲۳ |
| ۱۸. | تواضع او عاجزي کول: | ۴۴۷ |
| ۱۹. | د اسلام د ارکانو فلسفه: | ۴۷۱ |
| ۲۰. | بیماري او پریشاني یو نعمت دی: | ۴۹۳ |
| ۲۱. | د دنیا د محبت علاج: | ۵۱۷ |
| ۲۲. | د اسلام محافظین: | ۵۴۱ |
| ۲۳. | د مور او پلار خدمت: | ۵٦۷ |
| ۲۴. | د اولاد اصلاح او تربیت: | ۵۹۵ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه: ........................ | ۲۶ |
| | ﴿د لمانځه فضیلت﴾ | |
| ۲. | تمهید: ........................ | ۳۱ |
| ۳. | اته(۸) خبري: ........................ | ۳۲ |
| ۴. | په لمانځه کي د زړه حفاظت کول: ........................ | ۳۳ |
| ۵. | لمونځ د ټولو عباداتو مجموعه ده: ........................ | ۳۴ |
| ۶. | په لمانځه کي د روژې شان: ........................ | ۳۴ |
| ۷. | په لمانځه کي د زکوٰة شان: ........................ | ۳۴ |
| ۸. | په لمانځه کي د حج شان: ........................ | ۳۵ |
| ۹. | په لمانځه کي د اعتکاف شان: ........................ | ۳۵ |
| ۱۰. | په لمانځه کي د قرباني شان: ........................ | ۳۶ |
| ۱۱. | په لمانځه کي د عباداتو ټول اقسام موجود دي: ........................ | ۳۷ |
| ۱۲. | په لمانځه کي د ذکر شان: ........................ | ۳۷ |
| ۱۳. | په لمانځه کي د نورو مخلوقاتو عبادت: ........................ | ۳۸ |
| ۱۴. | د لمانځه قائم کول: ........................ | ۳۸ |
| ۱۵. | د حضرت عمر ﷺ فرمان: ........................ | ۳۹ |
| ۱۶. | د لمانځه د څلورو (۴) ارکانو دُرستګي: ........................ | ۴۰ |
| ۱۷. | زموږ د لمانځه کیفیت: ........................ | ۴۰ |
| ۱۸. | په لمانځه کي د وسوسو علاج: ........................ | ۴۱ |
| ۱۹. | په لمانځه کي د وسوسو ختم کولو طریقې: ........................ | ۴۲ |
| ۲۰. | اوله طریقه: ........................ | ۴۲ |
| ۲۱. | دوهمه طریقه: ........................ | ۴۳ |
| ۲۲. | دریمه طریقه: ........................ | ۴۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳. | څلورمه طریقه: | ۴۳ |
| ۲۴. | پنځمه طریقه: | ۴۴ |
| ۲۵. | شپږمه طریقه: | ۴۴ |
| ۲۶. | د دې طریقو مشق کول: | ۴۵ |
| ۲۷. | په لمانځه کې پنځه انعامات: | ۴۵ |
| ۲۸. | اول انعام: | ۴۵ |
| ۲۹. | دوهم انعام: | ۴۶ |
| ۳۰. | د آخرت په منازلو کې د قبر منزل سخت دی: | ۴۷ |
| ۳۱. | دریم انعام: | ۴۸ |
| ۳۲. | د قیامت د ورځې حالات: | ۴۸ |
| ۳۳. | سعادت، او شقاوت: | ۵۱ |
| ۳۴. | څلورم انعام: | ۵۲ |
| ۳۵. | پنځم انعام: | ۵۳ |
| ۳۶. | خلاصه: | ۵۳ |
| | ﴿په لمانځه کې خشوع کول﴾ | |
| ۳۷. | تمهید: | ۵۷ |
| ۳۸. | د خشوع حاصلولو طریقه: | ۵۸ |
| ۳۹. | د وسوسو راتللو بیان: | ۵۸ |
| ۴۰. | د لمانځه مقدمات او تمهیدات: | ۵۹ |
| ۴۱. | اوله مقدمه طهارت دی: | ۵۹ |
| ۴۲. | د طهارت ابتداء: | ۶۰ |
| ۴۳. | د لمانځه دویمه مقدمه اودس دی: | ۶۱ |
| ۴۴. | د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه کرامت: | ۶۱ |
| ۴۵. | په اودس کې مسنون دعاگانې: | ۶۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۶. | دریمه مقدمه "تحیة الوضوء، و المسجد": | ۶۴ |
| ۴۷. | "تحیة المسجد" څه وخت کول: | ۶۵ |
| ۴۸. | څلورمه مقدمه قبلیه سنتونه: | ۶۵ |
| ۴۹. | د څلورو (۴) مقدماتو څخه وروسته خشوع حاصلېدل: | ۶۶ |
| ۵۰. | د وسوسو او فکرو پرواه نه کول: | ۶۶ |
| ۵۱. | د لمانځه څخه وروسته کلمات: | ۶۷ |
| ۵۲. | د لمونځ کونکو درجات: | ۶۸ |
| ۵۳. | (۱) متهاون في الصلوة: | ۶۸ |
| ۵۴. | (۲) معاقب في الصلوة: | ۶۸ |
| ۵۵. | (۳) معفو عنه: | ۶۹ |
| ۵۶. | (۴) خاشعین في الصلوة: | ۶۹ |
| ۵۷. | د خاشعینو د لمانځه واقعه: | ۶۹ |
| ۵۸. | (۵) مقربین: | ۷۱ |
| ۵۹. | د حضرت عثمان رضي الله عنه د لمانځه کیفیت: | ۷۱ |
| ۶۰. | د حضرت عبد الله رضي الله عنه د لمانځه اهتمام: | ۷۲ |
| ۶۱. | د لمانځه برکت: | ۷۲ |
| ۶۲. | د حضرت انس رضي الله عنه د لمانځه په ذریعه غوښتنه: | ۷۲ |
| ۶۳. | د خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها واقعه: | ۷۳ |
| ۶۴. | د خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها عزت: | ۷۷ |
| | **﴿د لمانځه کوتاهیانې﴾** | |
| ۶۵. | د لمانځه اهمیت: | ۸۱ |
| ۶۶. | د سهار لمونځ اول آدم علیه السلام کړی دی: | ۸۲ |
| ۶۷. | د ماپښین د لمانځه فرضیت: | ۸۴ |
| ۶۸. | د مازیګر د لمانځه فرضیت: | ۸۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۹. | د ماښام د لمانځه فرضيت: | ۸۶ |
| ۷۰. | د ماخستن د لمانځه فرضيت: | ۸۷ |
| ۷۱. | بدترين غل: | ۸۹ |
| ۷۲. | د لمانځه کوتاهياني: | ۹۰ |
| ۷۳. | په قومه او جلسه کې درې(۳) درجې: | ۹۱ |
| ۷۴. | د قومې او جلسې فرض درجه: | ۹۲ |
| ۷۵. | په لمانځه کې د تلوارې نتيجه: | ۹۳ |
| ۷۶. | د قومې او جلسې واجب درجه: | ۹۳ |
| ۷۷. | په لمانځه کې د تلوارې کولو انجام: | ۹۴ |
| ۷۸. | د لمانځه په سکون سره د ادا کولو ترغيب: | ۹۵ |
| ۷۹. | د قومې او جلسې مسنونه طريقه: | ۹۷ |
| ۸۰. | د لمانځه پر تقصير باندې وعيدونه: | ۹۷ |
| ۸۱. | د لمانځه په ذريعه د الله تعالی سره تعلق: | ۹۹ |
| ۸۲. | د يو بل صحابي واقعه: | ۱۰۰ |
| | **﴿د حرامې نفقې څخه ځان ساتل﴾** | |
| ۸۳. | تمهيد: | ۱۰۵ |
| ۸۴. | دوهم نصيحت د حلق حفاظت: | ۱۰۶ |
| ۸۵. | خپل حلق د حرامې کولې څخه ساتل: | ۱۰۷ |
| ۸۶. | د حرامې نفقې په وجه دعا نه قبلېدل: | ۱۰۷ |
| ۸۷. | د درو(۳) کسانو دعا قبلېدل: | ۱۰۸ |
| ۸۸. | د حرامې نفقې سره عبادت نه قبلیږي: | ۱۰۸ |
| ۸۹. | د "مستجاب الدعوات" جوړېدلو طريقه: | ۱۰۹ |
| ۹۰. | د شيطان بې فکره کيدل: | ۱۱۰ |
| ۹۱. | د حرامې نفقې مختلف صورتونه: | ۱۱۰ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۹۲. | یو بیرونکی حدیث: | ۱۱۱ |
| ۹۳. | د حرامو څخه ځان ساتل فرض دي: | ۱۱۲ |
| ۹۴. | یو عبرت ناکه واقعه: | ۱۱۲ |
| ۹۵. | حرام خوړل خطرناکه دي: | ۱۱۵ |
| ۹۶. | د "حقوق العباد" اهمیت: | ۱۱۶ |
| ۹۷. | مسلمان ته تکلیف رسول: | ۱۱۷ |
| ۹۸. | د مسلمان عزت او عظمت: | ۱۱۷ |
| ۹۹. | په امانت کي د خیانت کولو سزا: | ۱۱۸ |
| ۱۰۰. | د زکندن پر وخت کلمه نه نصیب کیدل: | ۱۲۲ |
| ۱۰۱. | د یوې نیکۍ قدر او قیمت: | ۱۲۳ |
| | **﴿د حرامي نفقې بله طریقه﴾** | |
| ۱۰۲. | تمهید: | ۱۲۷ |
| ۱۰۳. | د آیاتو ترجمه: | ۱۲۹ |
| ۱۰۴. | د حضرت شعیب علیه السلام د قوم هلاکت: | [illegible] |
| ۱۰۵. | د حضرت شعیب علیه السلام پر قوم عذاب: | ۱۳۱ |
| ۱۰۶. | دجهنم سکروټي: | ۱۳۲ |
| ۱۰۷. | مزدور ته مزدوري پوره نه ورکول: | ۱۳۳ |
| ۱۰۸. | مزدور ته مزدوري فوراً ورکول: | ۱۳۳ |
| ۱۰۹. | مزدور ته مناسبه خوړکه ورکول: | ۱۳۴ |
| ۱۱۰. | ملازمت او نوکرۍ ته پوره وخت ورکول: | ۱۳۵ |
| ۱۱۱. | د "دارالعلوم دیوبند" استاذان: | ۱۳۵ |
| ۱۱۲. | ملاوټ او ګډودي کول "تطفیف" دی: | ۱۳۷ |
| ۱۱۳. | د "توک فروش" ملاوټ کول: | ۱۳۷ |
| ۱۱۴. | د خریدارو مخته وضاحت کول: | ۱۳۸ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۵ | د سامان عيب ښکاره کول: | ۱۳۸ |
| ۱۱۶ | مسلمان ته دوکه ورکول: | ۱۳۹ |
| ۱۱۷ | د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه ديانتداري: | ۱۴۰ |
| ۱۱۸ | نن سبا زمونږ حالت: | ۱۴۱ |
| ۱۱۹ | د حرامي نفقې په وجه د آس نافرماني: | ۱۴۱ |
| ۱۲۰ | عجيب بائع او عجيب مشتري: | ۱۴۳ |
| ۱۲۱ | د محمد المنکدر رحمة الله عليه د کمال احتياط: | ۱۴۴ |
| ۱۲۲ | د واثله ابن الاسقع رحمة الله عليه د يو مسلمان سره خير خواهي: | ۱۴۵ |
| | **(د حلالي خوراک اثرات)** | |
| ۱۲۳ | تمهيد: | ۱۴۹ |
| ۱۲۴ | د حلالي غذا اثرات: | ۱۵۰ |
| ۱۲۵ | د "ديوبند" د يو بزرګ واقعه: | ۱۵۰ |
| ۱۲۶ | په څلور (۴) انې کې بهترين نظم: | ۱۵۱ |
| ۱۲۷ | د موجوده دور د انسانانو بد نظمي: | ۱۵۲ |
| ۱۲۸ | آمدني کم خرچ زيات کول: | ۱۵۳ |
| ۱۲۹ | سکون په قناعت کې دی: | ۱۵۴ |
| ۱۳۰ | د خرچ کمولو فکر کول: | ۱۵۴ |
| ۱۳۱ | د "ديوبند" د اکابرينو دعوت: | ۱۵۵ |
| ۱۳۲ | د دعوت د خوړلو اهتمام: | ۱۵۵ |
| ۱۳۳ | د هغه دعوت اثرات: | ۱۵۶ |
| ۱۳۴ | د روحاني قوت تقويه: | ۱۵۶ |
| ۱۳۵ | د حلالي غذا څخه شجاعت او بهادري پيدا کيږي: | ۱۵۷ |
| ۱۳۶ | د شجاعت او بهادرۍ متعلق واقعه: | ۱۵۷ |
| ۱۳۷ | زما بچي ماته ندسي خوړلای: | ۱۵۸ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۸. | د طهارت او د حلالي غذا اهتمام کول: | ۱۵۹ |
| ۱۳۹. | تولي منډي باید داسي وکړي: | ۱۶۰ |
| ۱۴۰. | د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه واقعه: | ۱۶۱ |
| ۱۴۱. | زیاته خوړکه کول: | ۱۶۲ |
| ۱۴۲. | عام خلک تهجد ګزارولو: | ۱۶۲ |
| ۱۴۳. | په زړو کي شبهه پیدا کیدل: | ۱۶۳ |
| ۱۴۴. | د حلالي خوړکې انوارات او برکات: | ۱۶۴ |
| ۱۴۵. | د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کول: | ۱۶۵ |
| ۱۴۶. | د حرامي او مشتبه غذا څخه د حفاظت کولو کوشش: | ۱۶۶ |
| ۱۴۷. | د عمر ابن عبد العزیز رحمة الله علیه دور خلافت: | ۱۶۷ |
| ۱۴۸. | د عمر ابن عبد العزیز رحمة الله علیه د کور حالت: | ۱۶۷ |
| ۱۴۹. | د وخت د خلیفه د کور اختر: | ۱۶۸ |
| ۱۵۰. | د حضرت عمر ابن عبد العزیز رحمة الله علیه توکل: | ۱۷۱ |
| | ﴿د نظر حفاظت کول﴾ | |
| ۱۵۱. | تمهید: | ۱۷۷ |
| ۱۵۲. | دریم نصیحت د سترګو حفاظت کول: | ۱۷۸ |
| ۱۵۳. | نظر کښته کول: | ۱۷۹ |
| ۱۵۴. | د شهوت د ګناهونو ابتداء د نظر څخه وي: | ۱۸۰ |
| ۱۵۵. | د ګناهونو څخه د حفاظت ذریعه: | ۱۸۰ |
| ۱۵۶. | د حضرت عبد الله بن حذافه رضي الله عنه د نظر حفاظت: | ۱۸۱ |
| ۱۵۷. | د حضرت عبد الله بن حذافه رضي الله عنه استقامت: | ۱۸۵ |
| ۱۵۸. | د ګناه مضر اثرات: | ۱۸۶ |
| ۱۵۹. | یو د عبرتناکه واقعه: | ۱۸۹ |
| ۱۶۰. | په احادیثو کي د بد نظرۍ ممانعت: | ۱۹۱ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۶۱. | اچانک نظر معاف دی:.................. | ۱۹۱ |
| ۱۶۲. | پر بدنظري باندي سخت وعید:.................. | ۱۹۲ |
| ۱۶۳. | د بزرگانو واقعات:.................. | ۱۹۴ |
| ۱۶۴. | د بدنظرۍ په وجه قرآن کریم هیرېدل:.................. | ۱۹۴ |
| ۱۶۵. | عجیبه واقعه:.................. | ۱۹۵ |
| ۱۶۶. | بې ایمانه د دنیا څخه رخصتېدل:.................. | ۱۹۶ |
| ۱۶۷. | د بدنظرۍ علاج:.................. | ۱۹۷ |
| | **﴿د بدنظرۍ حقیقت﴾** | |
| ۱۶۸. | تمهید:.................. | ۲۰۱ |
| ۱۶۹. | د بدنظرۍ حقیقت:.................. | ۲۰۲ |
| ۱۷۰. | تریخ غوړپ چیښل:.................. | ۲۰۳ |
| ۱۷۱. | سترګي د پرلوی نعمت دی:.................. | ۲۰۴ |
| ۱۷۲. | د سترګو صحیح استعمال:.................. | ۲۰۵ |
| ۱۷۳. | دبدنظرۍ څخه د ځان ساتلو علاج:.................. | ۲۰۶ |
| ۱۷۴. | په لاره باندي د تللو په وخت کي نظر کښته کول:.................. | ۲۰۷ |
| ۱۷۵. | د حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه وینا:.................. | ۲۰۷ |
| ۱۷۶. | دا تکلیف د جهنم د تکلیف څخه کم دی:.................. | ۲۰۸ |
| ۱۷۷. | د همت سره د الله تعالی طرف ته رجوع کول:.................. | ۲۰۹ |
| ۱۷۸. | د حضرت یوسف علیه السلام طریقه خپلول:.................. | ۲۱۰ |
| ۱۷۹. | یو څو مجربي نسخې:.................. | ۲۱۱ |
| ۱۸۰. | د پیغمبر ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وینا:.................. | ۲۱۶ |
| ۱۸۱. | د بدنظرۍ څخه د الله تعالی غیرت په جوش کي راځي:.................. | ۲۱۷ |
| ۱۸۲. | پر پاکدامنۍ باندي د جنت زیری:.................. | ۲۱۸ |
| ۱۸۳. | د بني اسرائیلو پر عابد باندي د تهمت واقعه:.................. | ۲۱۹ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست

**﴿د ژبې حفاظت کول﴾**


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۴. | تمهید: | ۲۲۷ |
| ۱۸۵. | څلورم(۴) نصیحت د ژبې حفاظت کول: | ۲۲۸ |
| ۱۸۶. | درې(۳) احادیث مبارکه: | ۲۲۸ |
| ۱۸۷. | د ژبې نګراني کول: | ۲۳۰ |
| ۱۸۸. | د ژبې صحیح استعمال: | ۲۳۲ |
| ۱۸۹. | ژبه په ذکر سره لنده ساتل: | ۲۳۳ |
| ۱۹۰. | یو چا ته د دین مسئله ښوول: | ۲۳۴ |
| ۱۹۱. | د تـلـې کلمه ویل: | ۲۳۵ |
| ۱۹۲. | ژبه کله کله انسان جهنم ته رسوي: | ۲۳۶ |
| ۱۹۳. | حضرت مریم علیها السلام ته د خاموشۍ انعام: | ۲۳۸ |
| ۱۹۴. | د حضرت علي رضي الله عنه وصیت: | ۲۳۹ |
| ۱۹۵. | اول تلل، بیا ویل: | ۲۳۹ |
| ۱۹۶. | د ژبې د قابو کولو علاج: | ۲۴۰ |
| ۱۹۷. | زموږ د معاشرې حالت: | ۲۴۰ |
| ۱۹۸. | د ژبې لغزش: | ۲۴۱ |
| ۱۹۹. | ژبه د زړه ترجمانه وي: | ۲۴۲ |
| ۲۰۰. | په مجلس کي احتیاط کول: | ۲۴۲ |
| ۲۰۱. | عجیب نصیحت: | ۲۴۳ |
| ۲۰۲. | زناني او د ژبې غلط استعمال: | ۲۴۴ |
| ۲۰۳. | د ژبې پر حفاظت د جنت ضمانت: | ۲۴۴ |
| ۲۰۴. | ای ژبې! د الله تعالی څخه و ویرېږه: | ۲۴۵ |
| ۲۰۵. | د ژبې او د زړه قدر او قیمت: | ۲۴۶ |
| ۲۰۶. | د ژبې خطرناک عمل: | ۲۴۶ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۰. | د غصې په وخت کي کښېنستل یا پرېوتل: | ۲۷۲ |
| ۲۳۱. | د غصې په وخت کي د الله تعالی د قدرت فکر کول: | ۲۷۳ |
| ۲۳۲. | د الله تعالی حلم: | ۲۷۴ |
| ۲۳۳. | د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل غلام ته غصه کیدل: | ۲۷۴ |
| ۲۳۴. | په ابتداء کي بلکل غصه نه کول: | ۲۷۵ |
| ۲۳۵. | په غصه کي اعتدال: | ۲۷۵ |
| | ﴿خپل مرګ یاد ساتل﴾ | |
| ۲۳٦. | تمهید: | ۲۷۹ |
| ۲۳۷. | مرګ یاد ساتل: | ۲۸۰ |
| ۲۳۸. | د مرګ په یاد سره لذتونه ختم کیږي: | ۲۸۱ |
| ۲۳۹. | د مرګ د یادولو بعض فوائد: | ۲۸۲ |
| ۲۴۰. | د مرګ د هیرولو نقصانات: | ۲۸۳ |
| ۲۴۱. | د مرګ د یادولو یو څو ذرائع: | ۲۸۴ |
| ۲۴۲. | د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه واقعه: | ۲۸۵ |
| ۲۴۳. | مړو ته غسل ورکول، او په جنازو کي شرکت کول: | ۲۸۷ |
| ۲۴۴. | د روح د ختلو د سختی فکر کول: | ۲۸۹ |
| ۲۴۵. | د حضرت عمر بن العاص رضی الله عنه د زکندن حالت: | ۲۹۱ |
| ۲۴٦. | د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها آخري وینا: | ۲۹۵ |
| ۲۴۷. | د یو بچي د آخرت فکر: | ۲۹۸ |
| ۲۴۸. | د حضرت حبیب عجمي رحمة الله علیه د مرګ حالت: | ۳۰۰ |
| | ﴿د الله تعالی یاد ساتل﴾ | |
| ۲۴۹. | تمهید: | ۳۰۳ |
| ۲۵۰. | د ذکر مجلس ته د فرښتو راتلل: | ۳۰۴ |
| ۲۵۱. | د الله تعالی عظیم ذات او صفات: | ۳۰۷ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| | د الله تعالى يو صفت قدرداني ده: | ۳۰۷ |
| ۲۵۲. | د يوې تنګئ په بدله کې دوې (۲) اسانۍ: | ۳۰۸ |
| ۲۵۳. | د حضرت عمر رضي الله عنه د دعا قدراداني: | ۳۰۸ |
| ۲۵۴. | پر حضرت زيد رضي الله عنه باندې د الله عنايت: | ۳۱۰ |
| ۲۵۵. | د الله تعالى په دربار کې د اعمالو قدر: | ۳۱۳ |
| ۲۵٦. | د عبدالله رضي الله عنه د عمل قدرداني: | ۳۱۶ |
| ۲۵۷. | د روژه دار قدر او منزلت: | ۳۲۲ |
| ۲۵۸. | پر زبيده خاتون باندې نظر کرم: | ۳۲۲ |
| | **﴿احسان د الله د پاره کول﴾** | |
| ۲۵۹. | تمهيد: | ۳۲۹ |
| ۲٦۰. | اويا زره (۷۰۰۰۰) فرښتې دعاګانې کوي: | ۳۳۰ |
| ۲٦۱. | احسان کول کله عبادت دی: | ۳۳۱ |
| ۲٦۲. | صرف د الله د پاره احسان کول: | ۳۳۳ |
| ۲٦۳. | د قربانو سره احسانات: | ۳۳٦ |
| ۲٦۴. | د صحابه وو د اعمالو قدر د الله په حضور کې: | ۳۳۷ |
| ۲٦۵. | هر کار د الله د پاره کول: | ۳۴۳ |
| ۲٦٦. | د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د قريبانو سره سلوک: | ۳۴۴ |
| ۲٦۷. | د مخلوق څخه توقعات ختم کول: | ۳۴۵ |
| ۲٦۸. | دنيا انسان ته صرف تکليف رسوي: | ۳۴٦ |
| ۲٦۹. | د الله د نيکو بندګانو حال: | ۳۴۷ |
| ۲۷۰. | د يو بزرګ واقعه: | ۳۴۷ |
| ۲۷۱. | د بزرګانو سکون او اطمنان: | ۳۴۸ |
| ۲۷۲. | خلاصه: | ۳۴۹ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست

شماره | صفحه

**﴿د بل بد سلوک هیرول﴾**


| شماره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۷۳. | تمهید: | ۳۵۳ |
| ۲۷۴. | د بدسلوک یادولو نتیجه: | ۳۵۴ |
| ۲۷۵. | د پیغمبر ﷺ عفو او درگزر: | ۳۵۶ |
| ۲۷۶. | په معاف کولو کي عزت دی: | ۳۶۱ |
| ۲۷۷. | د ټولو څخه زیات بد ترین انسان: | ۳۶۲ |
| ۲۷۸. | د حضرت امام حسین رضی الله عنه عفو او درگزر: | ۳۶۳ |
| ۲۷۹. | د امام زین العابدین رحمة الله علیه عفو او درگزر: | ۳۶۴ |
| ۲۸۰. | د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه حاسدین: | ۳۶۴ |
| ۲۸۱. | د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه صبر: | ۳۶۵ |
| ۲۸۲. | د حضرت تهانوي رحمة الله علیه تحمل مزاجي: | ۳۶۷ |
| ۲۸۳. | د تربیت د پاره د وهلو اندازه: | ۴۶۷ |
| ۲۸۴. | د عفو او درگزر فضائل: | ۳۶۸ |
| ۲۸۵. | د حضرت یوسف علیه السلام عفو او درگزر: | ۳۶۹ |
| ۲۸۶. | د "حوض کوثر" څخه محرومي: | ۳۷۰ |
| ۲۸۷. | د پیغمبر ﷺ وینا: | ۳۷۰ |
| ۲۸۸. | د حضرت عائشي رضی الله عنها ته د پیغمبر ﷺ نصیحت: | ۳۷۱ |
| ۲۸۹. | جنت ته رسونکی عمل: | ۳۷۱ |
| ۲۹۰. | د حضرت ذوالنون مصري رحمة الله علیه د شفقته ډکه دعا: | ۳۷۲ |
| ۲۹۱. | د ابراهیم ابن ادهم رحمة الله علیه عفو او درگزر: | ۳۷۳ |
| ۲۹۲. | د غصې قابو کولو مختلفي طریقې: | ۳۷۴ |


**﴿اخلاص کول﴾**


| شماره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۹۳. | تمهید: | ۳۷۹ |
| ۲۹۴. | اول لوی نعمت: | ۳۸۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۹۵. | په جنت کي د عمل مطابق درجه: | ۳۸۱ |
| ۲۹٦. | دوهم لوی نعمت: | ۳۸۱ |
| ۲۹۷. | زر(۱۰۰۰) رحمتونه: | ۳۸۳ |
| ۲۹۸. | د عالم د اکرام ثمره: | ۳۸۴ |
| ۲۹۹. | د عالم سره ناسته، د پیغمبر ﷺ سره ناسته ده: | ۳۸۴ |
| ۳۰۰. | د قیامت په ورځ د علماؤ اکرام: | ۳۸۵ |
| ۳۰۱. | د چمبېلي د ګل تعبیر: | ۳۸۵ |
| ۳۰۲. | دریم لوی نعمت: | ۳۸۶ |
| ۳۰۳. | د اخلاص معنٰی: | ۳۸۶ |
| ۳۰۴. | د اخلاص څخه خالي عمل قبول نه دی: | ۳۸۸ |
| ۳۰۵. | د مخلص بنده دري(۳) علامې دي: | ۳۹۰ |
| ۳۰٦. | د حضرت عائشې مبارکې اخلاص: | ۳۹۱ |
| ۳۰۷. | د حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه اخلاص: | ۳۹۲ |
| ۳۰۸. | د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د اخلاص واقعه: | ۳۹۳ |
| ۳۰۹. | د ریاکار انسان دري(۳) علامې دي: | ۳۹۸ |
| ۳۱۰. | د درختي سره یو عجیبه مکالمه: | ۴۰۰ |
| | **﴿د علماؤ توهین نه کول﴾** | |
| ۳۱۱. | تمهید: | ۴۰۵ |
| ۳۱۲. | د ګناه په کارو کي د علماؤ اتباع نه کول: | ۴۰٦ |
| ۳۱۳. | د عالم عمل معتبر نه دی: | ۴۰۷ |
| ۳۱۴. | د عالم څخه نه بدګمانه کیدل: | ۴۰۸ |
| ۳۱۵. | د علماؤ په حق کي دعا کول: | ۴۰۹ |
| ۳۱٦. | د حضرت مدني رحمة الله عليه واقعه: | ۴۱۱ |
| ۳۱۷. | عالم بې عمله هم قابل احترام دی: | ۴۱۲ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۴۱۳ | د علماؤ سره تعلق ساتل: | ۳۱۸ |
| ۴۱۴ | د علماؤ څخه نفرت د معاشرې تباهي ده: | ۳۱۹ |
| ۴۱۵ | د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه واقعه: | ۳۲۰ |
| ۴۱۷ | د حضرت اسامه رضي الله عنه د توهین سزا: | ۳۲۱ |
| ۴۱۹ | یو غل او ډاکو پیر جوړېدل: | ۳۲۲ |
| ۴۲۰ | د مریدانو د دعا برکت: | ۳۲۳ |
| | **﴿قرآن د زندګۍ دستور دی﴾** | |
| ۴۲۵ | تمهید: | ۳۲۴ |
| ۴۲۶ | د قرآن کریم عظمت: | ۳۲۵ |
| ۴۲۷ | د خالدبن ولید رضي الله عنه جوانمردي: | ۳۲۶ |
| ۴۲۸ | د سلمان فارسي رضي الله عنه واقعه: | ۳۲۷ |
| ۴۲۹ | د عقبه بن نافع رضي الله عنه حیرانونکې واقعه: | ۳۲۸ |
| ۴۳۲ | د ابوبکر صدیق رضي الله عنه شخصیت او کردار: | ۳۲۹ |
| ۴۳۳ | د ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه عظیمه کارنامه: | ۳۳۰ |
| ۴۳۶ | د ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه یو بل کرامت: | ۳۳۱ |
| ۴۳۷ | په مدینه منوره کې د قحطۍ راتللو واقعه: | ۳۳۲ |
| | **﴿تواضع او عاجزي کول﴾** | |
| ۴۴۹ | تمهید: | ۳۳۳ |
| ۴۵۰ | د تواضع معنی: | ۳۳۴ |
| ۴۵۱ | د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تواضع: | ۳۳۵ |
| ۴۵۲ | د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تګ کول: | ۳۳۶ |
| ۴۵۲ | په مخکنیو کتابو کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تعریف: | ۳۳۷ |
| ۴۵۴ | د بزرګانو تواضع: | ۳۳۸ |
| ۴۵۵ | حضرت سید سلمان ندوي رحمة الله علیه او تواضع: | ۳۳۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۴۰ | حضرت مفتي عزيزالرحمان رحمة الله عليه او تواضع: | ۴۵۷ |
| ۳۴۱ | حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمة الله عليه او تواضع: | ۴۵۸ |
| ۳۴۲ | حضرت شيخ الهند او تواضع: | ۴۵۹ |
| ۳۴۳ | حضرت ډاکټر عبدالحی رحمة الله عليه او تواضع: | ۴۶۱ |
| ۳۴۴ | د پیغمبر ﷺ خوښه طريقه: | ۴۶۲ |
| ۳۴۵ | د سيد احمد کبير رفاعي رحمة الله عليه واقعه: | ۴۶۳ |
| ۳۴۶ | د يو "سپي" سره مکالمه: | ۴۶۵ |
| ۳۴۷ | د زړه ګندګي: | ۴۶۷ |
| ۳۴۸ | د حضرت بايزيد بسطامي رحمة الله عليه واقعه: | ۴۶۸ |
| ۳۴۹ | د خبري حقيقت: | ۴۶۹ |
| ۳۵۰ | د تواضع حاصلولو طريقه: | ۴۶۹ |
| ۳۵۱ | خلاصه: | ۴۷۰ |
| | **﴿د اسلام د ارکانو فلسفه﴾** | |
| ۳۵۲ | تمهيد: | ۴۷۳ |
| ۳۵۳ | د پنځو (۵) ارکانو فلسفه او پس منظر: | ۴۷۴ |
| ۳۵۴ | د کلمه توحيد فلسفه: | ۴۷۴ |
| ۳۵۵ | د موسى سره تشبيه: | ۴۷۵ |
| ۳۵۶ | د مجنون حج ته تلل: | ۴۷۶ |
| ۳۵۷ | د يو مرغي واقعه: | ۴۷۸ |
| ۳۵۸ | د لمانځه فلسفه: | ۴۷۹ |
| ۳۵۹ | د زکوة فلسفه: | ۴۸۱ |
| ۳۶۰ | د روژې فلسفه: | ۴۸۲ |
| ۳۶۱ | د حج فلسفه: | ۴۸۳ |
| ۳۶۲ | د علي زين العابدين رحمة الله عليه واقعه: | ۴۸۷ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۶۳ | يوه بله واقعه: | ۴۸۸ |
| ۳۶۴ | د يو بل بزرګ واقعه: | ۴۸۸ |
| | ﴿بيماري او پرېشاني يو نعمت دی﴾ | |
| ۳۶۵ | تکليفونه دوه (۲) قسمه دي: | ۴۹۵ |
| ۳۶۶ | د دواړو تکليفو په مابين کي فرق: | ۴۹۶ |
| ۳۶۷ | بعض تکليفونه د الله عذاب وي: | ۴۹۶ |
| ۳۶۸ | بعض تکليفونه د الله رحمت وي: | ۴۹۸ |
| ۳۶۹ | سوال: | ۴۹۸ |
| ۳۷۰ | جواب: | ۴۹۸ |
| ۳۷۱ | يوه د عبرته ډکه قصه: | ۴۹۹ |
| ۳۷۲ | د غم او خوشحالي ترکيب: | ۵۰۲ |
| ۳۷۳ | پرېشاني او د الله محبت: | ۵۰۳ |
| ۳۷۴ | د تکليف راتللو حکمت: | ۵۰۴ |
| ۳۷۵ | د صحابه کرامو تکاليف: | ۵۰۶ |
| ۳۷۶ | د عيش او عشرت د الله څخه سوال: | ۵۰۷ |
| ۳۷۷ | د حضرت موسیٰ عليه السلام حالت: | ۵۰۸ |
| ۳۷۸ | د قيامت په ورځ د فرشتې اعلان: | ۵۰۹ |
| ۳۷۹ | کامياب او ناکام: | ۵۱۰ |
| ۳۸۰ | د صبر کونکو انعامات: | ۵۱۱ |
| ۳۸۱ | په ناجوړي باندي اجر او ثواب: | ۵۱۲ |
| ۳۸۲ | مريض "مستجاب الدعوات" وي: | ۵۱۳ |
| ۳۸۳ | امتحانات اضطراري مجاهدات دي: | ۵۱۴ |
| ۳۸۴ | د حديث خلاصه: | ۵۱۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| | **﴿د دنيا د محبت علاج﴾** | |
| ۳۸۵ | تمهيد: | ۵۱۹ |
| ۳۸۶ | د دين د څلورمي (۴) حصې د علم حامل حديث: | ۵۲۰ |
| ۳۸۷ | د بې فائدې کار څخه ځان ساتل د اسلام خوبي ده: | ۵۲۰ |
| ۳۸۸ | د ژوند د لمحاتو قدر او قيمت: | ۵۲۱ |
| ۳۸۹ | د ژوند اهميت: | ۵۲۱ |
| ۳۹۰ | د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ معمول: | ۵۲۲ |
| ۳۹۱ | د اعمالو صالحه وو قدر او قيمت: | ۵۲۳ |
| ۳۹۲ | د "کشف قبور" واقعه: | ۵۲۴ |
| ۳۹۳ | د اجر او ثواب دعا: | ۵۲۷ |
| ۳۹۴ | د زر (۱۰۰۰) واره "درود شريف" ويلو ثواب: | ۵۲۸ |
| ۳۹۵ | د شل لکه (۲۰۰۰۰۰) نيکيانو ګټونکې دعا: | ۵۲۹ |
| ۳۹۶ | د انسان ټول کارونه درې (۳) قسمه دي: | ۵۳۱ |
| ۳۹۷ | اول قسم: | ۵۳۱ |
| ۳۹۸ | دوهم قسم: | ۵۳۱ |
| ۳۹۹ | دريم قسم: | ۵۳۱ |
| ۴۰۰ | خپل وخت قيمتي جوړول: | ۵۳۴ |
| ۴۰۱ | د "ملک الموت" سره مکالمه: | ۵۳۶ |
| ۴۰۲ | د ظاهر او باطن د اصلاح د پاره څلور (۴) کاره کول: | ۵۳۷ |
| ۴۰۳ | د خوب څخه مخکې محاسبه کول: | ۵۳۹ |
| | **﴿د اسلام محافظين﴾** | |
| ۴۰۴ | تمهيد: | ۵۴۳ |
| ۴۰۵ | د صحابه کرامو ګواهي: | ۵۴۴ |
| ۴۰۶ | د نبي اکرم ﷺ قرباني: | ۵۴۴ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۰۷ | ابوجهل ته د دين دعوت ورکول: | ۵۴۵ |
| ۴۰۸ | د پيغمبر ﷺ په مدني ژوند کي قرباني: | ۵۴۶ |
| ۴۰۹ | د پيغمبر ﷺ د علم او عمل محافظين: | ۵۴۷ |
| ۴۱۰ | حيرانونکی مماثلت: | ۵۴۸ |
| ۴۱۱ | د ابن عمر رضي الله عنه د سنتو اتباع: | ۵۴۹ |
| ۴۱۲ | د پيغمبر ﷺ د وينا خيال ساتل: | ۵۵۰ |
| ۴۱۳ | د يو صحابي اتباع سنت: | ۵۵۰ |
| ۴۱۴ | د دين د حفاظت اصل وجه: | ۵۵۱ |
| ۴۱۵ | د صحابه کرامو قرباني: | ۵۵۲ |
| ۴۱۶ | د دين د دښمنانو مقابله: | ۵۵۳ |
| ۴۱۷ | د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه وفات: | ۵۵۳ |
| ۴۱۸ | د امام مالک رحمة الله عليه جرأت: | ۵۵۴ |
| ۴۱۹ | پر امام احمد بن حنبل باندي ظلم او ستم: | ۵۵۵ |
| ۴۲۰ | د الله تعالی ديدار کول: | ۵۵۸ |
| ۴۲۱ | د جسد حفاظت: | ۵۵۸ |
| ۴۲۲ | د سعيد ابن جبير رضي الله عنه استقامت: | ۵۵۹ |
| ۴۲۳ | زموږ علمي شجره: | ۵۵۹ |
| ۴۲۴ | د علماء کرامو فريضه: | ۵۵۹ |
| ۴۲۵ | په برصغير کي د فرنګيانو ظلم او ستم: | ۵۶۱ |
| ۴۲۶ | يوه د تشدده ډکه واقعه: | ۵۶۲ |
| ۴۲۷ | يو صبر آزما لمحه: | ۵۶۴ |
| ۴۲۸ | د نبي د وراثت حفاظت: | ۵۶۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

شماره . | صفحه

### ﴿د مور او پلار خدمت﴾


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۲۹. | تمهيد: | ۵۶۹ |
| ۴۳۰. | د ښو کارو حرص: | ۵۷۰ |
| ۴۳۱. | د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما افسوس: | ۵۷۱ |
| ۴۳۲. | يو سوال مختلف جوابونه: | ۵۷۲ |
| ۴۳۳. | د هر سړي افضل عمل جدا دی: | ۵۷۳ |
| ۴۳۴. | د لمانځه افضليت: | ۵۷۳ |
| ۴۳۵. | د مور او پلار حق: | ۵۷۴ |
| ۴۳۶. | بې غرضه محبت: | ۵۷۵ |
| ۴۳۷. | د مور او پلار خدمت: | ۵۷۶ |
| ۴۳۸. | خپل شوق پوره کول، دين نه دی: | ۵۷۷ |
| ۴۳۹. | حضرت اويس قرني رحمة الله عليه: | ۵۷۹ |
| ۴۴۰. | د صحابيت مقام: | ۵۸۰ |
| ۴۴۱. | د مور خدمت کول: | ۵۸۱ |
| ۴۴۲. | د مور د خدمت بدله: | ۵۸۲ |
| ۴۴۳. | د مور او پلار د خدمت ګذارۍ اهميت: | ۵۸۶ |
| ۴۴۴. | د مور او پلار د نافرمانۍ وبال: | ۵۸۸ |
| ۴۴۵. | د مور او پلار د نافرمانۍ عبرت ناکه واقعه: | ۵۸۸ |
| ۴۴۶. | د موسٰی عليه السلام واقعه: | ۵۹۱ |
| ۴۴۷. | د جنت پيدا کولو آسانه لار: | ۵۹۳ |
| ۴۴۸. | د وفات څخه بعد د تلافي صورت: | ۵۹۴ |


### ﴿د اولاد اصلاح او تربيت﴾


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۴۹. | تمهيد: | ۵۹۷ |
| ۴۵۰. | ذاتي عمل د نجات د پاره کافي نه دی: | ۵۹۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۵۱ | سوال: | ۶۰۰ |
| ۴۵۲ | جواب: | ۶۰۱ |
| ۴۵۳ | د نوح علیه السلام په زوی دليل نيول: | ۶۰۳ |
| ۴۵۴ | د دين فکر کول: | ۶۰۴ |
| ۴۵۵ | د وربځو آوازونه: | ۶۰۵ |
| ۴۵۶ | د بچي ښه تربيت د مور او پلار ذمه واري ده: | ۶۰۹ |
| ۴۵۷ | د بچيانو د پرورش نکات: | ۶۱۰ |
| ۴۵۸ | بچي ته خپلي شيدې ورکول: | ۶۱۱ |
| ۴۵۹ | د اولاد د تربيت ثواب: | ۶۱۲ |
| ۴۶۰ | د خواجه قطب الدين بختيار کاکي رحمة الله عليه واقعه: | ۶۱۳ |
| ۴۶۱ | د پلار پر ذمه د بچي تربيت: | ۶۱۴ |
| ۴۶۲ | د اوو (۷) کالو څخه مخکي تعليم: | ۶۱۵ |
| ۴۶۳ | قاري فتح محمد رحمة الله عليه: | ۶۱۶ |
| ۴۶۴ | د بچيانو د وهلو حد: | ۶۱۷ |
| ۴۶۵ | د بچيانو د وهلو طريقه: | ۶۱۸ |
| ۴۶۶ | د اولاد سره دري (۳) سلوکه کول: | ۶۱۹ |
| ۴۶۷ | د اولاد د تربيت بنياد: | ۶۲۰ |

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِهْتِدٰى.

امابعد: بنده ناچيز د ډيري زمانې څخه د جمعې د لمانځه د امامت کولو او د هغه څخه مخکې د تقرير کولو مصروفيت او شغل لرم.

چي غالبًا اوس يې پنځلس کاله پوره سول، چونکه په اصل کي د بنده سره د تقرير کولو استعداد ډېر کم وو.

نو د مجبورۍ په وجه به په هره کتب‌خانه کي د خپلو استاذانو او د بعضو نورو بزرگانو علماؤ ليکل سوي او چاپ سوي د تقرير کتابونه چي په عامه توګه هغه د خطباتو په نامه باندي شائع کېدل د هغه کتابو طلب او لټون مي پيل کړ.

د هغه طلب او لټون په نتيجه کي دا رنګه يوه لويه ذخيره را سره جمع سوه، بيا به مي د هري جمعې د تقرير ډپاره د موضوع انتخاب کوئ او د هغه موضوع په طبق به مي په کتابو کي مواد د قرآني آياتو، احاديثو، واقعاتو او امثالو په بڼه را جمعه کول.

دغه موادو ته به مي ترتيب ور کوئ او د تقرير په شکل به مي د جمعې د لمانځه څخه مخکي عمومًا د يوه ساعت وخت په دوران کي د خلکو ومخ ته وړاندي کوئ.

چونکه په تقرير کي به کله د بنده د ډېر تتبع په خاطر ډېر بهترين او کافي مواد د احاديثو، او حکاياتو، د بعضو بزرگانو د حالاتو په شکل کي را جمعه کېدل، نو سامعينو حضراتو به په شوق سره اورېدل او په عامه توګه هغه ته ډېر زيات متوجه کېدل.

په دې دوران کي د بعضو علماؤ او طلباء چي د بنده د انديوالانو يا شاګردانو په کتار کي وه او په جمعه کي به شريکېدل د هغو له طرفه پر دې خبره زيات اصرار وو چي دا مواد بايد جمعه سوي واى ممکنه ده چي د دې څخه يو چا فائده اخستې واى.

خدای سته زما هم دې طرفته څه میلان وو، لېکن د بیمارۍ په خاطر ما دې طرفته هیڅ قدم نه سو پورته کولای.
آخر زما یو ملګري امیر محمد د دې تقریرو په ډېر اهتمام سره په ټیپ ریکارډ کي محفوظ کول شروع کړه، چي په هغه وخت کي د هغه سره زیات تقریرونه په ټیپ ریکارډ کي محفوظ سوه.
بیا د بنده څه شاګردانو لکه: مفتي عبدالمنان صاحب، ملا محمد سلیم او ملا نقیب الله آخند د ټیپ ریکارډ څخه پر بیاض را نقل کړل.
چي کله ذ کمپوز وخت راغلئ په منځ کي یې څه تعطیلات راغلل، خو د هغه تعطیلاتو باوجود کار تر کمپوز ووتئ، په آخره مرحله کي دې الله ﷻ و قاري خلیل الرحمن صاحب عرف (مسلم اغا) ته جزاء خیر ور کړي چي هغه د ترتیب او تزئین آخره مرحله په ډېر اخلاص سره سرته ورسول.
د دې کتاب د مطالعې په وخت کي باید دا خبره د مطالعه کونکو په ذهن کي پرته وي چي دا څه با قاعده تصنیف نه دئ بلکه د لیکل سوو تقریرو یوه خلاصه ده، چي د کېسټو (فیتو) څخه را اخستل سوې ده.
نو په هم دغه وجه په اول او دوهم چاپ کي د حوالو او تخریج څه خاص اهتمام نه وو الله ﷻ دې جزاء خیر ور کړي ذکي فاضل مفتي حافظ کلیم الله صاحب چي هغه د تخریج محنت ور باندي وکړئ او یو څه یې د خطبو اضافه هم ور سره وکړه. او دریم ځل یې چاپ ته تیار کړئ.
نو د دې کتاب طریقه تحریري نه ده بلکه تقریري او خطابي ده، که چیري یو مسلمان د دې څخه فائده واخلي دا محض د الله ﷻ کرم او مهرباني ده چي پر دې باندي به زه بنده د الله ﷻ شکر ادا کوم.
او که یو خبره په دې تقریرو کي غیر محتاطه او غیره مفیده وي نو یقینا دا به زما د غلطۍ او کوتاهۍ په وجه وي، ځکه زه په دې خبره اقرار کوم چي په ما کي ډېري کمزورياني دي، شاید هغه کمزورياني به په دې تقریرو کي هم راغلي وي.
لېکن بیا هم زه د احبابو علماء کرامو او طلباء عظامو څخه درد مندانه خواهش کوم چي یوه قاعده ده:

.......مَا لَا يُدْرَكُ كُلُّهُ لَا يُتْرَكُ كُلُّهُ﴾.

کېدلای سي چي په دې موادو کي ستاسو په کار يو شی درسي نو تاسو په خير او خوبي په دې کي نظر وکړئ، او د کمزوريانو څخه يې خپل نظر را وګرځوئ:

.........وَالْعَفْوَ عِنْدَ كِرَامِ النَّاسِ مَأْمُوْلٌ﴾.

لېکن الحمدلله دا ويلای سم چي د دې تقريرو مقصد صرف تقرير براى تقرير نه دئ بلکه د دې مقصد د ټولو څخه مخکي خپل ځان او بيا سامعين د خپل نفس و اصلاح ته متوجه کول دي.

لکه: استاد محترم فرمايلي دي:

نه به حرف ساخته سرخوشم ........ نه به نقش بسته مشوشم

نفس بیاد تو میزنم ............ چه عبارت و چه معانیم

الله جل جلاله دي په خپل فضل او کرم سره دا يو څو مختصر تقريرونه خپله زما بنده او د ټولو ويونکو دپاره د اصلاح ذريعه وګرځوي، او زموږ د ټولو دپاره دي الله جل جلاله د آخرت ذخيره جوړه کړي، او چي کومو کسانو د دې تقريرو په برابرولو کي هر قسم خدمت کړی دئ، الله جل جلاله دي دوی ته د خپل خدمت بهترينه صله او بدله ور کړي.

﴿وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ﴾

آمين يا رب العالمين

وَ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَ آلِهٖ وَ صَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ

اطیع الله عفی عنہ

بن حاجی ملا عبدالعزیز (مرحوم)

خادم التدریس جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

رمضان المبارک ۱۴۳۹ ہجری بمطابق ۲۰۱۸ء

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د لمانځه فضیلت

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــریر | الحاج مولوي اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حـافـظ کـلیم اللہ صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاریـــخ | ۱۳ ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾(١).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿ إِنَّ الدِّينَ النَّصِيحَةُ، إِنَّمَا الدِّينُ النَّصِيحَةُ قَالُوا: لِمَنْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: لِلّٰهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ﴾ (٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! ستاسو په مخ کي ما د قرآن کریم د "سورة لقمان" د یو مختصر آیت تلاوت پیش کړی.

د دې آیت په تفسیر کي "سحبان الهند" حضرت مولانا "احمدسعید" دهلوي رحمة الله علیه د "لقمان حکیم" یو عجیب او غریب قول رانقل کړی دی، زه په دې مختصر وقت کي ستا سو و مخته د هغه تشریح او وضاحت کوم، الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندي د عمل کولو توفیق رانصیب کړي، او الله تعالی دي زموږ او ستا سو دغه مجلسونه په خپل دربار کي قبول او مقبول وګرځوي.

---

(١)سورة لقمان آیت نمبر،١٢

(٢)کتاب الذهد لوکیع ،حدیث نمبر، ٣٤۶

په هغه قول کي حضرت لقمان علیه السلام فرمایلي دي: چي ماته الله تعالی د څلورو زرو (۴۰۰۰) پیغمبرانو صحبت رانصیب کړی، او زه ده هغو په خدمت کي حاضر سوم، او ما د هغو ټولو تعلیمات او ارشادات واورېدل.
د هغه ټولو انبیاءکرامو علیهم السلام د تعلیماتو او ارشاداتو خلاصه ما په اتو (۸) خبرو کي را جمع کړه.
نو ګویا دا اته (۸) خبري د هغو ټولو انبیاءکرامو علیهم السلام د تعلیماتو او ارشاداتو خلاصه ده.

## اته (۸) خبري:

۱. اوله خبره داده: اې انسانه چي ته کله د لمانځه په حالت کي يې نو د خپل زړه حفاظت کوه.
۲. دوهمه خبره دا: چي ته کله پر "دسترخوان" باندي کښېنې نو د خپل حلق حفاظت کوه.
۳. دریمه خبره دا: چي ته کله په مجلس کي د خلکو په درمیان کي کښېنې نو د خپلي ژبي حفاظت کوه.
۴. څلرمه خبره دا: چي کله دیو چا کورته ورځې، یا یو داسي ځای لره ورځې چي هلته دبې پردګۍ احتمال او امکان وي، نو د خپل نظر حفاظت کوه.
۵. پنځمه خبره داده: چي خپل رب یعني الله تعالی همیشه یادساته.
۶. شپږمه خبره داده: چي خپل مرګ همیشه یادساته.
۷. اومه خبره داده: چي کله ته د یو چا سره ښه سلوک او احسان وکړې، نو د احسان کولو څخه وروسته د همیشه دپاره هغه هېروه.
۸. اتمه خبره داده: چي کله یو څوک ستاسره بد سلوک او ناجائز وکړي، او تا ته تکلیف او ضرر در ورسوي، نو د همیشه د پاره هغه هېروه.

دا اته(۸) هغه خبري دي، چي حضرت لقمان علیه السلام د څلورو زرو(۴۰۰۰) پيغمبرانو علیهم السلام د صحبتو او مجلسو څخه راټولي کړي وې، او دا د هغه ټولو پيغمبرانو علیهم السلام د تعليماتو او ارشاداتو نچوړ او خلاصه او لب لباب دی.
او د دې اتو(۸) خبرو زموږ په دين کي هم ډير زيات تاکيد او ترغيب راغلي دی، دا اته (۸) خبري که چيري زموږ په ذهنو کي ځای پيدا کړي، او زموږ په عمل کي راسي، نو د دې په وجه به زموږ په ژوند او زندگي کي انقلاب راسي، او زموږ زندگي به د قرآن او سنت سره برابره سي، او موږ به د قرآن او سنت مطابق زندگي تيرونکي انسانان جوړ سو.
نو څکه زه ستاسو په مخ کي د هغه خبرو يو څه وضاحت کوم الله تعالی دي ما ته د صحيح وضاحت کولو توفيق رانصيب کړي، او الله تعالی دي دا زموږ مجالس ټول په خپل دربار کي قبول او مقبول وګرځوي. (آمين)

## په لمانځه کي د زړه حفاظت کول:

اوله خبره داده چي د لمانځه په دوران کي د خپل زړه حفاظت کول، لمونځ زموږ د دين اهم ترين عبادت دی.
څکه پيغمبر علیه السلام فرمايلي دي:
......الصَّلَاةُ عِمَادُ الدِّينِ فَمَنْ أَقَامَهَا فَقَدْ أَقَامَ الدِّينَ وَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ هَدَمَ الدِّينَ﴾([1]).
لمونځ د دين ستن ده څکه پيغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: که چيري يو سړي لمونځ قائم کړی، نو هغه ټوله دين قائم کړی، او که چا لمونځ پريښوی نو هغه ټوله دين پريښوی.

([1]) بريقه محموديه في شرح طريقه محمديه :باب ترک الصلاة عمداً :صفحه ۱۸۳

د لمانځه یو ظاهر او بل یې باطن دی، دواړه صحیح کول او دواړه پر سنت طریقه برابرول، زموږ ذمه واري ده چي تر څو پوري زموږ د لمانځه ظاهر او باطن دواړه صحیح سوي نه وي، تر هغه وقت پوري زموږ لمونځ مکمل نه ګرځي.
په لمانځه کي د صحت او کمال او خوبصورتي پیدا کولو د پاره داضروري ده، چي د لمانځه به ظاهر او باطن دواړه صحیح او پر سنت طریقه برابر وي.

## لمونځ د ټولو عباداتو مجموعه ده:

لمونځ یو داسي بنیادي عبادت دی، چي الله تعالی په دې لمانځه کي د ټولو عباداتو شان او شکل راجمع کړی دی، یعني چي څومره عبادات الله تعالی پر انسانانو فرض کړي دي، څه نا څه دهر عبادت یو څه شکل په دې لمانځه کي وجودلري.

## په لمانځه کي دروژې شان:

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه لیکلي دي: چي په لمانځه کي د روژې شان هم موجود دی.
د روژې شان دادی: چي د روژې نیولو وروسته خورک حرام چښل حرام او جنسي تقاضی پوره کول حرام دي بلکل داغه رنګه چي کله یو سړی د لمانځه نیت وتړي نو پرده هم خورک او چښل کول او جنسي تقاضی پوره کول ټوله حرام وګرځي.

## په لمانځه کي د زکوة شان:

داغه رنګه په لمانځه کي د زکوة شان هم وجود لري.

د زکوٰة شان دادي: چې په زکوة کي د الله په لار کي مال خرڅول ځکه الله تعالی په زکوة کي یو مخصوص مقدار مال پر غریبانو باندي خرڅول پر مالدارانو باندي فرض کړی دی.
داغه رنګه په لمانځه کي هم مال خرڅول کیږي ځکه چي په لمانځه کي ستر پټول فرض دي د نارینه د پاره د نامه څخه بیا تر زنګنو پوري او د زنانې د پاره د مخ لاسو او پښو څخه ماسوا ټوله جسم پټول شرط او فرض دي.
نو د ستر پټول په جامه او کپړه سره کیږي جامه او کپړه د پیسو او مال ودولت بغیر انسان ته په لاس نه ورځي نو ځکه د زکوٰة شان هم په لمانځه کي وجود پیدا کوي.

## په لمانځه کي د حج شان:

داغه رنګه په لمانځه کي د حج شان هم موجود دی، د حج شان دا دی: چي په هغه کي د "بیت الله" تعظیم تکریم او احترام دی او په هغه کي د "بیت الله" زیارت او طواف دی.
داغه رنګه په لمانځه کي د هر لمانځه کونکي د پاره د "بیت الله" طرف ته مخ ګرځول شرط دي هغه که په هوائي جهازکي لمونځ کوي او که د اوبو په کښتي کي لمونځ کوي او که یې پر مځکه کوي چي تر څو پوري دَی د "بیت الله" و طرف ته مخ و نه ګرځوي تر هغه پوري یې لمونځ نه صحیح کیږي.
نو د حج شان چي هغه د "بیت الله" احترام دی هم په لمانځه کي په کامله طریقه باندي وجود لري.

## په لمانځه کي د اعتکاف شان:

داغه رنګه په لمانځه کي د اعتکاف شان هم موجود دی، د اعتکاف شان دادی: چي کله معتکف په مسجد کي اعتکاف کوي نو بیا په مسجد کي د ننه اوسیږي

د مسجد څخه د باندي صرف د شرعي ضرورت یا طبعي ضرورت د پاره را وزي کـه نو په مسجد کي د ننه وي.
داغه رنګه لمونځ ګزاره چي کله د لمانځه نیت وتړي نو پر هغه ځای باندي محبوس او بندوي معتکف ته خو بیا هم داعتکاف په دوران کي په مسجد کي د ګرځیدلو اجازت وي د خبري کولو اجازت وي.
لیکن لمونځ ګزار چي کله د لمانځه نیت وتړي نو بیا نه ګرځیدلای سي او نه خبري کولای سي، نو د اعتکاف شان هم په پوره پیمانه په لمانځه کي موجود دي.

## په لمانځه کي د قرباني شان:

داغه رنګه په لمانځه کي د قرباني شان هم موجود دی د قرباني شان دادی: چي بنده د هغه په ذریعه د الله تعالی د عظمت او لویي اظهار کوي داغه رنګه په لمانځه کي هم بنده د الله تعالی و حضور ته لاس پر نامه ولاړ وي او خپل عزت د الله تعالی د عظمت په مخ کي قربانوي.
چنانچه بنده د قیام په دوران کي د الله تعالی و حضور ته د عاجزۍ په داسي کیفیت کي ولاړ وي چي د دې څخه زیات د عاجزي بل کیفیت جوړیدلای نه سي.
یا د رکوع په حالت کي د الله تعالی وحضور ته خپل سر کږوي او یا د سجدې په حالت کي خپل عزت مند تندی بلاکیفه د الله تعالی پر قدمو باندي ایږدي لکه په حدیث شریف کي راځي:

......الساجد يسجد على قدم الرحمن﴾.(١)

سجده کونکي چي کله سجده کوي نو خپل سر او تندي بلاکیفه د الله تعالی پر قدمو باندي ایږدي.

(١) حلية الاولياء وطبقات الاصفياء، صفحه ٧١

نوپه دې حالت کې د الله تعالی په دربار او حضور کې د خپل ذلت اظهار کوي، اود خپل د ماغ څخه لوئي او تکبر باسي، نو په لمانځه کې د قربانۍ روح اوشان هم موجود دی.
نو که چیرې موږ او تاسو د حضرت لقمان علیه السلام په دغه نصیحت باندې عمل وکړو، نو زموږ په لمنځو کې به صحت راسي، او د هغه په وجه به زموږ ټول عبادات روح او مغز پیدا کړي.

## په لمانځه کې د عباداتو ټول اقسام هم موجود دي:

یاد عباداتو مختلف شکلونه دي لکه فرائض، واجبات، سنت مؤکده، سنت غیر مؤکده، مستحب، مندوب.
داهغه عبادات دي چې درجه په درجه موږ ته د دې د کولو حکم سوی دی د عباداتو دغه شکلونه ټوله په لمانځه کې موجود دي.
چنانچه په لمانځه کې شپږ(۶) فرض، څوارلس(۱۴)واجبات دوپنځوس(۵۲) سنتونه دي چې په هغو کې اکثر سنت مؤکده دي، او یوڅه سنت غیر موکده دي شپږ (۶) یا اووه (۷)مستحبات دي.(۱)

## په لمانځه کې د ذکر شان:

یا یو عبادت ذکردي او د هغه مختلف شکلونه دي لکه سبحان الله ، الحمد لله، الله اکبر، لااله الاالله ، درودشریف، استغفار، تلاوت د قرآن، دعاء، دا ټول شکلونه د ذکر الله تعالی په لمانځه کې راجمع کړي دي د دې څخه انسان ته دا ور معلومیږي چې لمونځ په عباداتو کې څومره اهمیت لري.

(۱) اصلاحي بیانات و رسائل: جلد نمبر۲: صفحه نمبر ۶۷

## په لمانځه کي د نورو مخلوقاتو عبادت:

د انسان څخه علاوه چي کم نور مخلوقات دي چي الله تعالی په عبادت مامور کړځولي دي دهغو د عباداتو ټول شکلونه الله تعالی په لمانځه کي راجمع کړي دي.
مثلاً فرښتې او ملائکي د الله تعالی دپاره په مختلفو شکلو عبادتونه کوي، بعضي فرښتې د قیام په حالت کي عبادت کوي، بعض فرښتې د رکوع په حالت کي عبادت کوي، او بعض فرښتې د سجدې په حالت کي عبادت کوي، د فرښتو دغه مختلف عبادتونه الله تعالی زموږ په لمانځه کي راجمع کړي دي، چنانچه زموږ په لمانځه کي قیام هم سته، رکوع هم سته، سجده هم سته.
د فرښتو څخه علاوه چي کم نور مخلوقات دي هغه هم په عبادت کي مشغوله دي، چنانچه علماء وو لیکلي دي،چي "غر"دناستي په حالت کي دالله تعالی عبادت کوي بس دا د ده عبادت دی، "درخته" دقیام په حالت کي دالله تعالی عبادت کوي،"چارپایان" درکوع په حالت کي دالله تعالی عبادت کوي، داغه رنګه کم حیوانان چي پر مځکه باندي ښکیږي لکه: "مار" او"لړم" داټول دسجدې په حالت کي دالله تعالی عبادت کوی.
الله تعالی دانسان په لمانځه کي ددغه ټولو مخلوقاتو عبادات راجمع کړي دي نو ځکه موږ داوایو چي لمونځ په ټولو عباداتو کي جامع ترین عبادت دي.

## د لمانځه قائم کول:

الله تعالی په قرآن کریم کي تقریباً دیرش(۳۰) ځایه دلمانځه دقائم کولو حکم کړی دی.
یو دلمانځه کول دي.
او بل دلمانځه قائمول دي.

د دې دواړو مطلب جلاجلا دی، موږ خوصرف لمونځ کوو لیکن الله تعالی دلمانځه قائم کول راځخه غواړي دلمانځه دقائم کولو مطلب دادی: چې لمونځ دټولو فرائضو، واجباتو، سننو، او مستحباتو، او دټولو ادابو سره نارینه په جماعت سره ادا کړي، او زنانې په خپل کور کې د دې ټولو امورو درعایت سره لمونځ اداکړي داد لمانځه قائم کول بلل کیږي.

لیکن که چیرې په لمانځه کې موږ صرف فرائض، او واجبات اداکوو، د سننو او مستحباتو خیال نه ساتو، او نه د جماعت څه اهتمام کوو، صرف کښته او پورته کیږو، او ژر ژر لمونځ کوو، دادلمانځه قائم کول نه بلل کیږي، باید موږ په خپل لمانځه کې د دې ټولو امورو اهتمام وکړو، چې زموږ لمونځونه پرسنت طریقه برابر سي.

## د حضرت عمرؓ فرمان:

فاروق اعظم حضرت عمر بن خطابؓ په خپل دور امارت کې د خپلو حکومتي کارکونکو پر نامه باندې یو فرمان جاري کړی وو چې هغه په مشکوة شریف کې موجود دی هغه فرمان داوو:

......إِنَّ أَهَمَّ أُمُورِكُمْ عِنْدِي الصَّلَاة فَمن حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا أَضْيَعُ﴾([1]).

زما په نزد ستاسو په ټولو کارو کې اهم عمل د لمانځه حفاظت دی چې کم چا د لمانځه حفاظت وکړی د هغه په باره کې زما اطمینان دی چې هغه نور کارونه هم په صحیح طریقه سره سرته رسولای سي، او که چیرې هغه لمونځ ضائع کړي، او د لمانځه حفاظت نه وکړی نو د لمانځه څخه علاوه نور کارونه به هم ډیر زیات ځني ضائع کیږي.

---

([1])مشکوة شریف: حدیث نمبر: ۵۸۵

نو ددې په تشریح کې محدثینو حضراتو فرمایلي دي: چې دلمانځه حفاظت دادی چې انسان خپل لمونځ دټولو فرائضو، واجباتو، سننو، او مستحباتو، سره اداکړي او دلمانځه پر بیان باندي علماء کرامو مستقل کتابونه لیکلي دي باید انسان هغه په خپله مطالعه کي راولي، او د هغه په ذریعه د لمانځه د درستګۍ ترتیب برابر کړي.

## د لمانځه د څلورو(۴) ارکانو درستګي:

په لمانځه کي څلور(۴) داسي ارکان دي که چیري انسان هغه په اطمینان سره اداکړي.نو بیاخو لمونځ تر ډیر حده پوري صحت پیداکوي ځکه چي زیاته کوتاهي د انسان څخه په هغه څلورو(۴) ارکانو کي کیږي.

هغه څلور(۴) ارکان دادي: رکوع، سجده، قومه، اوجلسه، پردې څلورو(۴) ارکانو باندي خصوصي توجه کول لازمي دي په دې سره زموږ د لمانځه ظاهر تر ډیره حده درستګي او صحت پیدا کولای سی.

## زموږ د لمانځه کیفیت:

لیکن "لقمان حکیم" چی کم نصیحت فرمایلی دی چي په لمانځه کي د خپل زړه حفاظت کول په دې کي د لمانځه د باطن و صحت او درستګي ته اشاره ده.

دایو حقیقت دی چي لکه: څنګه چي زموږ د لمنځو ظاهري حالت خراب دی داغه رنګه زموږ د لمونځو باطني حالت هم خراب دی چنانچه چی کله نیت وتړو نو زموږ دماغ او زړه په سوچو او وسوسو کي ورک سي بلکل مي لمونځ کول د دماغ څخه ووزي.

په پوره لمانځه کي کله یوه وخت داخیال راوګرځي چي موږ خو لمونځ کاوی ورنه اکثره وخت د سلام ګرځولو څخه وروسته داپه دماغ کي راسي چي لمونځ خو ختم سو د لمانځه په ټوله دورانیه کي د لمانځه څخه غائب یو..

په دې وجه په لمانځه کې باربار داشکوک او شبهات راپیدا کیږي چې نه معلوم چې ما او س څورکعته وکړو او څو رکعته لاپاته دي دا د لمانځه څخه د غائب کیدلو لویه نښاني ده او داد لمانځه باطني خرابي ده.

## په لمانځه کې د وسوسو علاج:

د دې خرابي د لیرې کولو طریقه داده چې په لمانځه کې دوې(۲) خبرې دي.
اوله خبره داده: چې غیراختیاري چې کمې وسوسې او خیالات د انسان په دماغ کې راځي د هغه په باره کې باید انسان دا خبره په ذهن کې پخه کړي چې دا هیڅ کله نه بندیږي او نه د دې د بندیدو څه طریقه سته.
دوهمه (۲)خبره داچې د لمانځه د نیت ترلو څخه وروسته خپل ذهن او خپل دماغ د لمانځه طرف ته متوجه کول دا زموږ په اختیارکې ده زموږ حال دادی چې کم غیراختیاري وسوسې دي، چې دهغه بندیدل زموږ په اختیارکې نه دي د هغه فکر او غم راسره دي او د هغه متعلق پوښتني کوو.
او چې کم کار زموږ په اختیارکې دی یعنې د لمانځه په دورانیه کې خپل فکر د لمانځه وطرف ته متوجه کول د هغه کوشش نه کوو باید د غیراختیاري کار فکر پریږدو او داختیاري کار کوشش او مشق کول جاري وساتو، نو انشاءالله یو داسې وقت به راسي چې موږ به پر دې خبره کامیاب سو، چې خپل ذهن او فکر به د وسوسو او خیالاتو څخه راوګرځوو.
حالانکه زموږ بعض بزرګانو لا داسې هم فرمایلي دي چې یو هغه انسان دي چې د لمانځه نیت وتړي او ذهن یې په لمانځه کې داسې مشغوله سي چې د سلام ګرځولو څخه وروسته د ده ذهن د لمانځه څخه راوزي.
او دوهم هغه سړی دی چې د نیت ترلو سره یې ذهن د لمانځه څخه غیرحاضر سي لیکن دی پوره دا کوشش کوي چې زما ذهن د لمانځه طرف ته راوګرځي او د لمانځه تر آخره پورې په داغه کوشش کې لګیاوی چې تر څو پورې لمونځ ختمیږي، نو په ثواب کې خو دواړه برابر دي بلکه کیدای سي چې د دوهم سړي

ثواب ورباندی زیات وي ځکه چي د هغه لمونځ په مجاهده او کوشش سره سر ته ورسیدی.(۱)

نو مقصد مي دادی: چي زموږ دپاره پکاردادی چي کم شی زموږ په اختیارکي وي او موږ په هغه باندي مکلف یو باید چي د هغه فکر وکړو او د هغه د کولو کوشش وکړو، او چي کم شی زموږ په اختیارکي نه دی او نه موږ په هغه مکلف یو د هغه وطرف ته باید چي بلکل متوجه نه سو.

## په لمانځه کي دوسوسو ختمولو طریقې:

علماءکرامو په لمانځه کي دوسوسو ځخه دځپل ځان راګرځولودپاره مختلفي طریقې لیکلي دي دکم چالپاره چي کمه طریقه آسانه وي هغه دي اختیار کړي.

## اوله طریقه:

یوه طریقه داده چي دلمانځه دنیت تړلو ځخه وروسته باید انسان دا تصور او فکر کو ي چي زه الله تعالی وینم او الله تعالی ته خپل عبادت کوم که چیري دانسان ځخه فکر بل طرف ته ولاړسي نو فوراً دي دا تصور په زړه کي راګرځوي چي زه الله تعالی وینم او دهغه ومخته خپل لمونځ کوم لکه په حدیث شریف کي هم داسي راځي:

.........اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ﴾(۲).

ته عبادت داسي کوه لکه ته چي خپل رب په سترګو وینې او مخامخ هغه ته ولاړ یې او خپل سر دسجدې په حالت کي بلاکیفه دهغه پر قدمو باندي ایږدې او هغه ته خپله عاجزي پیشوي.

---

(۱)اصلاحي بیانات ورسائل: جلد نمبر ۲: صفحه نمبر ۷۲

(۲)بخاري شریف احدیث نمبر ۵۰

## دوهمه طريقه:

دوهمه طريقه داده: چې دلمانځه دنيت ترلو وروسته دي انسان داتصور وکړي چي الله تعالى ما ويني او ماته متوجه دی، ماته ګوري چي زه څنګه لمونځ کوم، او څنګه تلاوت کوم، زمارکوع څنګه ده، او زما قيامه څنګه ده، زه سجده او قعده په کم شکل اداکوم، يعني دهر رکن اداکولو په وخت کي بايد انسان په زړه کي دافکر کښينوي چي الله تعالى ماويني لکه په حديث شريف کي هم داسي راځي:

.........فإن لم تكن تراه فإنه يراك﴾(١).

که چيري ته الله تعالى نه وينې نو داتصور خوبه کوي چي الله تعالى ما ويني.

## دريمه طريقه:

دريمه طريقه داده: چي په لمانځه کي کم تلاوت، او اذکار،او تسبيحات دي هغه ټوله په عربي کي دي دهغه د ترجمې او مطلب طرف ته خپل ځان متوجه کول.

چي کله دقرآن کريم تلاوت کوي نودهغه دمعني طرف ته ځان متوجه کول، چي کله رکوع او سجده کوي نو دهغودتسبيحاتو په معني کي خپل فکر او سوچ بندول.

## څلورمه طريقه:

څلورمه طريقه داده: چي د تلاوت، او اذکار، او تسبيحاتو، د الفاظو وطرف ته توجه راګرځول او په هغه کي خپل فکربندول.

د عامو خلکو دپاره دغه څلورم صورت ډير آسانه دی، په انفرادي لمانځه کي تلاوت او اذکار په آهسته آهسته آوازسره دارنګه ويل چي انسان پخپله هغه آواز

(١)بخاري شريف،حديث نمبر ٥٠

اوري، لیکن د ده وځنګه ته چي کم ځوک لمونځ کو ي د هغه په لمانځه کي خلل رانسي.
یاخپل ذهن دخپل آواز او الفاظو وطرف ته متوجه کول مثلاً په خپل ذهن کي دا راګرځول چي اوس زه سبحان الله وایم، اوس زه الحمد الله وایم، اوس زه سورة وایم نو په دغه شکل خپل ذهن او فکر په خپل آواز او الفاظو کي بندول.

## پنځمه طریقه:

پنځمه طریقه دا ده چي په خپل ذهن کي دافکر راګرځول چي زه اوس "بیت الله" وینم "بیت الله" زما ومخته ده او زما نظر پر "بیت الله" باندي لګیږي او زه د "بیت الله" ومخته خپل لمونځ کوم او په ټوله لمانځه کي پر "خانه کعبه" باندي خپل نظر قرارول که چیري دانسان ځخه تصور ولاړسي نو خپل تصور بیرته راګرځول.

## شپږمه طریقه:

شپږمه طریقه دا ده چي دلمانځه ځومره ارکان دي هغه په سوچ او فکر سره ادا کول مثلاً چي کله انسان نیت وتړ ي نو دا سوچ او فکر کول چي او س زه قیامه کوم، چي کله رکوع ته ولاړسي نو بیا دافکر کول چي او س زه درکوع په حالت کي یم، چي کله سجدې ته ولاړسي نو دافکر کول چي اوس زه دسجدې په حالت کي یم، چي کله پر "التحیات" باندي کښیني نو خپل دماغ کي داراګرځول چي اوس زه دناستي په حالت کي یم، نو داغه رنګه دلمانځه په هر رکن کي سوچ او فکر بندول، نوبیابه انشاء الله د انسان په سوچ او فکر کي نو رخیالات او وسوسې نه راځي.

## د دې طريقومشق كول:

داشپږ (۶) طريقې سوي او س چي كم چاته په د ې طريقو كي په كمه طريقه سره عمل كول آسانه معلوميږي، نوچي كله دلمانځه نيت وتړي نو هغه طريقه دي اختياروي او په هغه دي عمل كول شروع كوي، اوپر دې خپل عمل كولو دي دوام او مشق كوي ځكه داشيان دمشق سره او دوام سره تعلق لري.
چي كله انسان د دې مشق وكړي نو څو ورځي بعد به انشاءالله وده ته پخپله كاميابي محسوسه سي، او بيابه د ده دپاره په لمانځه كي خپل فكر راګرځول آسانه سي، او دهميشه دپاره به د ده په لمانځه كي خشوع او خضوع پيداسي، د ده په ظاهري لمانځه يعني ركوع، سجده، او قومه، او جلسه كي به سكون او اطمينان پيداسي، او دی به دزړ ژر لمانځه دعادت كولو څخه خلاصوالي پيدا كړي.
او په لمانځه كي دزړه دحفاظت كولو مطلب هم دا دی چي دلمانځه په ظاهراو باطن كي سكون او اطمينان راسي او دانسان ذهن دلمانځه څخه علاوه بل طرف ته ولاړ نه سي.

## پر دغه لمانځه باندي پنځه (۵) انعامات:

په حديث شريف كي راځي چي كم لمونځ په سكون او اطمينان او خشوع او خضوع سره ادا سي، پر دغه لمانځه باندي الله تعالى د بنده سره د پنځو (۵) انعاماتو وعده كوي.

## اول انعام:

اول انعام به داوي چي الله تعالى به ددې بنده څخه د رزق تنګي ليري كړي، او د ده روزي به فراخه سي، د رزق او روزي مسئله د دنيا او دآخرت لويه مسئله ده. ليكن د داسي كامل لمانځه په سبب به الله تعالى د ده دنياوي تمام ضرورتونه د غيبي خزانو څخه وړپوره كړي، او د ده د قبر، او حشر، او آخرت، ضروريات به

هم وربوره کړي او الله تعالی به په خپل فضل او کرم سره نهایت فراخه او خوشحاله زندګي ورنصیب کړي.
نن د دنیا د ټولو ځخه لوی اوغټ وبال فقر، او فاقه، او تنګدستي ده چي غیراختیاري پر انسان رائحي، او په بعضو اوقاتو کي د انسان دپاره د کفر باعث جوړیږي لکه په حدیث شریف کي هم داسي رائحي:
......... كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفْرًا﴾(۱).
فقر قریب دی چي انسان کفر ته ورسوي نو ځکه پیغمبرﷺ د فقراو فاقي ځخه پناه غوښتي ده، او همیشه یې دا دعاکړې ده:
........اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ﴾(۲).
اې الله زه دفقر او فاقي ځخه پناه غواړم او د دنیا او آخرت دذلت او رسوائي ځخه پناه غواړم ځکه دفقراو فاقي په نتیجه کي کله کله نه دانسان عزت باقي پاته کیږي او نه دانسان ایمان باقي پاته کیږي.
نو که چیري مونږ خپل لمنځونه صحیح کړو او په خپل لمانځه کي کمال پیدا کړو نو دالله تعالی دطرف ځخه به اول انعام دا راکول کیږي چي الله تعالی به مو درزق تنګي لیري کړي.

## دوهم انعام:

دالله تعالی دطرفه به پردغه لمونځ ګزاره باندي دوهم انعام داوي: چي کله دغه بنه لمونځ ګذاره ددنیا ځخه رخصت سي او قبر ته ورسي نو الله تعالی به په قبر کي چي اول منزل دمنازلو ځخه دآخرت دی د ده سره آساني وکړي.

(۱)الطبراني:حدیث نمبر ۱۰۴۸
(۲)مسند احمد :حدیث نمبر ۸۰۵۳

## دآخرت په منازلو کي د قبر منزل سخت دی:

دحضرت عثمان ﷺ په باره کي راځي:

........إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ، فَقِيلَ لَهُ: تُذْكَرُ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَلاَ تَبْكِي وَتَبْكِي مِنْ هَذَا﴾.

چي کله به دی پر یو قبر باندي حاضر سو نو دومره ژړا به یې کوله حتی چي ږیره به ئې په اوښکو لنده سوه.

نو یو چا پوښتنه ځني وکړه چي ستا ومخته دجنت او جهنم تذکرې کیږي ته دومره نه ژاړې لکه دقبر دلیدلو ځخه چي څومره ژاړې، ده به په جواب کي ورته ویل:

........إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الآخِرَةِ، فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ. قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلاَّ وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ﴾(1).

چي پيغمبر ﷺ به ومونږ ته ویل چي قبر اول منزل دمنازلو ځخه دآخرت دی که چیري په دې منزل کي دانسان نجات په نصیب سو نو وروسته منزلونه به ډیر آسانه وي،او که چیري په دې منزل کي نجات نه وو نو وروسته منزلونه به ډېر سخت وي.

او پيغمبر ﷺ به ویل چي ما هیڅ کله تر قبرډېر فظیع او رسوا کننده منظر نه دی لیدلی یعني قبر دعذاب او سختی په حواله تر ټولو مناظرو سخترین منظر بلل سوی دی.

خو د دغه سخترین منظر آساني هم الله تعالی دکامل لمانځه کولو انعام ګرځولی ده.

(1)ترمذي شریف: حدیث ۲۳۰۸.

## دریم انعام:

دریم انعام به دا ورکول کیږي چې دقیامت په ورځ چې کله انسان دخپل قبر څخه راپورته سي نو هر انسان به په دې وخت کي دیري او خوف په حالت کي وي او زیاته یره او غم به د دې خبري ورسره وي چې هسې نه چې زما عمل نامه وماته په چپه لاس راکول سي.

لیکن دغه لمونځ گزاره ته به الله تعالی دا انعام ورکوي چې د ده عمل نامه به وده ته په راسته لاس ورکول کیږي په دې وخت کي به دی انتهائي ډېر خوشحال وي او خپله عمل نامه به په خلگو کي سره گرځوي او هر چا ته به دا وایي:

........هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ﴾(١) تاسو یې وگورئ! چې زما په عمل نامه کي څه لیکلي دي.

........إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ﴾.(٢)

ماته دمخکي څخه هم دامعلومه وه چې زه د دې حالاتو سره مخامخ کیږم الله تعالی پر ما کرم او احسان وکړی چې زما عمل نامه یې وماته په راسته لاس راکړه.

او چې کم سړي ته عمل نامه په چپه لاس ورکول سي دا به دهغه دذلت او رسوائي لویه علامه وي.

## دقیامت دورځي حالات:

دقیامت هغه ورځ ده چې الله تعالی دهغه په باره کي فرمایي:

........إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا﴾(٣) د فصل او حساب او کتاب ورځ مقرره ده.

(١) سورة الحاقة، آیت نمبر ١٩

(٢) سورة الحاقة، آیت نمبر ٢٠

(٣) سورة النباء :آیت نمبر ١٧

........إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقَاتُهُمْ أَجْمَعِينَ﴾.(١)

چي هغې ورځې د حساب ته به ټول را جمع کيږي.

........فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا﴾.(٢)

انسانان به ډله ډله راځي.

........وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا﴾.(٣)

او د اسمان دروازې به خلاصې سي.

........وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾.(٤)

او جنت به د متقيانو دپاره په ميدان محشر کي را قريب سي.

........وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ﴾.(٥)

او جهنم به د ګناهګارانو دپاره رابنکاره سي.

........وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾.(٦)

او ترازو به په ورځ د محشر د حساب او کتاب دپاره کښېښول سي.

........وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا﴾.(٧)

او پل صراط به د هر سړي د تيريدلو دپاره د قيامت په ميدان کي پر جهنم سر بېره اېښول سوي وي.

........وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾.(٨)

---

(١) سورة الدخان: آيت نمبر ۴۰

(٢) سورة النباء: آيت نمبر ۱۸

(٣) سورة النباء: آيت نمبر ۱۹

(٤) سورة الشعراء: آيت نمبر ۹۰

(٥) سورة الشعراء: آيت نمبر ۹۱

(٦) سورة الانبياء: آيت نمبر ۴۷

(٧) سورة مريم: آيت نمبر ۷۱

(٨) سورة الفجر: آيت نمبر ۲۲

الله تعالی به پخپله بلاکیفه د ملائکو د ډلو سره میدان محشر ته راښوه سي.
........وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ﴾.(۱)
او فرشتې به د الله تعالی پر عرش باندې چارچاپیره وي او اته(۸) فرشتې به دالله تعالی عرش میدان محشر ته راښوه کړي.
په روایاتو کي راځي: چي کله د الله تعالی عرش میدان محشر ته راځي نو دهغه دآواز او هیبت څخه به ټوله میدان محشر د بې هوښې په حالت کي پر موخي غوځار سي.چي څومره نارینه او زنانه وي هغه به ټوله په میدان محشر کي بې هوښه پراته وي.
په ټوله میدان محشرکی به د ټولو څخه مخکي په هوښ کي راتلونکي ذات دپیغمبر ﷺ وي.
پیغمبر ﷺ فرمايي چي کله زه په هوښ کي راسم نو چي وګورم حضرت موسی علیه السلام به دالله تعالی دعرش پښه نیولي ولاړوي ماته به دامعلومه نه سي چي ایا هغه زما څخه مخکي په هوښ کي راغلي دي او که د اوله سره څخه بې هوښ سوي نه دي.
دالله تعالی د طرفه پر ټوله انسانیت اولني آواز دارځي.
.........يَا عِبَادِيْ إِنِّيْ أَمْسَكْتُ لَكُمْ مُنْذُ أَنْ خَلَقْكُمْ إِلَى يَوْمِكُمْ هٰذَا﴾.
اې انسانانو دکمې ورځې څخه چي ماتاسو په دینا کي پیداکړي واست تر نن ورځې ما پوري په ډیر برداشت او صبر سره ستاسو ننداره وکړه.
........نَظَرْتُ أَعْمَالَكُمْ وَسَمِعْتُ أَقْوَالَكُمْ﴾.
چي تاسو څه وکړل هغه مي ټول ولیدل او چي تاسو څه وویل هغه مي ټول واورېدل.
........اَلْيَوْمَ اَلصَّوْلِيْ﴾.

---
(۱) سورة الحاقه :آیت نمبر ۱۷

نن به تاسو ته وله خاموش یاست او زه به فیصله کوم تاسو به یې برداشت کوئ، د هر سړي اعمال به په عمل نامه کي ليکلي را ښکاره سي، الله تعالی به ټولو انسانانو ته وفرمايي:

........هٰذِهٖ اَعْمَالُكُمْ فَمَنْ وَجَدَ فِيْهِنَّ خَيْرًا فَلْيَحْمِدِ اللهَ وَمَنْ وَجَدَ فِيْهِنَّ غَيْرَ ذٰلِكَ فَلَا يَلُوْمَنَّ اِلَّا نَفْسَهٗ﴾.

داستاسو اعمال دي چي تاسو په دنيا کي څه کړي دي تاسو پخپله په دې کي وګورئ چي کم څوک په دې کي دخير اعمال پيداکړي نوشکر دي اداکړي او چي کم څوک دخير څخه علاوه بد اعمال په کي پيداکړي نو دخپل ځان څخه ماسوا بل څوک دې نه ملامت کوي.

## سعادت او شقاوت:

نو په دغه ورځ به ټوله انسانيت ته داور معلومه سي چي "شقي" څوک دي او "سعيد" څوک دی او د "شقاوت" او "سعادت" په حقيقت به انسانان په دغه ورځ پوهيږي.

چي کله داعمالو تلل شروع سي دکم چا چي دنيکواعمالوتله درنه سي نو که چيري نارينه وي حضرت جبرائيل عليه السلام به په داشکل اعلان کوي.

.......اِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ﴾.

او که چيري زنانه وي.

.......اِنَّ فُلَانَةَ بِنْتَ فُلَانٍ﴾.

فلانکی دفلانکي زوی يا فلانکې دفلانکي لور.

.......قَدْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهَا﴾.

د دې د نيکو اعمالو تله درنه سوه.

.......وَسَعَدَ سَعَادَةً لَا يَشْقٰى بَعْدَهَا اَبَدًا﴾.

هغه په داسې نیکبختي سره نیکبخت سو چي دهغه وروسته به بیا هیڅ کله بدبختي نه ویني.
او که چیري دهغه دبدو اعمالو تله درنه سي نو بیاهم جبرائیل عليه السلام دا اعلان کوي
........إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ قَدْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهَا﴾.
فلانکي دفلانکي زوی د ده د نیکو اعمالو تله سپکه سوه.
........لَقَدْ شَقِيَ شَقَاوَةً لَا يَسْعَدُ بَعْدَهَا أَبَدًا﴾.(۱)
دداسي بدبختي سره مخامخ سو چي د دې څخه وروسته به بیا هیڅ کله نیکبختي ونه ویني.
نو دهغي ورځي سعادت او نیکبختي او کامیابي هم الله تعالی په کامل لمانځه کي ایښي ده نو چي دکم چا لمونځ ظاهراً اوباطناً کامل وي نو هغه به په دغه ورځ دکامیابي او سعادت سره مخامخ کیږي.

## څلورم انعام:

څلورم انعام به داورکول کیږي چي دعمل نامې ورکولو او "شقاوت" او "سعادت" اعلان کولو وروسته به هر سړی که ښه وي او که بد و ي پر "پل صراط" باندي تیریږي تر "پل صراط" لاندي به دوزخ وي او چي کله یو سړی پر "پل صراط" تیرسي نو جنت ته به داخلیږي.
لکه الله تعالی د دې تذکره په قرآن کریم کي هم کړې ده:
........وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا.ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾.
هرسړی به پر پل صراط باندي تیریږي دادالله تعالی حتمي فیصله ده چي کم خلق تقوٰی داره دي هغه به جنت ته رسیږي او چي کم خلق بدعمله دي هغه به د "پل صراط" څخه لاندي په جهنم کي لویږي.

(۱)اتحاف الخیرة المهرة: جلدنمبر۸ :صفحه نمبر: ۱۶۰ : حدیث نمبر ۷۶۹۲

نو چي کم سړی لمونځ په کامل طریقه سره اداکوي الله تعالی به وده ته دا انعام ورکوي چي دسترګو په رپ کي به تر پل صراط تیرېږي او جنت ته به رسیږي.

## پنځم انعام:

پنځم انعام به داورکول کیږي چي الله تعالی به په حساب او کتاب کي د ده سره آساني کوي.

داخو دهر مومن غوښتنه او تمنی ده ورنه په چا کي دا طاقت سته چي دالله تعالی په دربار کي خپل پوره حساب پیش کړي.

ځکه پیغمبر ﷺ به حضرت عائشې رضي الله عنها ته فرمایل:

.......إِنَّه مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَئِذٍ يَا عَائِشَةَ هَلَكَ﴾(١).

اې عائشې د قیامت په ورځ چي کم څوک د حساب او کتاب سره مخامخ سي نو هغه به په هلاکت کي واقع کیږي.

نو چي دکم چا لمونځ کامل سي هغه به د آسانه حساب او کتاب کولو بعد الله تعالی جنت ته داخلوي.

## خلاصه:

بهر حال لمونځ یو داسي عبادت دی چي په هغه کي ټول عبادتونه راجمع سوي دي نو که چیري لمونځ صحیح سي نو انشاء الله د هغه په ذریعه به نور عبادتونه هم صحت پیدا کړي.

نو زموږ دپاره مناسب داده چي موږ دخپل لمانځه ظاهر او باطن دواړه صحیح کړو چي دالله تعالی په دربار کي د دې ټولو نعمتو مستحقین جوړ سو.

(١) سلام المؤمن فی الدعاء: حدیث نمبر ۶۱۷

نو دا د حضرت لقمان علیه السلام اول نصیحت وو چې د لمانځه په حالت کې د خپل زړه حفاظت کول الله تعالی د ې موږ او تاسو ټولو ته پر دې نصیحت باندې د عمل کولو توفیق را کړي.

او هم د ې د لمانځه په دورانیه کې د خپل زړه د حفاظت کولو توفیق را کړي او الله تعالی دې په دا څو مختصرو خبرو باندې د عمل کولو توفیق را نصیب کړي.

(آمین یارب العالیمن)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# په لمانځه کې خشوع کول

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ۔ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ(١).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿إِنَّمَا الصَّلَاةُ تَمَسْكُنٌ وَتَوَاضُعٌ وَتَضَرُّعٌ﴾(٢).

**تمهید:**

محترمو مشرانو! په تېره جمعه کي ما ستا سو و مخته د "لقمان حکیم" قول پیش کړی وو چي هغه د څلورزرو(۴۰۰۰) پیغمبرانو د ارشاداتو څخه راخلاصه کړی وو او داتو(۸) خبرو په شکل یې پیش کړی وو.

په هغه اتو(۸) خبرو کي اوله خبره داوه: چي د لمانځه په دوران کي د خپل زړه حفاظت کول.

د دې یو مطلب داهم علماؤو بیان کړی دی: چي خپل لمونځ د خشوع او خضوع په کیفیت سره ادا کول لکه: د پیغمبر ﷺ د حدیث روایت ماستاسو په مخ کي پیش کړی، چي پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

........﴿إِنَّمَا الصَّلَاةُ تَمَسْكُنٌ وَتَوَاضُعٌ وَتَضَرُّعٌ﴾ بیشکه لمونځ د سکون او تواضع او خشوع نوم دی.

---

(١) سورة المومنون، آیت نمبر ۲،۱

(٢) بخاري شریف، حدیث نمبر ۲۲۳

تواضع او خشوع څه ته وايي علماؤ د دې تعریف داسی بیان کړی دی:
.........اَلْخُشُوْعُ هُوَ اَلتَّذَلُّلُ مَعَ خَوْفٍ وَسُكُوْنٍ لِلْجَوَارِحِ﴾ خشوع او خضوع انتهائي تذلل خوف اویره او د اعضاؤ سکون ته وايي.

## د خشوع حاصلولو طریقه:

په تېره جمعه کي مي ستاسو و مخ ته دا خبره تفصيلي پيش کړې وه چي د خشوع او خضوع پیدا کولو مختلفي طریقي دي.
یو خو دا چي انسان د لمانځه په دوران کي کم الفاظ ادا کوي د هغه الفاظو طرفته متوجه وي او خپل سوچ او فکر یې پر هغو الفاظو باندي راګرځولی وي.
یا کم الفاظ چي اداکوي د هغه د معناګانو و طرفته د انسان سوچ او فکر متوجه وي او د هغه معناوي په خپل دماغ کي راګرځوي.
یا انسان لمونځ په دې فکر او تصور سره کوي: چي دی الله تعالی ويني او خپله عاجزي و خپل رب ته پيشوي او په سوچ او فکر کي يې داوي چي زه د سجدې په حالت کي خپل سر د الله تعالی پر قدمو باندي ايږدم یا کم ازکم دا تصور خو ولري چي الله تعالی خو ما ويني.
نو چي کله د انسان لمونځ د خشوع او خضوع په کيفيت کي سي نو پر دې لمانځه باندي الله تعالی "مؤمن" ته فلاح او کامیابي ور نصیب کوي نو د "سورة المؤمنون" په دې ایاتو کي الله تعالی انسانانو ته پر دې خبره تنبیه ورکوي چي تاسو به صرف د لمانځه پر کولو اکتفا نه کوی بلکه د لمانځه کولو په دوران کي به د خشوع او خضوع د کيفيت پیدا کولو کوشش کوی.

## د وسوسو راتللو بیان:

اکثره خلق په ډېر کثرت سره دا شکایت کوي: چي کله زه لمونځ کوم نوماته په دماغ کي ډېري وسوسې، سوچونه، اوفکرونه رالوېږي نو زه خو دا وایم چي د دې سوچو اوفکرو په وجه باندي د پرېشانه کیدلو ضرورت نسته بلکه باید

انسان د دې سوچو اوفکرو د دفاع کولو وطرفته متوجه سي د دې تکليف او نقص ليري کولو طريقې اختيار کړي.

اوس د دې تکليف او نقص ليري کولو طريقې څه دي "علماءکرامو" د دې د پاره مختلفي "مقدماتي خبرى" بيان کړي دي، چي کله انسان هغه "مقدماتي خبرى" په خپل عمل کي راولي نو تر ډېره حده پوري د وسوسو د تکليف او نقصان څخه خلاصيداى سي، او په لمانځه کي به يې خشوع، خضوع، سکون او اطمينان پيدا کيږي.

## د لمانځه "مقدمات" او "تمهيدات":

د سوچو او فکرو د ختمولو اوله طريقه "علماءکرامو" دا بيان کړې ده: چي الله تعالى د لمانځه څخه مخکي يو څو "مقدمات" قائم کړي دي، يعني اصل مقصود خو لمونځ دى ليکن د لمانځه څخه مخکي يو څو "مقدمات" او يو څه داسي "تمهيدات" ايښوول سوي دي، چي د هغه په ذريعه انسان تر اصلي لمانځه پوري رسيداى سي، چي هغه ټوله "مقدمات" او "تمهيدي" کارونه دي.

که چيري انسان هغه "تمهيدات" او "مقدمات" په صحيح طريقه سره پر ځاى کړي، نو د هغه په ذريعه سره د انسان په سوچو اوفکرو کي تر ډېره حده کمي راځي.

## ټوله مقدمه "طهارت" دى:

د لمانځه په "مقدماتو" کي د ټولو څخه مخکي الله تعالى د "طهارت" مقدمه ايښى ده چه د هر لمانځه د پاره "طهارت" او پاکي حاصلول ضروري دي.

ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

........مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ﴾([1]).

یعني د لمانځه مفتاح "کیلي" "طهارت" دی.

داغه رنګه په یو بل حدیث کې پیغمبر ﷺ فرمایي:

........لَاتُقْبَلُ صَلَوةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ﴾([2]). یعني هیڅ لمونځ د "طهارت" بغیر د الله تعالی په دربار کې قبول نه دی.

## د "طهارت" ابتداء:

د "طهارت" سلسله د "استنجاء" څخه شروع کیږي او "استنجاء" کول د انسان د پاره ضروري بلل سوي ده او د "استنجاء" په باره کې "فقهاؤو" لیکلي دي: چې د "استنجاء" کولو په وخت کې باید انسان د "طهارت" حاصلولو په خاطر په ښه طریقه سره اطمینان وکړي.

که چیري د "بولو" څخه وروسته د انسان سره د یو څاڅکي د راوتولو خطره وي نو تر هغه وخته پوري باید انسان د "استنجاء" څخه ځان فارغ نه کړي چې تر څو پوري د څاڅکي راوتولو احتمال ختم سوی نه وي.

د "فقهاؤو" په اصطلاح کې دې ته "استبراء" ویل کیږي چه که چیري د انسان پاکي په کامله طریقه سره نه وي سوې او پر کپړو یا جسم باندي ئې د "نجاست" اثرات باقي پاته وي نو د هغه په نتیجه کې د انسان په زړه کې سوچونه او وسوسې پیدا کیږي.

ځکه الله تعالی په هر شی کې یو څه خاصیات ایښي دي، د ناپاکي یو خاصیت دادی چې د هغې په وجه د انسان په زړه کې ناپاکه او ګنده "سوچونه" او

---

([1]) نضرة النعيم في اخلاق رسول الكريم، حديث نمبر ۳۵

([2]) مسلم شریف: حدیث نمبر ۵۳۴

شيطاني وسوسې پيدا کيږي نو د لمانځه د ټولو څخه مخکي "تمهيدي" کار دادی چي انسان د ناپاکۍ په کامله طريقه سره د ليري والي اهتمام وکړي.

## د لمانځه دويمه مقدمه "اودس" دی:

د "استنجاء" څخه وروسته دوهم "تمهيدي" عمل "اودس" دی، "اودس" ډېر عجيب او غريب عمل دی.

په حديث شريف کي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: چي کله انسان "اودس" کوي او د "اودس" په دوران کي خپل مخ مينځي نو د هغه په نتيجه کي د ده د "سترګو" څخه ټولي صغيره ګناهونه پريولل کيږي، نو چي کله انسان "لاسونه" مينځي نو د "لاسو" څخه سوي صغيره ګناهونه پريولل کيږي، او چي کم وخت "پښې" مينځي نو د "پښو" ګناهونه هم په "اودس" کولو سره صفا کيږي.

او کم څلور(۴) اندامونه چي په "اودس" کي پريولل کيږي، عام طور داغه څلور(۴) اندامونه انسان په ګناه کي اخته کوي، او د دې اندامو په ذريعه د انسان څخه ګناه کيږي.

الله تعالٰی د انسان د پاره دا انتظام کړی دی: چي کله بنده په لمانځه کي د الله تعالٰی و دربار ته حاضريږي، نو د هغه څخه مخکي بايد دی د ګناهونو څخه پاک سوی وي د هغه "لاسونه" د هغه مخ او د هغه "پښې" بايد د ګناهونو څخه پاکي وي.

خو دا معلومول ضروري دي چي د ګناهونو څخه مراد " صغيره" ګناهونه دي "کبيره" ګناهونه د توبې بغير په بل شي نه معاف کيږي.

## د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه کرامت:

د حضرت امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په باره کي دا مشهوره وه چي کله به يو چا "اودس" کاوی نو د هغه د "اودس" په اوبو کي به و ده ته د هغه د ګناهونو شکل ور معلوميدی چي دا سړی په فلانکې ګناه باندي اخته دی او اوس د ده

فلانکي ګناه پرېوتل کيږي الله تعالى حضرت امام ابو حنيفه رحمۃ الله علیه ته دا کشف ورکړی وو.

بهر حال الله تعالى د لمانځه ځخه مخکې "اودس" د دې د پاره فرض کړيدي چې د هغه ځخه صرف ظاهري صفائي نه بلکې باطني صفائي يعنې د ګناهونو صفائي هم حاصله سي.

ليکن د "اودس" ځخه دا فائده هغه وخت حاصلېدلای سي چې کله انسان "اودس" پر سنت طريقه برابر وکړي او دا رنګه "اودس" وکړي لکه ځنګه چې پيغمبر ﷺ بيان کړی دی، د پيغمبر ﷺ عادت مبارک دا وو چې کله به يې "اودس" کاوی د قبلې و طرفته به يې مخ و ګرځاوی او دا به يې ويل چې دا د "اودس" د ادابو ځخه دي او داغه رنګه د "اودس" د شروع کولو په وخت کي به يې "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" ويله، او د "اودس" کولو په دوران کي به يې د چاسره خبري نه کولې او د خپل "اودس" طرفته به متوجه وو.

د خپل "اودس" و طرفته په متوجه کيدلو کي د ټولو ځخه لويه خبره دا ده چې انسان کله خپل "مخ" مينځي نو ذه به سوچ او فکر داوي چې زما د مخ ګناهونه پريمينځل کيږي چې کله انسان "لاسونه" مينځي نو دافکر به کوي چې پيغمبر ﷺ خو فرمايلي دي: چې په "اودس" کي د "لاس" پريوللو په وخت کي د انسان د "لاسو" ګناهونه صفا کيږي، نو په دې وخت کي زما د "لاسو" ګناهونه هم صفا کيږي.

داغه رنګه د اوبو په استعمالولو کي به "اسراف" نه کوي چې دڅومره اوبو ضرورت دی هغومره اوبه به استعمالوي ځکه په رواياتو کي راځي:

......انَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ فَقَالَ: مَا هٰذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ؟ قَالَ: وَفِي الْوُضُوءِ إِسْرَافٌ قَالَ: نَعَمْ وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهَرٍ جَارٍ﴾(١).

(١) شعب الايمان: حديث نمبر ۲۵۲۲

پیغمبرﷺ حضرت سعدؓ د "اودس" کولو په دوران کي وینې هغه اوبه ډېري تویوي اورته وایي اې سعده! دا څنګه "اسراف" کوې حضرت سعدؓ پوښتنه څني کوي ایا په "اودس" کي هم "اسراف" ستنه؟

پیغمبرﷺ ورته وایي، هو که څه هم ته پر یو داسي دریاب باندي "اودس" کوې چي د هغه اوبه بهیدونکي وي که څه هم ستا د "اودس" کولو په وجه د دریاب په اوبو کي څه کمی نه راځي خو بیا هم د"اسراف" څخه ځان ګوره او فضول اوبه مه تویوه.

## په اودس کي مسنون دعاګاني:

او د"اودس" په دوران کي دعاګاني کول لکه په حدیث شریف کي راځي چي پیغمبرﷺ به کله "اودس" کاوی نو په کثرت سره به یې دا کلمه ویله:

.........اَشْهَدُ اَنْ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ، وَاَشْهَدُ اَنْ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ﴾(١).

او کله به یې دا دعاء ویله:

.......اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَوَسِّعْ لِي فِي دَارِي، وَبَارِكْ لِي فِي رِزْقِي﴾(٢).

او د اودس کولو څخه وروسته به پیغمبرﷺ اکثریت دا دعاء ویله:

........اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾(٣).

که چیري انسان د دې ادابو سره "اودس" وکړي نو د داسي "اودس" خاصیت دا دی چي کم قسما قسم سوچونه او فکرونه د انسان په دماغ کي راګرځي د هغه څخه به خلاص سي، او د الله تعالی و طرفته به متوجه سي.

لیکن زموږ لویه غلطي د ټولو څخه د مخه د "اودس" څخه شروع سي چي کله موږ پر "اوداسه" کښېنو نو د دنیا ټوله خرافات د "اودس" په دوران کي کوو.

(١)موطا امام مالک، حدیث نمبر ۳۹۹

(٢)مصنف ابن ابي شیبه، حدیث نمبر ۲۹۳۹۱

(٣) مصنف عبد الرزاق، حدیث نمبر ۷۳۱

خبرې هم کوو او مسخرې هم کوو او په ډېره تلوار "اودس" کوو چې هسې ژر د "اودس" د فریضې څخه ځان فارغ کړو.
د هغه نتیجه دا وي: چې د "اودس" چې کم فوائد او ثمرات دي د هغه څخه بې نصیب سو د دې پر ځای که چیرې په سوچ او فکر سره او د ټولو ادابو او سننو سره سره او د "اودس" په دوران کې ټول اذکار هم ووایو نو زموږ د لمانځه دوهم "تمهید او مقدمه" به صحیح سي.

## دریمه مقدمه "تحیة الوضوء والمسجد":

د لمانځه دریمه مقدمه داده چې کله انسان د "اودس" څخه فارغ سي نو مسجد لره د جماعت څخه یو څه مخکې ځان راوره سوې د "تحیة المسجد" او "تحیة الوضوء" په نیت سره دوه(۲) رکعته لمونځ اداکړي، دا دوه(۲) رکعته واجب یا سنت مؤکد خو نه دي لیکن د ډېر لوی فضیلت والا رکعتونه دي.
په حدیث شریف کې راځي چې یو ځل پیغمبر ﷺ حضرت بلال ؓ ته وویل: چې اې بلاله! چې کله زه د معراج پر سفر باندې وم او هلته الله تعالی په ما باندې د جنتو سیر وکړی ما ستا د قدمو رږغ هلته په جنتو کې زما څخه د مخه واورېدی.
دا راوښیه هغه کم عمل دی چې د هغه په وجه الله تعالی ته دې مقام ته ورسولې چې په جنت کې زما د محافظ په شکل زما څخه مخکې روان وې.
حضرت بلال حبشي ؓ په جواب کې ورته وایي: چې د الله رسوله! نور خو مې هیڅ عمل په یاد نه دی البته یوه خبره ده هغه دا چې د کم وخت څخه الله تعالی په اسلام مشرف کړی یم نو د هغه وخت څخه ما د خپل ځان سره دا فیصله کړې ده چې کم وخت زه "اودس" وکړم نو دوه(۲) رکعته لمونځ به په دغه "اودس" سره ضرور اداکوم چنانچه د څه وخت څخه چې ما اسلام راوړی دی، چې کله مې هم اودس کړی دی، نو په هغه سره مې دوه(۲) رکعته "تحیة الوضوء" لمونځ ضروري ادا کړی دی.

پیغمبر ﷺ چې کله دا اورېدل نو ورته وايي: چې دا هغه عمل دی چې د هغه په وجه الله تعالی ته دغه مقام ته رسولی یې.

## "تحية المسجد" څه وخت کول؟

بهرحال د هر "اوداسه" څخه وروسته په دوه(۲) رکعته نفل لمانځه باندي چند دقيقې وخت مصرفيږي ليکن الله تعالی د هغه په وجه انسان ته دومره لوړه درجه په نصيب ورکوي.

او مسجد لره د راننوتلو څخه وروسته د کښينستولو څخه مخکي دوه(۲) رکعته "تحيةالمسجد" کول افضل دي البته که د انسان هيرسو کښيناستی او وروسته په ياد ورغلل نو په هغه وخت کي په کولو کي هم هيڅ حرج نسته ليکن افضل دا دي چي د کښينستولو څخه مخکي يې انسان اداکړي داده لمانځه دريم "تمهيد او مقدمه" ده.

## څلورمه مقدمه قبليه سنتونه:

د لمانځه څلورمه مقدمه دا ده: چي د هر فرض لمانځه څخه مخکي يو څه رکعتونه سنت مؤکد يا غيرمؤکد متعين کرځيدلي دي مثلاً سهار د لمانځه څخه مخکي دوه(۲) رکعته، د ماپښين د لمانځه څخه مخکي څلور(۴) رکعته سنت مؤکده دي، او د مازديگر د لمانځه څخه مخکي اود ماخستن د لمانځه څخه مخکي څلور(۴) رکعت سنت غيرمؤکد دي.

د ماښام د لمانځه چونکه زموږ په مذهب کي په تلوار سره د کولو حکم دی نو ځکه د ماښام د لمانځه څخه مخکي د دوو(۲) رکعتو کولو وخت نسته لهذا د فرض لمانځه څخه مخکي چي کم سنت ادا کيږي دا ده-فرض لمانځه څلرم "تمهيد او مقدمه" ده.

## د څلورو (۴) مقدماتو څخه وروسته خشوع حاصلیدل :

د دې څلورو (۴) مقدماتو د تیریدلو څخه وروسته چي کله انسان د فرض لمانځه نیت وتړي نو ده ته به انشاءالله یا په لمانځه کي د وسوسو او فکرو شکایت نه وریپښیږي، چي کم شکایت و عامو انسانانو ته وریپښیږي، د آذان او فرض لمانځه په درمیان کي چي په عامو مسجدانو کي نیمه ګهنټه یایو څه کم او زیات وقفه ورکول کیږي هغه د دغه تمهیداتو پوره کولو د پاره وي.
یعني چي انسان په اطمینان سره "اودس" وکړي، یا "تحیة الوضوء" او "تحیةالمسجد" په اطمینان سره ادا کړي، او د فرضي لمانځه څخه مخکي سنتونه هم په ښه طریقه سره وکړي، د دې ټولو تمهیداتو او مقدماتو وروسته چي کله د فرض لمانځه نیت وتړي نو انشاءالله هم به یې په لمانځه کي خشوع او خضوع پیداسي او هم به یې د الله تعالیٰ و طرفته فکر او توجه برابره سي.
په دې تمهیداتو او مقدماتو باندي صرف یو څو د قیقې وخت مصرفیږي لیکن د هغه په وجه زموږ په لمنځو کي صحت او درستګي راځي او د هغه په نتیجه کي به موږ ته صلاح او فلاح الله تعالیٰ زا نصیب کوي.

## د وسوسو او فکرو پرواه نه کول :

د دې څخه وروسته دا خبره هم ستاسو په خدمت کي پیشوم چي د دې تمهیداتو او مقدماتو پوره کولو وروسته که بیا هم انسان ته په فرضي لمانځه کي وسوسې او فکرونه راسي نو د هغو هیڅ پرواه نه کول او نه د هغو په وجه پریشانه کیدل په کار دي، ځکه که هغه وسوسې او فکرونه غیراختیاري وي نو بیاخو د الله تعالیٰ په دربار کي معاف دي.
بعض خلک دهغه وسوسو او فکرو په وجه د لمانځه ناقدري کوي چنانچه ډېر خلک دا وایي: چي زموږ به څه لمنځونه وي ځکه پرموږ خو ټول لمونځ په وسوسو کي تیریږي اوډېر خلک لادا هم وایي: چي زموږ لمنځونه خو مکمل بیکاره دي ځکه چي زموږ په لمنځو کي یوه زره خشوع او خضوع نه پیداکیږي.

ګورئ! داټولي د بېقدرۍ خبري دي او داټولي دالله ناخوښي خبري دي اول خو دخان سره دافکر کول چي الله تعالیٰ په خپل فضل اوکرم سره د لمانځه کولو توفیق راکړی، او د الله تعالیٰ په دربار کي د سجدې لګولو توفیق راکول سو نو اول خو پردې توفیق او نعمت باندي د الله تعالیٰ شکر اداکول په کار دي، چي د ده په دربار کي مي لمونځ اداکړی، شاید ډېر خلګ به داسي وي چي هغه به د دې نعمت څخه محروم وي که چیري زه هم د دې نعمت څخه محروم سم نو به څومره لویه د محرومۍ خبره وي.

لهذا د ناقدرۍ کولو پرځای د خپل لمانځه قدر کول او پر هغه باندي د الله تعالیٰ شکر اداکول البته د خپله طرفه چي کمه کوتاهي وي او خشوع او خضوع انسان ته نه حاصلیږي او فکرونه او وسوسې د انسان په د ماغ کي راځي پر هغه باندي استغفارکول په کار دي.

## د لمانځه څخه وروسته کلمات:

حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه به فرمایل: چي انسان به د هر فرض لمانځه څخه وروسته دوه(۲) کاره کوي.

.....اول دا چي "الحمدلله" به وایي.

.....او دوهم به "استغفرالله" په کثرت سره ادا کوي.

د "الحمدلله" په ذریعه به د دې خبري شکر اداکوي، چي اې الله! تالره دي شکر(حمد) وي چي تا په خپل دربارکي دحاضریدلو اولمانځه کولو توفیق راکړی.

او "استغفرالله" پردې خبره چي یا الله! چي تا کم ثوفیق د لمانځه کولو راکړی لیکن ما په پوره طریقه سره د هغه حق ادانه کړی چي څنګه لمونځ تارا څخه غوښتی هغسي مي ادانه کړی نو پردې باندي استغفاراوبخښنه غواړم.

لکه په حدیث شریف کي راځي چي پیغمبر ﷺ به د هر لمانځه د سلام ګرځولو څخه وروسته دري(۳) ځله استغفرالله، استغفرالله، استغفرالله وایی حالانکه

لمونځ کول خو څه ګناه نه وه لیکن استغفار پر دې خبره ویل کیدی چي یاالله ! څنګه لمونځ چي ستا دشانه سره مناسب وو هغسي مي نه وکړی لکه زموږ اکابرینو چه به د عبادت کولو څخه وروسته همیشه داویل:

........﴿مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ، وَحَقَّ مَا يَنْبَغِي لَكَ أَنْ نَعْبُدَ﴾([1]).

یاالله چي کم حق عبادت وو او ستا د شان سره لایق وو هغسي مي نه وکړي.

## د لمونځ کونکو درجات:

حافظ ابن قیم رحمة الله علیه د لمونځ کونکو پنځه(۵) درجات بیان کړي ده.

## (۱) متهاون فی الصلوة:

"متهاون فی الصلوة" هغه لمونځ کونکي ته ویل کیږي چي هغه ځپل لمونځ باقاعده نه کوي یعني په لمانځه کي سستي کوي کله کړی کله نه کړی کله ناوخته کړی او کله قضاء کړی د دغه رنګه لمونځ کونکو په باره کي الله تعالٰی داخبره را استولي ده:

........﴿فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾([2]).

هلاکت دي وي د داسي لمونځ کونکو د پاره چي په ځپل لمانځه کي سستي کوي.

## (۲) معاقب فی الصلوة:

"معاقب فی الصلوة" هغه لمونځ کونکي ته وایي چي لمونځ خو باقاعده کوي لیکن د لمانځه کولو په دوران کي د ده فکر او سوچ په دنیا کي اخته وي. په ټوله لمانځه کي د الله رب العزت سره د مناجات کولو پر ځای دی د دنیا سوچونه او فکرونه وهي د دارنګه لمونځ ګزاره به په آخرت کي مؤاخذه کیږي

---

([1]) تنبیه الغافلین: باب اهوال القیامة: صفحه نمبر ۶۴

([2]) سورة الماعون: آیت نمبر ۵

چې لمونځ دي ولې په داسې بیکاره طریقه سره وکړی ایا ستاسره یوه ذره دا احساس نه وو چې ته د یوشهنشاه په دربار کې ولاړ وې نو ده ته به سزا ورکول کېږي لیکن د "ترک نماز" د لوی عذاب څخه به خلاص وې.

## (۳)معفوعنه:

"معفوعنه" هغه لمونځ گذار ته ویل کېږي چې د لمانځه په دوران کې مکمل دا کوشش کوي چې خپل سوچ او فکر د الله وطرفته او د خپل لمانځه وطرفته رلوگرځوي که څه هم باربار د ده څخه سوچ او فکر د دنیا طرفته ځي لیکن دَی پوره کوشش کوي چې خپل سوچ او فکر لمانځه ته راوگرځوي د داسې خلقو په باره کې دا امید دی چې الله تعالی به د دوی سره د درگزر معامله وکړي او د دوی چې کمه کمي او کوتاهي ده هغه به معاف کړي.

## (۴)خاشعین في الصلاة:

"خاشعین" هغه لمونځ کونکو ته وایي چې کله تکبیر تحریمه ووایي، نو د مخلوق څخه یې سوچ او فکر راوگرځي او په خپل رب پورې پیوست سي د دغه قسم لمونځ گزارانو په باره کې الله تعالی فرمایي:

......﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾[1].

په تحقیق سره فلاح اوکامیابي د هغه چا په نصیب ده چې هغه په لمانځه کې خشوع او خضوع کوي.

## د خاشعینو د لمانځه واقعه:

زموږ سلفو عجیبه لمنځونه کړي دي، او د هغه په لمنځو کې عجیبه خشوع وه، چې کله انسان د هغو حالات گوري نو د انسان عقل د هغو د ادراک څخه عاجز پاته کېږي.

---

[1] سورة المؤمنون: آیت نمبر ۱

حضرت ابو ریحانه ﷺ صحابي دی، د یو اږده سفر څخه راغلی، چې په هغه کې دري کاله د مخه دکور څخه روان سوی ولو، دکور زنانه ورته په انتظار ده او په ډېره خوشحالي سره د خاوند د لیدلو انتظار کوي چې نن خو هغه کورته راغلی پرما باندي او زما پر بچو باندي به پوښتنه کوي.
حضرت ابو ریحانه ﷺ د ماخستن لمونځ په مسجدنبوي کي اداکړی د هغه څخه وروسته کورته راغلی نو زناني په ډېر شوق، محبت اوخوشحالي سره خپل بچیان صفا کړل او د خپلوبچو سره د خاوند د ملاقات په انتظار ناسته ده.
حضرت ابو ریحانه ﷺ چې کله کورته راغلی او حجرې ته راننواتی نو زناني ته وایي: چې د دوو(۲)رکعتو لمانځه اجازت راکړه چې زه هغه وکړم د هغه څخه وروسته به ملاقات او پوښتنه سره کوو چې کله هغې اجازت ورکړی نو ده د دوو(۲) رکعتو لمانځه نیت وتاړی.
هغه زنانه اوبچي په انتظار ورته ناست دي د ده څخه لمونځ اوږد سو چې کله د شپې کافي حصه تیره سوه نو هغه بچیان پرهغه ځای باندي په ناستي بیده سوه، او زنانه د ده د لمانځه د ختمیدو په انتظارکي ناسته ده چې کله د سهار رڼا راښکاره کیږي نو ده سلام په وګرځاوی د سلام ګرځولو څخه وروسته هغه زنانه په ګیله باندي ورته وایي:
......﴿یَااَبَارَیْحَانَةَ ذَهَبْتَ وَرَجَعْتَ وَعَدْتُ اَمَالَکَامِنْکَ نَصِیْبُ﴾.
اې اباریحانه ته ولاړې ډېره زندګي دي په سفر کي تیره کړه او واپس الله سلامت ترموږ پوري راوستلې او عبادتونه دي هم وکړل چې کله کورته راغلي موږ ستا په انتظار وو تاموږ ته وقت رانه کړی او نه دي پوښتنه را باندي وکړه، اودلته دي هم ټوله شپه په عبادت کي تیره کړه ایا موږ پر تا باندي د یو پوښتني کولو حق هم نه لرو؟
دی په جواب کي ورته وایي:

.......لَسِيْتِ وَاللهِ﴾ په خدای قسم راځځه هير سولاست هغه زنانه ورته وايي چي درځخه هيرسوي نه يو بلکه تاهيرکړلو ځکه که چيري ته د کور ځخه د باندي وای نو بيا به در ځخه هيرسوي وای اوس چي په کور کي د ننه په حجره کي ستا ومخته زه اوبچيان ناست يو نو دلته اوس د هيريدلو څه معني ده.

حضرت ابوريحانه ﷺ ورته وايي چي کله ماتکبيرتحريمه ووايي نو زماومخته جنت او دوزخ ښکاره سو زه په هغه کي داسي محو او مستغرق سوم چي ته اوبچيان خوڅه کوي په خدای قسم دنيا او مافيها ټوله زماد نظرڅخه غائب سوه تر هغوخته پوري چي دا اوس مي سلام ګرځاوی، نوداد خاشعينو لمنځونه وه چي هغو په داسي شکل اداکول او پر دې لمانځه باندي الله تعالی هغو ته فلاح اوکاميابي ورکوله.(۱)

## (۵)مقربين:

"مقربين" هغه لمونځ کونکو ته وايي: چي د هغو د سترګوخونک والی په لمانځه کي وي هغوي دلمانځه بغير سکون اواطمينان نه سي پيداکولای لکه پيغمبر ﷺ به هميشه داويل:

......وجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ﴾(۲).

زما د سترګو خونک والی الله تعالی ماته په لمانځه کي ايښی دی.

## د حضرت عثمان ﷺ د لمانځه کيفيت:

حضرت عثمان ﷺ مسجد نبوي ته راغلی د ماخستن وخت دی د دوه(۲) رکعته لمانځه نيت يې وتاړی.

---

(۱)بيانات جميل :صفحه نمبر ۵۰

(۲)مسند احمد :۱۴۰۳۷

ترشاېږ شاګرد حضرت عبدالرحمان تيمي ﷺ ناست دی چې کله حضرت عثمان ﷺ قراءت شروع کړی نو حضرت عبدالرحمان تيمي ﷺ یې اوري د هغهٔ سره دافکر پیدا سو چې حضرت عثمان ﷺ پر کم ځای باندي رکوع کوي.
د حضرت عثمان ﷺ په قراءت کي.
"سورة البقره" تیر سو، نور سورتونه شروع سول تر دې حده پوري چې لس(۱۰) سیپارې تیري سوې، شل(۲۰) سیپارې تیري سوې، دیرش(۳۰) سیپارې تیري سوې، پر "والناس" باندي د حضرت عثمان ﷺ د اول رکعت رکوع راغله نو دا د صحابه کرامو په لمنځو کي د سترګو خونک والي وو.

## د حضرت عبدالله ﷺ د لمانځه اهتمام:

حضرت عبدالله ابن زبیر ﷺ چي به کله پر لمانځه باندي ودریدی نو د هغه د لمانځه د ارکانو شپه به معلومه وه چي زمانن د قیامي شپه ده بیا به یې ټوله شپه په قیامه کي تیروله، او نن مي د رکوع شپه ده بیابه د سهار تر آذانه پوري د رکوع په حالت کي وو، او نن مي د سجدې شپه ده، بیا به تر سهاره پوري په سجده کي وو، او د سهار پر آذان باندي به یې د سجدې څخه سر راپورته کاوی.

## د لمانځه برکت:

چي کله د هغو خلګو لمنځونه په کامل خشوع او خضوع سره وو نو بیابه هغو خپل ضروریات د لمانځه په ذریعه پوره کول، او الله تعالی به د غیبي خزانو څخه د دوی د لمانځه په برکت د دوی ټولي غوښتني ورپوره کولی.

## د حضرت انس ﷺ د لمانځه په ذریعه غوښتنه:

د حضرت انس ﷺ غلام راغلی ورته وایي، چي حضرت باغ تږی دی که چیري په یو ورځ او دوي کي د هغه د اوبو بندبست ونه سي نو هغه به ټول وچ سي هغه

زمانه نه د نهرو زمانه وه، او نه د باوړیو او برمو زمانه وه، حضرت انس ورته وایي: چې ته مصله راهواره کړه.
پر مصله ودرېدی او د دوه(۲) رکعته "صلوة الحاجة" نیت ئې وتړی اوږده رکعتونه یې وکړه د سلام ګرځولو څخه وروسته هغه نوکر ته وایي ته وګوره وریځ نه سوه راښکاره هغه چې وکتل نو واپس راغلی ورته وایي چې حضرت هیڅ نوم او نښان یې نسته.
نو ده بیا د دوه(۲) رکعته لمانځه نیت وتړی اوږده رکعتونه یې وکړل بیا غلام ته وایي: ته وګوره وریځ نه سوه راښکاره هغه چې وکتل ورته راغلی وای چې حضرت د آسمان په کنارو کې یو څه وریځ ښکاره سوه.
نو ده دریم ځل بیا د لمانځه نیت وتړی د سلام ګرځولو څخه مخکې توره وریځ راغله او پر باغ باندې راوغورېدله باران شروع سو او باغ د اوبو ډک سو دی هغه غلام ته وایي: چې ته ورسه باران پر کمه مځکه سوی دی، هغه چې راغلی که ګوري نو باران تول د باغ په چاردیواري کې سوی وو، چې یو څاڅکي هم د باغ د چاردیواري څخه د باندې نه وو سوی.
نو چې کله لمونځ په کامله طریقه سره اداسي نو بیا خو به یقیناً هم د انسان د ټولو ضروریاتو پوره والی الله تعالی د غیبي خزانو څخه کوي.

## د خوله بنت ثعلبه واقعه:

حضرت خوله بنت ثعلبه یو انصاري زنانه ده د دې خاوند "اوس بن صامت" دې ته د ظهار طلاق ورکړی د ظهار طلاق داوو چې یو سړي به خپلي زناني ته داوویل چې ته پر ما باندې داسې یې لکه خپله مور او د ظهار په جاهلیت کې حکم حرمت مؤبدوو چې هغه زنانه بیا هیڅ کله خپل خاوند ته نه رواکېدله.
چونکه په اسلام کې د ظهار په باره کې نوی حکم نه وو راغلی نو پیغمبر ﷺ پر هغه زړه طریقه باندې دوی ته د ظهار د طلاق مسئله بیان وله.

نو حضرت خوله ﷺ په منډه د پېغمبر ﷺ کورته راغله په دې وخت کي حضرت عائشه مبارکه د پېغمبر ﷺ سرمبارک ور مونځوي نو حضرت خولهﷺ ورته وایي اې د الله رسوله! د ډېر لوی مشکل سره مخامخ سوم.
ځکه خاوند ماته د ظهارطلاق راکړی ته پر ما رحم وکړه او دغه د ظهارطلاق ختم کړه، چونکي په اسلام کي نوی حکم د ظهار په باره کي نه وو راغلی نو پېغمبر ﷺ پرهغه زړه طریقه فتویٰ ورکوي چي بس ته پر ده باندي مؤبد حرامه سوې ئې.
دا خپل شکایت یو څه نور زیاته وي چي اې د الله رسوله! ته پر دې طلاق باندي نظرثاني وکړه، چي کله پېغمبر ﷺ د دې خبره نه اوري نو داپه ژړا کي ورته وایي:
........يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنَّهُ اَبُوْوَلَدِيْ ،وَتَفَرَّقَ اَهْلِي، اَكَلَ مَالِي، وَاَفْنَى شَبَابِي، وَنَثَرَتْ لَهُ بَطْنِيْ، حَتّٰى إِذَا كَبُرَ سِنِّي، وَانْقَطَعَ وَلَدِي، ظَاهَرَ مِنِّي﴾ اې د الله رسوله! دا زما د بچو پلار دی، او زما مور اوپلار وفات سول، زما چي څه مال وو هغه ټول د ده په کور کي ختم سو، او زما ځواني ټوله ده تیره کړه، او زما رحم د ده د بچو د پاره استعمال سو، اوس چي کله عمر زیات سو، زما د بچو پیداکولو زمانه تیره سوه، نو ده وماته د ظهارطلاق راکړی.
اې د الله رسوله! که چیري ته دا ظهارطلاق ختم نه کړې، نو زه به پر کم دَر باندي کړیږم، او زما نوره زندګي به چیري تیرېږي، اوس خو زماسره نکاح کولو ته څوک تیارنه دی، او نه مي د غسي په کور کي څوک پرېږدي، ته پر مارحم وکړه، او د دغه طلاق حکم بدل کړه.
........فَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: حُرِّمْتِ عَلَيْهِ وَاللهِ مَا أُمِرْتُ لِي شَأْنِكِ بِشَيْءٍ حَتَّى الْآنَ﴾.
پېغمبر ﷺ په جواب کي بیا ورته وایې: ته پر ده باندي د همیشه د پاره حرامه یې ماته ستا په باره کي نور هیڅ حکم د الله د طرفه نه دی راغلی.
دا بیا خپل فریاد زیاتوي:

........قَالَتْ: مَا ذَكَرَ طَلَاقًا، وَجَادَلَتْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مِرَارًا﴾ دا بار بار د رسول الله ﷺ ځخه مطالبه کوي او ورته وايي: چې د اې الله رسوله! هغه خوماته د طلاق الفاظ نه دي استعمال کړي، نو ته ما د ظهار په طلاق کې مه راوله، د پیغمبر ﷺ چونکه نوی حکم نسته نو ځکه هغه دې ته یا د حرمت خبره تکراره وي.

چې کله د پیغمبر ﷺ ځخه نا امید سوه نو پیغمبر ﷺ ته وایي چې اې د الله رسوله! چې کله ته زما خبره نه اوري، نو زه خپله خبره په خپل رب باندې اوروم، نو پر هغه ځای باندي دوه(۲) رکعته لمونځ کوي، او د لمانځه کولو ځخه وروسته خپل سر د آسمان طرفته پورته کوي، او خپل لاسونه د رب "ذوالجلال" په دربار کي پورته کوي، عجیبه فریاد او عجیبه ژړا او ناله د الله په دربار کي پیشوي.

........ثُمَّ قَالَتْ: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَشْكُوْ إِلَيْكَ شِدَّةَ وَحْدَتِي وَمَا يَشُقُّ عَلَيَّ مِنْ فِرَاقِهِ﴾ یا الله خاوند طلاق راکړی، او په ډېره طمعه ستا د پیغمبر ﷺ کورته راغلم، او هغه ته مي خپل فریاد پیش کړی، لیکن هغه زما فریاد نه اوري، زه اوس ستا په دربارکي خپل فریاد پیشوم یا الله پرما باندي یوازي والی او د خاوند جدائي ډېره ګرانه ده ته زما سره په دې باره کي اساني وکړه.

او بیا وايي:

..........وَإِنَّ لِي صِبْيَةً صِغَارًا إِنْ ضَمَمْتُهُمْ إِلَيْهِ ضَاعُوْا وَإِنْ ضَمَمْتُهُمْ إِلَيَّ جَاعُوْا، وَجَعَلَتْ تَرْفَعُ رَأْسَهَا إِلَى السَّمَاءِ وَتَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَشْكُوْ إِلَيْكَ اَللّٰهُمَّ فَأَنْزِلْ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّكَ﴾ یا الله زما د ده ځخه واره واره بچي دي، که چیري هغه وده ته په لاس ورکړم نو دی د هغو تربیت او پالنه نه سي کولای نو د ده ځخه ضائع کیږي، او که چیري زه یې د ځان سره راوګرځوم نو زه د هغو نفقه نه سم برابره ولای زما ځخه وږي کیږي، یا الله! زه تاته خپل شکایت پیشوم چي ته د خپل نبي پر ژبه زما د پاره نوی حکم راواستوه.

د هغې لاسونه د دعاء څخه کښته سوي نه دي، چي د دې د ژړا په خاطر د الله د عرش دروازې خلاصي سوې حضرت جبرائيل عليه السلام د الله د عرش څخه را ورسېدی پر پيغمبر ﷺ باندي د وحي اثار ښکاره سوه.
حضرت عائشه مبارکه ورته وايي: موري د ژړا ډوغ لړ سو که کره پر پيغمبر ﷺ باندي د وحي کيفيت دی نو دې چي کله داواريدل نوريې هم خپله ژړا او فرياد په زوره کړی.
چي کله د وحي دورانيه ختمه سوه پيغمبر ﷺ مخ مبارک د خولو مبارکو څخه پاک کړی ورته وايي:
........يَا خَوْلَةُ أَبْشِرِيْ قَالَتْ خَيْرًا﴾اې خولې! مبارک الله تعالى ستا په حق کي نوې فيصله راواستوله د هغه څخه وروسته د دې آياتو تلاوت ورته پېشوي.
........قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا﴾ مورِ واورېدی د يو زناني فرياد چي ستاسره د خپل خاوند په باره کي جګړه کوي او ته د هغې خبره نه اوري.
........وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ﴾ چي کله ستا څخه نا اميده سوه نو خپل شکايت خپل رب ته پېشوي.
........وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾ماستاسو د دواړو مباحثه واورېدله چي تا خبره مکرروله او دې نه منله ما اورېدله هم او ليدله مي هم د نن څخه بعد زه هغه طلاق ختمه وم او زما نوې فيصله دا ده.
........الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَائِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ﴾.
چي کم خلق د خپلو زنانو سره ظهار کوي او خپلو زنانو ته د مور په الفاظو يادونه کوي نو دا په حقيقت کي د دوي مندي نه دې د دوی حقيقي مندي هغه دې چي دوی څني پيداسوي وي، دې خپلو زنانو ته مندي ويل دا يو بيکاره او درواغجن قول دی.

د دې څخه وروسته الله تعالیٰ د ظهار احکام د هغې زنانې دپاره دنیا ته را استوي، چې د هغې تذکره او په هغه باندې عمل به تر قیامته پورې باقي وي.
نو چې د کمو انسانانو لمنځونه په کامله طریقه سره وو نو د هغوی د لمنځو په برکت الله تعالیٰ د هغوی سره داسې د اسانې معاملې کولې چې د هغو په ذریعه الله تعالیٰ تر قیامت پورې د ټولو انسانانو سره اسانې وکړه.

## دخوله بنت ثعلبه ﷞ عزت:

امیر المؤمنین حضرت عمر﷜ د خپل "امارت" په دور کې په یو لویه "قافله" کې روان دی یو زنانې د آس جلو ونیوی دی مبارک د خپل آس څخه راشوه سو په ډېره عاجزې هغه زنانې ته ودرېدی.
هغه زنانه ورته وایي: چې یوه هغه زمانه وه چې مونږ به ته "عمری" بللې بیا وروسته عمر سوې او اوس دې خلک په امیر المؤمنین باندې بولې یو څه نورې تیزې خبرې یې هم ورته وکړې.
چې کله هغه زنانه څنې روانه سوه، نو یو ملګری ورته وایي چې اې امیر المؤمنینه! د یوې زنانې په خاطر دې دادومره قافله درولې وه او د هغې دومره تیزې خبرې دې برداشت کولې آخر د دې څه وجه وه؟
حضرت عمر﷜ ورته وایي سړیه! تاته دامعلومه ده چې دازنانه څوک ده؟ دا "خوله بنت ثعلبه" ده چې دهغې اواز الله تعالیٰ پر عرش باندې اورېدی نو عمر به یې پر فرش باندې څنګه نه اورې:
داهغه مبارکه زنانه ده چې دهغې په خاطر به الله تعالیٰ دامت فیصلې بدلولې او د دې په خاطر به الله تعالیٰ دامت سره اسانې کوله او د دې په حق کې به الله تعالیٰ د قرآن کریم آیاتونه رانازله ول.
نو مقصود مې دادی: چې دد ې امت دپاره لوی بنیاد لمونځ دی او د دې امت سره الله تعالیٰ اسانې، او د ضروریاتو پوره کول، په لمانځه باندې کوي.

نو نیکبخته هغه انسانان دي چې د هغوی لمنځونه په کامله طريقه سره اداکیږي او د هغو لمنځونه د خشوع او خضوع په کیفیاتو کي سر ته رسیږي.
الله دي مونږ اوتاسو ته په کامله طريقه سره د لمانځه اداکول رانصیب کړي، او الله تعالی دي مي په لمنځونو کي د خشوع او خضوع کیفیات پیدا کړي او الله تعالی دي داځو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآيه)

# د لمانځه کوتاهیاني

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول- |
| تـاريـــــخ | ١٣ ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق ١١ جنوري ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ﴾(١).

وقال رسول الله ﷺ: ﴿الصَّلَاةُ عِمَادُ الدِّينِ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د لمانځه اهميت:

محترمو حاضرينو! الله تعالى په دنيا کي مختصره زندګي را کړې ده، او د دنيا په زندګي کي يې موږ او تاسو د شريعت په احکامو باندي مکلف ګرځولي يو، او د شريعت په ضمن کي يې پر موږ او تاسو باندي څه احکام فرض کړي دي.

په هغه احکامو کي د ټولو څخه اهم حکم د لمانځه دی، ځکه د لمانځه په ټولو احکامو کي دا امتيازي شان دی، چي نور ټوله احکام پر ځمکه باندي پر پيغمبر ﷺ فرض سوي دي.

ليکن لمونځ د "معراج" په شپه پر "عرش" باندي سر بېره الله تعالى خپل محبوب ﷺ خپل خاص حضور مقام "تدلّى" ته راطلب کړی، او بيا ئې هلته لمونځ د يو تحفې په شکل پر ده او د ده پر امت باندي فرض کړی، نو مقصد دا چي لمونځ پر "عرش" باندي سربېره فرض سوی دی.

---

(١)سورة الملک: آيت نمبر٢

(٢)الزواجر عن اقتراف الکبائر :صفحه نمبر ٢٢٦

زمونږ په دین کي چي څومره اهتمام په ټولو فرائضو کي لمانځه ته ورکول سوی دی غالباً نورو فرائضو ته د ده عشرعشیر هم نه دی ورکول سوی ځکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي.
لمونځ د دین ستن ده، لمونځ د جنت کیلي ده، لمونځ د مؤمن "معراج" دی، او د بنده د پاره د خپل رب سره د همکلامي ذریعه ده الله تعالیٰ دي د دې لمانځه اهمیت زمونږ په زړو کي پیدا کړي.
ابتداءً پنځوس(۵۰) لمنځونه پر دې امت باندي فرض سوي دي، بیا د سردار دوعالم ﷺ په برکت باندي صرف پنځه(۵) لمنځونه پاته سوي دي، باقي پنځه څلویښت (۴۵) لمنځونه الله تعالیٰ معاف کړي دي، او صرف معاف نه بلکه دایې هم راته فرمایلي دي: چي زه پر پنځو(۵) لمنځو باندي د پنځوسو(۵۰) ثواب هم درکوم.
تاسو د دې څخه اندازه ولګوئ! چي په ورځ او شپه کي پنځوس(۵۰) لمنځونه فرض کیدل معمولي خبره نه ده بلکه دا د لمانځه د اهمیت علامه ده، او ددې پنځو(۵) لمنځو په باره کي په بعضو روایاتو کي عجیبه نکتې بیان سوي دي.

## د سهار لمونځ ادم علیه السلام اول ځل کړی دی:

موږ او تاسو چي د ورځي په ابتداء کي د سهار په وخت کي دوه(۲) رکعته فرضي لمونځ ادا کوو دا ډېر د حکمت څخه ډک عبادت دی، په ټولو مخلوقاتو کي اول ځل دا لمونځ حضرت آدم علیه السلام ادا کړی دی.
چي کم وخت دَی الله تعالیٰ د جنت څخه دنیا ته راښوه کړی نو حضرت آدم علیه السلام د جنت د رڼاګانو څخه په یو تاریکه شپه کي مځکي ته تشریف راوړی، چي په هغه وخت کي دومره تاریکي وه چي حضرت آدم علیه السلام ته د خپل لاس ګوتي نه ور معلومیدلي.
د حضرت آدم علیه السلام دا خیال سو چي دنیا د غومره تاریکه ده نو دَی ډېر پرېشانه سو چي یاالله! دلته به زما زندګي او ژوند څنګه تیرېږي نه یو شئ رامعلومېږي،

نه يو ځای را معلومیږي، او دلته به زما ضروريات څنګه پوره سي، او زه به څه وکړم، څکه پر هره خوا تاريکه، تاريکه ده نو حضرت آدم علیه السلام ته په دنيا کي د ژوند تيرولو څخه ډېره ډېره محسوسه سوه.

د دې څخه وروسته کرار کرار رڼا پيدا کيدله او د سهار سپيدې راوچاودلې صبح صادق ښکاره سو نو د حضرت آدم علیه السلام په زړه کي خوشحالي او سکون پيدا سو.

حضرت آدم علیه السلام د لمر راختلو څخه مخکي دوه(۲) رکعته لمونځ بطور شکرانه ادا کړی، يو رکعت د شپې د تاريکی د تللو په شکرانه کي او دوهم رکعت دورځي د رڼا راښکاره کيدلو په شکرانه کي ادا کړی.(۱)

دا دوه(۲) رکعتونه الله تعالی ته دومره خوښ سو چي الله تعالی د پيغمبر ﷺ پر امت باندي تر قيامت پوري هر سهار فرض کړل، د دې څخه تاسو اندازه ولګوئ! چي د سهار په وخت کي دوه(۲) رکعته لمونځ کول څومره اهم دي، او د چا څخه ما او تا ته را پاته دي.

د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی:

........مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللهِ، فَلاَ تُخْفِرُوا اللهَ فِي ذِمَّتِهِ﴾.(۲)

چي کم سړی د سهار لمونځ وکړي، نو هغه سړی د الله تعالی په ذمه کي راسي، هسي نه چي الله تعالی د انسان څخه بيا د خپلي ذمې مطالبه وکړي، يعني چي نور انسانان ده ته تکليف ورسوي، نو الله تعالی د خپلي ذمه واری په وجه په هغو باندي پسي سي، او پوښتنه ځني وکړي.

(۱) العنايه شرح الهدايه: باب المواقيت: صفحه نمبر ۲۱۷

(۲) سنن ترمذي، حديث نمبر ۲۲۲

## د ماپښين د لمانځه فرضيت:

دا غه رنګه د ماپښين څلور(۴) رکعته فرضي لمونځ موږ او تاسو ادا کوو د ټولو څخه مخکي د غه لمونځ حضرت ابراهيم عليه‌السلام هغه وخت ادا کړی دی، چې کم وخت دَی ده خپل بچي حضرت اسماعيل عليه‌السلام د ذبح کولو په امتحان کي کامياب سو.

يو رکعت يې د امتحان د کاميابي په شکرانه کي ادا کړی، چې ياالله! تا لره دي شکر وي چې ستا په مدد سره په دې مشکل امتحان کي کامياب سوم.

دوهم رکعت يې د دې خبري په شکرانه کي اداکړی، چې الله تعالی د حضرت اسماعيل عليه‌السلام په عوض کي د جنت څخه حيوان يعني پسه راواستاوی چونکه دا هم د الله تعالی يو خصوصي انعام وو نو ځکه د دې د شکرانې په طور يې دوهم رکعت اداکړی.

دريم رکعت يې په دې شکرانه کي ادا کړی، چې الله تعالی پر دې موقع باندي براه راست و ابراهيم عليه‌السلام ته خطاب کوي، الله تعالی دا قصه داسي بيانوی:

........﴿وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾.(۱)

يعني موږ ندا وکړه ابراهيم عليه‌السلام ته چې ای ابراهيمه! بلاشبه تا خپل خوب رشتونی کړی موږ نيکوکارو خلګو ته دغسي بدله ورکوو د دې خطاب په شکرانه کي ابراهيم عليه‌السلام دريم رکعت اداکړی دی.

څلورم رکعت حضرت ابراهيم عليه‌السلام د دې خبري په شکرانه کي اداکړی دی، چې الله تعالی داسي صابر بچی ورکړی وو، چې هغه د غه سخت او مشکل امتحان په نهايت صبر او تحمل د خپل پلار سره سر ته ورسوی، که چيرې هغه متزلزل سوی وای، نو بيا به د ابراهيم عليه‌السلام د پاره الله تعالی حکم پوره کول دُشوار او سخت ګرځيدلي وای.

---

(۱) سورة الصافات: آيت نمبر ۱۰۵-

چنانچه د خوب ليدلو ځخه وروسته د خپل بچي سره مشوره کوي، چي اې بچيه! چي ماخو داسي خوب ليدلى دى ته پردې باندي غور وکړه چي ستا ځنګه اراده ده زوى په جواب کي ورته وايي: چي پلاره! چي د الله د طرفه کم حکم در ته سوى دى هغه تر سره کړه انشاءالله زه به د الله تعالى پردې حکم باندي صبر کونکىٔ يم نو د داسي صابر او متحمل بچي د پيدا کيدلو په شکرانه کي حضرت ابراهيم عليه السلام ځلورم رکعت ادا کړى.

نو دا هغه ځلور(۴) رکعتونه دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام د ماپښين په وخت کي د "منٰى" په دره کي بطور شکرانه اداکړي دي(۱).

الله تعالى ته دومره خوښ عبادت وګرزېدى، چي پيغمبر ﷺ ته وايي: چي ابراهيم عليه السلام خو يو ځل اداکړي دي، ته او ستا امت به يې تر قيامت پوري هره ورځ ادا کوي.

## د مازيګر د لمانځه فرضيت:

د مازيګر ځلور(۴) رکعته لمونځ د ټولو ځخه مخکي حضرت يونس عليه السلام ادا کړى دى، چي کم وخت دَى د ماهي په نس کي وو او ده د الله تعالى پرنامه باندي ندا وکړه، چي الله تعالى يې دا رنګه رانقل کوي:

.........فَنَادَى فِي الظُّلُمَاتِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ.فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ﴾(۲).

چنانچه ده زموږ پر نامه په تاريکيو کي ندا او آواز وکړى چي:

.........لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾.

(۱) العنايه شرح الهدايه: باب المواقيت صفحه نمبر ۲۲۰

(۲) سورة الانبياء: آيت نمبر ۸۷

موږ د ده دعاء قبوله کړه او و ده ته مي د هغه سخت حالت څخه (چې د ماهي په نس کي وو) نجات ورکړی، داغه رنګه موږ ټولو مؤمنانو ته د سختیو څخه نجات ورکونکي یو.

چنانچه چي کله الله تعالی دَی د ماهي د نس څخه راویاستی نو ده د شکرانې په طور څلور(۴) رکعته لمونځ ادا کړې، یا خاص څلور(۴) رکعته ځکه چي الله تعالی ده ته د څلورو(۴) تاریکیو څخه نجات ورکړی.

یوه د ماهي د نس تاریکه وه، دوهمه د وریځي تاریکه وه، دریمه د اوبو تاریکه وه، او څلورمه د شپې تاریکه وه، نو د دې څلورو(۴) تاریکیو څخه د نجات په شکرانه کي د مازیګر په وخت کي حضرت یونس علیه السلام څلور(۴) رکعته لمونځ ادا کړی دی.(۱)

الله تعالی ته هغه څلور(۴) رکعته لمونځ دومره خوښ ګرځېدلی دی چي تر قیامته پوري یې پر امت د پیغمبر ﷺ فرض کړی دی.

## د ماښام د لمانځه فرضیت:

د ماښام درې(۳) رکعته لمونځ د ټولو څخه مخکي حضرت داؤد علیه السلام ادا کړی دی، کځه هم د ټوله اهل السنة والجماعة دا عقیده ده چي انبیاءکرام علیهم السلام د ګناهونو څخه معصوم دي، یعني د دوی څخه ګناه نه صادریږي، لیکن بعض اوقات یو نامناسب یادشان نبوت څخه خلاف کار د دوی څخه صادر سي چي هغه درحقیقت ګناه نه وی خو بیا هم د الله تعالی د طرفه دوی ته تنبیه ورکول کیږي، او د دوی توجه را اوبنتل کیږي او د دوی اصلاح کیږي.

بهر حال د حضرت داؤد علیه السلام څخه د لغزش صادریدلو وروسته چي کله الله تعالی د ده د بخښني اعلان وکړی، لکه الله تعالی فرمایلي دي:

(۱) العنایه شرح الهدایه: باب المواقیت، صفحه نمبر ۲۲۱

........فَغَفَرْنَا لَهُ ذَٰلِكَ وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَى وَحُسْنَ مَآبٍ﴾([1]).

یعني موږ د ده مغفرت وکړی او دده دپاره زموږ په دربار کې ډېر قربت او بهترینه مرجع ده.

نو په دې وخت کې حضرت داؤد علیه السلام د دې مغفرت په شکرانه کې د ماښام په وخت کې د څلورو (۴) رکعاتو نیت وتاړی، چې کله یې درې(۳) رکعته اداکړه نو د هغه څخه وروسته ده ته د خپل لغزش داسې احساس وسو او د ته بې اختیاره داسې کیفیت او حالت وربېښ سو چې د هغه د شدت په وجه ئې څلورم رکعت نسو کولای بس پر داغه درې(۳) رکعته باندې یې اکتفاء وکړه، او د څلورم(۴) رکعت کولو وسع او طاقت یې نه ودرلودی(۲).

الله تعالی ته دا لمونځ هم ډېر خوښ سو نو پر دې امت باندې ئې د ماښام په وخت کې درې(۳) رکعته لمونځ تر قیامته پورې فرض کړی.

## د ماخستن د لمانځه فرضیت:

د ماخستن په وقت کې چې موږ او تاسو کم څلور(۴) رکعته لمونځ اداکوو، د دې په باره کې دوه(۲) قوله دي: یو قول دا دی: چې د ټولو څخه مخکې دا لمونځ حضرت موسی علیه السلام اداکړی دی، چې کم وقت دی د حضرت شعیب علیه السلام سره د لسو(۱۰) کالو تېرولو څخه وروسته د خپل اهل او عیال سره "مصر" ته واپس را روان وو او د ده د زنانې د بچې د پیدا کیدو وخت هم نږدې وو او سفر هم ډېر اوږدوو چې د هغه په وجه دی ډېر فکر مند وو.

۱. اول خو دا فکر وو چې یاالله! دا دومره اوږد سفر به څنګه پوره کیږي.

۲. دوهم د هارون علیه السلام ډېر فکر ورسره وو چې هغه به چیرې وي او په کم حالت کې به وي.

---

([1]) سورة ص، آیت نمبر ۲۵

([2]) بذل المجهود

۳. درېیم د فرعون چې کم د ده جاني دشمن وو د هغه بیره او دهغه د طرفه هم پرېشاني او فکر ورسره وو.

۴. څلورم چې د کم بچې د پیدا کېدلو وقت نزدې وو نو د هغه بچې هم دېر فکر ورسره وو چې دا به په کم شکل ترېو ځای ورسوم.

د دې څلورو (۴) پرېشانیو سره ده سفر کاوی بیا د سفر په دوران کې د لارې څخه هم غلط سوی وو چې د هغه په وجه د ده پرېشاني نوره هم زیاته وه د دغه پرېشانۍ په حالت کې روان وو چې "کوه طور" ته نزدې راغلی او د هغه راسته طرفته راورسېدی.

شپه هم دېره تاریکه او یخه ده او واوره اورېدل هم شروع دي، او په دې وخت کې د زناني دبچې د پیدا کېدلو تکلیف شروع سو چې کم د اور د بلېدلو آله یعني "چقماق" وو د هغه د لوندوالي په وجه "اور" نه ځني بلېدی د هغه پرېشانۍ په حالت کې که ګوري نو پر "کوه طور" باندي اور بلېږي نو دَی د خپل کور و زناني ته وایي: تاسو دلې انتظار وکړی، زه به د هغه "اور" ځای له ورسم یا به یو څه "اور" ځني راورم تاسو به ځان په ګرم کړی، یا به هلته یو څوک وي چې لار راوښیي.

چې کله "کوه طور" ته راغلی نو د الله تعالي سره په کلام کولو مشرف سو او الله تعالی دَی د هم کلامۍ په نعمت باندي مشرف وګرځاوی.

الله تعالی دا قصه داسي بیانوي:

........﴿فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ يَا مُوسَى، إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَى﴾(١).

چې کله دَی هغه د "اور" ځای ته راغلی نو د الله د طرفه دا آواز ور باندي و سو چې ای موسیٰ! زه ستا رب یم، ته خپلي چوتې وکاږه ځکه ته په هغه مقدسه شیله "طُویٰ" کې یې، او ماته د خپل رسالت د پاره منتخب کړځولی یې چې کمې

(١) سورة طه: آیت نمبر ۱۳

وحي زما د طرفه تاته کیږي، نو هغه په غور سره واوره چي کله د الله تعالی د طرفه کلام ورسره وسو نو د ده ټولي پرېشانی ختم سوې:
په دې وخت کي حضرت موسیٰ علیه السلام د دې څلورو (۴) پرېشانیو څخه د نجات په شکرانه کي څلور (۴) رکعته لمونځ ادا کړی، او دا څلور (۴) رکعته لمونځ الله تعالی ته دومره خوښ سو چي الله تعالی تر قیامته پوري د پیغمبر ﷺ پر امت باندي فرض کړی.(۱)
نو ځکه لمونځ ډېر اهم عمل دی په دې وجه په آخرت کي د عقائدو څخه وروسته په عباداتو کي د ټولو څخه مخکي د لمانځه پوښتنه کیږي.
په حدیث شریف کي راځي: چي د کم سړي لمونځ د حساب او کتاب په ورځ صحیح راووزي د هغه نور ټوله اعمال صحیح راوزي او که چیري خدانخواسته د ده لمونځ صحیح نه راوواتی نو بیا به د ده نور اعمال هم صحیح نه راوزي او دی به په مصیبت کي گرفتاره سي.
نو ځکه د لمانځه په باره کي زیات اهتمام په کار دی او لمونځ په ښه طریقه ادا کول ضروري دي هسي خو په هیڅ عمل کي هم کوتاهي کول مناسب نه وي لیکن د لمانځه معامله ډېره زیاته د توجه وړ ده.

## بدترین غل:

د لمانځه په باره کي د پیغمبر ﷺ مشهور روایت دی: چي ده مبارک به فرمایل: ......اسوأ الناس سرقة الذي يسرق من صلاته﴾ بدترین غل هغه دی چي د لمانځه څخه غلا کوي.
.......قالوا يا رسول الله كيف يسرق من الصلاة قال لا يتم ركوعها ولا سجودها أو قال لا يقيم صلبه في الركوع والسجود﴾(۲).

---

(۱) العنایه في شرح الهدایه، باب المواقیت: صفحه نمبر ۲۲۰
(۲) الترغیب والترهیب: حدیث نمبر ۷۴۸

صحابه کرامو ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي ای د الله رسوله! ايا د لمانځه څخه يو څوک څنګه غلاکوي پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: چي د لمانځه څخه غلاکول دادي: چي يو لمونځ کونکی د خپل لمانځه "رکوع" او "سجده" په صحيح طريقه او په کامله طريقه سره نه اداکوي.
يعني چي څنګه پر سنت طريقه د لمانځه اداکول ضروري وي په هغه شکل يي نه اداکوي دا د لمانځه غلا بلل کيږي.

## د لمانځه کوتاهياني:

عام طور د انسانانو څخه د لمانځه په څلورو (۴) ځايو کي ډېره کوتاهي کيږي.

۱. اول په "رکوع" کي.
۲. دوهم په "سجده" کي.
۳. دريم په "قومه" کي.
۴. څلورم په "جلسه" کي.

ترکمه حده پوري چي "رکوع" او "سجده" ده هغه خو څه ناڅه موږ او تاسو اداکوو که څه هم اکثريت پر سنت طريقه برابر نه وي.
ليکن په "قومه" او "جلسه" کي زياته کوتاهي راځخه کيږي "رکوع" او سجده فرض دي او "قومه" او "جلسه" واجب دي.
د "رکوع" څخه سيده ولاړيدلو ته "قومه" وايي اودواړوسجدو په درميان کي کښېنستلو ته "جلسه" وايي.
د "قومې" حکم دادی: چي کله د "رکوع" څخه وروسته موږ پورته کيږو نو بلکل جګ به درېږو د هغه څخه وروسته به "سجدې" ته ځو، په "جلسه" کي حکم دادی: چي د اولي "سجدې" د اداکولو څخه وروسته به په اطمينان سره کښېنو بيا به دويمي "سجدې" ته ځو.
ليکن تاسو به ليدلي وي چي بعض خلک د تلوارۍ په وجه په دې دواړو ځايو کي خپله "ملا" نه سيده کوي د "رکوع" څخه معمولي سر راپورته کړي

"ملا" یې لا پوره نه وي سیده کړې بس فوراً په دغه وخت کې "سجدې" لره ولاړ سي.
داغه رنګه چې د یوې "سجدې" څخه را پورته سي "ملا" یې سیده سوې نه وي او نه په اطمینان سره کښېنستلی وي فوراً دویمې سجدې لره ولاړسي، دغه تلوار کولو زموږ د لمانځه "قومه" او "جلسه" دواړه خراب کړي دي.
په دې خبره سر خلاصول ضروري دي چې په "قومه" کې صرف سر معمولي راپورته کول او په سر سره معمولي اشاره کول خپله "ملا" نه سیده کول ژر "سجدې" له تلل لمونځ د فساد سره مخامخ کوي او د لمانځه بیرته راګرځول واجبه وي نو پکار دا دی چې موږ او تاسو په ډېره سختۍ سره د دې عمل څخه پرهیز وکړو.

## په "قومه" او "جلسه" کې درې (۳) درجې:

په "قومه" کې درې (۳) درجې دي هم داغه رنګه په "جلسه" کې درې (۳) درجې دي.

- یوه درجه فرض ده.
- یوه درجه واجب ده.
- یوه درجه سنت ده.

لکه د دې درجاتو تفصیل علامه بنوري رحمة الله علیه په "معارف السنن" کې لیکلی دی.
د فرضو حکم دا دی، که چیرې د انسان څخه پاته سي نو لمونځ یې نه کیږي لکه د انسانه څخه "رکوع" یا "سجده" په لمانځه کې پاته سي نو لمونځ یې نه کیږي ځکه چې فرض عمل څني پاته سو، او د فرضو تلافي په "سجده سهو" سره هم نسي کیدای نو که فرض پاته سي نو لمونځ نه کیږي دوباره راګرځول یې ضروري دي.

د واجبو حکم دادی: که چیري یو واجب عمل د انسان څخه په هیره باندي پاته سي نو په "سجده سهو" سره د هغه تلافي کیدای سي او د "سجده سهو" کولو څخه وروسته یي لمونځ صحیح کیږي او که چیري په قصد سره واجب عمل پریږدي نو بیا خو یي لمونځ واجب الاعاده دی.

د سنتو حکم دادی: چي د هغې ادا کول باعث د اجر او ثواب دي بلکه پر سنت طریقه باندي د ادا کولو په خاطر په هغه عمل کي نورانیت، مقبولیت، محبوبیت، پیدا کیږي که چیري سنت طریقه ادا نسي صرف فرض او واجب اداسي نو انسان دا ویلای سي چي لمونځ وسو او د لمانځه کونکي ذمه فارغه سوه.

## د "قومې" او "جلسې" فرض درجه:

چي کله لمونځ کونکی د "رکوع" څخه د خپل بدن سیده کولو د پاره د بدن لوړي حصې ته د ولاړي پر طرف حرکت ورکړي چي پرکم ځای باندي حرکت ختم سي او د لمونځ کونکي "ملا" بلکل سیده سي نو بس فرض درجه ادا سوه.

چي کله اوله "سجده" ادا کړي او د ناستي پر طرف حرکت را روان کړي چي پرکم ځای حرکت ختم سو او لمونځ کونکی بلکل جګ کښېنستي نو د "جلسې" فرض درجه ادا سوه.

اوس که چیري یو سړي د "رکوع" څخه د راپورته کیدلو په وخت کي خپله "ملا" سیده نه کړه او جګ نه و دریدی فوراً "سجدې" له ولاړي یا د "سجدې" کولو څخه وروسته پوره را پورته نه سو او سیده نه کښېنستی فوراً دویمې "سجدې" له ولاړی نو په دې صورت کي د "قومې" او "جلسې" فرض درجه ادانه سوه نو لمونځ ونه سو، نو په کار دادی: چي دوباره په سمه طریقه سره ادا کړی.

## په لمانځه کي د تلوارۍ نتیجه:

اوس که چیري موږ پردې خپلو لمنځو باندي غور وکړو نو ښکاره به داراته معلومه سي چي موږ په لمانځه کي د تلوارۍ عادت جوړکړی دی.

عام طور نارینه د دوکانداری یا بل مصروفیت په وجه په تلوار کي وي، او زنانه د کورني امورو او مصروفیاتو په خاطر د تلوارۍ عادي وي ګویا د دنیا د کارو په وجه زموږ په لمنځو کی داسي عجلت او تلوار راغلی ده چي اوس زموږ لمنځونه صرف د پورته او کښته کیدلو څخه سوا نور هیڅ پاته نه دي.

نه مو "قومه" صحیح وي نه مو "جلسه" صحیح وي د "رکوع" کولو څخه وروسته چي مي "ملا" سیده کړې نه وي فوراً "سجدې" ته ځو او داولي "سجدې" کولو څخه وروسته سیده لانه یو کښېنستلي فوراً دویمي سجدې ته ځو.

چي د دغه عمل په وجه زموږ په "قومه" او "جلسه" کي هغه فرض درجه ادا نسي نو زموږ لمونځ دنه کیدلو د خطرې سره مخامخ سي.

بیاخو خاص بعضي زناني په لمانځه کي دډېرې تلوارۍ عادت لري چي دهغه په وجه داخطره وي چي د دوی د "قومې" او "جلسې" فرض درجه دي ادانسي نو په لمانځه کي د "قومې" او "جلسې" دفرض درجې اداکولو باید انسان خاص اهتمام وکړي.

## د "قومې" او "جلسې" واجب درجه:

دویمه درجه واجب ده هغه داده: چي د "رکوع" څخه د راپورته کیدلو وروسته دومره مقدار دریدل لګه یو انسان چي یو ځل "الله اکبر" یا "سبحان الله" ویلای سي دومره مقدار په سیده ملا سره جګ دریدل واجب دي.

داغه رنګه د اولي "سجدې" کولو څخه وروسته دیو "سبحان الله" یا "الله اکبر" مقدار سیده کښېنستل واجب دي.

که چیري یو څوک په دې کي کوتاهي کوي دیوې "سجدې" اداکولو څخه وروسته فوراً دویمي "سجدې" لره ځي او د یو تسبیح مقدار نه کښیني.
یا په "قومه" کي د یو تسبیح مقدار د سیده دریدلو پر ځای فوراً "سجدې" لره ځي نو دده څخه په "قومه" او "جلسه" کي واجب درجه پاته وي.
او که چیري یو انسان قصداً داعمل کوي یا دمسئلې نه معلوموالی په وجه داسي کوي نو چونکه دشریعت په احکامو کي جهالت معتبر نه دی نو په دې دواړو صورتو کي به دی لمونځ دوباره راګرځوي.
اوکه چیري ئې د هیري په وجه یو تسبیح مقدار "قومه" نه وکړه، او نه ئې "جلسه" وکړه، نو په دې صورت کي "سجده سهو" کول ضروري دي، او په "سجده سهو" کولو سره د ده لمونځ صحت پیداکوي لېکن که یې "سجده سهو" نه وکړه نو د لمانځه اعاده یعني بیرته راګرځول ضروري دي.

## په لمانځه کي د تلواري کولو انجام:

دا یو حقیقت دی: چي د واجبو د ترک دغه کوتاهي اکثریت موږ قصداً کوو او زموږ عادت جوړسوی دي.
ځکه چي کله موږ دامام سره دفرض لمانځه کولو څخه فارغ سو تاسو ګورئ! چي موږ په څومره تیزي سره سنن او نوافل ادا کوو او په دې وخت کي زموږ لمونځ او "رکوع" او "سجده" په څومره تیزي سره اداکیږي.
پکار دادی: پرداسي موقع باندي موږ دځان دپاره دپیغمبر ﷺ حدیث په یاد وساتو چي دَی مبارک فرمایي:
...........إِذَا لَمْ يُتِمَّ وُضُوءَهَا وَلَا رُكُوعَهَا وَلَا سُجُودَهَا وَلَا الْقِرَاءَةَ فِيهَا، قَالَتْ: ضَيَّعَكَ اللَّهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِي﴾.
چي کله یو سړی اودس په ښه طریقه نه وکړي او نه یي دلمانځه "رکوع" او "سجده" اداسي نو هغه لمونځ دې سړي ته ښراکوي او ورته وایي: الله دي ضائع کړه لکه زه چي دي ضائع کړلم.

........ثُمَّ أُصْعِدَ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ وَعَلَيْهَا ظُلْمَةٌ فَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ دُونَهَا ثُمَّ تُلَفُّ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلِقُ، فَيُضْرَبُ بِهَا وَجْهُ صَاحِبِهَا﴾([1]).

د هغه ځخه وروسته هغه لمونځ په يو بدبويه او بدشکله جامه کي ويېچل سي او د آسمان طرفته پورته سي بيا چي کله دآسمان دروازه نه ورته خلاصيږي نو بيرته د آسمان د طرفه واپس راسي او د دې لمونځ گزاره پر دې مخ وويشتل سي.

يعني چي کم سړی په عجلت او تلوار سره لمونځ اداکوي او ديو کارگه غوندي منبوکه پر مځکه وهي نو دسلام گرځولو ځخه وروسته هغه لمونځ د ده پر مخ ويشتل کيږي هغه لمونځ بيا د ده دپاره نه باعث دنور وي او نه باعث د نجات وي.

او چي کم لمونځ انسان په ارام ،سکون، وقار، سره اداکړ ي هغه لمونځ په يوروښانه او ځليدونکي شکل کي دآسمان او قبوليت وطرفته پورته کيږي او د ده د پاره باعث دنو راو دنجات وي.

## د لمانځه په سکون سره د ادا کولو ترغيب:

د حضرت ابو هريره ﷺ روايت دی:

.........أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ، فَجَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَقَالَ لَهُ﴾.

يو ځل د پيغمبر ﷺ مسجدنبوي ته يو سړی راغلی په ډېره تلوار يي لمونځ وکړی چي کله دلمانځه ځخه فارغه سو د پيغمبر ﷺ حضور ته راغلی سلام يې ووايی: پيغمبر ﷺ د سلام د جواب ورکولو ځخه وروسته ورته وايي:

.........ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ﴾ ته ورسه دوباره لمونځ وکړه تا لمونځ نه دی کړی هغه سړی ولاړی دويم ځل يي بيا هغسي په تلوار سره لمونځ وکړی لکه اول ځل چي ئې ځنگه کړی وو د لمانځه کولو ځخه وروسته بيا راغلی او د پيغمبر ﷺ

([1])الترغيب والترهيب:حديث نمبر ۴۸

په حضور کي ئې سلام پېش کړی د سلام د جواب ورکولو وروسته پیغمبر ﷺ ورته فرمایي:

......﴿ارجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ﴾ ورسه لمونځ وکړه تا لمونځ نه دی کړی هغه سړی بیا ولاړی بیا یې په تلوا رسره لمونځ وکړی او دلمانځه کولو څخه وروسته د پیغمبر ﷺ سلام ته راغلی د سلام د جواب ورکولو وروسته پیغمبر ﷺ بیا ورته وایي: ورسه لمونځ وکړه لمونځ دي نه دی کړی هغه سړی په دې ځل ورته وایي: ای دالله رسوله! زما خو دغه رنګه لمونځ ایزده دی لیکن ته یې اوس وما ته راوښیه چي زه پر هغه طریقه لمونځ وکړم.

قال:

......إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ، فَأَسْبِغِ الوُضُوءَ، ثُمَّ اسْتَقْبِلِ القِبْلَةَ، فَكَبِّرْ وَاقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ القُرْآنِ ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ رَأْسَكَ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ وَتَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا، ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا﴾(١).

پیغمبر ﷺ ورته وایي : چي کله دي دلمانځه کولو اراده وکړه نو اول ځل اودس په ښه طریقه سره وکړه بیا قبله ته مخامخ ودرېږه "الله اکبر" ووایه او د قرآن کریم د هغه حصې تلاوت وکړه چي تاته اسانه وی د هغه څخه وروسته "رکوع" ته ولاړ سه.

چي کله دي په اطمینان سره "رکوع" وکړله نو د "رکوع" څخه سر راپورته کړه او سیده ودرېږه د هغه څخه وروسته "سجدې" ته ولاړسه چي کله دي په اطمینان سره "سجده" پوره کړه نو بیا د "سجدې" څخه راپورته سه او په ښه طریقه باندي "جلسه" وکړه د هغه څخه وروسته دویمي "سجدې" ته ولاړ سه په دغه شکل د لمانځه ټوله ارکان په سکون او اطمینان سره پای ته ورسوه.

(١)صحیح البخاري: حدیث نمبر ۶۶۶۷

په دې حدیث کې هم پیغمبرﷺ "رکوع" او "سجده" "قومه" او "جلسه" خاص ذکر کړې دي نو زه دا وایم: دا څلور(۴) ارکان که چیرې په سکون او اطمینان سره ادا سي نو د لمانځه په ټولو ارکانو کې تر ډېره حده پورې اطمینان او سکون راځي ځکه ما درته وویل: عام طور د انسان څخه عجلت په دغه څلورو(۴) ارکانو کې کیږي.

## د "قومې" او "جلسې" مسنونه طریقه:

د دې احادیثو په رڼا کې د "قومې" او "جلسې" مسنونه درجه دامعلومیږي چې په "قومه" او "جلسه" کې به انسان دومره مقدار دریږي چې څومره مقدار انسان درې ځله "سبحان الله" ویلای سي.

خلاصه دا چې د "قومې" او "جلسې" فرض درجه داده چې د رکوع او سجدې څخه د را پورته کیدلو وروسته خپله ملا سیده کول او چې د انسان بدن تر کمه حده پورې حرکت کولای سي تر هغه وخته پورې بدن ته حرکت ورکول.

او د یو تسبیح مقدار توقف کول واجب دي او د درو(۳) تسبیحاتو مقدار صبر کول سنت دي.

## د لمانځه پر تقصیر باندې وعیدونه:

په روایاتو کې راځي چې پیغمبرﷺ به فرمایل: چې په غلو کې د ټولو څخه بدترین غل هغه دی چې د خپل لمانځه څخه غلا کوي صحابه کرامؓ پوښتنه ځني کوي ای د الله رسوله! ایا د لمانځه څخه هم څوک غلا کولای سي پیغمبرﷺ ورته وایي: چې د لمانځه غلا داده چې د هغه "رکوع" او "سجده" په ښه طریقه سره نه ادا کوي.

او داغه رنګه پیغمبرﷺ داهم فرمایلي دي: چې الله تعالی د هغه سړي و لمانځه ته د قبولیت په نظر سره نه ګوري چې په "رکوع" او "سجده" کې خپله ملا نه سیده کوي.

په یو بل روایت کې راځي: چې پیغمبر ﷺ یو سړی ویني چې هغه خپله "رکوع" او "سجده" په ښه طریقه نه اداکوي نو هغه ته پیغمبر ﷺ فرمایي: ایا ته د الله تعالی څخه نه یېرېږې چې په داسې خرابه طریقه سره لمونځ کوې؟ که چیرې ته پرداغه عادت باندې مړ سوې نو ستا مرګ به پر دین محمدي باندې نه وي، تاسو ګورئ! پیغمبر ﷺ د لمانځه په ښه طریقه نه ادا کولو باندې څومره سخت وعید بیانوي، (الله دې زموږ او ستاسو حفاظت وکړي).

یو روایت لا داسې هم راغلی دی: چې پیغمبر ﷺ یو لمونځ ګزاره ویني چې هغه دلمانځه ارکان یعنې "رکوع"، "سجده"، "قومه"، "جلسه"، په ښه طریقه نه اداکوي نو پیغمبر ﷺ ور ته فرمایي: که چیرې ته پر داغه عادت باندې مړ سوې نو د قیامت په ورځ باندې تا ته زما امتي نه ویل کیږي.

حضرت ابو هریره رضي الله عنه به فرمایل: چې په دې امت کې به بعض داسې انسانان وي چې شپېته(۶۰) کاله به یې لمونځ کړی وي لیکن د الله تعالی په دربار کې به یې یو لمونځ هم قبول نه وي ځکه چې هغه سړي به د لمانځه "رکوع" او "سجده" په ښه طریقه سره نه وي اداکړي.

. زید ابن وهب رحمة الله علیه یو سړي ته ګوري چې هغه دلمانځه په دوران کې "رکوع" او "سجده" په ښه طریقه نه اداکوي نو د لمانځه کولو څخه وروسته ئې راطلب کړی او پوښتنه ځنې کوي ور ته وایي: چې د څومره وخت څخه دالمونځ په داسې شکل کوې؟ هغه په جواب کې ور ته وایي: د څلویښتو (۴۰) کالو څخه.

دَی ور ته وایي: چې په دې څلویښت(۴۰) کاله کې دې یو لمونځ هم نه دی ادا سوی او که د لمانځه پر داغه عادت باندې مړ سوې نو ستا مرګ به د حضرت محمد مصطفی ﷺ پر سنت باندې نه وي[1].

---

([1]) ماخوذاز نماز کے اسرار در موز: صفحہ نمبر ۲۶۳\۲۶۴

## د لمانځه په ذریعه د الله تعالی سره تعلق:

مسلمان باید خپل لمونځ پر نبوي طریقه برابر، او خپل لمونځ په کامله طریقه سره اداکړي.

چې په کم عصر کې د مسلمانانو لمنځونه په کامله طریقه سره ادا کیدل نو بیا خو د هغو مشکلات الله تعالی د دوی د لمانځه په برکت په ډېره اسانه طریقه د غیبي خزانو ځخه وریوره کول.

ام سعد رضي الله عنها یو صحابیه زنانه ده د "مکې مکرمې" ځخه یې د یو ماشوم بچي سره مدینې منورې ته هجرت راوکړی، چې کله یې په "مدینه منوره" کې یو څو شپې تیرې کړلې نو په "مدینه منوره" کې دهغې بچی وفات سو.

د بچي دوفات ځخه وروسته یې خپل بچي ته غسل ورکړی او پیغمبر ﷺ ته یې حال وروا ستاوی پیغمبر ﷺ د دې کور ته د حضرت انس رضي الله عنه سره راغلی.

دا پیغمبر ﷺ ته هیڅ نه وایي د جنازې د کټ د پښو وخواته یې دوه(۲) رکعته "صلوة الحاجة" لمونځ ادا کړی او د دعاء کولو دپاره یې دخپل رب ودربار ته لاسونه پورته کړل او وایي:

......آمَنْتُ بِکَ طَوْعًا وَخَالَفْتُ الْاَوْثَانَ زُهْدًا وَهَاجَرْتُ اِلَیْکَ رَغْبَۃً﴾ یا الله په ډېر شوق مې پر تا باندې ایمان راوړی دی او دبتانو دعبادت ځخه مې بېزارې ښکاره کړې ده، او ستا دحبیب ﷺ کور ته مې هجرت راکړی دی او تا زما بچي وفات کړی.

......فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْاَعْدَاءَ﴾ یا الله ماد دښمنانو مسخره مه جوړوه او زما دښمنانو ته دومره موقع مه ورکوه چې هغه پر ما باندې خنداوي کوي او زما متعلق داتبصرې کوي.

چې د پلار او د نیکه مذهب یې پرېښوی د هغو دا ازار په پسې سو چې یو زوی یې درلودی هغه هم ځني ولاړی یا الله! زما د دښمنانو په مخ کې زما د عزت حفاظت وکړه.

حضرت انس ﷺ قسم خوري چې په خدای قسم هغې ژړا او دعاء او فریاد لاختم سوی نه وو، چې د دې بچې په کفن کې اول ځل پښې سره وښوره ولې او بیایې کفن خلاص کړی او دجنازې په کټ کې جګ راکښینستې(۱).

نو چې په کم عصر کې دمسلمانانو لمنځونه په ښه طریقه سره وو او دلمونځو ارکان یې په کامله طریقه سره اداکول نو بیاچې به هر څومره ګرانې مسئلې د دوی مخ ته راغلې بیابه دلمانځه په برکت الله تعالی په دومره اسانه طریقه دوی ته حل کولې.

## د یو بل صحابي واقعه :

داغه رنګه دصحابه کرامو ﷺ دسیرت په کتابو کې د یوصحابي واقعه لیکلې ده: د سفر څخه راغلی په خپل کور کې زنانی ته وایي: چې دخورک دپاره څه سته هغه زنانه په جواب کې ورته وایي: چې په کور کې د لوږې حالت دی د خورک د پاره هیڅ هم نسته نو دی ډېر پریشانه سو په کور کې دننه د لوږې حالت نسي برداشتولای نو په کور کې د ناستې پرځای د باندی راووتی.

د هغه زمانې زنانې هم ډېرې صابرې وې او کوشش یې داوو چې زما د کور په مجبورې باندې څوک راخبر نسي نو د خپل لوږې د پټوالي د پاره یې په "تنور" کې اُور بل کړی چې همسایګانو ته به دامعلومه سي چې د دوی په کور کې په "تناره" کې "دوډه" پخیږي.

او چې د ژرندی په کم "پل" باندې دوی غنم وړه کول نو هغه "پل" یې هم پرله وڅرخاوی چې همسایګانو ته دا په ذهن کې ورکړي چې د دوی په کور کې غنم وړه کیږي نو په دې شکل هغې زنانې خپله لوږه پټه کړه.

(۱) البدایه والنهایه: جلد نمبر۲: صفحه نمبر ۱۵۴

د هغه ځخه وروسته هغه زنانه په خپله پر دوه(۲) رکعته "صلوٰة الحاجة" لمانځه باندې ودريدله د لمانځه کولو وروسته خپل لاسونه د دعاء د پاره د خپل رب د رباره پورته کوي او صرف دايوه جمله اداکوي.

يا الله ! ته په موږ خبر يې چې زموږ په کور کې لوږه ده ﴿اللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا﴾ اى الله ! ته زموږ د خوړکې بندوبست وکړه د الله تعالى رحمت تر دې حده پورې په جوش کې راځي، چې دهغې د دعاء الفاظ لا ختم سوي نه دي چې د "تناره" ځخه د "ډوډۍ" خوشبويي راولاړسوه دې ورمنډه کړل دروازې ته ورغله خاوند يې ترلاس ونيوی او د ننه کورته يې راوستی.

خاوند او زنانه که ګورې "تنور" د پخو ډوډيو ډک ولاړ دى چې کله "ژرندې" ته ګورې نو د هغې ځخه هم په ډېره زياته پيمانه "وړه" راتويږي دخپل کورلوښې يې ټوله په ډک کړل آخر دا فکر ورسره پيداسو چې دا "وړه" د کومې خواراځي نو يې د ژرندې پل پورته کړی چې د "وړو" معلومات وکړي د ژرندې د پل پورته کولو سره سم هغه "وړه" راتويدل ختم سو.

د هغه ځخه وروسته خاوند او زنانه دواړه د پيغمبر ﷺ خدمت ته راغلل او ورته وايي: چې اى دالله رسوله! نن زموږ په کور کې داسې واقعه پيښه سوله پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: که چيرې تاسو د "ژرندې" پل نه وای پورته کړی نو انشاءالله ترقيامت پورې به دا "ژرنده" بغير دغنمو چليدلاى او "وړه" به ځنې راتويدلاى(١).

نو چې کله دبنده دالله تعالى سره دکامل لمانځه په ذريعه داسې تعلق جوړ سى نوبيا د هغه چا د پاره په سودا کې د درواغو ويلو څه ضرورت دی بيا به ولې د هغه زندګي د سود او رشوت په نفقه باندې تيريږي.

راسې دالله تعالى سره تعلق جوړ کړو او د تعلق جوړولو اسانه طريقه داده چې د خپل لمانځه ظاهر او باطن صحيح کړو او لمنځونه په کامله طريقه سره اداکړو

(١) اللہ کوا پنا بنالو: صفحہ نمبر ۲۱۱

او بیا د خپل رب څخه د خپلو ضروریاتو غوښتنه په دې الفاظو وکړو چې یا الله !
زموږ ضروریات راپوره کړه.
په خدای قسم په دې دعا ا وغوښتنه کي داسې طاقت دی چې د الله تعالی د
عرش دروازې دهغه ومخ ته خلاصیږي.
الله تعالی دي موږ او تاسو ته د صحیح لمونځو توفیق راکړي چې دهغه په
ذریعه د خپل رب سره تعلق محکم او استوار وساتو.
الله تعالی دي موږ اوتاسو ته پر دې خبرو د عمل کولو توفیق راکړي او الله
تعالی دي داځو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.
(آمین یارب العالمین)
وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د حرامي نفقي څخه ځان ساتل

(بیان)


مولوی **اطیع اللہ** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم اللہ** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ([1]).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿لَوْ أَنَّ أَصْحَابَ الْمَالِ الْحَرَامِ اُسْتُشْهِدُوا فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى سَبْعِينَ مَرَّةً لَمْ تَكُنِ الشَّهَادَةُ لَهُمْ تَوْبَةً، وَتَوْبَةُ الْحَرَامِ رَدُّهُ إِلَى أَرْبَابِهِ، وَالْاِسْتِحْلَالُ مِنْهُمْ﴾([2]).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو ومخ ته تلاوت سوی آيت د "سورة لقمان" دی، په دې سورة کې الله تعالی د خپل نيک او مقبول بنده حضرت لقمان عليه السلام نصيحتونه بيان کړي دي، او د دې آيت په تفسير کې سحبان الهند حضرت مولانا احمد سعيد رحمة الله عليه د حضرت لقمان عليه السلام يو قول رانقل کړی دی.

چې په هغه کې حضرت لقمان عليه السلام فرمايلي دي: چې زه د څلورو زرو (۴۰۰۰) پيغمبرانو عليهم السلام په خدمت کې حاضر سوم، او ما د هغو څخه چې کم تعليمات واورېدل، د هغو خلاصه اته (۸) خبرې وې.

([1]) سورة لقمان، آيت نمبر ۱۲

([2]) طبراني کبير: جلد نمبر ۱۹\صفحه نمبر ۱۹۲ بحواله بحر الدموع

او له خبره داوه چې کله ته پر لمانځه باندې ودرېږې نو دخپل زړه حفاظت کوه، د لمانځه په باره کې په تېرو جمعو کې په تفصیل سره خبره وسوه، الله تعالی دې موږ ته پر هغه باندې د عمل کولو توفیق راکړي.

## دوهم نصیحت د "حلق حفاظت":

حضرت لقمان علیه السلام دویمه خبره دا کړې ده، چې کله ته پر "دسترخوان" باندې کښېنې نو دخپل حلق حفاظت کوه.
د دې نصیخت دوه(۲) مطلبه دي: یو مطلب یې دادي: چې دحد څخه زیات دخورک کولو څخه خپل ځان ساته، ځکه چې د زیات خورک کولو څخه د انسان "معده" خرابېږي، او د جسم د صحت دار او مداز د "معدې" پر صحت باندې موقوفه دی، که چیري "معده" خرابه وي نو ټوله جسم به خراب وي، او که "معده" صحیح وي نو ټوله جسم به صحیح وي، نو د زیات خورکه څخه ځان ګوره، چې "معده" دې سالمه پاته سي.
چنانچه زموږ په دین کې هم دا تعلیم ورکول سوی دی، چې کله انسان خورک کوې نو خپله "معده" به درې(۳) حصې کړي.

- .....یوه حصه دخورک دپاره.
- .....او یوه حصه داوبو چښلو د پاره.
- .....او یوه حصه دساه اخستلود پاره.

که چیري پر دغه أصولو باندې انسان عمل وکړي، نو بیابه انسان د بیمارۍ څخه هم محفوظه وي او معده به ئې هم هیڅ کله خرابه نه سي.
حضرت تهانوي رحمة الله علیه د دې د پاره دا طریقه بیان کړې ده: چې کله د انسان په نفس کې یو څه لوږه پاته وي، او یو څو ګولو ته لا د ده اشتهاء کیږي، نو هغه وخت دې خورکه پرېږدي.
او زموږ استاذ حضرت مولانا محمدتقی عثمانی مدظله العالیه په یو مجلس کې وفرمایل: چې کله یو انسان خورک کوي، نو د خورک کولو په آخر کې یو

داسې مرحله راځي چې د انسان په زړه کې تردد پیداسي چې ایا نور خورک وکړم او کنه، بس دغه دخورک پرېښولو ځای دی، که چیري همېشه انسان پر دغه ځای باندي خورک پرېږدي، نو بیاخو انشاءالله د زیات خورک کولو په مرض کي نه مبتلاکېږي، بهرحال لږ خورک کول د انسان د پاره مناسب وي او زیات خورک کول عام طور د انسان د صحت د پاره نقصان ده جوړېږي.

## خپل حلق د حرامي ګولې څخه ساتل:

د دې نصیحت دویم مطلب دا دي: چي خپل حلق د حرامي ګولې څخه محفوظه کول، چي انسان کمه ګوله خوري نو مخکي یو وار د دې معلومات کول چي زما دغه ګوله حلاله ده ایا حرامه او مشتبه خونه ده، که چیري هغه ګوله حلاله او طیبه وي نو په بسم الله سره تر حلق تېرول او خوړل.

خدانخواسته که چیري هغه ګوله حرامه او یا مشتبه وي، نو بیا د خپل حلق حفاظت د هغه څخه کوه چي حرامه ګوله تر حلق تېره نه سي، ځکه دا داسي زهر دي، چي د انسان دین او ایمان ټول پرله ګډوي، چنانچه په قرآن کریم او د پیغمبرﷺ په احادیثو کي پر دې باندي ډېر زیات وعیدونه راغلي دي.

## د حرامي نفقې په وجه دعاء نه قبلېدل:

پیغمبرﷺ د حرامي نفقې په قباحت بیانولو کي د یو سړي ذکر کړی دی:

......يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ﴾.

چي د هغه ډېر اوږد سفر وي او د هغه ورېښتان سره خواره واره وي او د هغه جامې په خاورو لړلي وي او دی په داغه حالت کي د آسمان وطرفته لاس پورته کړي او په "یَارَبِّ، یَارَبِّ" نعرې وهي او د خپل رب څخه دعا غواړي،

.....وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ﴾(۱).

(۱)صحیح مسلم ،حدیث نمبر ۶۵

لېکن دَی دا دعا په داسې حالت کې غواړي چې د ده خوړکه حرامه، او د ده څښل حرام، او د ده لباس حرام، په حرامه نفقه سره د ده پروَرِش سوی وي، د داسې سړي دعا به الله تعالی څنګه قبوله کړي.

د دې څخه دامعلومه ده چې د حرامې نفقې یو نحوست دا دی، چې د دې د خوړلو څخه وروسته د انسان دعا نه قبلېږي، او دایقیني ډېره خطرناکه معامله ده.

## د درو(۳) کسانو دعا قبلېدل:

په حدیث شریف کې راځي:چې درې(۳) انسانان داسې دي چې د هغو دعا ضَرور قبلېږي، او د هغو د دعاهیڅ کله الله تعالی نه رده وي.

۱. یو د مسافر دعا.
۲. دوهم د مور او پلار دعا د اولادپه حق کې.
۳. دریم د مظلوم ښرا د ظالم په حق کې.

لېکن که چیري یو سړی پرهر څومره اوږده سفرباندې روان وي، او د ده خوړک او څښل د حرامې نفقې څخه وي، کڅه هم په حالت د سفر کې د دعا کولو د پاره ذی د خپل رب ودربارته لاس پورته کې الله تعالی د ده دعا نه اوري، او نه یې قبلوي(¹).

## د حرامې نفقې سره عبادت نه قبلېږي:

علامه ابن جوزي رحمة الله علیه په "بحر الدموع" کې علامه شمس الدین ذهبي رحمة الله علیه په "الکبائر" کې، او امام غزالي رحمة الله علیه په "احیاء العلوم" کې، د پیغمبر ﷺ یو حدیث مبارک رانقل کړی دی.

(¹) اصلاحي بیانات، جلد نمبر ۲ صفحه نمبر ۸۴

.........إِنَّ لِلَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى مَلَكًا عَلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ يُنَادِيْ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ: مَنْ أَكَلَ حَرَامًا، لَمْ يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا حَتَّى يُخْرِجَ ذٰلِكَ الْحَرَامَ مِنْ بَيْتِهِ، فَإِنْ مَاتَ عَلَى ذٰلِكَ، فَأَنَا بَرِيْءٌ مِنْهُ﴾.(۱)

چې الله تعالی پر "بيت المقدس" باندي يوه فرشته مقرر کړې ده، چې روزانه د شپې او د ورځې داندا او آواز کوي، چې د کم چا نفقه حرامه سي د الله تعالی په دربار کي نه د هغه فرضي عبادت قبول دی، او نه نفلي عبادت، چې تر څو پوري يې هغه حرام د خپله کور څخه ايستلي نه وي، که چيري په داغه حالت کي ده ته مرګ راغلی زه ځني بيزاره يم.

د دې دوارو احاديثو څخه دامعلومه سوه، چې د حرام خورک کونکي نه دعا قبليږي، او نه ئې عبادت قبليږي.

## د "مستجاب الدعوات" جوړيدلو طريقه:

په حديث شريف کي راځي: چې حضرت انس رضي الله عنه د پيغمبر ﷺ څخه دا غوښتنه کوي، چې ای د الله رسوله! ماته دا دعا وکړه چې الله تعالی ما "مستجاب الدعوات" جوړ کړي(مستجاب الدعوات هغه چاته وائی: چې د هغه د عاګاني قبليږي) يعني چې کله هم زه دعا کوم الله تعالی زما دعا قبلوي.

په جواب کي پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: ای انسه! ته د حلالي نفقې او حلالي خورکې اهتمام کوه، الله تعالی به تا "مستجاب الدعوات" جوړ کړي، بيا چې ته هره دعا کوې الله تعالی به ستا دعاء قبلوي.

او د حرامي نفقې څخه ځان ګوره ځکه حرامه نفقه يوه ګوله مقدار چې د انسان نس لره ورسي نو څلوېښت(۴۰) ورځې الله تعالی د هغه انسان دعا نه قبلوي(۲).

(۱)احياءالعلوم/۲/۸۹، الکبائر للذهبي: الباب الکبيرة الثامنة والعشرون: صفحه ۱۱۹ بحرالدموع: صفحه ۲۵۲

(۲)الترغيب والترهيب: حديث نمبر ۱۱۱۰

## د شيطان بې فکره کېدل:

حضرت يوسف بن اسباط رحمة الله عليه يو روايت رانقل کوي:

........قَالَ اَنَّ الشَّابَ إِذَا تَعَبَّدَ قَالَ الشَّيْطَانُ لِاَعْوَانِهِ اُنْظُرُوْا مِنْ اَيْنَ مَطْعَمُهُ فَإِنْ كَانَ مَطْعَمُ سُوْءٍ قَالَ دَعُوْهُ يَتْعَبُ وَيَجْتَهِدُ فَقَدْ كَفَاكُمْ نَفْسُهُ إِنَّ اِجْهَادَهُ مَعَ اَكْلِ الْحَرَامِ لَا يَنْفَعُهُ﴾(۱).

چي کله يو نوجوان د الله تعالی د عبادت او اطاعت وطرفته متوجه سي نو شيطان خپلو دوستانو ته وائي: تاسو د تهولو څخه مخکي د ده غذا او خورکه وګورئ چي څنګه ده.

که چيري د هغه خورکه د حرام مال څخه وي يعني حرام خوري، حرام اغوندي، نو شيطان خپلو دوستانو ته وائي: تا سو د ده د طرفه بې غمه سئ، د ده وطرفته د خپل ځان متوجه کولو هيڅ ضرورت نسته، ځکه د حرامي خورکې سره د ده عبادت ده ته هيڅ فائده نه رسوي.

بهرحال شيطان هم چي د ده غذا و ويني بې فکره کېږي، البته شيطان د هغه چاد عبادت خرابولو فکر کوي چي د هغه غذا او نفقه حلاله وي، هغه ته دا ور معلومېږي چي اوس د ده عبادت د الله تعالی په دربار کي مقبول دی، او د ده د پاره باعث د نجات او د الله تعالی د رضا سبب دی، نو د شيطان سره د ده د دغه عبادت د خرابولو فکر پيدا سي.

## د حرامي نفقې مختلف صورتونه:

نن سبا زمونږ په معاشره کي د حرامو بې شماره طريقې رواج ګرځېدلي دي، او عام خلک په هغه کي مبتلا دي او بلکل د غفلت او بې پرواهی په حالت کي حرام استعمالوي.

مثلاً په عامو کورو او ادارو کي د بجلی غلا عامه ده او داغه رنګه ګيس او اوبه عام خلق د غلا په طريقو سره په خپلو کورو او ادارو کي استعمالوي.

---

(۱) کتاب الکبائر، باب الکبيرة الثامنة والعشرون، صفحه ۱۱۹

داغه رقم د نوکرۍ غلا عامه ده، هر سړی که حکومتي نوکر وي او که د غیر حکومتي ادارې نوکر وي، نو چې څومره وخت يې په ورځ کي د نوکرۍ دورانیه وي نو دی هغه وخت پوره هغه ادارې ته نه ورکوي، لېکن تنخواه پوره ځني اخلي.

داغه رنګه په تجارت کي سُود اخستل یا ورکول رشوت اخستل یا ورکول کم تلل او په ګرانه کي د خلګو حق راګرځول، دا ټوله د حرام خورۍ مختلف شکلونه دي.

که چیري موږ او تاسو د حرام خورۍ د دغه شکلو څخه ځان نه وساتو نو بیا به زموږ طبعیت او مزاج د عبادت و طرفته څنګه رغبت او میلان پیدا کړي.

## یو بیرونکی حدیث:

یو بل روایت: چي انسان په بېره او وهم کي اچوي خدای دي وکړي چي د هغه په اوریدو لو سره موږ په بېره او وهم کي راسو کوشش دا وکړو چي په خپله هم حلاله نفقه پیدا کړو، او د خپلو بچیانو د پاره هم د حلالي نفقې بندوبست وکړو.

هغه روایت دادي: چي پیغمبر ﷺ به فرمایل:

......يُؤْتَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأُنَاسٍ مَعَهُمْ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَأَمْثَالِ جَبَلِ تِهَامَةَ حَتَّى إِذَا جِيءَ بِهِمْ جَعَلَهَا اللهُ هَبَاءً مَنْثُوراً ثُمَّ يَقْذِفُ بِهِمْ فِي النَّارِ﴾.

چي د قیامت په ورځ به یو څه خلک د الله تعالی وحضور ته په داسي حالت کي راوستل سي چي د هغوی نیک اعمال به د "تهامه" د غره مقدار وي یعني د دوی سره به د اعمالِ صالحه وو ډېره لویه ذخیره ورسره وي، چي کله هغه خلک د الله تعالی حضور ته پېش سي، نو الله تعالی به د دوی ټوله نیک اعمال معدوم او مردود کړي او دوی به دوزخ ته ورواچوي.

.........فَقِيلَ يَا رَسُولَ الله كَيْفَ ذَلِكَ قَالَ كَانُوا يُصَلُّونَ وَيَصُومُونَ وَيُزَكُّونَ وَيَحُجُّونَ غَيْرَ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا عَرَضَ لَهُمْ شَيْءٌ مِنَ الْحَرَامِ أَخَذُوهُ فَأَحْبَطَ الله أَعْمَالَهُمْ﴾ (١).

يوصحابي پوښتنه څني کوي چي ای د الله رسوله! دابه ولي داسي وي؟ پيغمبرﷺ په جواب کي ورته وائي: چي دې خلکوبه په دنيا کي لمنځونه هم کړي وي، او روژې به يې هم نيولي وي، او حجونه به يې هم کړي وي، زکوتونه به ئې هم اداکړي وي، ليکن د حرام مال په باره کي به ئې بې احتياطي کړې وي، او د حرامو څخه به ئې خپل ځان نه وي کتلي يعني د حرام مال په استعمالولو کي بلکل ازاد او دلاوره وي.

نو ده حرام مال د استعمالولو د نحوست په وجه د دوی ټول عبادتونه کالعدم او مردود وګرځي.

## د حرامو څخه ځان ساتل فرض دي:

ډېر انسانان داسي دي چي خپل ځانونه په کاروبار او تجارت کي آزاد بولي، او دا وائی چي زموږ زړه چي څنګه غواړي هغسي موږ کاروبار او تجارت کوو، حالانکه لکه څنګه چي په لمانځه کي حلال او حرام سته، په روژه کي حلال او حرام سته، داغه رنګه په کاروبار کي هم حلال او حرام سته، حلال اختياره ول فرض دي او د حرامو څخه ځان ساتل فرض دي.

## يو عبرت ناکه واقعه:

زه تاسو ته يو عبرت ناکه قيصه پېښوم، الله تعالی دي وکړي چي موږ او تاسو عبرت څني واخلو.

حضرت علی بن مديني رحمة الله عليه فرمايي: چي زما پلار وفات سو، او زه د الله تعالی په فضل سره د قرآن کريم حافظ وم، زما به دامعمول وو چي روزانه به

(١) الکبائر للذهبي: باب: موعظة: صفحه نمبر ١٢١

دپلار قبر ته ورتلم، او د قرآن کريم تلاوت به مي هغه ته د ثواب رسولو په نيت باندي کاوی.
يو ځل د روژې مبارکي داووېشتم(٢٧) شپه وه د پيشلمي د خوړلو او د سهار د لمانځه کولو وروسته د خپل پلار قبر ته د تلاوت کولو د پاره راغلم.
د تلاوت په دوران کي زما غوږو ته يو ډېرخوفناکه او بيرونکي اوازونه رارسېدل د هغه داور ېدو په خاطر زه ډېر زيات په وهم او بيره کي سوم شا وخواً مي کتل خو د تاريکۍ په وجه ما ته هيڅوک نه رامعلومېدی، زه چي کله هغه اوازو ته متوجه سولم او هغه ته مي ښه غوږ ونيوی نو ماته دامعلومه سوه چي دا اوازونه د دې څنګ د قبره څخه راپورته کيږي، او داسي معلوميږي چي دا قبر والا په خپل قبر کي په سخت عذاب کي مبتلا دی.
ماچي کله هغه اوازونه واورېدل نو د ېري اوخوف په وجه ټول تلاوت راڅخه هيرسو او هر څه راڅخه پاته سو بس هغه اوازوته د هغه قبر په څنګ کي متوجه کېښېستلم، چي څنګه د ورځي رڼا زياتېدله نوهغه اوازونه هم کرار کرار خاموشه کېدل چي کله ورځ پوره ښکاره سوه او لمر راپورته سو، نوهغه اوازونه بلکل ورک سو.
چي کله د خلکو تګ او راتګ شروع سونو ما د يو سړي څخه پوښتنه وکړه چي دا قبر د چادی؟ ده د يو سړي نو م را يادکړی چي ماهم هغه پېژاندي ځکه هغه زموږ د محلې اوسېدونکي وو، او هغه ډېر کلک لمونځ ګزاره انسان وو، پنځه(٥) وخته لمونځ به يې هميشه په صفِ اول کي په جماعت سره ادا کاوي، ډېرخاموشه اونهايت شريف انسان وو، دچا په کار ئې غرض نه درلودي او خپله زندګي ئې په ذکر او تسبيحاتو کي تيروله، ماچي کله هغه سړی وپېژاندي نو ما ته د ده پر حالت ډېر افسوس ودرېدي چي دومره نيک او عبادت ګزاره انسان او دومره بدترين عذاب آخرداولي؟

نو ما د ځان سره دافکر وکړ ي چې د دې خبرې به تحقيق کوم چې آخر هغه کمه ګناه ده چې د هغې په وجه ده ته دا عذاب ورکول کيږي، د ده د کلي او محلې د انسانانو څخه مې پوښتنې شروع کړې، چې دا سړی خو ډېر نيک زاهد، او عابد، انسان وو، او ما دَی د قبر په بدترين عذاب کې مبتلا ليدلي دي آخر د دې څه وجه ده؟

د ده د محلې انسانانو په جواب کې راته وويل: چې هسې خو دَی ډېر نيک، عابد، او زاهد، انسان وو لېکن اولاد ئې نه درلودې او کاروبار ئې ډېر وسيع وو چې کله بوډا سونونه ئې پخپله کاروبار کولای سوا ونه ئې بل څوک د کاروبار درلودې، نو په دې فکر کې وو چې اوس به ذريعه د معاش ځان لره څنګه برابره وم.

آخر د ده "خبيث نفس" وده ته دا تدبير په دماغ کې ورکړي، چې ته خپل کاروبار ختم کړه، او پېسې په سُود باندې چاته ورکړه، د دې په آمدني سره به ستا د کور ګزاره کيږي او اصل سرمايه به دې هم محفوظه وي نو ده خپل کاروبار ختم کړي او سرمايه ئې په سُود باندې چاته ورکړه او ځان ئې عبادت ته ورفارغه کړي.

نَو همېشه به په مسجد کې وو اشراق، څاښت، تهجد، اوابين، وغيره تمام نوافل به يې کول او پنځه(۵) سره لمنځونه به ئې د امام تر شاه په صفِ اول کې په تکبير اولٰی سره اداکول او شپه ورځ به په ذکر او تسبيح کې مشغوله وو.

او په هره مياشته کې د سُود پوره پېسې ده ته راتلې او ده د خپل کور ګزاره په هغه باندې کوله.

بس ما چې دا او ريدل نو زه په دې پوه سوم چې ده ته هغه سخترين عذاب د سُود خوري د ګناه په خاطر ورکول کېدي، الله تعالٰی دي مسلمانان ټوله د حرامي نفقې د خوړلو او اغوستلو څخه محفوظه وساتي.

## حرام خوړل خطرناکه دي:

د حرامي نفقې متعلق د پیغمبرﷺ په احادیثو مبارکه وو کي ډېر زیات سخت وعیدونه راغلي دي.
پیغمبرﷺ به فرمایل:

........لَوْ أَنَّ أَصْحَابَ الْمَالِ الْحَرَامِ اُسْتُشْهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ تَعَالَى سَبْعِيْنَ مَرَّةً لَمْ تَكُنِ الشَّهَادَةُ لَهُمْ تَوْبَةً، وَتَوْبَةُ الْحَرَامِ رَدُّهُ إِلَى أَرْبَابِهِ، وَالْاِسْتِحْلَالُ مِنْهُمْ﴾(۱).

که چیري حرام مال والا په جهاد فی سبیل الله کی اویا (۷۰)واره شهید سي لا هم د ده شهادت د حرام مال توبه نه جوړیږي د حرام مال توبه دا ده چي خپل مالک ته ورسېږي یاد مالک په اجازه د ځان د پاره حلال کړل سي.
په یو بل حدیث کي لا داسي هم راځي:

........مَنِ اكْتَسَبَ مَالًا حَرَامًا، لَمْ يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ صَدَقَةً، وَلَا عِتْقًا، وَلَا حَجًّا، وَلَا عُمْرَةً، وَكَانَتْ لَهُ بِقَدْرِهِ أَوْزَارًا، وَمَا بَقِيَ مِنْهُ بَعْدَ مَوْتِهِ كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ﴾(۲).

چي کم سړي حرام مال راجمع کړی، د الله تعالی په حضور کي نه د ده صدقه قبوله ده، نه غلام ازاد ول، او نه حج او عمره کول، چي څومره مال ئې راجمع کړی دی، د هغه په مقدار به دَی ګناهګاره وي، او د ده د مرګ څخه وروسته چي د ده څخه کم مال پاته سي نو هغه به د ده د پاره د دوزخ تللو توښه وي.
او ـ اغد رنګه پیغمبرﷺ په یو بل ځای کي فرمایي:

........لَوْ أَنَّ رَجُلًا اِشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشْرَةِ دَرَاهِمَ، وَكَانَ فِيْهِمْ دِرْهَمٌ حَرَامٌ، لَمْ يَقْبَلِ اللهُ تَعَالَى مِنْهُ عَمَلًا حَتَّى يُؤَدِّيَهُ إِلَى أَهْلِهِ﴾(۳).

---

(۱)طبراني کبیر: جلدنمبر۱۹\صفحه نمبر ۱۹۲بحواله بحر الدموع
(۲) بحر الدموع: الفصل الثاني والثلاثون: صفحه نمبر ۱۴۴
(۳) مسند احمد: جلد نمبر ۲: صفحه نمبر ۹۸

که چیري یو سړي جامه په لس(۱۰) درهمه رانیوله او په هغه کي یو درهم د حرام مال وو الله تعالی د ده یو نیک عمل هم نه قبلوي چي تر څو پوري ده هغه حرام درهم خپل مالک ته رسولي نه وي.
او د ترمذي شریف روایت داسي هم راغلی دی:
......كُلُّ لَحْمٍ اَنْبَتَهُ السُّحْتُ وَالْحَرَامُ، فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ﴾(۱).
هر هغه غوښه چي په خبیث او حرامو شیانو سره نشو او نما او پرورش پیدا کړي، هغه په اور باندي سوځل ډېر لائق وي.
نو د دې ټولو احادیثو څخه دا خبره ښکاره معلومیږي، چي د حرامي نفقې سره د انسان دعاء، او عبادت نه قبلیږي، او د حرامي نفقې سزا به انسان ته په "جهنم" کي ضرور ورکول کیږي.

## د "حقوق العباد" اهمیت:

بیا خاص د انسان د پاره دا ضروري خبره ده: چي د خپل ځان په باره کي دا کوشش وکړي چي مرګ ده ته په داسي حالت کي راسي چي د بندګانو حق د ده پر ذمه پاته نه وي، که د هر څو مره لوړي درجې او لوړو عباداتو سره دې آخرت لره ورسي چي د ده پر ذمه د بنده حق پاته وي هغه و ده ته هلته نه ورمعافیږي.
......تاسو ګورئ! شهادت ډېره لوړه مرتبه ده، پیغمبرﷺ د شهید په باره کي فرمایلي دي:
......يُغْفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنْبٍ﴾ د شهید د پاره هر څه معاف دي.
......إِلَّا الدَّيْنَ: إِلَّا الدَّيْنَ﴾(۲).
لیکن د بل حق چي د شهید پر ذمه پاته وي هغه وده ته نه ور معافیږي، بلکه: د قیامت په میدا ن کي به هغه حق د ده د ذمې څخه اخستل کیږي.

(۱) بحر الدموع، الفصل الثاني والثلاثون، صفحه نمبر ۱۴۴/ترمذی شریف حدیث ۶۱۴ حسن از کعب بن عجره
(۲) مسند احمد: حدیث نمبر ۷۰۵۱

نو چي کم سړی د خلکو حقوق د خپل ځان سره آخرت ته وروړي هلته بيا دَی نه په لمانځه خلاصيږي، نه په روژه خلاصيږي، نه په حج او نورو اعمالو خلاصيږي، نو ده مسلمان د پاره په کار دا دی، چي دَی په خپل تجارت کي نبوي اصول خپل کړي، څکه مسلمان ته دوکه ورکول دا داسي دي لکه: انسان چي نيک اعمال ټوله په اور کي اچوي.

## مسلمان ته تکليف رسول:

او مسلمان ته تکليف ورکول يا د مسلمان قتل کول دا ډېره لويه ګناه بلل کيږي. دقيامت په ميدان کي د ټولو څخه مخکي د قاتل اومقتول فيصله دربار خداوندي ته راځي، قاتل او مقتول به دواړه په داسي حال کي د الله دربار ته حاضريږي: چي مقتول به په يولاس کي خپل سر راخستئ وي، او په دوهم لاس به ئې د قاتل ګرېوان نيولی وي، او د الله وحضور ته به ئې پيش کړي، او د الله په حضور کي به دا عرض وکړي، چي ای الله! ته د دې ظالم څخه پوښتنه وکړه چي ده زه پر څه باندي قتل کړلم.

الله تعالٰی به په جواب کي ورته وائي: ته غم مه کوه زما دي پخپل عزت او جلال قسم وي، که چيري دا ټوله انسانيت ستاپر قتل راجمع سوی وای، مابه ټول انسانيت "جهنم" ته وراچولی وای، نو دا ظالم به څنګه "جهنم" ته نه وراچوم.

......لکه: د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارک داسي هم راځي: که چيري ديو انسان پر قتل باندي د ټولي دنيا انسانان سره راجمع سي لابه هم الله تعالٰی د دې يو قتل په بدله کي دا ټوله انسانان "جهنم" ته ورواچوي.

## د مسلمان عزت او عظمت:

نو ما مخکي درته وويل: چي د "حقوق العباد" معامله ډېره سخته ده پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

........إذَا لَسَاتَ أُمَّتِيْ سَقَطَتْ مِنْ عَيْنِ اللهِ﴾.

چې کله زما په امت کې ښکنځل زيات سي نو بيا دوی د الله تعالی د نظر رحمت څخه کښته سي، يعني بيا الله تعالی دوی ته د رحمت په نظر باندي نه ګوري.
مسلمان ته ښکنځل کول، و "بيت الله" ته تر ښکنځلو کولو لويه ګناه ده، زه تاسو ته يو مثال پېشوم الله دي نه کوي: يو سړی "بيت الله" ته ښکنځل کوي، "بيت الله" ته اور وراچوي، او يا "بيت الله" نړوي تر دي ټولو مسلمان ته ښکنځل کول او د مسلمان وهل مسلمان ته تکليف رسول لويه ګناه ده.
څکه د پيغمبرﷺ حديث مبارک دي: حضرت عبدالله بن عمرؓ فرمايي:
........رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ، وَيَقُولُ﴾.
چي پيغمبرﷺ د طواف په دوران کي د مکې په حرم کي ودرېدی او بيت الله ته ګوري و بيت الله ته مخاطب دی ورته وايي:
........مَا أَطْيَبَكِ وَأَطْيَبَ رِيحَكِ، مَا أَعْظَمَكِ وَأَعْظَمَ حُرْمَتَكِ﴾.
ای بيت الله! څومره پاکه ئې، ای بيت الله! څومره خوشبويه ئې، ای بيت الله! الله تعالی څومره قدر او عزت درکړی دی.
........وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَحُرْمَةُ الْمُؤْمِنِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ حُرْمَةً مِنْكِ، مَالِهِ، وَدَمِهِ﴾(١).
لېکن زما دي د الله په عزت او جلال قسم وي چي د مؤمن د مال او وينو عزت ستا څخه هم ډېر زيات دی، يعني د مؤمن قدر او احترام د الله تعالی په دربار کي ستا څخه ډېر بالا دی.

## په امانت کي د خيانت کولو سزا:

نو د مسلمان د پاره مناسب دا نه ده چي مرګ په داسي حال کي ورته راسي چي د بل حق د ده پر ذمه پاته وي.
که چيري يو څوک د يو مسلمان يوه لوېشته مځکه غصب کړي بيا که نوره هيڅ ګناه نه وکړي نو داغه ئې د "جهنم" د تللو کفايت کوي، بيا چي څومره مځکه ده

غصب کړې ده، هغه حصه به دا اوه(۷) سره مځکې راپرېکېږي، او د طوق په شکل به د قيامت په ميدان کې د ده په غاړه ورځړېږي.

چې کله يوانسان د يو چا امانت وخوري يا ئې ضائع کړي او بيا مړ سي او هغه بېچاره د خپلې ناوسۍ په خاطر د ده څخه خپل حق نه سي اخستلای.

چې کله د قيامت ورځ سي نو د کم چا چې امانت ضائع سوی دی، د الله تعالی و دربار ته به راسي او د خپل امانت مطالبه او طلب به وکړي، نوچې کم چا د ده امانت ضائع کړی دي، الله تعالی به وهغه ته ووائي: چې ورسه خپل امانت ورکړه هغه به په جواب کې داوائي: چې امانت خو دلته زما سره موجود نه دی هغه په دنيا کې پاته سو.

الله تعالی به ورته وائي: ورسه ورلره ئې راواخله، ما دلته خوندي کړی دی نو دَی به دالله تعالی څخه سوال وکړي چې يا الله! هغه امانت چيري پروت دی؟ چې زه ئې خپل مالک ته راواخلم.

الله تعالی به ورته وائي: چې په "هاويه" کې پروت دی "هاويه" د"جهنم" اخري درجه ده هلته پروت دی ورسه ورلره رائې وړه.

نو ملائکې به دَی تر لاس ونيسي او د"جهنم" غاړې ته به ئې راولي او و "جهنم" ته به ئې وروغورځوي، د ده سفر به په "جهنم" کې لاندې روان سي.

۱. "جهنم" دی چې تر هغه به تيرسي او د هغه عذاب به وڅکي.
۲. "حطمه" دی د هغه عذاب به هم ويني.
۳. "لظی" دی په هغه کې به هم تيرېږي.
۴. "سعير" دی.
۵. "سقر" دی.
۶. "جحيم" دی.
۷. "هاويه" دی نو بيا به وروسته هغه ته ورسېږي.

په "هاويه" کي منافقين سوځل کېږي د "هاويه" اور د "جهنم" د ټولو حصو څخه زيات ګرم او شديد دی او "هاويه" د منافقينو د سزا ورکولو ځای ټاکل سوی دی.

منافق څوک وي، په هر امت کي يو څه انسانان داسي پيدا کېږي، چي شکل ئې د مسلمان وي، نوم ئې د مسلمان وي، دعوه د مسلمانۍ کوي، او د مسلمان په کور کي پيدا سوي وي.

لېکن د مسلمان پر ځای ئې په زړه کي د کافر سره زيات محبت وي، او چي کله په مجلس کي کښېني نو په خوله کي ئې تر مسلمان د کافر زيات صفت وي، او په زړه کي ئې تر مسلمان پر کافر باندي زياته وصيله وي او هميشه د مسلمان تر کاميابي د کافر په کاميابي زيات خوشحاله کېږي.

نو چونکه يو خو مسلمان نه دی په حقيقت کي کافر دی او د دې سره سره په دې ظاهري اسلام باندي مسلمانانو ته دوکه هم ورکوي، نو ځکه الله تعالی به ده ته سخت او شديد عذاب ورکوي چي هغه د "هاويه" غوندي "جهنم" د ده د پاره ټاکل سوی دی.

او د ټولو څخه سپک اور په "جهنم" کي دی چي په هغه کي د دې امت ګناهګاران چي ګناه کبيره ئې کړي وي او بغير د توبې څخه تير سوي وي سوځل کېږي.

د دې څخه وروسته "حطمه" دی چي په هغه کي به عيسائيان وي.

او د دې څخه لاندي "لظی" دی چي په هغه کي به يهود وي.

او د دې څخه لاندي "سعير" دی چي په هغه کي به مجوس وي.

او لاندي "سقر" دی چي هغه کي به صابئين وي.

او بيا "جحيم" دی چي په هغه کي به د عربو مشرکين وي.

او آخرنی دوزخ "هاويه" دی چي هغه د منافقينو ځای دي.

امانت ضائع کونکی چونکه مسلمان دی، لېکن د امانت راخستلو د پاره به تر تولو دوزخو تيرېږي او "هاويه" ته به ځان رسوي او د هغه ځای څخه به هغه امانت را اخلي هغه امانت که په هر شکل وي د پيسې په شکل د کپړې په شکل د حيوان په شکل بيا به د "هاويه" څخه راروانيږي او په سونو کلو لاربه په دوزخو کي راپريکوي تردې چي د لوړ "جهنم" غاړي ته راور سېږي او دائې کوشش وي چي هغه امانت د قيامت په ميدان کي خپل مالک ته ورسوي.

لېکن دی چي کله د دې پورته "جهنم" د خولې څخه راخيږي نو الله تعالی به ئې پښه وښويوي بيابه لاندي په دوزخو کي روان وي تر دې حده چي "هاويه" ته رسېږي د هغه ځای څخه به بيا د راختلوکوشش کوي چي د "جهنم" خولې ته ځان راورسوي بيابه ئې الله تعالی په دوزخو کي لاندي اچوي.

د دې تولو دوزخو عذابونه به وده ته ورکول کيږي تر هغه وخته پوري چي د الله تعالی اراده وي.

نو څکه دا وايو: چي د مسلمان د پاره ضروري داده چي ده ته په داسي حالت کي مرگ رانه سي چي د بل مسلمان حق د ده پر ذمه پاته وي.

بلکه زه خو دا وايم چي هلاکت او برباد ي او تباهي ده، د بل د حق سره د قبر وتوره کنده ته ورشوه کيدل، چي کله يو انسان د بل حق غصب کړي نو هغه مظلوم بلل کيږي، مظلوم که چيري کافر وي لاهم الله تعالی ئې د انسان په مقابل کي د قيامت په ميدان کي دروي، او د ده حق به ستا د ذمې څخه وده ته وراخلي.

زموږ خو پر څلور (۴) طرفه مسلمانان دي، موږ پر مسلمان باندي زيادتي کوو، او مسلمان ته ښکنځل کوو، او مسلمان ته دروا غ وايو، غلط تلل، غلط ويل، داتول د مسلمان سره کوو.

نو موږ به ډېر برباد څکه يو چي زموږ د عوېداران او زموږ مخته درېدونکي انسانان او زموږ څخه د خپل حق غوښتونکي انسانان به د قيامت په ميدان کي تول مسلمانان وي.

## د زکندن پر وخت کلمه نه نصیب کېدل:

علامه قرطبي رحمة الله علیه په "التبصره" کي یوه واقعه لیکلې ده: چي په بغداد کي یو دوکاندار سهار وختي خپل دوکان خلاص کړی، نو خپل ترازو ئې د دوکان څخه راواخستی او پر سرک باندي ئې د مځکي و واهی په یو لوی کاڼي باندي ئې مات او ټوکړه ټوکړه کړی.

همسایګان دوکانداران ورباندي راټول سول ورته وائې: سړیه! څه درپېښه ده چي دا ترازو دي مات کړی.

دی په جواب کي ورته وائې: چي نن زموږ په محله کي زموږ همسایه وفات کېدی، نو د زکندن په حالت کي موږ ورته وویل: چي د ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ کلمه ووایه! ده په جواب کي راته وویل: چي زه یې نه سم ویلای، چي موږ هر څومره د کلمې پر ویلو اصرار کاوئ، ده هغومره د کلمې د ویلو څخه انکار کاوئ، چي زه ئې نه سم ویلای.

آخر موږ پوښتنه څني وکړه چي ته ئې ولي نه سې ویلای؟ ده په جواب کي راته ویل: چي زما د دوکان د ترازو پله چي په هغه سره ما غلط تلل کول، زما په دې ستوني کي ولاړه ده، چي د هغې په وجه زه د شهادت کلمه نه سم ویلای.

یو دوکاندار چي کله غلط تلل کوي، او د مسلمانانو حقونه راګرځوي، نو ظاهراً خو دی خوشحاله دی، چي مالس(۱۰)روپۍ، پنځوس(۵۰) روپۍ، سل(۱۰۰) روپۍ، راو ګرځولې لېکن چي کله ئې د زکندن پر حالت باندي د شهادت کلمه په نصیب نه سي نو هغه غریب ته څه په لاس ورغلل.

نو ځکه موږ همیشه دا وایو: چي د انسانانو د حقوقو مسئله ډېره سخته ده په کار دادی چي د دې څخه انسان خپل ځان وساتي، کوشش دا وکړي چي د ده په عمل نامه کي د بل انسان حق ونه لیکل سي، الله تعالی د خپلو حقوقو په معامله کي ډېر سخي دی، چي د هغه د سخاوت انتها نسته، لېکن د بنده حقوق ضرور د غاصب څخه وراخلي، او بنده ته ئې رسوي.

## د يوې نيکۍ قدر او قيمت:

په رواياتو کې راځي: چې د قيامت په ورځ به د يو انسان ټوله اعمال پوره وي صرف يوه نيکي به يې کمه سي، الله تعالی به ورته ووائي: چې دغه يوه نيکي پيداکړه زه جنت درکوم، که چيرې دغه يوه نيکۍ نه سې پيداکولای نوبيا د "جهنم" د پاره تيار سه.

دی به د قيامت په ميدان کې د هغې يوې نيکۍ طلب د خپلې مور څخه وکړي لېکن هغه به انکار وکړي.

پلار به هم انکار وکړي، زنانه او بچي يعني چې څومره قريبان دي، هغه به ټول د نيکۍ دورکړې څخه انکا ر وکړي.

دی به ډېر پرېشانه د قيامت په ميدان کې کرځي، او د قريبانو پر بې وفائې به ډېرافسوس کوي، آخر به يو سړی په مخه ورسي، چې د ده وپرېشاني ته وګوري، نو هغه به پوښتنه ځني وکړي، چې سړيه! دومره ولې پرېشانه ئې؟ نو دی به د يوې نيکۍ د کمېدو او د قريبانو د بې وفائې او د "جهنم" سره د مخامخ کيدو داستان ورته بيان کړي.

هغه به په جواب کې ورته ووائي: چې مبارک دي سه کار دي وسو، دی به پوښتنه ځني وکړي، چې هغه څنګه؟ هغه به ورته وائي: چې زما په ټوله عمل نامه کې صرف يوه نيکي موجوده ده هغه به ماته په څه کار راسي، زما د پاره خو هسې هم دوزخ تيار دی، دا يوه نيکي به زه وتاته درکړم، چې ستا کارخو په وسي.

دی چې کله دا واوري نو په ډېره خوشحالي کې به د الله تعالی وحضورته راپېش سي، او وائي به: چې يا الله! زما کار خووسو الله تعالی به پوښتنه ځني کوي، چې څنګه وسو؟ دی به ورته وائې، چې يو سړي د يوې نيکۍ وعده راسره وکړه، او راته وئې ويل: چې زه ئې درکوم.

الله تعالی به ورته وائي: چې ته ورسه هغه سړی راوبوله؟ چې کله هغه سړی راحاضر سي، نو الله تعالی به پوښتنه ځني وکړي، چې سړيه! دې انسان ته خو په

تو له اهل قيامت كي نه قريب نه غير قريب نيكي، وركولو ته تيار وو، آخر تا څنګه وركړه؟

ى به په جواب كي ورته وائي: چي يا الله! زما په ټوله عمل نامه كي صرف يوه نيكي ده، نو زما د پاره خو هسي هم "جهنم" تيار دى، كه داغه يوه نيكي وي، كه نه وي، نو ما د ځان سره دا فيصله وكړه، چي زما كار خو خراب دى خيردى پهدا يوه نيكي دي، زما ددغه ورور مسلمان او ستا د دغه بنده كار وچليږي.

الله تعالى به ورته ووائي: چي سړيه! ته خونن د قيامت په ميدان كي د ډېر وى سخاوت عمل كوې، او په سخاوت كي زما څخه هم ځان مخته كوې، لانكه نن د قيامت په ميدان كي زما څخه لوى سخي نسته نو الله تعالى به هغه دوو (۲) كسانو ته ووائي: چي تاسو دواړه جنت ته ورسئ.

۱. يو به د اعمالو پوره كيدو په وجه د جنت مستحق وګرځي.

۲. هغه بل به د يوې نېكى د سخاوت په وجه الله تعالى د جنت مستحق وګرځوي.

و مقصود مي دادى: چي انسان بايد پر خپل نفس باندي رحم وكړي، او د دنيا ندګي داسي تيره كړي، چي ده زكندن پر حالت د ده پر ذمه د حقوق الله او حقوق العباد" څخه يو حق هم پاته نه وي، او عمل نامه ئې د بل د هر قسم حقوقو څخه پاكه وي، بيا به د آخرت په ټولو منازلو كي د ده سره اساني وي.

الله تعالى دي موږ او تاسو ته پر داڅو خبرو باندي د عمل كولو توفيق راكړي، او الله تعالى دي داڅو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د حرامي نفقي بله طريقه

(بيان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن۔

مکتبہ سلطانیہ الھاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | ۱۳ ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ أَلَا يَظُنُّ أُولٰئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾(۱).

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ﴿ إِنَّ الدِّينَ النَّصِيحَةُ، إِنَّمَا الدِّينُ النَّصِيحَةُ قَالُوا: لِمَنْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ قَالَ: لِلّٰهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ﴾ (۲).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو ! په تير وعظ کي ستاسو په مخ کي ما د "لقمان حکيم" د هغه قول تشريح روانه کړې وه، چي هغه لقمان حکيم د څلور زرو(۴۰۰۰) پېغمبرانو ﷺ د تعليماتو څخه را خلاصه کړې وو، او د اتو(۸) خبرو په شکل ئې پېش کړی وو.

په هغه اتو(۸) خبرو کي اوله خبره د لمانځه په حالت کي د زړه حفاظت کول په تېرو وعظو پر دې باندي په تفصيل سره خبره وسوه، الله تعالی دې قبوله او مقبوله وګرځوي.

(۱)سورة للمطفيفن:آيت نمبر۱–۵

(۲)کتاب الزهدلوکيع، حديث نمبر: ۳۴۶

دوهمه خبره داوه چي انسان کله پر "د سترخوان" کښېني نو بايد د خپل حلق حفاظت وکړي، د دې قول يو مطلب خو داوو چي بايد انسان د "بسيار خورکی" څخه ځان وګوري، چي د انسان صحت همېشه د بيماريو څخه محفوظ پاته سي.

او دوهم مطلب د دې قول داوو: چي د انسان د پاره داضروري ده چي د حرامي نفقې او ګولې څخه خپل حلق او ستوني وساتي.

حرامي نفقې د بعض اشکالو متعلق په تېره جمعه کي ما په تفصيل سره خبره کړې وه، الله تعالى دي موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندي د عمل کولو توفيق راکړي، او الله تعالى دي ئې په خپل دربار کي قبوله او مقبوله وګرځوي. (آمين)

نن هم زه ستاسو په حضور کي د حرامي نفقې پر يو بل شکل باندي خبره کوم، چي هغه الله تعالى په دې آياتو کي ذکر کړي دي: الله تعالى دي موږ او تاسو ته د هغه څخه د حفاظت کولو توفيق راکړي.

الله تعالى د قرآن کريم په دې آياتو کي زموږ او ستاسو توجه د حرامي نفقې يو خاص شکل ته راګرځولې ده، چي هغه ته په قرآني اصطلاح کي "تطفيف" وايي، د "تطفيف" معني ده په "ناپ او تول" کي کمي کول يعني چي کله يو شی پر يو چا باندي خرڅوې، چي څومره د هغه حق دي خو ته په تللو کي هغه ته خپل حق پوره نه ورکوې او يا په ګزانه او ناپ کولو کي د هغه څخه يو څه حصه راګرځوې، نو د دې عمل ته په عربي کي "تطفيف" ويل کيږي.

"تطفيف" دا صرف تر تجارت او کاروبار پوري خاص نه دي، بلکه د "تطفيف" مفهوم ډېر وسيع دی، هغه دا چي د يو چا حق زموږ پر ذمه راسي، نو د هغه په حق کي کمي کول او هغه ته خپل حق په پوره طريقه نه ورکول دا ټول د "تطفيف" په مفهوم کي داخل بلل کيږي.

**د آياتو ترجمه:**

ماچي ستاسو په مخ کي د قرآن کريم د کمو آياتو تلاوت وکړی، په هغه آياتو کي الله تعالی په ناپ او تاله کي کمي کولو والا د پاره د "ويل" لفظ استعمال کړي دي:

......﴿وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ﴾.

د "ويل" لفظ کله دافسوس په معنی استعماليږي او دوهمه معني ئي د سخترين عذاب هم راغلي ده.

نو د دوهمي معني په لحاظولو سره د دې آيات ترجمه دا ده: چي د هغه خلګو د پاره دي سخترين عذاب وي چي په ناپ او تول کي کمي کوي.

......﴿الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ﴾.

دا هغه خلګ دي چي کله د بل چا څخه د خپل حق د وصولو موقع راسي نو په هغه وخت کي خپل حق پوره وصوله وي، (يعني يوې زرې پرېښولو ته تيار نه وي).

......﴿وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ﴾.

ليکن چي کله بل چا ته د ناپ او تول په شکل کي خپل حق ورکوي نو بيا دی کمي کوي، (يعني چي څومره د هغه حق وي هغومره هغه ته نه ورکوي)، د دې څخه وروسته بيا الله تعالی فرمايي:

......﴿أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ، لِيَوْمٍ عَظِيمٍ، يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾.(١)

ايا د دې خلګو دا خيال نه دي چي په يو لويه ورځ کي به دوی دوباره راژوندي کيږي، چي په کمه ورځ ټوله انسانيت د الله تعالی و حضور ته پيشيږي.

ايا د دې خلګو دا خيال نه دي چي په دنيا کي د کم ناپ او تول په شکل مو يو لږ نفعه ځان ته راګرځوو او دا معمولي نفعه به د آخرت په ميدان کي د دوی د پاره د جهنم د عذاب سبب ګرځي.

(١) سورة المطففين: آيت نمبر ١-٥

نو ځکه قرآن کريم بار بار په ناپ او تول کې د کمې کولو مذمت بيان کړی دی، او انسانانو ته يې د دې څخه د ځان ساتلو تاکيد کړی دی، او د هغه په ضمن کې يې د انسانانو د عبرت د پاره د حضرت شعيب عليه السلام د قوم واقعه بيان کړې ده.

## د حضرت شعيب عليه السلام د قوم هلاکت:

حضرت شعيب عليه السلام چې کله خپل قوم ته د نبي په شکل الله تعالى راواستوی، په دې وخت کې د ده قوم په ډېرو ګناهونو او نافرمانيو کې مبتلاوو، په کفر، شرک، بت پرستۍ، کې مبتلاوو.

د دې څخه علاوه تول قوم په کم ناپ او کم تول کولو کې مشهوره وو، تجارت به يې کاوی لېکن په هغه کې به يې د خلکو د حق خيال نه ساتلو.

او د دې سره يو انسانيت سوز حرکت يې دا هم کاوی چې مسافرو ته به يې لارې نيولې وې هغه به يې ېيرول او پر هغه به يې حملې کولې.

چنانچه حضرت شعيب عليه السلام به دوی د کفر، شرک، بت پرستۍ، څخه راګرځول، او د توحيد دعوت به يې ورکاوی، او په تجارت کې د خيانت کولو څخه او د مسافرو د لارې نيولو څخه به يې دوی منع کول.

لېکن هغه قوم په خپلو بدو اعمالو کې داسې مست او سرکښه وو چې هرګز د شعيب عليه السلام و خبرې منلو ته تيار نه وو، د خبرې منلو پر ځای به دوی د شعيب عليه السلام څخه همېشه دا پوښتنې کولې:

......أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ﴾(١).

ايا ستا لمونځ تا ته د دې خبرې حکم درکوي چې مونږ هغه معبودان پرېږدو چې زمونږ پلرو او نيکه ګانو به د هغو عبادت کاوی يا مونږ په خپلو تجارتو او مالو کې د خپلې خوښې تصرف کول پرېږدو.

(١) سورة هود: آيت نمبر ۸۷

دا زموږ مالونه دي، چې په کم شکل ئې موږ ګټلای سو په هغه شکل ئې ګټو، که په هغه کې د ناپ او تول کمي راځي، او که دوکه او خيانت راځي ته څوک ئې؟ چې موږ د خپلو تجارتو او مالو د تصرف څخه منع کوي.

د دې خبرو په جواب کې به حضرت شعيب عليه السلام دوی په ډېر محبت او شفقت سره راګرځول او د الله تعالی د عذاب او د آخرت د عذاب څخه به ئې بېرول لېکن دا خلک به هرګز نه منع کېدل.

بالآخر د دوی هغه انجام سو چې د نبي د خبرې نه منلو والا کم انجام وي، يعني پردوی د الله تعالی داسې عذاب راغی چې داسې عذاب به شايد الله تعالی ډېر کم د بل قوم طرفته را استولی وي.

## د حضرت شعيب عليه السلام پر قوم عذاب:

د حضرت شعيب عليه السلام پر قوم باندې عذاب په دا شکل راغی: چې اول درې(۳) ورځې مسلسل په ټوله کلي کې سخته ګرمي راغله، انسانانو ته داسې ور معلومېدله لکه د آسمان څخه چې سکروټې راووري، او د مځکې څخه اور راغورځې حبس او نفس تنګی ټول کلي والا پرېشانه کړي وو، درې(۳) ورځې بعد کلي والا چې کله وکتل چې د قبلې د خواه د وريځې يوه ټکره د کلي وطرفته را روانه ده، او تر هغه وريځې لاندې، يخې هواوې چلېږي.

د کلي خلک چونکه درې(۳) ورځې د ګرمي څخه سخت تنګ راغلي وه، نو ټوله کلي والا په ډېر شوق سره کلي پرېښووي د هغه وريځې وسايه ته سره راجمع سول چې د لته د يخو هواوو څخه څه نفع واخلي.

لېکن الله تعالی د غه خلک تر وريځې لاندې د دې د پاره راجمع کول چې پر ټولو باندې پر يو ځای عذاب رانازل کړي، چنانچه ټول خلک هلته د يخې هوا په طمع راجمع سوي وو، لېکن الله تعالی په خپل قدرت سره د هغه وريځې څخه پردوی باندې داور سکروټې راووورولې، او ټوله قوم په هغه سکروټو کې وسوځېدی اوکباب سو.

لكه الله تعالى د دې واقعې وطرفته د قرآن كريم په دې الفاظوسره اشاره كړې ده.

.......فكذبوه فأخذهم عذاب يوم الظلة إنه كان عذاب يوم عظيم﴾ (۱).

يعني دوى د حضرت شعيب عليه السلام تكذيب وكړى، د هغه په نتيجه كې پر دوى د هغه "سايوان" والا د وريځي عذاب راغى چې يقيناً هغه د ډېر لويه د عذاب ورځ وه، او په بل ځاى كې الله تعالى بيا فرمايي:

........فتلك مساكنهم لم تسكن من بعدهم إلا قليلا وكنا نحن الوارثين﴾ (۲).

يعني د دوى كلو ته وګوره چې د دوى د هلاكت څخه وروسته بيا نه سول آباد مګر ډېر كم او د دوى د ټوله مال او دولت وارثان الله تعالى فرمايي: موږ سولو.
د دوى خو دا ګمان وو چې په ناپ او تول كې به كمې كوو، او په تجارت كې به د انسانانو سره دوكه او خيانت كوو، په دې سره به موږ خپل مال زيات كړو، لېكن هغه ټوله مال او دولت د غسې نيمګړى څني پاته سو.

## د "جهنم" سكروټې:

كه چيرې يو انسان نورو انسانانو ته په تجارت او كاروبار كې دوكه وركړې، يعني په خيانت سره او د ناپ او تول په كمې سره د هغه يو حق راوګرځوي په ظاهر كې خو دا مال او دولت معلوميږي، او خوركه او نفقه معلوميږي، لېكن په حقيقت كې دا د اور سكروټې دي، چې ته ئې په خپل نس كې يا د خپل عيال په نس كې اچوې د حرام مال او د حرامي نفقې په باره كې الله تعالى په قرآن كريم كې فرمايلي دي:

.......إن الذين يأكلون أموال اليتامى ظلما إنما يأكلون في بطونهم نارا وسيصلون سعيرا﴾(۳).

(۱) سورة الشعراء: آيت نمبر ۱۸۹
(۲) سورة القصص: آيت نمبر ۵۸
(۳) سورة النساء: آيت نمبر ۱۰.

یعني چې کم خلګ د یتیمانو مال په ظلم سره خوري هغه په حقیقت کي خپل نس د "جهنم" د سکروټو څخه ډکوي، او چې کمي ګولۍ تر خپل حلق شوه کوي دا په حقیقت کي د اور سکروټې دي که څه هم ظاهراً وانسان ته د مال او دولت په شکل ورمعلو میږي.

ځکه د الله تعالی د حکم د خلاف ورزۍ په شکل او د الله تعالی د معصیت او نافرمانۍ په شکل ده دا مال او دولت حاصل کړي دي، دا پیسې، مال او دولت په دنیا کي هم د تباهۍ سبب دی، او په آخرت کي هم د هلاکت ذریعه ده.

## تطفیف په هر عمل کي راتلای سي:

ما در ته وویل: د "تطفیف" عمل کول صرف تر تجارت پوري خاص نه دی، بلکه د "تطفیف" مفهوم ډېر وسیع او فراخ دی، چنانچه حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما چې امام د مفسرینو دی، ده د "سورة المطففین" د ابتدائي آیاتو په تفسیر کي فرمایلي دي:

......شدة العذاب يومئذ للمطففين من الصلاة والزكاة والصيام وغير ذلك من العبادات﴾ (۱).

یعني د قیامت په ورځ سخت عذاب هغه خلګو ته هم ورکول کیږي، چې هغه په خپل لمانځه، زکوة، او روژه، او نورو عباداتو کي کمي کوي، د دې څخه دا معلومه سوه چې په عباداتو کي کوتاهي کول یعني په خپلو عباداتو کي اداب، مستحبات، او سنت نه اداکول دا هم په "تطفیف" کی داخل دي.

## مزدور ته مزدوري فوراً ورکول:

یا مثلاً یو سړی د خپل مزدور څخه پوره پوره کار اخلي او د هغه سره یوه زره سهولت کولو ته تیار نه دی.

(۱) تنویر المقباس من تفسیر ابن عباس: صفحه نمبر ۵۰۴

لېکن د مزدوري ورکولو په وخت کي دی هغه ته تکليف ورکوي، پوره مزدوري نه ورکوي يائې پر صحيح وخت نه ورکوي، د حيلو او بهانو څخه کار اخلي دا هم ناجائز او حرام دی او په تطفيف کي داخل دی، ځکه د پېغمبرﷺ حديث مبارک دی:

........أَعْطُوا الْأَجِيرَ اجْرَهُ، قَبْلَ انْ يَجِفَّ عَرَقُهُ﴾(۱).

يعني مزدور ته مزدوري د خولې د وچوالي څخه مخکي ورکول مناسب دي، ځکه چي کله تا په ده باندي خپل کار پوره وکړ، نو اوس په مزدوري کي ځنډ کول جائز نه دي.

## مزدور ته مناسب خوړکه ورکول:

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي کله يو سړی مزدور ودروي او د مياشتي معين مقدار مزدوري ورسره معلومه کړي، او روزانه دوه(۲) وقته دوډي ورکول هم پر ځان باندي کښېږدي.

لېکن چي کله د دوډي خوړلو وخت راسي نو په خپله بهترين او د اعلی درجې خوړکه کوي چي کمه پسخورده پاته سوه چي يو عاقل او شريف انسان ئې نه خوښوي هغه مزدور ته وراستوی دا هم په "تطفيف" کی داخل بلل کيږي.

ځکه چي تا کله د مزدور سره د دوه(۲) وقته نفقې ورکولو وعده وکړه نو ددې مطلب دادی: چي ته به د ته دومره مقدار داسي خوړکه ورکوې چي د يو معقول انسان په هغه سره پوره ګزاره کيږي لېکن که ته اوس د هغه سره په نفقه کي د بخل څخه کار اخلې نو دا د هغه مزدور حق تلفي او د هغه سره ناانصافي بلل کيږي، او دا هم په "تطفيف" کی داخل عمل دی.

(۱) سنن ابن ماجه: حديث نمبر ۲۴۴۳

## ملازمت او نوکرۍ ته پوره وقت ورکول:

یا مثلاً یو سړی په یو محکمه کې او په یو دفتر کې اته(۸) ساعته ملازم او نوکر دی نو د ې سړي خپل اته(۸) ساعته وخت ګویا پر هغه محکمه باندې خرڅ کړی دی، او د محکمې سره ئې دامعاهده کړې ده چې زه به اته(۸) ساعته ستاسره خپل وخت مصرفه وم.

لېکن دی په اته(۸) ساعته وخته ورکولو کې کمي کوي او د هغه څخه یو څه وخت په خپلو ذاتي کارو کې مصرفه وي، د ده دغه عمل هم په "تطفیف" کې داخل او ګناه کبیره ده، او دی دارنګه ګناهګاره دی لکه یو څوک چې په تاله او په ناف کې د کمي په شکل د مسلمانانو حقونه راګرځوي.

ځکه چې دامزدور که چیرې د اته(۸) ساعته پر ځای اوه(۷) ساعته کار وکړي نو دا یو ساعت وخت د بل حق وو، او ده ځني غصب کړي، او اجرت اود مزدوري اخستلو په وخت کې ئې پوره مزدوري او اجرت واخستی، نو د مزدورۍ هغه حصه حرامه سوه، چې کمه حصه ده د هغه وخت په بدله کې واخسته چې کم وخت ده په خپلو ذاتي کارو کې خرڅ کړی وو.

نو د دغه سې انسانانو د پاره قرآن کریم فرمایلې دي: چې دردناکه عذاب دی وي د هغه انسانانو د پاره چې د بل په حقوقو کې کمي کوي او چې کله د بله څخه خپل حق وصوله وي نو بیا د خپل حق پوره پوره طلب ګار وي، ګورئ! د الله تعالی په دربار کې د انسان سره د یوې یوې د قیقې حساب کیږي، او هلته د انسان سره بیاهیڅ رعایت نه وي.

## د "دارالعلوم دیوبند" استاذان:

تاسو حضراتو به د "دارالعلوم دیوبند" نوم شاید او ریدلی وي، په دې اخري دور کې الله تعالی هغه اداره د دې امت د پاره رحمت جوړه کړې وه، او دلته

اسي خلګ پيداکيدل چي د هغو څخه به انسان ته د صحابه کرامو زندګي يادېدله.

رت مفتي محمدشفيع رحمة الله عليه ليکلي دي:چي د "دارالعلوم" ديوبندپه ائي دور کي به د استاذانو دامعمول وو، چي د دارالعلوم په وخت کي که به ميلمه د ملاقات د پاره راغی نو چي کم وختبه هغه ميلمه راغی نو ده به ت ته کتل او هغه به ئې دځان سره ليکی.

و دابه ئې د حاضرۍ په رجسټر کي ليکلي وه : چي داميلمه دمدرسې په اوقاتو ي دومره وخت زماسره وو، او پوره مياشته به هر استاذ داسي کول چي کله به ياشته ختم سوه نو يو استاذ به دا درخواست مدرسې ته پېشاوي چي په فلان لان ورځ دومره وقت زه د ميلمه سره مشغوله وم او دغه وقت ما د مدرسې په کار کي نه دی مصرف کړی، لهذا زما د تنخواه څخه د دغه وخت حصه کاټ کړئ ماته ئي مه راکوئ زه د دې حقدار نه يم.

نن سبا د تنخواه پورته کولو د پاره د عريضو پېشولو په باره کي تاسو روزانه اوري لېکن هيڅ کله مي دانه دي اورېدلي چي چا دي دا درخواست او عريضه پيش کړې وي چي ما دومره وقت د نوکرۍ د وخت څخه په خپلو ذاتي کارو کي صرف کړی دی لهذا زما څخه دومره تنخواه وګرځوئ.

لېکن دا عمل هغه څوک کولای سي چي د هغه په ذهن کي د الله تعالی وحضور ته د پېشېدلو فکر وي، نن هر سړی په خپل ګرېوان کي باید وګوري بياخاص مزدوري او ملازمت کونکي انسانان چي څومره وقت دوی پر خپل ملازمت او نوکري باندي صرفه وي.

نن سبا هر ځای فساد جوړ دی، مخلوق پرېشانه دی، چي کله د يو ضرورت دپاره يو سړی حکومتي اداري ته ورسي، نو ټوله ورځ به په انتظار و لمر ته د اداري څخه د باندي ولاړ وي، او مسؤل کس به د يو صاحب بهادر په شکل به په خپل ايئرکنډيشنډ دفتر کي د ميلمنو سره په مسخرو او ګپو باندي مصروفه

وي، چاي به خوري، او ناشته به روانه وي، نو د ده په دې طرز عمل سره يو طرفته خو تنخواه حرامه سوه او دوهم طرفته د انسانانو پرېشانه کولو گناه جلا ورباندي راځي.

## ملاوټ او گډوډي کول "تطفيف" دي:

داغه رنګه د "تطفيف" په هغه وسيع مفهوم کي داخبره هم داخله ده چي يو سړی يو شی خرڅوي هغه خالص او صفا نه وي بلکه په هغه کي ملاوټ او گډوډي کوي، داهم په کم تللو او کم ناپولو کي داخل دي.

مثلاً يو سړی يو سير وړه خرڅوي لېکن په هغه کي خالص او صفا وړه خو نيم سير وي او نيم سير بل شی ئې په گډ کړي، او س د دغه ملاوټ اوگډوډي نتيجه داسوه چي د خريدار کم حق وو چي هغه ته به يو سير صفاوړه رسېدل هغه نه ورسېدو، نو ځکه دا هم په حق تلفي کي شمارسو.

## د توک فروش ملاوټ کول:

بعض خلک کله دا اشکال پېشوئ چي موږ خو خورده فروش يو، موږ ته چي د توک فروش د طرفه څنګه مال راځي موږئې هغسي پر خپل گراک باندي خرڅوو نو په دې مال کي ملاوټ او گډوډی زموږ د طرفه څخه نه بلکه د توک فروش د طرف څخه وي.

لېکن موږ ته خو هغه مال چي څنګه راغلی دی موږئې هغسي خرڅوو بايد زموږ غاړي په دې باندي بندي نه سي.

د دې اشکال جواب دادي: که چيري يو سړی هغه مال په خپله نه جوړوي او نه په هغه کي ملاوټ کوي بلکه د بل چاڅخه مال را اخلي او پر خپل گراک ئې خرڅوي نو په دې صورت کي د خريدار ومخته بايد دا خبره واضحه کړي، چي زه د دې ذمه وار ه نه يم چي په دې کي څومره اصليت دي، اوڅومره ملاوټ او

ګډوډي ده، البته زما د معلوماتو مطابق په دې کي دومره اصليت او دومره ملاوټ دي.

## خريدار ومخته وضاحت کول:

لېکن زموږ په بازارو کي بعض شيان داسي دي: چي اصلي او خالص بلکل نه پيداکيږي، بلکه د کم ځای څخه چي ئې را اخلي هغه ټول ملاوټ شده وي او ټولو خلګو ته دا خبره معلومه وي چي دا شی اصلي نه دی، بلکه په دې کي ملاوټ سته.

نو په دغه صورت کي هغه تاجر چي دغه شی ئې د بل چا څخه رانيولی دی د ده پر ذمه دا ضروري نه ده چي هر هر سړي ته به د دغه شی په باره کي معلومات ورکوي ځکه هر سړي ته دا معلومه ده چي دغه شئ خالص او صفا نه پيدا کيږي.
لېکن که د ده دا خيال سو چي دغه رانيونکی او خريدارد دې شی د حقيقت څخه ناخبره دی نو بايدپه دې صورت کي دی هغه خريدارته داووايي: چي دا شئ خالص او صفا نه دی بلکه په دې کي ملاوټ او ګډوډی ده.

## د سامان عيب شکاره کول:

داغه رقم که چيري يو سړی يو سامان خرڅوي او په هغه سامان کي عيب وي نو هغه عيب به خريدارته ښکاره کوي، بيا هغه خريدار صاحب اختيار وي چي د عيب سره ئې رانسي او که ئې پرېږدي، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:
.......مَنْ بَاعَ عَيْبًا لَمْ يُبَيِّنْهُ، لَمْ يَزَلْ فِي مَقْتِ اللهِ، وَلَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَلْعَنُهُ﴾ (١).
يعني چي کم سړی عيب والا سامان خرڅوي او د هغه عيب خريدار ته نه ښکاره کوي، چي په دې کي دغه عيب دی نو هغه سړی به مسلسل د الله تعالی په غضب کي وي او ملائکي به پر داسي سړي مسلسل لعنتونه وايي.

---

(١) سنن ابن ماجه: حديث نمبر ٢٢٤٧

## مسلمان ته دوکه ورکول:

پيغمبرﷺ يو ځل په مدينه منوره کي بازار ته راغلی که ګوري يو سړی په بازار کي غنم خرڅوي چي کله پيغمبرﷺ نږدې ورغلي او غنم ئې پر له واړه ول او کښته او پورته ئې کړل نو دامعلومه سول چي سربيره او بالا صفا او ښه غنم دي او لاندي د باران په اوبو کي خراب سوي غنم دي نو چي کم سړی سر بيره غنمو ته ګوري او هغه ته دا ټوله ښه غنم ور معلوميږي.

پيغمبرﷺ د هغه سړي څخه پوښتنه وکړه: چي تاهغه خراب غنم سر بيره او ښکاره ولي نه دي ايښي؟ چي خريدار ته داور معلومه سي چي داغنم خراب دي نو يا که د هغه خوښه سوه رابه ئې نيسي او که ئې خوښه نه وه نو پرې به ايږدي.

هغه سړي په جواب کي ورته وويل: ای د الله رسوله! د باران په وجه غنم خراب سوي وه ځکه ما هغه لاندي کړل او سر بيره مي صفا غنم ورياندي واچول چي خلک د دې غنمو په خريداري کي رغبت ښکاره کړي.

پيغمبرﷺ ورته فرمايي: چي داسي مه کوه بلکه هغه عيب والا غنم ښکاره او سربيره کړه چي خلک په دوکه نه سي، د هغه څخه وروسته پيغمبرﷺ د ټولو دوکاندارانو په مخ کي دا اعلان کوي:

......مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا﴾(۱).

چي کم سړی دوکه انسانانو ته ورکوي هغه زموږ څخه نه دي يعني چي کم سړی ملاوټ کوي په ظاهر کي خالص او صفا شی خرڅوي لېکن په حقيقت کي ئې بل شی په ګډ کړي وي، يا په ظاهر کي خو پوره شی وی لېکن په حقيقت کي ئې کم کړي وي.

نو داغش او دوکه ده او چي کم سړی دا کار کوي هغه زموږ څخه نه دي يعني د مسلمانانو څخه نه دي.

---

(۱)صحيح مسلم: حديث نمبر ۱۰۲

تاسو ګورئ! د داسي سړي په باره کي پيغمبرﷺ څومره سخته خبره کړې ده، لهذا چي کم شی خرڅوی نو خرېدار ته د هغه حقيقت ورښکاره کوي چي د دې دغه حقيقت دی، لېکن خرېدار په دوکه کي ساتل او په بې خبري کي شی ورباندي خرڅول منافقت دی د مسلمان او د مومن شيوه او عادت داوي: چي د منافقت څخه ځان وساتی.

## د امام ابو حنيفهرحمة الله عليه دیانتداري:

حضرت امام ابو حنيفه رحمة الله عليه هغه شخص دی چي موږ او تاسو ټول د هغه مقلدين يو د خپل وخت ډېر لوی تاجر وو، دکپړې تجارت به ئې کاوی.
لېکن ډېري لوی لوی نفعي به ئې پر دې حديث باندي د عمل کولو په خاطر قربانولې.
چنانچه يو ځل ده ته د کپړې يو تان راغئ چي په هغه کي عيب وو، ده و خپلو ملازمينو ته چي د ده سره ئې په دوکان کي کار کاوی وويل: چي د دې کپړې د خرڅولو په وقت کي به خرېدار ته دا واياست چي په دې کپړه کي دغه عيب دی.
يو څو ورځي بعد يو ملازم هغه کپړه خر څه کړه او خرېدارته د هغه کپړې عيب ورښکاره کول ځني هېرسو، چي کله امام صاحب پوښتنه ځني وکړه چي هغه عيب والا کپړه څنګه سوه؟ نو هغه ملازم ورته وايي: چي حضرت هغه خو ماخر څه کړه.
او س که چيري بل مالک وي نو هغه به هغه ملازم ته شاباش ورکړي چي تا د عيب والا کپړه د عيب سره خر څه کړې ده لېکن امام ابو حنيفهرحمة الله عليه پوښتنه ځني وکړه، چي ايا تا هغه عيب وخرېدارته ورښکاره کړی؟ هغه ملازم په جواب کي ورته وايي: چي زما څخه د عيب ښکاره کول هېرسو.
حضرت امام ابو حنيفهرحمة الله عليه په ټوله ښار کي د هغه خرېدار تلاش شروع کړی، چي هغه عيب والا کپړه ئې د ده د دوکان څخه وړې وه، د کافي تلاش کولو څخه وروسته ئې هغه خرېدار پيدا کړی او ورته و ئې و يل: چي کمه کپړه تا زما د

دوکان څخه رانيولې وه په هغه کپړه کي د غه عيب سته که چيري ته وماته هغه کپړه واپس راوړې نو زه به خپل پوره قيمت درکوم او که ئې د داغه عيب سره په خپله رضا سره قبلوې نو ستا خوښه ده.

## نن سبا زمونږ حالت:

نن سبا زمونږ دا حالت دي چي صرف دا نه چي عيب نه ورښيو بلکه ښه په دې پوهيږو چي په دې سامان کي داعيب دی، او په دې کي دا خرابي ده، د هغه باوجود قسمونه ورباندي اخلو خريدارته دا باور ورکوو چي دا ډېر ښه شی دی او دا د اعلى درجې والا سامان دی دا رانيسه.

په موجوده حالاتو کي پر موږ باندي د الله تعالى کم غضب نازل دي چي ټوله معاشره په عذاب کي مبتلا ده هر سړی په بدامنی او بې چيني او پر يشاني کي دي د يو سړي هم جان، مال، او عزت محفوظ نه دی.

دا عذاب زمونږ د دغه ګناهو نتيجه او وبال دی چي موږ د محمد رسول اللهﷺ رانبولي طريقې پرېښولې د سامان خرڅولو په وخت کي د هغه حقيقت د خلکو ومخته نه ښکاره کوو، په تجارتو او کاروبارو کي مي دوکه، خيانت عام سوی دی.

## د حرامي خورکې په وجه د آس نافرماني:

د يو بزرګ وينا ده: چي رشتوني تاجر د الله تعالى په حضور کي تر هغه عابد چي ټوله شپه پر عبادت ولاړوي افضله دي.

زمونږ اکابرينو او سلفو به په تجارت او په نورو معاملاتو کي ډېر زيات احتياط کاوئ، چنانچه زه د يو مجاهد واقعه د يو کتاب (حکايات غزالي په حواله) ستا سو حضور کي رانقل کوم، دی فرمايي:

زه پر خپل آس باندي سپور په جهاد کي شريک وم، اچانک يو کافر زما مخته راغي ما پر خپل آس باندي زور وکړی په دې خاطر چي پر هغه کافر

باندې حمله وکړم لېکن زما آس و ماته تن رانه کړی او زما هغه د حملې کوشش ضائع ولاړی، دوهم ځل او دريم ځل هم د حملې کولو په دوران کې زما آس زما سره ملګرې نه کوله، او د هغه حملې په دوران کې زه د ماتې سره مخامخ سوم، او زما زړه د دې ماتې خوړلو څخه ډېر درد وکړی.

تو له ورځ په دې سوچ او فکر وم چې زما آس نن د توقع خلاف د بزدلۍ ښکاره والې وکړی، او زماحکم ئې نه ومانئ، خيمې ته واپس راغلم په ډېر سوچ او پريشانۍ کې يم د داغه سوچ او پريشانۍ په حالت کې خوب وړی وم، او سترګې مې سره ورغلې وې.

په خوب کې که ګورم نو هغه زما آس ماته مخاطب دی، او د هغه ماتې خوړولو په باره کې راته وايي: چې تا خو درې ځله پر هغه کافر باندې د حملې کوشش وکړی، لېکن درې سره ځله زما د بزدلۍ په وجه د ناکامۍ سره مخامخ سوې.

د پرون خبره درپه ياد کړه چې تا زما د پاره خورکه او وابنه راوړل نو په هغه کې دې هغه خرڅونکي ته يو درهم ناچلاند ورکړی، ته چې حرام غذا او خورکه په ما باندې خورې نو بيا به زما څخه د اطاعت توقع څنګه وکړې؟

د دې خوب لېدلو څخه وروسته زما سترګې راروڼې سوې او زړه مې د ېېرې او د خوف څخه په لرز او ېېره کې وو، فوراً هغه وښو والا لره ورغلم، او د هغه څخه مې خپل هغه ناچلاند درهم واپس واخستی او د هغه پر ځای مې ورده ته چلاند او صحيح درهم ورکړی(۱).

(۱) حکايات حضرت امام غزالي رحمه الله: صفحه نمبر ۱۲۵

نو د حرامي نفقې يو اثر دا هم وي، چي د هغې په وجه باندي چي د انسان ماتحت کم مخلوق وي، لکه د انسان بچيان، يانوکران، ياحيوانان ، بيا د هغو څخه انسان د اطاعت طمع او توقع نه سي کولای.

## عجيب بائع او عجيب مشتري:

د حضرت سرّي سقطي رحمة الله عليه واقعه ده: چي ده په شپېته(۶۰) درهمه د بادامو يوه بوري رانيوله او د خپل حساب په کتابچه کي ئې د هغه نفع په لس(۱۰) ديناره کي د نيم دينار په شکل او مقدار سره درې(۳) ديناره وليکله.
په هغه زمانه کي يو دم په بنار کي بادام ګران سول او د شپېتو(۶۰) دينارو بوري نيوي(۹۰) دينا ره ته ورسېده، د ده دوکان لره يو دلال راغلي، چي کله ئې د بادامو د بوري قيامت معلوم کړئ.
حضرت سرّي سقطي رحمة الله عليه د بادامو د بوري قيمت دروشپېته (۶۳) ديناره ورياد کړي، هغه دلال ورته وويل: چي اوس خو په بنار کي بادام ګران سوي دي، په اوس بازار کي د دغه بوري قيمت نيوي(۹۰) ديناره دي، حضرت سري سقطي رحمة الله عليه ورته وايي: چي ما خو په دروشپېته (۶۳) ديناره د دغه بوري د خرڅولو عهد کړی دی، زه د دغه بوري په قيمت کي تر دروشپېته(۶۳) ديناره يو دينار زيات هرګز نه قبلوم.
هغه دلال ورته وايي: چي زه بيا دغه بوري د بادام د نيوي(۹۰) درهمه څخه په کم هرګز نه اخلم، ځکه ما هم د الله تعالی سره دا عهد کړی دی، چي زه به هيڅ مسلمان ته نقصان نه رسوم.
نو د دې قصې هغه روايت کونکي وايي: چي هغه د بادامو بوري نه دلال په دروشپېته(۶۳)ديناره ځني رانيوله او نه حضرت سرّي سقطي رحمة الله عليه په نيوي (۹۰) ديناره ورباندي خرڅه کړه(۱).

---

(۱) حکايات حضرت امام غزالي رحمة الله عليه :صفحه نمبر ۱۲۹

نو دا هغه زموږ د سلفو او اکابرو کمال احتياط وو، چې هغوی به په معاملاتو کې حرام خو څه کوې د مشتبهاتو څخه به ئې هم په کامله طريقه سره ځان کاتې.

### د محمدابن المنکدر رحمة الله عليه کمال احتياط:

يو ځل د محمدابن المنکدر رحمة الله عليه سره يو څه چوغې او "چپنې" د خرڅولو د پاره پرتې وې، د بعض قيمت پنځه(۵) درهمه د بعض قيمت لس(۱۰) درهمه وُو، يوه ورځ د ده په عدم موجودګۍ کې د ده يو غلام د پنځو(۵) درهمو چوغه په لس(۱۰) درهمه خرڅه کړه.

دی چې کله واپس راغې نو د غلام پردې عمل باندې زيات په غصه او ناراض سو او د هغه سړي په طلب کې روان سو، چې کم چا هغه چوغه رانيولې وه ، د ټولې ورځې د تلاش کولو څخه وروسته هغه سړی په لاس ورغې، نو ده د هغه چوغې قيمت او صورتحال ټول ورته بيان کړی.

هغه خريدار ورته وويل: چې آخر تا ولې ځان په دومره پريشانۍ کې اچولی دی، ما خو په خپله رضا او خوښه سره هغه غلام ته دا قيمت ادا کړی دی.

محمدابن المنکدر رحمة الله عليه په جواب کې ورته وويل: چې ته خو به راضي ئې لېکن زه ستا د پاره هغه خبره خوښوم چې زه ئې د خپل ځان د پاره خوښوم نو ځکه اوس زما څخه يا د لسو(۱۰) درهمو والا چوغه واخله، يا د پنځو(۵) درهمو والا چوغه واخله خو باقي پاته خپل پنځه(۵) درهمه هم درسره واخله، يا مُوږ ته خپله چوغه راکړه موږ به تا ته خپل دراهم واپس درکړو.

نو هغه په دې ټولو صورتو کې دوهم صورت قبول کړی، يعني د پنځو(۵) دراهمو چوغه ئې واخستله او پنځه(۵) دراهم ئې هم واخستل.

چې کله محمدابن المنکدر رحمة الله عليه ولاړی، نو هغه خريدار د خلکو څخه پوښتنه وکړه ، چې دا بزرګ څوک وو؟ خلکو په جواب کې ورته وويل: چې د ده نوم محمدابن المنکدر دی. هغه خريدار وويل: ....لااله الاالله.... دا هغه خلک دي چې د دوی په برکت باندې الله تعالی پر موږ باندې د قحط سالۍ په زمانه کې

بارانونه راووروي،نوزموږ دسلفوداسې تجارتونه وو، هغوی په دې شکل سرته رسول(١).

## د واثله ابن الاسقع رحمة الله عليه د يو مسلمان سره خير خواهي:

واثله ابن الاسقع رحمة الله عليه يو ځای ولاړ وو، يو سړي خپله "اوښه" خرڅوله خريدار راغي هغه "اوښه" ئې وکتله، نو ذ هغه "اوښي" قيمت درې سوه(۳۰۰) درهم ئې مالک ته ورکړل او "اوښه" ئې د ځان سره روانه کړه.

واثله ابن الاسقع رحمة الله عليه د بيع په دروان کي په يو خيال او فکر کي مستغرق وو، د بيع په تفصيلاتو باندي خبر نه سو، چي کله ئې وليدله چي خريدار "اوښه" روانه کړې ده، نو ده شادخوا وريسې منډې کړې هغه سړی ئې ودروی، پوښتنه ئې ځني وکړه، چي تا دا "او ښه" د غوښو د پاره رانيوله او که د سوارلۍ د پاره؟

هغه سړي په جواب کي ورته وويل: چي د سوارلۍ د پاره مي رانيوله، واثله رحمة الله عليه ورته وويل: چي په دې صورت کي بيا دا "اوښه" ګرانه ده، ځکه ما د دې په پښه کي زخم ليدلی دی، شايد دابه په سفر کی ستا سره مسلسله ملګري ونه کړي.

هغه خريدار واپس راغي، او په بائع (مالک) باندي ئې سل(۱۰۰) درهمه کم کړل، چي کله هغه خريدار ولاړی نو بائع (مالک) واثله رحمة الله عليه ته وويل: چي تا خونن ما ته سل(۱۰۰) درهمه نقصان راورساوی.

حضرت واثله ابن الاسقع رحمة الله عليه په جواب کي ورته وايي: چي موږ د پيغمبر ﷺ سره دا عهد کړی دی، چي موږ به د هر مسلمان خير خواهي کوو، او مسلمان ته به د نقصان رسولو څخه ځان ګورو، د هغه څخه وروسته د پيغمبر ﷺ حديث مبارک ورته بيانوي:

---

(١) حکايات حضرت امام غزالي رحمة الله عليه :صفحه نمبر ۱۲۹

........مَنْ بَاعَ شَيْئًا فَلَا يَحِلُّ لَهُ حَتَّى يُبَيِّنَ مَا فِيهِ ، وَلَا يَحِلُّ لِمَنْ يَعْلَمُ ذَلِكَ أَنْ لَا يُبَيِّنَهُ﴾ (١).

چي کم څوک يو شی خرڅوي د هغه د پاره دا جائز نه دي چي هغه شی د عيب ښکاره کولو بغير خرڅ کړی، او نه د هغه سړي د پاره چي په هغه عيب باندي خبر وي، خاموش پاته کيدل جائز دي(٢).

الله تعالی دي موږ او تاسو ته د خپلو خپلو ستو پر نقشه زندګي رانصيب کړي، او الله تعالی دي د حرامي نفقې څخه د خپل ځان او د بچيانو د حفاظت کولو توفيق راکړي، او الله تعالی دي زموږ او ستاسو تجارتونه پر شريعت او د پيغمبر ﷺ او د صحابه کرامو ﷢ او د سلفو پر طريقو باندي برابر کړي.

او الله تعالی دي داڅو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يا رب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ

---

(١) سنن الكبرى للبيهقي: حديث نمبر ١٠٧٣٥

(٢) حكايات حضرت امام غزالي رحمة الله عليه: صفحه نمبر ١٢٧

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د حلالي خوړکي اثرات

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰه صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰه صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريــــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾(١).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ﴿مَنْ أَكَلَ الْحَلَالَ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا، نَوَّرَ اللهُ تَعَالَى قَلْبَهُ، وَأَجْرَى يَنَابِيْعَ الْحِكْمَةِ عَلَى لِسَانِهِ، وَيَهْدِيْهِ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو مشرانو! د تيرو څو جمعو څخه مسلسل ستا سو په حضور کي د "سورة لقمان" د يو آيت تلاوت پيشوو، او د هغه په تفسيرکي د "لقمان حکيم" يو قول چي هغه د څلورو زرو(۴۰۰۰) پيغمبرانو عليهم السلام د تعليماتو څخه را خلاصه کړی دی عرض کوو.

هغه قول دادی: چي "لقمان حکيم" وايي: چي زه د څلورو زرو(۴۰۰۰) پيغمبرانو عليهم السلام په خدمت او صحبت کي وه اوسيدلم، او د هغوی تعليمات مي واورېدل د هغو ټولو خلاصه اته (۸) خبري وي.

(١) سورة لقمان، آيت نمبر ۱۲

(٢) حليه ابو نعيم: جلد نمبر ۵ : صفحه نمبر ۱۸۹: بحر الدموع: صفحه نمبر ۲۵۵

۱. اوله خبره داوه چې كله ته پرلمانځه باندي ودرېږې، نو د خپل زړه حفاظت كوه، د دې خبرې متعلق په تيرو جمعو كې په تفصيل سره خبره وسوه، الله تعالى دې ئې په خپل دربار كې قبوله او مقبوله وګرځوي.
۲. دوهمه خبره داوه چې كله ته پر د سترخوان باندي كښېنې نو د خپل حلق حفاظت كوه، د دې نصيحت دوه(۲) اړخونه وو، يوداچې د حرامې غِذا څخه ځان ساتل، د دې په باره كې هم په تيرو جمعو كې په تفصيل سره خبره وسوه، چې په هغه كې مو دا عرض كړل چې په حرامه غِذا كې څه نحوست دى، او په دې كې كم كم نقصانات دي.

## د حلالي غذا اثرات:

د دې نصيحت دوهم اړخ دادى، چې په حلاله خوركه كې كمې فائدې او د حلالې خوركې څه بركات او اثرات دي؟ دا يو حقيقت دي كه چيرې انسان د خپل ځان او د بچيانو د پاره د حلالې خوركې اهتمام وكړي، بياكه هر څومره معمولي خوركه وي، يعني كه چيرې بياهغه خوركه صرف د دودۍ او شلومبو په شكل وي، د هغې به دا اثر وي؛ چې د خوركـ كونكي په زړه كې به نوراني جذبات پيدا كيږي.
د هغه نوراني جذباتو په نتيجه كې به د ده په زړه كې د نيكو اعمالو سره رغبت او شوق پيدا كيږي، ښو كارو ته به ئې زړه ورغواړي، او د ښو خلګو وناسته ته به ئې رغبت پيدا كيږي، او په زړه كې به ئې د ښو كارو تصورات راځي، د ګناهو څخه به ئې نفرت كيږي، او د آخرت فكر به ورسره پيدا كيږي، دا ټول د حلالي خوركې اثرات دي.

## د ديوبند د يو بزرګ واقعه:

د "ديوبند"په كلي كې چې په هندوستان كې مرقعيت لري، او هلته د مسلمانانو هغه لويه درسګاه "دارالعلوم ديوبند"وجود لري، يو بزرګ په نامه د

"شاه جي عبدالله" اوسيدی، ده د خپلې ګزارې د پاره دامعمول جوړکړی وو، چي روزانه به د سهار د لمانځه څخه وروسته ځنګله ته تلی، او هلته به ئې د ځنګله بوټي را ټوله ول، بيا به ئې د هغو څخه يو غوځې جوړاوی، او پر خپل سربه ئې د کلي منډی او د خرڅېدو ځای لره راوړی، او هلته به ئې خرڅاوی، او په هغه سره به ئې خپله روزي او ګزاره برابره وله.

چونکه: دی صاحب نسبت بزرګ او د الله تعالی يو نيک بنده وو، نو چي کم خلګ به د بوټو رانيونکي وو، نو هغه به د "شاه جي عبدالله" په انتظار کي وو، چي کله به "شاه جي" راځي او موږ به د هغه څخه بوټي رانيسو.

"شاه جي" به يو خاص مقدار بوټي راوړل، او هغه به ئې د بازار په مارکيټ کي په څلور (۴) انې خرڅول، چونکه خرېداران به ډېر زيات وو، نو چي څنګه به دوی "شاه جي عبدالله" وليدي، نو فوراً به ئې د بوټو رانيولو د پاره منډې ورو هلې، بل طرف ته د شاه جي بيا دا اصول وو، چي کم سړي به د ټولو څخه مخکي د ده پر غوځي باندي لاس کښېښوی، نوده به خپل بوټي هغه ته ورکول، او د هغه څخه به ئې څلور (۴) انې قيمت اخستی نه ئې تر څلور (۴) انې په کم قيمت ورکول، او نه ئې تر څلور (۴) انې زيات قيمت د چا څخه طلبوی.

## په څلور (۴) انې کي بهترين نظم:

په هغه څلور (۴) انې کي د "شاه جي" بهترين نظم داوو.

- چي يوه انه به ئې پر فقراء او مساکينو باندي صدقه کوله
- او يوه انه به ئې د خپل ضرورت د پاره ايښوله
- او يوه انه به ئې د وصله رحمي په شکل خپلې لورته ورکوله
- او يوه انه به ئې د "دارالعلوم ديوبند" د بزرګانو د دعوت د پاره جمع کوله

نو په دې شکل به په څلور (۴) انې کي د ننه د ده ټول کارونه پوره کيدل، هم به ئې خپل ضروريات په پوره کيدل، او هم به د الله تعالی په لار کي صدقه پکښې

کیدله، او هم به وصله رحمي پر ځای کیدل ځکه یوه انه ئې لورته ورکول دا د هغې سره همدردي او وصله رحمي وه، او د دې سره به د علماوو او بزرګانو خدمت هم کیدی ځکه ده به یوه انه د هغوی د دعوت د پاره هم جمع کوله، ذا د ده روزانه معمول وو.

## د موجوده دور د انسانانو بدنظمي:

نن سبا زموږ د بدنظمۍ دا حال دی، چي په موږ کي چي کم خلګ ملازم پیشه یعني نوکران دي، نو د هغه خو چي کله شل(۲۰) یا پنځویشت(۲۵) تاریخه رارسیږي، بلکل ئې "تنخواه" اوخرچه ختم وي، هغه هم صرف د کور په اخراجاتو کي ختم سي، نه په هغه کي صدقه وخیرات وسي، او نه هغه په نیکو کارو کي خرڅه سي، او نه په هغه باندي د نیکانو خلګو خدمت وسي، او نه په هغه کي د قریبانو سره وصله رحمي وسي.

که چیري د هغه سري څخه دنیکۍ کولو خواهش وسي، او هغه ته په نیک کار کي د خرڅ کولو وویل سي، نو دی به په جواب کي ضرور دا خبره پیشوي، چي زما خو دومره تنخواه نه ده، زما په خپله ګزاره نه په کیږي، د بل چا به زه په دې تنخواه کي څه خدمت وکړم.

نن چي د کم چا تنخواه درې زره(۳۰۰۰) وي، نود هغه هم ګزاره نه په کیږي، چي د چا دا لس زره (۱۰۰۰۰) وي، نو د هغه هم ګزاره نه په کیږي، او چي د چا دا پنځویشت زره(۲۵۰۰۰) وي، نو د هغه هم ګزاره نه په کیږي.

ځکه چي زموږ د ټولو دا حال دی، چي کله د میاشتي اولني تاریخونه راورسیږي، نو بیاخو بې ځایه اسرافونه کوو، نود هغه نتیجه دا راووزي، چي کله د میاشتي آخرني تاریخونه رارسیږي، نو د بل څخه وقرض کولوته مجبوره سو، دا ټوله زموږ د بدنظمۍ نتیجه وي.

## آمدني کم خرڅ زيات کول:

د بدنظمۍ لويه علامه دا ده: چي د انسان آمدني کمه او خرڅه زياته وي، حالانکه اسلامي طريقه دا ده: چي د انسان آمدني څه څومره وي هغومره به ئې خرڅه وي، بلکه خرڅه به ئې تر آمدني يو څه کمه وي، چي د انسان د ضرورت د پاره هميشه د انسان سره يو څه شی موجود وي.
لېکن زموږ او ستاسو معامله برعکس ده، چي آمدني کمه ده او خرڅه زياته کول موږ عادت جوړ کړی دی، هر سړی معاشرې ته په قيمتي لباس، او په قيمتي موټر، او اعلی درجه کورکي، ځان ښکاره کول غواړي، حالانکه د ده آمدني دانه سي برداشت کولای.
په حقيقت کي دا ټوله د مغربي تهذيب لعنت او اثر دي، چي د هغه په نتيجه کي زموږ په زندګي کي بدنظمۍ ځای نيولی دی، دا سوچ نه کوو، چي زموږ آمدني څومره ده، او موږ بايد د خپلي آمدنۍ مطابق زندګي څنګه تيره کړو.
نو انسان بايد داسي نظم جوړ کړي، چي څومره آمدنۍ الله تعالی ورکړې وي، په هغه کي د ټنه خپله ګزاره سره ورسوي.
او چي څنګه لباس، او خوړکه، او د کوراخراجات د خپلي آمدني مطابق جوړ کړي، د مياشتي اولني تاريخونه او اخرني تاريخونه بايد د انسان اخراجات يکسان وي.
د دې به فائده داوي: چي هر انسان به د خپل حيثيت مطابق خپله زندګي تيره ولای سي، او د هغې په وجه به انسان د پرېشانۍ څخه محفوظه وي، په حقيقت کي پرېشاني موږ په خپله د ځان د پاره پيداکړې ده، چي د خپلي آمدنۍ او خرڅې په مابين کي مي توازن برقرار نه دی ساتلی.

## سكون په قناعت كي دي:

سكون او اطمينان په حقيقت كي په قناعت كي دى، او قناعت دادى: چي د خپلي آمدنى مطابق خرچه كول، او خپله خرچه تر آمدنى نه زياته ول، نو د انسان به ټوله مياشته په سكون او قناعت كي تيرېږي او پرېشانى به نه وي.

بهرحال تاسو د "شاه جي" بهترين نظم ته وګورئ، چي د ده روزانه آمدني صرف څلور(۴) انې ده، مګر هغه په هغه څلورو(۴) انو كي صدقه هم وركوي، وصله رحمي هم كوي، د علماء كرامو خدمت هم كوي، او په هغه كي خپله ګزاره هم سره رسوي، دا په حقيقت كي موږ ته د اسلام راښول سوي طريقه هم ده.

كه چيري يو سړى په څلور(۴) انې آمدني كي صدقه وركولاى سي، او دوهم سړى په څلور زره(۴۰۰۰) آمدني كي صدقه نه سي وركولاى نو د دې مطلب دادى، چي د دې سړي په آمدني او خرچ كي هيڅ نظم نسته، په بدنظمي كي مبتلا دى، يا د مغربي تهذيب څخه متأثر دى، چي د هغه په نتيجه كي دى پرېشانه دى.

## د خرچ كمولو فكر كول:

نن سبا انسانان د آمدنى دېرولو په فكر كي دي، حالانكه د آمدنى دېرول د انسان په اختيار كي نه دي، ځكه د هر انسان رزق او روزي مقدره ده، د هغه څخه نه سي زياتېدلاى، لېكن انسانان د خپلي خرچې كمولو فكر نه كوي، حالانكه خرچه كمول داده انسان په اختيار كي دي.

نو چي كم شى د دوى په اختيار كي دى، هغه د خرچې كمول دي، د هغه كوشش نه كوي، او چي كم شى د دوى په اختيار كي نه دى، هغه آمدني زياتول دي، د هغه په طلب او تلاش كي دى، نو په دې خاطر د انسان زندګي د پرېشانى سره مخامخ وي.

## د ديوبند د اکابرينو دعوت:

بهر حال "شاه جي عبدالله" چي به په خپله آمدني کي يوه انه د علماء د يوبند د دعوت د پاره ايښوله چي کله به دري (۳) څلور (۴) انې جمع سوې، نو د ديوبند د اکابرينو دعوت به ئې کاوی، او په دې وخت کي د يوبند په اکابرينو کي.

حضرت مولاناقاسم نانوتوي رحمة الله عليه.

حضرت مولانارفيع الدين رحمة الله عليه.

حضرت حاجي امدادالله مهاجر مكي رحمة الله عليه.

حضرت مولانا رشيداحمد گنگوهي رحمة الله عليه.

حضرت مولانامحمد يعقوب نانوتوي رحمة الله عليه شامل وله.

کله خوبه ئې په خپل کور کي سالن پوخ کړي، او داټول حضرات به ئې خپل کورته راوبلل، او خوړکه به ئې ورته کښېښوله، او کله به ئې داسي هم کوله، چي "دارالعلوم ديوبند" ته به ورغلی، هغوی ته به ئې هغه پيسې ورکړې، او ورته وبه ئې ويل: چي زما خو ښه سالن پخول ايږده نه دي، او نه دومره وخت راسره سته، تاسو حضرات په دې پيسو باندي د خپلي خوښي سالن پوخ کړئ، او وه ئې خورئ، بس دا زما د طرفه دعوت دی.

## د دعوت د خوړلو اهتمام:

په دې اکابرو کي حضرت مولانا محمديعقوب نانوتوي رحمة الله عليه د هر فن ماهر وو، سالن پخول، د هغه ډېر ښه ايږده وو، او نور عام کارونه ئې په ډېره ښه طريقه پر ځای کولای سول، چنانچه دې نورو حضراتو به د حضرت مولانا محمد يعقوب نانوتوی رحمة الله عليه څخه د سالن د پخولو درخواست او غوښتنه وکړه.

حضرت مولانا محمديعقوب نانوتوی رحمة الله عليه چي به کله د سالن د پخولو اراده وکړه، نو اول به ئې غسل وکړی، اوصفا کپړې به ئې واغوستلې، او بيابه بازارته وتلی په دغه پيسو به ئې سامان رانيوی او سالن به ئې څني پوخ کړی،

چي کله به سالن تيار سو نو دې نورو حضراتو به هم غسل وکړی، بيا به د "شاه جي عبدالله" د دعوت د خوړلو د پاره کښېنستل، او هغه سالن به ئې وخوړی.

## د هغه دعوت اثرات:

دې بزرگانو به بيا وروسته فرمايل: چي د شاه جي عبدالله د دعوت به پر موږ باندي دا اثروو، چي مکمله مياشته به زموږ په زړونو کي يو قسم نورانيت وو، او زموږ په زړو کي به د آخرت د تياری جذبات راپورته کيدل، او ټوله شپه به په عبادت باندي نه ستړي کيدو، او شپه به مي ټوله د الله تعالی په ياد کي تيرېدله او د زړه کيفيات به مي بدل وو، چي هغه کيفيات به د دغه خوړکي څخه مخکي موږ نه سو محسوسه ولای، او د يوې ورځي د دعوت اثربه تر مياشتو پوري زموږ پر زړونو باندي پاته وو.

## د روحاني قوت تقويه:

خبره په حقيقت کي دا ده غذا چي کله جسم ته ورسي، نو د هغه په ذريعه ټوله جسم ته تقويه رسېږي، د هغه غذا څخه سترگو ته، غوږو ته، لاس او پښو ته، زړه او پوښتورگو ته، تقويه او توانائي رسېږي، چي کله ټوله جسم ته تقويه ورسېږي نو ځکه د جسم ټول اندامونه خپل افعال په ښه طريقه سر ته رسوي، او دا د انسان د پاره جسماني طاقت بلل کيږي.

داغه رنگه زموږ په جسم کي چي کم قوت ايماني، او روحاني اېښول سوی دی، د حلالي غذا څخه بيا هغه ته قوت رسېږي، چي د هغه په نتيجه کي د انسان په مزاج کي د گناهو جذبات کمزوري کيږي، او د نيکو اعمالو جذبات تقويه کيږي، او خپل کار د نيکو اعمالو په شکل شروع کوي.

## د حلالي غذا څخه شجاعت او بهادري پيدا کيدل:

د حلالي غِذا يو اثر داوي: چي د هغه په وجه د انسان په زړه کي شجاعت او بهادري پيدا کيږي، په انسان کي همت او حوصله پيدا کيږي، د دې برعکس د حرامي غِذا څخه بيا په انسان کي بزدلي او کم همتي پيدا کيږي.

## د شجاعت او بهادري متعلق واقعه:

د تاريخ په کتابو کي يوه واقعه ليکلې ده: امير عبدالرحمان خان چي په خپل وخت کي د افغانستان بادشاه وو، د ده نيکه امير دوست محمد خان تيرسوي دي، د هغه د زمانې قصه ده، چي کله ئې د افغانستان د حکومت واګي په لاس کي وې، او دی د افغانستان حاکم وو، ده په خپله زمانه کي د ځان د پاره "ولي عهد"(يعني ترده وروسته د بادشاهي دپاره منتخب) خپل زوی جوړ کړی وو، په دې دوران کي د افغانستان پر يو طرف باندي دښمن حمله وکړه.
امير دوست محمد خان د دښمن سره د مقابلې کولو د پاره او دښمن ته د ماتي ورکولو د پاره يو لښکر برابر کړي او د هغه لښکر امير ئې هغه خپل "ولي عهد"زوی جوړ کړی، او دا ئې ورته وويل: چي تاسو به د دښمن مقابلې ته ورځئ هغه ته به ماتي ورکوئ، او هغه چي زموږ د وطن پر څومره حصه باندي قبضه کړې ده، هغه به ځني آزاده وئ چنانچه هغه شهزاده د دښمن د مقابلې د پاره ولاړی، او پر دښمن باندي ئې حمله وکړه، او هغه ته ئې ماته ورکړه، او خپل وطن ئې ځني آزاد کړی.
ليکن امير دوست محمد خان ته اوله اطلاع دا راورسېدله چي ستا شهزاده ماته خوړلې ده او د دښمن د بيري څخه په تېښته سره واپس را روان دی، د دې اطلاع څخه امير دوست محمد خان پر ډېر رنځ، غم، او افسوس کي واقع سو، نو خپل کورته راغلی، د هغه شهزاده ومور ته ئې د دې اطلاع بيان وکړی، او دائې ورته

وویل: چي شهزاده خو ډېر بزدل او کمزوري وخاتی، ماته او شکست ئې خوړلی دی، او د میدان جنگ څخه په تېښته واپس را روان دی.
حالانکه دا د ده د بهادری، او دلاوری عمردی، او دا د ده د شجاعت او زړه ورتوب د ښکاره کولو عمر دي، لیکن دی ډېر بزدله دی، او بل طرفته ما دی د ځان "ولی عهد" هم جوړ کړی دی، اوس به خلګ داوائي: چي تا څنګه نالائق او بزدل د ځان "ولی عهد" جوړ کړي، چي هغه د دښمن د مقابلې توان او طاقت نه لري، نو ماته د شهزاده د دې کردار څخه ډېر زیات غم او افسوس ودرېدی.

## زما بچی ماته نه سي خوړلای:

د شهزاده مور چي کله دا خبره واورېده نو فوراً ئې دا وویل: چي دا اطلاع چي تاته راغلې ده دا بلکل غلطه ده، داکیدای نه سي، چي زما شهزاده دي ماته وخوري، امیردوست محمدخان ورته وویل: چي ماته خپلو معتبرو استخباراتو اطلاع راکړه، او ماته باقاعده یقیني خبر راغلي دی، چي هغه ماته خوړلې ده او ته د کور په څلورو (۴) دېوالو کي ناسته ئې او په څه خبره نه ئې او دا وایې: چي دا اطلاع غلطه ده.
چي کله څه وقت تیرسو نو د شهزاده د واپس رارسېدو څخه مخکي دوهمه اطلاع دا راغله چي شهزاده دښمن ته ماته ورکړې ده، او د خپل وطن اطراف ئې د دښمن څخه آزاد کړي دي، او واپس د فاتح په شکل را روان دی.
بادشاه چي دا اطلاع واورېدله نو ژر خپل کورته راغلی او د شهزاده مورته ئې وویل: چي ماته اوس اوس اطلاع راورسېده چي شهزاده ماته نه ده خوړلې او اوله اطلاع غلطه وه، بلکه هغه دښمن ته ماته ورکړې ده او د فاتح په شکل را روان دی.
لیکن ته په کور کي د ننه ناسته ئې په څه خبره نه ئې بیا دي څنګه په یقین سره داوویل: چي زما د بچي د ماتي خوړلو خبر غلط دی، او دا کیدای نه سي چي هغه زما بچی دي ماته وخوري د دې څه وجه وه؟

## د طهارت او د حلالي غذا اهتمام کول:

د شهزاده مور ورته وويل: چې خبره خو د کولو نه ده لېکن چې کله ته اصرار کوې نو زه به ئې درته وکړم.

د خبري اصل حقيقت داسي دی: چې کله شهزاده زما په رحم کي وجود پيدا کړی نو ما د ځان سره دا عزم او قصد وکړی، چې حرام خو حرام دي مشتبه او ګډوډه ګوله به زما تر ستوني نه تيرېږي، هسي نه چې د حرامي او مشتبه ګولې په خاطر زما د بچي په زړه کي کمزوری او بزدلي راسي.

ځکه ما ته دا معلومه وه: چې د حرامي او مشتبه نفقې په وجه سره د انسان په زړه کي کمزوري او بزدلي پيدا کيږي، او د حلالي نفقې په وجه د انسان زړه دلاوره او طاقت ور جوړېږي، نو ما تر آخره پوري يعني چې تر څومره وخته پوري دی زما په نس کي وو، نو ما د خپل ځان د پاره د صفا او حلالي نفقې اهتمام کاوی.

چې کله بچي پيدا سو نو ما د دوو (۲) خبرو اهتمام کاوي.

۱. يو دا چې ماوده ته هيڅ کله د ناپاکی په حالت کي شيدې نه دي ورکړي بلکه چې کله به مي ده ته شيدې ورکولې نو اول ځل به مي اودس کاوی، او د سورة يس د تلاوت په وخت کي به مي ده ته "تی" ورکاوی.

۲. او د "تي" ورکولو په زمانه کي ماهم خپل ستونی د حرامي او مشتبهي نفقې څخه ساتی، چې هسي نه حرامه نفقه زما نس ته ورسي او د هغې څخه زما په بدن کي شيدې پيدا سي، او هغه شيدې د دې بچي نس لره ورسي د هغو څخه د ده اندروني او باطيني صلاحيتونه او طاقتونه خراب سي او د هغه څخه د ده زړه کمزوری او بزدله سي.

چونکه ما د دې خبرو اهتمام پر ځان باندي لازم کړی وو، نو ځکه زما پوره يقين وو، چې زما بچي شهزاده بزدل او کمزوری نه سي کيدای، چې هر کله دی د دښمن مقابلې ته ورسي نو يقيناً به د فتحي په شکل واپس راځي نو ځکه ما تاته

دا خبره په پوره اعتماد ا و باور سره وکړه، چي زما د بچي د ماتي خوړلو خبر غلط دی، او زما زړه ئې نه مني.(۱)

## تولي مندي بايد داسي وکړي:

په حقيقت کي دا پر دين باندي د انسان يقين دي: چي کله په دين او شريعت کي انسان ته دا وويل سي: چي د حلالي نفقې څخه په انسان کي بهادري او شجاعت پيدا کيږي، نو دا يو مضبوط حقيقت دی، اوس که چيري د حلالي نفقې باوجود په يو انسان کي شجاعت او بهادري نه وي نو په دې پوه سه چي دی په خپله نفقه حاصلولو کي دوکه سوی دی.

اوس هغه زنانه د دې سره سره چي ديو بادشاه دکور زنانه ده، په کم قسم ئې د پارسائي او تقوی زندگي تيره کړله، او په کم شکل ئې د خپل ځان د پاره د حلالي او طيبي نفقې اهتمام وکړي.

د اسلام په تاريخ کي د داسي زنانو بې شماره مثالونه موجود دي، چي هغوی داسي دلاوره بچي دنيا ته پيدا کړو چي هغوی د مځکي پر مخ د اسلام داسي خدمتونه وکړل، چي د هر يوه زندگي د مځکي پر مخ په اسلامي نړۍ کي د يو ځلانده ستوري په مثل وه.

د هغه وجه داوه: چي هغو په خپله هم د حلالي نفقې اهتمام کاوی، او د خپلو بچيانو د پاره ئې هم حلاله نفقه برابروله چي د هغه په نتيجه کي داسي بچيان دنيا ته راتلل نن هم که چيري موږ او زموږ د کورو زناني دا اهتمام وکړو چي خورکه دي کمه او ساده خو مگر حلاله وي، نو بيا به يقيناً زموږ د زړونو حالات هم بدل سي.

---

(۱) اسلامي بيانات درسائل: جلد نمبر۲: صفحه نمبر۱۰۵

## د امام احمدبن حنبل رحمة الله عليه واقعه:

د حضرت قاري محمد طيب صاحب رحمة الله عليه په خطباتو کي يوه واقعه ليکلې ده: چي يو ځل حضرت امام شافعي رحمة الله عليه حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه ته خط وليکى: چي ډېره زمانه وسوه چي تاسو زموږ حضورته تشريف نه دی راوړي، او د ډېري مودې څخه زما زړه ستاسو د ملاقات شوق او تمنّي کوي.
حضرت امام شافعي رحمة الله عليه استاذ دی، او حضرت امام احمدبن حنبل رحمة الله عليه شاګرد دی، د حضرت امام شافعي رحمة الله عليه قيام او استوګنه په مصر کي وه، نو ځکه هلته شوافع ډېر زيات دی.
په جواب کي حضرت امام احمدبن حنبل رحمة الله عليه خپل پروګرام فوراً وليکي او ده ته ئې ورواستاوی چي زه پر فلان او فلان تاريخ باندي ستاسو خدمت ته په مصر کي حاضرېږم.
حضرت امام شافعي رحمة الله عليه د خپل کوروانسانانو ته، او وخپلو شاګردانو، او خپلو دوستانو او احبابواو نورو علماؤ ته د حضرت امام بن حنبل رحمة الله عليه د راتګ د تاريخ اطلاع ورکړه، او بيائې د ده د پاره د يو خصوصي دعوت او د استقبال اهتمام وکړی.
او خلګو ته ئې دا وويل: چي که څه هم دی زما شاګرد دی، مګر هغه ډېر لوی امام دی، او ده ته الله تعالی ډېره لوړه مرتبه ورکړې ده، چي کله د امام احمدبن حنبل رحمة الله عليه د راتللو ورځ او تاريخ را ور سېدی، په دې ورځ امام شافعي رحمة الله عليه د ښهر د نورو علماؤ سره او د خپلو شاګردانو سره د ښهر څخه د باندي د امام احمدبن حنبل رحمة الله عليه د استقبال د پاره راوواتی.
په دې وخت کي چي د مصر کم بادشاه وو، هغه هم د امام شافعي رحمة الله عليه معتقد وو، هغه هم د امام شافعي رحمة الله عليه سره استقبال ته راوواتی، او د بادشاه سره د ده د دولت ارکان وزيران او د ښهر ټول معززين هم استقبال ته راووتل.

چي کله حضرت امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ پر مقرره وخت مصر ته راوره سېدي، نو حضرت امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ د ده ډېر لوی او شانداره استقبال وکړی، او په ډېر عزت او احترام سره ئې خپل کورته راوستی، او د ده د پاره ئې د بهترينې کوټې او نفقې انتظام وکړی.

## زياته خوړکه کول:

په هغه زمانه کي عام طور د اولياء الله او بزرګانو شان داوو، چي هغو به خوړک ډېر کم کاوی، او شپه به ئې ټوله د الله تعالی په عبادت کي تيروله، چي کله امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ پر "دسترخوان" باندي د خوړک کولو د پاره کښېناستی، نو تر ډېره پوري ئې داسي خوړک وکړی، لکه دی چي د ډېرو ورځو شخه وږي وي، عامو خلګو خپله خوړکه بس کړه مګرده تر ډېره پوري خوړکه کوله.

د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ شاګردان ډېر په تعجب کي سول چي کله ئې د ده خوړکه د معمول شخه زياته وليدله ځکه چي دوی پرقدم قدم د امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ د حالاتو ننداره کوله.

نو هغه شاګردانو په خپل مابين کي سره وويل: چي زموږ استاذ امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ خود ده ډېر زيات تعريف وکړی، چي دا ډېر لوی عالم او بزرګ انسان دی، مګر هغه خو نن خوړک د بزرګ په شان نه وکړی، نو په عامو خلګو کي او د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ په شاګردانو کي د ده په باره کي چي ميګوياني شروع سوې ليکن هيچا بسکاره څه نه سوويلای.

## عام خلک تهجد ګزار ولو:

بيا چي په کمه حجره کي د حضرت امام احمدبن حنبل رحمۃ اللہ علیہ د پاره د شپې په وخت کي د ارام کولو د پاره انتظام برابر سو، په هغه حجره د حضرت امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ بچيانو او شاګردانو يو مصله هواره کړه، مسواک ئې کښېښوی، د استنجاء کولو او د اوداسه کولو دپاره ئې ګډوې ډکي د اوبو

کېښېنولې، د دې د پاره چې کله حضرت د شپې د تهجد لمانځه د پاره راپورته سي، نو ده ته به یو قسم تکلیف او پرېشاني نه وي، په هغه زمانه کي به د شپې د تهجد د لمانځه کولو دپاره راپورته کېدل د عامو انسانانو معمول او عادت وو. الله تعالی دي زموږ د معاشرې پر حالت باندي رحم وکړي، چي زموږ په معاشره کي نن سبا دا افسوسناکه ماحول جوړ سوی دی، چي سهار اته(۸) بجی یانه (۹) بجی راپورته کېدل زموږ معمول او عادت جوړ سوی دی، په هغه زمانه کي به عامو خلګو د تهجد لمونځ کاوی، او "قیام اللیل" به د دوی عادت وو، او چي کم علماء او صلحاء وو، هغو خو به ټوله شپه په عبادت کي تیروله الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د تهجد کولو توفیق را نصیب کړي.

## په زړو کي شبهه پیداکېدل:

بهرحال چي کله حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د شپې په هغه حجره کي ارام وکړی، او سهار راپورته سو او د جماعت لمانځه کولو د پاره مسجد لره ولاړی، چي څنګه د حجرې څخه وواتی، نو د حضرت امام شافعي رحمة الله علیه بچیان او شاګردان فوراً هغه حجرې ته ورننه وتل که ګوري د اوبو هغه لوټه او ګډوه دغسي د اوبو ډکه پرته ده نه مسواک استعمال سوی دی، او نه د استنجاء او د اوداسه پرتې اوبه استعمال سوي دي، چي ماخستن ټول شیان څنګه اېښول سوي وو، سهار هم هغسي پراته دي.
او د دې بچیانو او شاګردانو په زړو کي دا شبه پیداسوه، چي د شپې چونکه ده مبارک خورکه زياته خوړلې وه، نو ځکه د تهجد کولو دپاره نه دی راکېښېنستلی نو ځکه نه ئې اودس کړی دی، او نه ئې اوبه استعمال کړي دي.
چي کله د سهار لمونځ وسو، حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه وا پس هغه کورته تشریف راوړی، نو د کور انسانانو او شاګردانو حضرت امام شافعي رحمة الله علیه ته وویل: چي تاخو موږ ته ویل: چي هغه ډېر لوی ولي او ډېر لوی بزرګ دی، مګر ده په شپه کي خورکه دومره زياته وخوړل، چي د شپې موږ د ده د پاره

د اوداسه او استنجاء او به کښېښولې، او سها رچي مي وکتلې هغه بلکل يوه زره هم استعمال سوي نه دي، دا معلومه ده چي د شپې ئې د تهجد د لمانځه کولو د پاره توفيق نه دی پيدا کړی، او نه ئې د تهجد لمونځ ادا کړی دی.
اوس حضرت امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ ته هم د دې خبرو څخه تشويش وړ پيدا سو، لهذا ده امام احمدبن حنبل رحمۃ اللہ علیہ راوبالی او په تنهائي کي ئې پوښتنه ئني وکړه، چي زما شاګردانو او کورني انسانانو زما تر غوږ پوري دا خبره راوره سوله، چي تا د شپې ډېر زيات خوړک هم وکړی، او چي په کمه حجره کي موږ ستا د پاره د ارام انتظام کړي وو، په هغه حجره کي د شپې په آخر کي د استعمال د پاره اوبه مسواک، يوڅه نوراشياء ايښول سوي وه، هغه هم بلکل استعمال سوي نه وه، ايا څه پېښه ده؟ ته خو پخوا داسي نه وي، ايا د دې ځای څخه د تللو وروسته ستا په مزاج او طبعيت کي څه تبديلي را غلې ده؟

## د حلالي خوړکي انوارات او برکات:

حضرت امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ په جواب کي ورته وفرمايل: چي حضرت! زما متعلق چي کمي خبري ستا تر غوږه رارسېدلي دي، هغه صحيح نه دي، بلکه خبره يو څه نوره ده، هغه خبره داده: چي زه کم وخت د خوړک کولو د پاره ستا پر "دسترخوان" کښېنستم او په حجره کي مي شا وخوا وکتل نو ماته د هغي خوړکې د حلال او طيب والي په وجه هغه کمره د نور څخه ډکه را معلومېدله، او ما ولېدل چي د اسمانه څخه بيا تر دې "دسترخوانه" پوري انوارات د باران په شکل را اورېدل؛
ما چي کله دا صورت حال ولېدی، نو دځان سره مي دافکر وکړی، چي شايد د دې څخه زياته حلاله او طيبه نفقه به زما په ټوله زندګي کي بيا نه سي پيدا، لهذا چي څومره مي زياته خوړلای سوه هغومره مي زياته وخوړله، ځکه د دې خوړکې د يوې يوې ذرې په وجه زما په زړه او ايمان کي روښنائي زياتېدله نو ځکه ما دې ته نه کتل چي عام انسانان څومره خوري او څوک زما په باره کي څه فکر له

ګمان کوي، نو چې زما په بدن کې د خوړک کولو څومره توان او طاقت وو، هغه مې ټول د دې نفقې په خوړلو کې صرف کړي.
او بيا د حلالې نفقې دا خاصيت وي: چې د هغه څخه انسان ته بدهضمي نه وريېدا کيږي، بلکه هغه "سريع الهضم" وي، او د انسان بدن له چې ورسي، نو د انسان دروح منور کولو ذريعه جوړيږي، الحمدلله ما د هغه اثر محسوس کړی، ځکه د دې خوړکې کولو څخه وروسته نه ماته بدهضمي او نه بل تکليف راپېښ سوی دی.

## د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کول:

چې کله د خوړکې کولو څخه وروسته د ماخستن د لمانځه څخه فارغ سولم، او هغه حجرې ته چې په هغه کې زما د ارام کولو انتظام سوي وو ورغلم نو دورتللو سره سم زما حالت بدل سو ارام او خوب کولو ته مې زړه نه ورغوبنتی که څه هم دډېر اوږده سفر کولو وروسته د يو ستړي انسان په شکل زه هلته رارسېدلی وم ځکه په هغه خوړکه کې مې دومره زيات غذائيت او توانائي محسوسه کړه چې زما د وجود ټوله ستړيا او سستي ورسره ختم سوله.
او چې زه د خوب کولو د پاره پر بستره باندې پرېوتلم نو ماته خوب نه راتلی دغسې د پروتې په حالت کې مې د قرآن کريم په آياتو کې او د احاديثو په رواياتو کې غور او فکر کاوی، او ټوله شپه د داغه غور او فکرپه حالت کې راباندې تيره سوه، او په دغه شپه باندې ما د قرآن کريم او احاديثو په آياتو او رواياتو کې د غور کولو په شکل دسلو (۱۰۰) مسئلو استنباط وکړی، او هغه هم داسې مسائل چې د دې څخه مخکې هيڅ کله زما په ذهن کې راغلي هم نه وې، او نه هيڅ کله زما په خيال او فکر کې راګرځېدلي وې.
په دغه شپه کې چې زما په سوچ او فکر کې د قرآن کريم آياتونه او د پيغمبرﷺ احاديث راتلل نو د هغو علوم او اسرار زما ومخته غوړېدل او د ټولو مسائلو

تفصيل او جوابات زما په ذهن کي راتلل او ټوله شپه مي د مسائلو استنباط کاوی، حتی چي په داغه حالت کي راباندي سهار سو.
نو دا ټوله د هغه خوړکي اثر وو، چي ټوله شپه ئې ما احساس کاوی، نو ځکه د تهجد په وخت کي نه د اوبو استعمالولو ضرورت پېښ سو، او نه مي مسواک استعمال کړی، او هغه د ماخستن اوداسه زما د سهار د لمانځه دپاره هم کفایت وکړی.
حضرت امام شافعي رحمة الله عليه چي کله د حضرت امام احمدبن حنبل رحمة الله عليه د خولې ځخه داتفصيل واورېدی، نو خپلو شاګردانو ته او د کور انسانانو ته ئې حقيقت حال بيان کړی، او چي کم چا د ده په شان کي ګستاخي کړې وه، نو هغو ته ئې وويل: چي تاسو د هغه ځخه معافي واخلئ، د هغه خو د تقوی او د علم دا حال دی.

## د حرامي او مشتبه غذا ځخه د حفاظت کولو کوشش:

دا يو حقيقت دی: چي نن سبا زموږ په زړو کي د دين هغه جذبه نسته او نه مي په دماغو کي د دين وطرفته پوره ميلان سته حالانکي موږټول په دې پوهېږو چي دين برحق دی، او آخرت برحق دی، او د الله تعالی په حضورکي د خپلي ټولي زندګي حساب او کتاب پېشول برحق دي، بايد د دې وطرفته موږ متوجه سو، لېکن د هغه ځخه باوجود زموږ زړونه د آخرت وطرفته نه راګرځي، د هغه بنيادي وجه داده، چي زموږ په غذا کي اشتباه او ګډوډي ده، نو پکار دادی: چي موږ د حرامي او مشتبه غذا ځخه خپل ځانونه او کورونه او خپل بچيان وساتو، که دا نه وي، نو بيا په هيڅ شکل د حرامي او ګډوډي نفقې د وبال او نتائجو ځخه خپل ځان او خپل بچيان نه سو محفوظه کولای.

## د عمر ابن عبدالعزیز رحمة الله علیه دور خلافت:

حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه چې پر کم تخت کښیناستی هغه مسلسل د دېرشو (۳۰) کالو څخه د مسلمانانو په وینو لړلی وو.

...... د مروان ظلم.

...... د عبدالملک ظلم.

...... د ولید ظلم.

...... د سلیمان ظلم.

حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه دا تخت دوه(۲) کاله دوې(۲) میاشتې څلور(۴) ورځې سنبال کړی، چې په دې دوران کې د ده حکومت پر درې(۳) "براعظمه" باندې حاوي وو، او په دې دومره لویه حصه د مځکې باندې د ده د دې دومره لوی سلطنت د آبادۍ دا حال سو، چې په یو کال کې د ده د ټوله سلطنت کې د زکوٰة اخستلو مستحق پاته نه سو، په هر کور کې آبادي وه، او هر کور د ده په سلطنت کې خوشحاله ژندګي تیره وله.

## د عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه د کور حالت:

یو ځل د خپل حکومت په دوران کې کورته د ننه راغلی، نو د ده کوچنیو بچیانو د ده سره د خبرو کولو په دوران کې پر خپلو خولو باندې لاسونه نیولي دي، او څوک خپلې خولې په پوړنانو پټوي، او بیا د ده سره خبرې کوي.

حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه د کور د خادمې څخه پوښتنه کوي، چې دې بچیانو ته څه ورپېښه ده چې زما سره د خبرو کولو په دوران کې زما څخه خولې پوټوي؟ نو هغه خادمه ورته وایي: چې اې امیرالمؤمنینه! نن ستا په کور کې د سالن او پخکړې بندوبست نه وو، نو ستا بچیانو د وامه او کچه پیاز سره ډوډۍ خوړلې ده، او د هغوی د خولو څخه د پیاز بدبوئي راځي نو دوی ستا سره د خبرو

کولو په دوران کې خپلې خولې پوټوي، چې هسې نه زموږ د خولو د بدبوئې څخه زموږ وپلار ته تکلیف و رسېږي.
حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ چې کله دا واورېدل نو خپل بچیان ئې ټول راطلب کړل، او د هغوی پر حالت ئې ډېر وژړله وروسته ورته وایي: ای زما بچیانو! هیڅ یو پلار وخپلو بچیانو ته په تکلیف ورکولو او پر خپلو بچیانو باندې په سختئ تیرولو باندې راضي نه وي، لېکن ای بچیانو! تاسو پر ما رحم وکړئ، ستا سو پلار ډېر کمزوري دی، په تاسو باندې حرامه نفقه نه سې خوړلای او ستاسو په خاطر د جهنم اوراو سکروټې، نه سې برداشت کولای.

## دوقت د خلیفه د کور اختر:

یو ځل د اختر څخه یوه(۱) یا دوې(۲) ورځې مخکې حضرت عمربن عبد العزیز رحمۃ اللہ علیہ کورته راغلی که ګوري! په کور کې کوچنې کوچنې بچیان ژاړي(د ده دولس(۱۲) بچیان وو) د کور د زنانې "فاطمه بنت عبدالملک" څخه پوښتنه کوي، چې دا بچیان ولې ژاړي؟
هغه په جواب کې ورته وایي: چې دوی پر دې ژاړي چې زموږ ټولو دوستانو او همزولو د اختر د پاره نوې جامې جوړې کړې دي، او زموږ پلار امیرالمؤمنین دی، او زموږ کپړې زړې او د پینو ډکې دي، او زموږ د اختر د پاره نوې کپړې او لباس نسته نو زموږ پلار دي، و موږ ته هم د اختر د پاره نو ي لباس و کپړې راجوړ کړي.
حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ ورته وایي: چې ای زنانې! دا بچیان صبر کړه زما سره پیسې نسته زه د کمې خوا د دوی دپاره لباس او کپړې برابرې کړم، زه چې د "بیت المال" څخه څومره وظیفه اخلم په ډېر مشکل سره په هغه باندې زما دکور د نفقې خرچه پوره کېږي، نو د بچیانو د لباس د پاره د یو طرفه څخه هم زه بندوبست نه سم برابره ولای.

فاطمه بنت عبدالملک ورته وايي: چي اوس به څه کوو! په خپله خو صبر کولای سو لیکن بچیان به څنګه پوه کوو، هغه خو زموږ په نیستي نه پوهیږي، او نه په دې سر راسره خلاصوي.

نن سبا مور او پلار پر بچیانو ایمان خطا کوي، بیا هغه بچیان د ټولو څخه مخکي د مور او پلار ګستاخي کوي، او د مور او پلار د پاره لوی عذاب جوړ وي، کله خو زوی وپلار ته وايي: چي تا نوزما د پاره څه کړي دي، او څه دي ګټلي دي او څه دي خوندي کړي دي، پلار کم نصیبه چونکه: د اولاد پرورش په حرامه نفقه کړی وی، او د بچي په باره کي ئې الله تعالی ناراض کړی وی، بیاخو الله تعالی د ټولو څخه مخکي داغه بچی پر داغه پلار مسلط کړي، بیا په هیڅ شکل بچی د پلار فرمان برداره زندګي نه تیروي، او د بچي په دماغ کي د ټولو څخه لوی دښمن مور او پلار ورځي.

نو حضرت عمربن عبدالعزیزرحمةالله علیه هغه زناني ته وايي: چي زه بچیانو ته د لباس ورکولو توان او طاقت نه لرم بچیان د غسي صبر کړه.

هغه زنانه ورته وايي: چي امیر المؤمنینه! زما په دماغ کي یو ترتیب راغلی هغه دا چي ته د "بیت المال" څخه د یوې میاشتي وظیفه(تنخواه) پیشګي واخله په هغه باندي به د بچیانو لباس او جامې برابري کړو، او زه به پر خپل ځان بلندي سختي راولم او دخپل لاس په مزدوري به د بچیانو د دې یوې میاشتي دنفقې بندوبست برابر کړم.

حالانکه د ده دکور دغه زنانه "فاطمه بنت عبدالملک" چي د "عبدالملک" لوروه په ټوله انساني تاریخ کي په دنیاوي لحاظ د ټولو څخه زیاته معززه زنانه تیره سوې ده، دا هغه زنانه وه چي په اوه(۷) نسبته دا ملکه وه ، نیکه ، پلار، څلور(۴) ورونه، یو خاوند سره دې ته د شهزادګۍ مقام حاصل وو.

...... د نیکه بادشاهي.

...... بیا د پلار بادشاهي.

..... بيا د دوو(۲) ورځو بادشاهي.
..... بيا د خاوند بادشاهي.
د خاوند د مرګه بعد دوه(۲) ورونه يکې بعد د بګري بادشاهان سول نو ځکه دا زنانه په اووه(۷) نسبته شهزادګۍ زنانه وه.
حضرت عمربن عبدالعزيز رحمة الله عليه چې کله د زناني د خولې څخه دا مشوره واورېدله نو د هغې سره ئې پر دې باندې اتفاق وکړی، نو راغلی د خپل حکومت خزانچي ئې چې هغه د ده خپل زرخريد غلام "مزاحم" وو، راطلب کړی، او ورته وئې ويل: چې ته به ماته د "بيت المال" څخه د يوې مياشتې وظيفه(تنخواه) پېشګي راکوې چې زه په هغه سره د بچيانو د پاره د اختر لباس برابر کړم.
هغه خزانچي د ده ومخته قلم او کاغذ کېښېښول او ورته وايي: چې اميرالمؤمنين! ته وماته نړ دې کاغذ باندي ديوې مياشتې د ژوند ضمانت راوليکه نو بيابه زه تاته د يوې مياشتې وظيفه(تنخواه) جاري کړم، دحضرت عمر بن عبدالعزيز دخولې څخه چغه وخته ورته وايي: چې په خدای قسم ديوې مياشتې خو څه کوې چې ديوې ورځې او ساعت ذمه واري نه سم ليکلای، نو ديوې مياشتې ذمه واري به زه څنګه وليکم.
ځکه د پيغمبر ﷺ فرمان دي:
........ ﴿كَمْ مِنْ مُقْبِلِ يومٍ لَايُكَمِّلُهُ وَكَمْ مِنْ مُسْتَقْبِلٍ لِغَدٍ لَايُدْرِكُهُ﴾. ډېر داسي کسان وي، چې دنن ورځې د لمر لوېدلو په انتظار وي، خو لمر لوېدل د ده د زندګي په قسمت کې نه وي، ځکه چې دی دلمر لوېدو څخه مخکې دقبر توري کندي ته ورسېږي.
او ډېر داسي خلګ وي چې دسبا ورځې دلمر راختلو انتظار کوي، لېکن دلمر راختلو څخه مخکې د ده زندګي و اختتام ته ورسېږي.
نو کورته واپس راغلی هغه خپلې زناني ته وايي: ته دې خپلو بچيانو ته ووايه: چې تاسو صبر وکړئ، په دنياکې زما سره تاسوته د لباس درجوړولو وس او

طاقت نسته د دې بدله به الله تعالی تاسو ته په جنت کي د ښو لباسو په شکل در کړي.

دخپلو بچیانو خواهش او تمنی ئې رد کړه، خپل جذبات ئې مات کړل لیکن د الله تعالی وامر ته ئې په خپله زندګي کي ځای ورکړی، ضروریات ئې قربان کړل، خو دالله تعالی امر ئې په خپله زندګي کي عملي کړی.

## د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه توکل:

د حضرت عمر بن عبدالعزیز دولس(۱۲) بچیان وو، چې کله د ده دوفات وخت راغلی نو د ده اخښي "مسلمه بن عبدالملک" ورته وویل: ای امیرالمؤمنینه! تا پر خپلو بچیانو باندي ظلم وکړی، دی ورته وایي: چې ما څه ظلم وکړی؟ هغه ورته وایي: چې تاکمه ترکه (میراث) د مرګه وروسته د خپلو بچیانو دپاره پرېښوله نو ستا بچیانوته په هغه نفقه کي دوه(۲) درهمه پر نفر باندي پوره رسیږي، نو په دې دوه(۲) درهمه دوی څه وکړي، نو تاخو د دوی دپاره هیڅ نه پرېښول.

نو دی دیماری په حالت کي دی د "مسلمه" دې خبري پرده باندي دزهرو په مثل اثر وکړی، خپلو خادمانو ته وایي: چې ما در پورته کړئ، چې کله دی کښیناستی نو "مسلمه" ته وایي: ته زما خبره واوره ما خو په بچیانو حرامه نفقه نه وخوړله او حلال زما سره نه وو، او زه په دې مکلف هم نه یم چې خامخا به د دوی دپاره مال جمع کوم.

"مسلمه" ورته وایي: چې زه تاته یو لک(۱۰۰۰۰۰) روپۍ درکوم زما ده طرفه ئې وخپلو بچیانو ته په هدیه کي ور کړه، حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه ورته وایي: چې پر خپله دې وعده باندي ولاړئې هغه ورته وایي: "هو"، نو دی ورته وایي: چې بیا داسي وکړه چې د کم او کم ځای څخه داپیسې تا په ظلم راجمع کړي دي، هغه خلګوته داپیسې واپس ورکړه، زما دبچیانو ستا پیسوته یو ه زره ضرورت هم نسته.

بيا ئې خادمانوته وويل: چي مالره زما بچي راوبولئ: چي کله ئې ټول بچيان راحاضرسول، نو د هغه څخه وروسته ورته فرمائي: اى زما بچيانو! زما ومخته دوې لاري(۲) وې.

- يوه دا چي ما ستاسو دپاره مال او دولت جمع کړی وای او دې ته مي نه وای کتلي، چي دا حلال دي که حرام نو دهغه په بدله کي به زه دوزخ لره تللي وای.
- دوهمه لار داوه چي زه و تاسو ته د تقوى ژوند تېرول دراېزده کړم او دالله تعالى څخه غوښتل دراېزده کړم او زه په خپله جنت لره ولاړسم.

اى زما بچيانو! ستاسو پلار ډېر کمزوری دی: د دوزخ اورنسي برداشت کولای نو ځکه ما تاسو ته دتقوى لار دروښوله چي کله مي ضرورت سي، نو دالله تعالى څخه ئې وغواړئ، زما درب وعده ده:

......﴿وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ﴾.(۱) چي زه دنيکو خلګو دوست يم، او د نيکانو مدد کونکی يم، بيا خپل اخښي ته وايي: اى "مسَلمه"! که چيري زما بچيانو نيکه زندګي تيره کړه، نو الله تعالى هيڅ کله دوى نه ضائع کوي، او که چيري دوى دخپل رب نافرمانه زندګي تيرولهنو زما سره بيا د دوى دهلاکت هيڅ فکر او غم نسته.

بيا دا مځکي او اسمان هغه ورځي وليدلې چي د"بنواميه" شهزادګان چي د"مسَلمه" او "سليمان بن عبدالملک" او لادونه وو، چي خپلو پلرو په هغه وخت کي په ترکه او ميراث کي د خپله مرګه وروسته دهر بچي دپاره لس لس لکه(۱۰۰۰۰۰) درهم پرېښول او په خپله د دنيا څخه رخصت سو.

او د دوى او لادونه د دې دومره مال سره سره به دمسجدپر زينو باندي ناست وو، دلمونځ کونکو څخه به په ئې فقرونه او خيراتو طلبه ول، او په فقر به ئې

(۱) سورة الاعراف، آيت نمبر ۱۹۶

خپل ژوند کي تیر وله، او د عمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه او لادونو به په یو یو مجلس کي سل سل(١٠٠) آسان دالله پر نام خیرات کول.
نو دلقمان حکیم دنصیحت مطلب چي د "دستر خوان" په وخت کي د خپل ستوني حفاظت کول یعني خپل ځان او اولاد د حرامي نفقي څخه ساتل او دهغو دپاره دحلالي نفقي بندوبست کول، ځکه چي په حلاله نفقه کي الله تعالی ډیر زیات انوارات او برکات ایښي دي، چي دهغه په وجه دانسان د دنیا او آخرت زندګي دواړي دفلاح او کامیابي او خیروبرکت سره مخامخ کیدای سي، الله تعالی دي زموږ او ستاسو دحرامي نفقي څخه حفاظت وکړي، او دحرامي نفقي پر ځای دي الله تعالی موږ ته حلاله نفقه را نصیب کړي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن


وما تفعلوا من خير فإن الله به عليم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د نظر حفاظت کول

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقــــــريــر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـــي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعــت | اول |
| تــاريـــــخ | ١٣ ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق ١١ جنوري ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾(١).

قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿يَا عَلِيُّ اتَّقِ النَّظْرَةَ بَعْدَ النَّظْرَةِ، فَإِنَّهَا سَهْمٌ مَسْمُومٌ تُورِثُ شَهْوَةً فِي الْقَلْبِ﴾ (٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو مشرانو! ستاسو ومخته د "سورة لقمان" آیت پیش سو، په دې سورة کې الله تعالی د خپل یو نیک او مقبول بنده حضرت لقمان علیه السلام نصیحتونه بیان کړي دي.

د دې آیت په تفسیر کې "سحبان الهند" حضرت مولانا احمد سعید رحمة الله علیه د حضرت لقمان علیه السلام یو قول رانقل کړی دی، چې حضرت لقمان علیه السلام فرمایلي دي: چې زه د څلورو زرو پیغمبرانو خدمت او صحبت ته حاضر سوم، او د هغوی تعلیمات مې حاصل کړل، د هغو ټولو خلاصه اته(٨) خبرې وې.

- اوله خبره دا: چې د لمانځه په دوران کې د خپل زړه حفاظت کول.

---

(١) سورة لقمان: آیت نمبر ١٢

• دوهمه خبره دا: چې د خورک په وخت کې د خپل حلق (ستوني) حفاظت کول.

دې دواړو نصيحتو په باره کې په تيروجمعو کې په کافي تفصيل سره خبره
سوه الله تعالى دې موږ او تاسو ټولو ته پرهغه باندې د عمل کولو توفيق را
صيب کړي.

## ريم نصيحت د سترګو حفاظت کول:

ضرت لقمان عليه السلام دريم نصيحت دا فرمايلى دى: چې کله ته د يو چا کور ته
رسې، نو د خپل نظر حفاظت کوه.

ه تيروزمانو کې چونکه د شرعي پردې رواج وو، او خلګو د پردې زيات اهتمام
اوى، نو ځکه د باندې خو د بې پردګۍ هيڅ امکان نه وو، البته: چې کله به د
و چا کور ته ورغلې نو په هغه کور کې به پر زنانو او پر نامحرمه انسانانو باندې
نظر لګېدلو امکان وو، نو په دې وجه باندې دا نصيحت "لقمان حکيم" په دې
لفاظو سره فرمايلى دى: چې کله ته د يو چا کور ته ورسې نو د خپل نظر حفاظت
کوه.

مثلاً په کور کې په پرده کې سورى وي، يا کله يو کړکۍ خلاصه وي، يا پرده د
هوا په وجه د دروازې څخه پورته سي، نو د هغه څخه تا ته د کور کورني انسانان
په نظر راسي، نو ته خپل نظر محفوظه ساته او په خپل اختيار سره و دوى ته نظر
مه کوه.

ځکه يو خو چې ته کم کور ته ورغلى ئې، د هغه حق دادى، چې د هغه کور
مستور انسانان د خپل نظر څخه محفوظه وساتې که ته هلته بدنظري کوې، نو
دا ده هغه کور د انسانانو سره خيانت دى.

او دويم طرفته پر يو نامحرمه زنانه باندې په خپل قصد او اراده سره نظر کول
ګناه ده، په هر صورت اصل نصيحت دا دى: چې د خپل نظر حفاظت کول چې کله

چي پر يو نامحرمه زنانه باندي زمانظر ونه لګېږي، که چيري بالفرض داسي موقع راسي نو خپل نظر محفوظه ساتل په کار دي.

## نظر کښته کول:

لېکن د نظر د حفاظت کولو حکم صرف تر کوره پوري محدود نه دی، بلکه اصل حکم دادی: چي په خپل قصدا و اختيار سره به نامحرمه زناني و نا محرمه نارينه وږ ته نه ګوري، او نه به نامحرمه نارينه نامحرمه زنانه وو ته ګوري.
چي په کم ځای کي الله تعالی د پردې کولو حکم کړی دی، نو هلته ئې انسانانو ته د نظر کښته کولو حکم هم کړی دی، او دا د نظر کښته کولو حکم لکه څنګه چي ئې نارينه وو ته کړی دی، داغه رنګه زنانه وو ته ئې هم کړی دی، الله تعالی نارينه ووته دا حکم کوي:

........قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ﴾ (١).

يعني ته نارينه وو مؤمنانو ته وفرمايه: چي خپل نظرونه کښته ساتئ او د خپلو شرمګاهونو حفاظت وکړئ.
او مسلمانو زنانه ووته هم الله تعالی دا حکم کوي:

........وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾(٢).

يعني ته مؤمنانو زنانه ووته وفرمايه: چي تاسو خپل نظرونه کښته ساتئ او د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوئ، او خپل حسن او ښائست چاته مه ښکاره کوئ، يعني باقاعده مکمل په پرده کي اوسېږئ چي ستاسو حسن او زينت ونارنيه وو ته ښکاره نه سي، نو د نظر کښته کولو حکم په کورکي د ننه هم دی، او دکور څخه د باندي هم.

---

(١) سورة النور: آيت نمبر ٣٠

## د شهوت د ګناهونو ابتداء د نظر څخه وي:

زموږ په موجوده دور کي عام طور په کور کي د ننه هم بې پردګي وي، او د کور څخه د باندي هم بې پردګي وي، هر طرفته چي انسان ګوري، د ګناه مناظر انسان ته په نظر راځي، نو ځکه نن سبا نور هم تر دې زيات د الله تعالی پر دغه حکم باندي د عمل کولو ضرورت سته.

تاسو دا يوه خبره ياد ولرئ: چي انسان د کمو اسبابو په وجه باندي په ګناه کي مبتلا کيږي، هغه بنيادي طور درې سببه دي، په هغو کي يو لوی سبب شهوت دی، چي په هر انسان کي الله تعالی د خپل حکمت او مصلحت په وجه ايښی دی، هغه پر خپل ځای باندي ډېر لوی نعمت هم دی، لېکن د هغه بې ځای استعمال ګناه او ناجائز دي او د ډېرو لويو لويو ګناهونو ذريعه ده.

او دا شهوت په نارينه کي هم سته او په زنانه کي هم سته نو ځکه زنانو ته هم د پردې کولو او د نظر کښته کولو حکم سوی دی، او نارينه وو ته هم د خپل نظر کښته کولو حکم دی.

او په دې نظر کښته کولو کي ډېر لوی حکمت دی ځکه: چي څومره د شهوت ګناهونه دي، د هغو ټولو آغاز د نظر څخه کيږي، چي کله يو نامحرم نارينه او نامحرمه زنانه يو بل ته ګوري، بس د دغه ځای څخه شيطان خپل کار شروع کوي، او د دواړو په زړو کي د ګناهونو جذبات را پورته کوي، په دې شکل يو بل ته نزدې کوي، ډېر ځله دوی دواړه آخري ګناه يعني بدکاري ته سره وره سوي.

## د ګناهونو څخه د حفاظت ذريعه:

نو ځکه پيغمبر ﷺ د ګناه کولو پر اول قدم پابندي لګولې ده، او چي د کمه ځای څخه د ګناه ابتداء کيږي، نو پر هغه ځای ئې کنټرول راوستلی دی، او د هغه

انسان خپل نظر محفوظه وساتي نو درا روانو ټولو ګناهونو څخه به په حفاظت کي پاته وي، او چي کم چا خپل نظر محفوظه نه وساتی، نو هغه به وروسته د شهوت په ګناهونو کي مبتلا کیږي.
چنانچه دَی به او ل ځل د نامحرم انسانه سره خبري کوي، او بیا به هغه ته ځان نژدې کوي، او د هغه سره به بې تکلف ژوند شروع کوي، خبري اتري او مجلسونه به وي، آخر کار به په بدکاري کي ورسره مبتلا کیږي چي د دې ټولو ګناهونو ابتداء د بدنظری څخه شروع سوه.
نوځکه چي کم چا خپل نظر بچاو کړی، هغه خپل ځان د ګناهونو څخه محفوظه کړی، او چي کم چا په خپله زندګي کي د نظر حفاظت ونه کړی هغه به په نورو ګناهونو کي آخر کار مبتلا کیږي.

## د حضرت عبدالله بن حذافه رضي الله عنه د نظر حفاظت:

تاسو د صحابه کرامو رضي الله عنهم په سیرت کي د هغوی حالات وګورئ، چي هغوی په کم شکل د خپل ځان حفاظت د ګناهونو څخه کاوی.
حضرت عبدالله بن حذافه رضي الله عنه د رومیانو په قید کي راغلی، نو هغوی اول ځل پر ده باندي رعب او خوف واچوی، او د قتلولو په بیره ئې عیسائیت ته مجبوره کړی، او ورته وئې ویل: چي ته د عیسائیت مذهب قبول کړه ، ورنه ته به ضرور قتل کیږې، لېکن چونکي هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم صحابي دی، او د شهادت په شوق د مدینې منورې څخه راوتلی دی، نو د قتل د خبر اورېدلو په خاطر یوه زره هم پر ده باندي د بېري اثر نه راځي.
دوهم ځل ئې د مال او دولت طمعه او لالچ ور کړی، چي ته عیسائي سه موږ به تاته په خپل حکومت کي دومره حصه او دومره مال او دولت درکړو هغه د دې خبري هم څه پروانه ساتي او نه غوږ ورباندي نیسي.
آخر ځل ئې د ټولو څخه خطر ناکه حربه د زناني په شکل ورباندي وازمایله

و، دېر ځل به ئې پيغمبرﷺ په خندا خندا باندي تريو ځای پوري بوتی او دېر
يات به ئې وخنداوی، يو ځل يو صحابي د ده شکايت وکړی، ورته وايي: ای د
لله رسوله! داعبدالله دېر زيات مذاق او مسخري کوي، پيغمبرﷺ ورته
فرمايل:

........دَعُوْهُ فَإِنَّهُ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ﴾ تاسو ده ته څه مه واياست د ده د الله تعالى او د
سول ﷺ سره محبت دی.(۱)

و س هغه روميانو پرده باندي خطرناکه حربه په دې شکل سره استعمال کړه:
ي خوبصورته زنانه ئې د ده سره په حجره کي واچوله اوده ته ئې په حجره کي
سماقسم ميوې او شراب کښېښول او هغه زناني ته روميانو دا وويل: چي په
ر شکل چي وي، نو په ده باندي زنا وکړه.

ځکه چي مسلمان کله په زنا کي راسي، نو د هغه حيا ختم سي، او د پيغمبرﷺ
حديث مبارک دی:

........إِذَا لَمْ تَسْتَحِيْ فَافْعَلْ مَا شِئْتَ﴾(۲).

چي کله د مسلمان څخه حيا ختمه سي، نو بيا هر څه کولو ته تيار وي، مسلمان
چي کله د زناني په عشق کي راسي نو بياهغه خپل هرڅه ختم کوي، خپل ايمان
و خپله ديانداري ځني پاتيږي.

وهغه زنانه پرده باندي درې(۳) ورځي او درې(۳) شپې مکمل زور لګوي،
چي دا سړی وماته وګوري او زما حسن او جمال ووينې، نو بيابه د ده په زړه کي
د زنا کولو خواهش پيدا کيږي، لېکن چي دی کله ماته ګوري نه، او د ده په نظر
کي زما حسن او جمال رانه سي، نو بيابه د ده په زړه کي څنګه د ګناه کولو
خواهش پيدا سي.

نو یو طرفته د روم د علاقې حسن او جمال دی، او بل طرفته د عربو طاقت او ځواني ده، او دوی ته هر قسم نعمتونه هم پراته دي، او هر قسم ازادي ورته حاصله ده، لیکن چي هغه زنانه هر څومره زور وربانديي کوي، حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ په درې(۳) ورځې کي د خپل نظر د حفاظت کولو په خاطر د دې شکل او صورت نه ویني، او نه په درې(۳) ورځې کي د هغه زنانې وطرفته نظر پورته کوي.

او س هغه صحابي په دې خپل زړه کي قرآن کریم او د قرآن کریم احکامو ته ځای ورکړی دی، او قرآن کریم د هغه صحابي په زړه کي ژوندی دی.

هغه زما او ستا غوندي د قرآن کریم تفسیرونه نه دي ویلي: او نه په هغه زمانه کي تفسیرونه لیکل سوي وه، د هغه صرف قرآن کریم زده دی، لیکن د قرآن کریم اسرار او رموز ئې نه دي زده، بس هغه دا وایي: چي زموږ نبي ﷺ داسي ویلي دي، او موږ هغه کوو، او په دې مسئله کي زموږ د نبي دا هدایت دی، چي د بدنظرۍ پر ځای نظر کښته کړو.

اوس حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ د نبي ﷺ په دې هدایت باندي داسي عمل کوي چي په درې(۳) ورځې کي نه نظر پورته کوي او نه د هغه زنانې شکل او چهره ویني دا په حقیقت کي د پیغمبر ﷺ غلامان وو، او د پیغمبر ﷺ د غلامۍ طوق ئې وغاړه ته اچولی وو.

نن چي انسان عامو بازارو او د بې پردګۍ ځایو لره ورسي، نو انسان ته به دا معلومه سي، چي څومره انسانان د پیغمبر ﷺ غلامان دي، او د پیغمبر ﷺ په قول او فعل باندي عمل کونکي دي، او څومره خلک سرکښه او بغاوت کونکي دي.

نو حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ یوازي په هغه حجره کي د یو خوبصورته نوجواني زنانې سره درې(۳) شپې او ورځې تیروي، هغه مسلسل ده ته دعوت

کوي، او دی بلکل د هغې وطرفته نظر نه پورته کوي، او نه هغه په دې
ړې(٣) ورځو کې په سترګو باندې ويني.
حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ ومخته دوه(٢) آيتونه راځي، يو دا چې الله
تعالى مؤمنانو ته امر کوي:
......﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ﴾(١).
مؤمنانو ته ووايه: چې تاسو د بې پردګۍ په ځاى کې خپل نظرونه کښته کوئ.
حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ دا آيت صرف ويلى نه وو، بلکه د هغه پر زړه او
دماغ باندې داسې ثبت او ليکلى وو، چې د سترګو د رپ مقدار ئې د هغه
نافرماني نه سوه کولاى، او دويم آيت د ده پر زړه او د ماغ باندې دا راتلې:
......﴿وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ
الظَّالِمُونَ﴾(٢).
يعني د ده ومخته د حضرت يوسف علیه السلام قصه حاضره وه: چې کله هغه ته يو
زناني په بندو حجرو کې د ګناه دعوت ورکړى، چې راسره زما طرفته او تيوي
دروازې بندي دي، نو په دې وخت کې حضرت يوسف علیه السلام خپل رب يادوي، او
د خپل رب په نامه سره پناه غواړي او وايي: چې زه دا کار نه سم کولاى.
تاسو ګورئ، قرآن کريم موږ هم وايو لېکن موږ ټوله زندګي پر تفسيرونو او
تحقيقاتو باندې تيروو، قرآن کريم صحابه کرامو هم وايي: هغو قرآني آيتونو ته
په خپلو زړو کې ځاى ورکاوى، په ټوله ملک کې به د قرآن کريم لېکل سوې
نسخه يوه وه، لېکن په حقيقت کې به هر سړى د قرآن يو نسخه او نمونه وه.

---
(١) النور: آيت: ٣٠

## د حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ استقامت:

پر حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ باندي هغه زنانه دري(۳) ورځي مکمل زور وهي چي په یو شکل د اشکالو خو ماته وګوري، لیکن د دې دري(۳) ورځي مسلسل زور کولو سره هغه د حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ په نظر راپورته کولو کي ناکامه سوه.

دري(۳) ورځي بعد بادشاه ته ورغله او ورته وایي:

........أَيُّهَاالْمَلِكُ إِلَى أَيْنَ أَرْسَلْتَنِي إِلَى حَجَرٍ أَوْ حَدِيدٍ لَا يَأْكُلُ وَلَا يَنْظُرُ﴾ اې بادشاه! تازه چاته ور استولې وم هغه ډبره وه او که اوسپنه وه.

هغه په دې دري(۳) ورځي کي نه ماته کتلي دي، او نه ئې څه خوړلي دي، او نه ئې چښلي دي، هغه بلکل د ړانده په شان په دري(۳) ورځي کي خپلي سترګي د مځکي څخه راپورته کړي نه دي، زه به هغه څنګه ګمراه کړم.

آخر د رومیانو بادشاه قیصر راطلب کړی، اود ده ومخته ئې ډېر لوی اور بل کړی، او پر هغه باندي ئې دېګ د تیلو ډک باندي کړی، چي کله هغه تیل په جوش کي راغلل نو د ده ومخته ئې د ده دوه(۲) ملګري یو د بل څخه وروسته په هغه دېګ کي واچول چي کله ئې هغه په هغه تیلو کي کباب او د پکوړې په شان وسوځل.

نو خپلو عسکروته ئې وویل: چي اوس دی هغه دېګ ته ور روان کړئ، د دېګ پر طرف د روانیدو څخه مخکي ئې وده ته د عیسائت دعوت ورکړی، لیکن چي کله ده بیاهم د عیسائیت څخه انکار وکړی، نو ئې ودېګ ته ودراوی، دی چي کله د دېګ سره مخامخ سو، او د ده ودېګ ته د اچولو نوبت راورسیدی، نو:

......فَبَكَى﴾ نو ده ژړا شروع کړه.

قیصر چي کله د ده ژړا ولیدله نو خپلو عسکرو ته ئې امر وکړی، چي تاسو ئې واپس تر ماپوري راولئ، چي کله حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ واپس بادشاه

راوستل سو، نو هغه بادشاه پوښتنه څني کوي، چي ولي دي ژړل او د ژړا
لو وجه دي څه وه؟
دی په جواب کي ورته وایي:
.....لَاجَزَعًا مِنَ الْمَوْتِ وَلَاصَبَابَةً اِلَى الْحَيَاةِ﴾.
د مرګ د ییري څخه ژړا کوم، او نه د زندګي په شوق کي ژاړم نو هغه ورته
یي: چي دا نه دي نو بیا پر څه باندي ژړا کوې؟ دی په جواب کي ورته وایي:
ژړا پر دې باندي کوم: چي زما یو روح او جان دی، هغه به د سوځلو سره ختم
ي، کاشکي چي څومره زما پر بدن باندي ویښتان دي دغومره زما جانونه او
رحان وای او هر یو د الله تعالی په عشق کي په دې ایشېدلو تیلو کي کباب
دلای ماته به څومره مزه او خوند حاصلېدلای دا د صحابه کرامو رضي الله عنهم جذبه
عشق وو.(۱)

## ګناه مضر اثرات:

سو په دماغ کي دا خبره کښېنوئ! که چیري بالفرض یو انسان ګناه کوي، نو د
اهونو د اثراتو څخه نه سي محفوظه کیدلای، ځکه الله رب العزت په قرآن
یم کي یو قانون بیانوي:
.......مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ﴾(۲).
ي کم سړی بد عملي کوي، د هغه سزا به ضرورویني نو اوس په دې خبره سر
لاصول ضروري دي، چي دا قرآني اصول دي، چي انسان د ګناه د سزا سره
خامخ کیږي، ځکه الله تعالی بل ځای کي هم دا اصول بیانوي:
.......اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَى اَنْفُسِكُمْ﴾(۳).
ستاسو بغاوت به ستاسو پر زندګي باندي ضرور اثر کوي.

(۱) ماخوذ ازبیانات حمل: جلد نمبر۲، صفحه نمبر۱۴۹/۱۵۰/۱۵۱/۱۵۴

نو د گناه وبال پر انسان باندي ضرور راځي دا قرآني فيصله او قرآني قانون دی، هيڅ څوک په معاشره کي د دې قانون څخه مستثنیٰ نه دی، نو څوک دا نه سي ويلای: چي پر طالبانو يا علماؤو او يا پر صوفيانو باندي د خپلو گناهونو اثرات نه راځي، بلکه: چي کم څوک په انساني معاشره کي ژوند تيروي، پرهغه ټولو باندي د الله تعالی د دې فيصلې اوقانون تطبيق راځي، ځکه دا کيدای نه سي.

- ......چي واوره دي وي او ديخ اثرات دي نه ښکاره کوي.
- ......اور دي يو ځای وي او د گرمۍ اثرات دي ښکاره نه وي.
- ......گناه دي يو ځای وي او دهغې بد اثرات دي په معاشره کي ښکاره نه سي.

نو دا د الله تعالی بيان سوې فيصله ده چي د گناه سزا به انسان ته ضرور ملاويږي، خواه انسان ته د هغه احساس وي او که نه وي.

بعض اوقات خو واقعتاً انسان ته دا درک نه وي، چي د گناه په وجه سره زه دکمو نعمتو څخه محرومه سوم او زما په زندگي کي د گناه کم بد اثرات راغلو، زه مختصراً بعض دا سي اثرات بيانوم چي د گناه په وجه د انسانانو په زندگي کي ښکاره کيږي.

۱. د گناه په وجه دانسان قوتِ حافظه کميږي، اکثر طالب علمان دا شکايت کوي، چي اُستاذ جي! زما خبري نه ياديږي، مطالعه کوم خو ټول مضمون دستي را څخه هير سي.

لکه امام شافعي رحمة الله عليه هم د خپل استاذ څخه دا سوال کړی وو، او هغه خپل سوال د شعر په صورت کي داسي ليکلی دی:

﴿شَكَوْتُ إِلَى وَكِيعٍ سُوءَ حِفْظِي ... فَأَرْشَدَنِي إِلَى تَرْكِ المَعَاصِي﴾

﴿وَقَالَ اِعْلَمْ بِأَنَّ العِلْمَ نُورٌ ... وَنُورُ اللهِ لَا يُؤْتَى لِلْعَاصِي﴾(۱).

امام وکیع رحمة الله علیه ته د خپلې حافظې د کم والي شکایت وکړی، ده ماته دا لار ونه وکړه چي ای طالبه! د ګناه څخه ځان ګوره ځکه علم د الله تعالی نور دی، د الله نور ګناهګار ته نه ورکول کیږي.

دا خبره په دماغ کي کښېنول په کار دي، چي د ګناه څخه د حفاظت په خاطر د سان قوت حافظه ډېره زیاته مضبوطه کیږي، نو چي کم طالبان د حافظې د ت د پاره وظائف طلبه وي، نو هغه دي دا ښه واوري: چي د قوت حافظې د ت والي تر ټولو لویه وظیفه دا ده چي انسان د ګناهونو څخه ځان وګوري، نو نسان حافظه په خپله مضبوطه کیږي.

۲. داغه رنګه د ګناه کولو په وجه انسان د جسماني قوت د نعمت څخه محرومه ګرځي، مثلاً: کله کله بعضِ طالبانِ دا شکایت لري موږ د کمزوري سره مخامخ یو، نظر مي هم کمزوری دی، او چي کله ولاړسو نو پر سترګو مي توره شپه راسي، هاضمه مي کار نه کوي، او اودس مي نه وچیږي.

د داسي کسانو د پاره په کار دا ده: چي د خپل نفس په تقاضا شهواني زندګي رول پرېږدي، او د خپل رب د رضا مطابق زندګي اختیار کړي، او خپل ځان په امله طریقه سره د غلطو کارو او غلطو فکرو څخه راوګرځوي نو انشاءالله الی به پر ده باندي مهرباني وکړي، او د ده به دا پرېشانیاني ختمي سي.

۳. که چیري انسان په داغه ګناهونو کي اخته وي، او نور خلق په ده باندي خبر سي، نود عزت پرځای به په ذلت او رسوائي کي راسي، ځکه د ګناه کولو په وجه کله کله انسان د داسي ذلت سره مخامخ سي، چي د زنانه وو د سره څخه پوړینان لري سي او د نارینه وو د سرو څخه لنګوټې او بکړي شوه سي.

نو ګناه که په هر ډول کامیابه طریقه او پر هر ډول پوښلې طریقه سره وسي، خو بیاهم دهغه ګناه دبدو اثراتو څخه انسان هیڅ کله هم نه سي محفوظ کیدلای.

۴. او ډېر ځله داسي وي، چي د ګناه بد اثرات د انسان پر اهل او عیال باندي راځي، لکه الله تعالی په قرآن کریم کي د دې خبري تذکره کوي:
﴿.........وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ﴾ (١).

چي کله انسان د ګناه تدبیر په زړه کي جوړ وي، او د ګناه سوچ کوي، نو دا ګناه ضرور د ده پر اهل او عیال باندي راګرځي.

یو نوجوان دي داسوچ نه کوي، چي زه به په غلط نظر سره د بل ونامحرمه اهل او عیال ته ګورم، او زما اهل او عیال به د بل د غلط نظره څخه محفوظه وي، بلکه دا غلط نظرونه یقیناً د انسان پر خپل اهل او عیال باندي ضرور راګرځي.

لکه پیغمبر ﷺ فرمایي: که تاسو د بل د زنانو سره د پر هیزګارۍ معامله وکړئ، نو ستاسو د زنانو سره به هم د پرهیزګارۍ معاملې کیږي، نو چي کله انسان دا اصول په خپل نظر کي ولري، نو انسان ته په خپله دا خبره ښکاره کیږي، چي کم سړی د بل عزت خرابه وي نو د ده خپل عزت به هم ضرور خرابیږي.

## د عبرت ډکه واقعه:

د وعظ په کتابو کي لیکلي دي: چي یو زرګر ته الله تعالی ډېره خوبصورته او نیک سیرته زنانه ور کړې وه یو ورځ دا زرګر د غرمې په وخت کي د ډوډۍ خوړلو د پاره د خپل دوکانه څخه کورته راغلی، نو که ګوري د ده زنانه په ډېر افسوز او د زړه په درد سره ژاړي.

---

(١) [illegible]

پوښتنه څني کوي، چي زناني څه پېښه ده او څه ناجائز درسره سوي دي؟ چي
مره په افسوس سره ژاړې، هغه زنانه په جواب کي ورته وايي: چي دا يتيم
ی چي ما په خپله غېږ کي د خپل بچي په شان پاللی وو، او س چي لس(١٠)
ه عمر ته ورسېدی، او د ځوانی زمانه ئې راورسېده نو دومره زيات نمک
امه سو چي نن ما د سبزي راوړلو د پاره بازار ته واستاوی چي کله ئې سبزي
ړه او پاته پېسې ئې ماته را کولې نو ده په غلط نيت سره زما لاس ونيوی او
ه د ده په نيت کي خرابي او بدوالي رامعلوم سو.
ماته د ده پر دې غلط نيت باندي ډېر افسوس راغلی چي زه خو د ده د مور پر
ی يم او دی زما په باره کي غلط فکر کوي، نو د دغه عمل په وجه زما زړه درد
ړی او د سترګو څخه مي اوښکي راتوېږي چي د دنيا څخه وفا څنګه ختمه
ه، او انسانان څنګه نمک حرامه سوه.
کر چي کله داود ورېدل نو د هغه هم سترګي د اوښکو ډکي سوې او وئې ژړل
هغه زنانه پوښتنه څني کوي، چي ته پر څه ژاړې؟ ده په جواب کي ورته
يل: چي ای زناني! نن چي کمه واقعه تا ته در پېښه سوې ده دا د غه بچي
زوري نه بلکه په حقيقت کي زما ده، هغه زنانه پوښتنه څني کوي، چي هغه
ګه؟ دی ورته وايي: چي نن زما دوکان لره يو څه نوجواني زناني د بنګړيو
يولو د پاره راغلي وې په دوی کي يوې زناني بنګړي په لاس کي اچول، لېکن
غې په لاس کي نه لويدل هغې وماته وويل: چي دا بنګړي ماته را په لاس کړه،
ي کله ما و دې ته بنګړي ورپه لاس کول نو ماته د دې لاس په زړه کي ښه خوند
کړی، نو د بنګړيو د په لاس کولو په دوران کي ما د دې لاس د شهوت په شکل
ښېکښې، نو د هغه دا نتيجه راووتل چي زما د زناني لاس هم بل چا د شهوت
شکل کښېکښې.
ځکه دا وايو: که چيري موږ خپل نظرونه يو طرف وبل طرفته ګرځوو، نوزموږ

د خاوند به دا خیال وي چې زړه مي غواړي هر څوک د غلط نظر په غشی باندي وېشتلای سم او زما د کور زنانه او بچي دي محفوظ وي، هرګز داسي نه دي، بلکه زموږ د غلطو حرکتو وبال زموږ پر بچیانو باندي واپس راځي، او هغه به د داسي حالاتو سره مخامخ کیږي.

## په احادیثو کي د بد نظري ممانعت:

بدنظري کول د پیغمبرﷺ د احادیثو څخه معلومیږي چې دا د ابلیس د غشو څخه یو غشی دی، یعني د انسان د دوکه کولو د پاره چې شیطان کمي حربې استعمالوي په هغه کي یوه کامیابه حربه د بدنظري غشي دي.
چې انسان اول ځل بدنظري کوي بیا د هغه څخه وروسته د انسان په زړه کي د ګناه وسواس پیدا کیږي، او دریم ځل بیا انسان د ګناه کولو د پاره ترتیب جوړ وي، تر دې حده پوري چې آخر په ګناه کي مبتلا سي، نو لکه څومره چې د ګناه څخه د خپل ځان حفاظت کول ضروري دي نو په داغه اندازه کي خپل نظر کښته کول هم ضروري دي.
لکه پیغمبرﷺ فرمایي:
.........النَّظَرُ إِلَى الْمَرْأَةِ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيسَ مَسْمُومٌ فَمَنْ تَرَكَهُ خَوْفَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ أَثَابَهُ اللّٰهُ تَعَالَى إِيمَانًا يَجِدُ حَلَاوَتَهُ فِي قَلْبِهِ﴾ (¹).
چې نظر د ابلیس د زهرجنو غشو څخه یو غشی دی، چې کم سړی د الله تعالی د یري څخه په وجه ځان د غلط نظر څخه محفوظه کړي، الله تعالی به ده ته داسي نورِ ایماني ور نصیب کي چې د هغه حلاوت او لذت به په زړه کي محسوسه وي.

## اچانک نظر معاف دی:

حضرت جریرؓ وایي:

........سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظْرَةِ الْفُجَاءَةِ؟ قَالَ: اصْرِفْ بَصَرَكَ﴾(۱).

ا دپيغمبرﷺ څخه د اچانک نظر متعلق پوښتنه وکړه: ده په جواب کي راته
ويل: چي خپل نظر فوراً را ګرځوه.

ه يو بل حديث کي پيغمبرﷺ د نامحرمه وطرفته چي په هغه کي لغړزني نارينه
م داخل دي، نظر کول د سترګو زنا بللي ده (۲).

ه يو بل ځای کي پيغمبرﷺ فرمايلي دي: په يو نظر پسي دوهم نظر نه کول، د
ې مقصد دا دی، که چيري اتفاقاً يو نظر د انسان څخه وسي چي د انسان په
راده باندي نه وي، نو په هغه نظر پسي دوهم نظر کول، په خپل قصد او اراده
مره دا په معصيت او ګناه کي داخل دي.

## ر بدنظري باندي سخت وعيد:

حضرت ابو امامه رضي الله عنه د پيغمبرﷺ يو حديث رانقل کوي، چي ده مبارک به
فرمايل:

........قَالَ لَتَغُضُّنَّ أَبْصَارَكُمْ وَلَتَحْفَظُنَّ فُرُوجَكُمْ أَوْ لَيَكْسِفَنَّ اللّٰهُ وُجُوهَكُمْ﴾(۳).

يا به تاسو خپل نظرونه کښته کوی او د خپلو شرمګاهونو به حفاظت کوی، او يا
به الله تعالی ستاسو شکلونه بدلوي.

تاسو ګورئ! په دې حديث کي پيغمبرﷺ څومره سخت وعيد فرمايلي دي،
حالانکه موږ او تاسو دا ګناه سپکه بولو او د دې هيڅ پرواه نه کوو، حالانکه دا
داسي مهلک مرض دی، چي انسان د دې څخه خپل ځان نه سي محفوظه
کولای، په نورو ګناهونو باندي کله سړی موږ سي يا هغه ځني پاته سي.

(۱) الزهد لوکيع: حديث نمبر ۴۸۱

لیکن بدنظري کول په دې باندي مرتیا نسته چي کله د انسان څخه دا ګناه صادره سي نو د انسان د دې ګناه کولو تقاضا نوره هم زیاته سي، په خورک کولو انسان مړېږي، په اوبو چښلو د انسان تنده کمېږي لېکن بدنظري داسي مصیبت دی چي په هغه اخته انسان ورځ تر هغه بله په د غه ګناه کي زیات مبتلا کېږي.

لکه حکیم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه فرمایلي دي: یو طرفته بدنظري د هره اړخ حرامه او ګناه کبیره ده او بل طرفته چي زه ګورم په زرو (۱۰۰۰) انسانانو کي یو انسان شاید د دې څخه محفوظه وي، ځکه چي دا اوس ابتلا عامه ده.

د دې څخه دي انسان دا خیال نه کوي، چي کله ابتلاعامه سوه نو د بدنظري ګناه به سپکه وي بلکه باید هر انسان د دې ګناه څخه د حفاظت اهتمام وکړي، ځکه چي د عموم بلوی په وجه په ګناه کي سپکوالي نه راځي.

امام غزالي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي معصیت کله عام سي نو انسان ته سپکه ور معلومېږي حالانکه دا د انسان د نفس دوکه ده، تاسو دا راته ووایاست که چیري د یو طرف څخه سیلاب راسي او ټوله انسانان غرقوي که چیري یو انسان ته د خپل ځان د حفاظت طریقه ورمعلومه وي ایا هغه به دا طریقه په دې وجه استعمالوي چي په سیلاب کي خو هسي هم ټول خلک غرقیږي نو په دې سوچ او فکر باندي د سیلاب څخه ځان نه محفوظه کوي دا د هغه انسان حماقت او بیوقوفي بلل کیږي.

حالانکه د سیلاب مصیبت ډېر کم مصیبت دی ځکه چي هغه صرف د انسان د مرګ سبب جوړېږي او نور هیڅ نه کوي، او د بدنظري په سیلاب که چیري انسان لاهو سي نو د هغه څخه انسان د آخرت د عذابه سره مخامخ کیږي او د آخرت عذاب ډېر سخت او نه ختمېدونکی عذاب دی، پر دې خبره باندي غور کول او په ښه طریقه سره دا خبره په خپل دماغ کي کښېنول چي دا عمل د مسلمان د شان سره مناسب نه دی.

## د بزرګانو واقعات:

د يو بزرګ په باره کي راځي چي هغه د نظر په باره کي احتياط نه کاوی ځکه چي بوډا وو، او په ﴿غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ﴾ کي يعني چي د کم چا خواهش ختم سي د غه عمر ته داخل سوی وو، ځکه ئې د زنانو څخه زيات اجتناب نه کاوی.

يو بل بزرګ وده ته نصيحت کاوی، ده به د هغه نصيحت پر غوږ نه نيوی، د غه بې احتياطه بزرګ يو ځل په خوب کي پيغمبر ﷺ ولېدی او د دغه مسئلې متعلق ئې پوښتنه ځني وکړه.

پيغمبر ﷺ په خوب کي ورته وفرمايل: چي سړيه! که چيري نارينه جنيد بغدادي وي، او زنانه رابعه بصري وي، او دواړه يو ځای سره تنهاوي نو د دوی سره دريم شيطان ضرور ملګري کېږي.

## د بدنظري په وجه قرآن کريم هيرېدل:

د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه په باره کي راځي چي يو ځل پر لاره روان دی او يو مريد ورسره ملګری دی، په لاره کي يو بې ريش (بې ږيري) عيسائي هلک تيرېږي نو هغه مريد د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه څخه پوښتنه کوي، چي حضرت! الله تعالی داسی ښائسته شکلونه هم وجهنم ته وراچوي؟

حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه په دې پوه سو چي ده د شهوت په نظر سره دې بې ريش هلک ته وکتل نو ورته وايي: چي سړيه! د دې عمل څخه توبه وکاږه ځکه تا په بدنظري سره دې هلک ته وکتل که نه نو ډېر ژر به د دې ګناه خوند او مزه وڅکې هغه مريد ورته وايي: چي حضرت! بدنظري نه وه ما د غسي د ده متعلق ستا څخه پوښتنه کوله.

چنانچه هغه سړي توبه نه وکښه، او د هغه دا نتيجه راووتله چي دی د قرآن کريم حافظ وو، د دې ګناه د نحوست په وجه شل (۲۰) کاله بعد د قرآن کريم د حفظ د نورانيت څخه محرومه سو، يعني قرآن کريم ځني هيرسو.

**عجيب واقعه:**

حضرت مولانازکریا رحمة الله عليه په فضائلِ ذکر کي يوه واقعه رانقل کړې ده: چي يو ډېر نهايت حسين جميل نوجوان متقي او پرهيزګاره په مسجد کي اُوسېدی، او خپل اوقات ئې ټول په عبادت کي مشغوله تيرول.

يو ځل مسجد لره راروان دی: نو په لاره کي ئې يو ډېره خوبصورته حسينه او جميله زنانه وليدله، چي په خپل حسن کي انتها ته رسېدلې وه، هغه زنانه دې نوجوان ته وايي: زما يوه خبره واوره هغه نوجوان نه د هغه زناني وطرفته التفات وکړی او نه ئې د دې د خبري جواب ورکړی، يو څو ورځي بعد بيا هغه زنانه په مخه ورغله او دی ئې ودراوه، او ورته وئې ويل: چي زما يوه خبره واوره بيا ولاړسه.

ده يو ګړی توقف وکړی او هغه زناني ته ئې وويل: چي دا ځای د تهمت دی په داسي ځای کي زما ستاسره خبره کول مناسب نه دي، زناني ورته وويل: چي زه هم په دې پوهيږم چي عابدان او زاهدان داسي درول او د هغوی سره خبره کول پر هغو باندي ډېر سخت وي، مګر زما حالت ستا په محبت کي بې قابو دی.

هغه نوجوان د هغه زناني خبره واورېدله او د هغه ځخه وروسته مسجد لره ولاړی، په مسجد باندي دننو تلو وروسته ئې د لمانځه نيت وتاړه نو په هيڅ باندي نه پوهيږي چي زه څه ووايم او څنګه ئې ووايم.

آخر ئې يوه پرچه او کاغذ راواخست او پر هغه باندي ئې ﴿بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ﴾ ځخه وروسته دغه څو جملې وليکلې، هغه زناني ته ئې ورواستولې.

اې زناني! چي کم څوک د الله تعالی نافرماني کوي، نو اول ځل خو الله تعالی د هغه انسان سره د حلم معامله کوي، دوهم ځل بيا د ده د عيب ستري او پوټوالی کوي، او دريم ځل الله تعالی داسي ناراضه کيږي، چي بيا پر هغه باندي مځکه

او آسمان تنگ سي، د دغه خط د تاثیر په وجه الله تعالی د هغه زناني زړه د هغه ګناه څخه متنفر کړی، او د توبې توفیق ئې ورکړی. (١)
نو مقصود مي دادی: چي اولاً د بدنظر کولو سره الله تعالی د حلم معامله کوي او د انسان سترې او پرده پوشي کوي، لېکن که چیري بیاهم انسان د دغه بدعمل څخه نه راګرځي، نو الله تعالی ضرور دی په یو مصیبت کي مبتلا کوي، نو خوش نصیبه هغه انسانان دي چي الله تعالی د غلط نظرکولو څخه محفوظه ګرځولي وي، او که بالفرض د هغو څخه بدنظري وسي نو الله تعالی د توبې کښلو توفیق ورکړي.

## بې ایمانه د دنیا څخه رخصتېدل:

علماؤو لېکلي دي: چي د مصر په جامع مسجد کي یو مؤذن د اذان کولو د پاره مؤذن خانې ته پورته سو، د مسجد په څنګ کي یو همسایه او سېدی، چي نوی په کډه راغلی وو، او په دین باندي عیسائي وو، د هغه یو نوجوانه لور خپلې کپړې د وچولو د پاره پر تار باندي اچوي نو د هغه مؤذن پر هغه نوجوانه زنانه باندي نظر ولګېدی، د هغې د حسن په لیدلو سره حیران سو.
چونکه د هغه سره تعارف او شناخت نسته نو د ځانه سره وایي: چي اوس خولا و اذان کولو ته وخت پاته دی زه به د اذان څخه مخکي د هغه لږ تعارف ځان ته معلوم کړم چي دا همسایه څوک دی، چي اوس نوی دې سرای لره په کډه راغلی دی.
نو د مؤذن خانې څخه راښوه سو، او د هغه همسایه کورته ورغلی او پوښتنه ئې ځني وکړه چي تاسو څوک دلته په کډه راغلي یاست؟ هغه په جواب کي ورته وایي: چي موږ اوس نوي د غه سرای ته راغلي یو او دا مکان موږ ته په کرایه راکول سوی دی.

چي کله خبره لږ نوره مخته سره وسوه نو هغه مؤذن ته دامعلومه سوه چي هغه نوجوانه زنانه د دې عيسائي لور ده او تر اوسه پوري ئې د چا سره نکاح نده سوې، او د ځواني پر عمر ده.

نو مؤذن د دوی سره خبره لږ نوره اوږده کړه چي زه دا غواړم چي ستاسو سره مي د قرابت او د دوستئ تعلق جوړ سي نو هغو په جواب کي ورته وويل: چي ډېره ښه ده راځه زموږ کورته چي ته زموږ سره دوستي جوړوې نو خدای دي راوله.

نو هغه عيسائي هغه مؤذن د ځان سره خپل کورته د ننه بوتالی او د خپل کور بالاخانې ته ئې خېږوی، هغه مؤذن د دوی سره د دوستئ جو... فکر او سوچو کي ورک دی، نو د هغه مؤذن د بالاخانې په زينه کي پښه وښوئېده او پر مزغي باندي د چت څخه راولوېدي او پر هغه ځای وفات سو.

نو مؤذن خانې ته د آذان کولو د پاره پورته سو لېکن د يو غلط نظرپه وجه لاندي راشوه سو او د کافر سره د دوستي جوړولو په کوشش کي د دنيا څخه د ايمان د محروميت په شکل رخصت سو.

نو دا د انسان د بدنظر وبال دی، چي ډېر ځله د يو بد انجام او عاقبت په شکل انسان د هغه سره مخامخ سي الله تعالى دي موږ او تاسو د بدنظري د عادت څخه د عمر په هر دوران کي محفوظه وساتي.

## د بدنظرۍ علاج:

بدنظري چي موږ او تاسو ئې سپکه بولو په حقيقت کي ډېر مهلک او موذي مرض دی، نو انسان بايد د هغه د ازالې فکر وکړي، زموږ د دين بزرګانو د هغه مستقل علاجونه لېکلي دي.

- حضرت اقدس شيخ الحديث مولانا زکريا رحمة الله عليه په يو خپل مکتوب ګرامي کي و زنانو ته د بدنظرۍ کولو د علاج په سلسله کي لېکلي دي: چي د بدنظرۍ څخه د حفاظت طريقه داده: چي خپل نظر به انسان کښته ساتي، او چي کوشش د ده په نظر ناښائسته وغلي هغه...

نه ګوري، که نفس هر څو مره و هغه ته د کتلو تقاضا کوي، خو دی به خپل ځان د نفس د دغه تقاضا پوره کولو څخه په مجاهده باندي راګرځوي.

- حضرت اقدس تهانوي رحمة الله عليه هم په دې سلسله کي دا علاج لیکلی دی: دی مبارک فرمایي: چي د بدنظري د ټولو څخه سهل او اسانه علاج دادی: چي پر لاره د تللو په وخت کي انسان خپل نظر کښته ساتي ، یو طرف اوبل طرفته نه ګوري نو انشاء الله د بدنظري څخه به محفوظه پاته سي.
- بعض علماؤو لا داسي هم لیکلي دي: چي د بدنظري علاج دادی: چي کله د انسان په نظرکي یو ښائسته شکل راسي نو د هغه څخه د خپل نظر اړولو په خاطر بایدفوراً انسان یو داسي بدشکله صورت په خیال کي راوګرځوي، چي یو انسان دی د هغه رنګ تک تور دی او پر مخ ئې داغونه دي او په سترګو ړوند دی او په سر پک دی، او غاښونه ئې مخ ته راوتلي دي.

نو د هغه تصور کولو په خاطر د ده په زړه کي د تصوراتو او شهواتو جوش او جذبه کمېږي، او په دې شکل به دبدنظري کولو څخه خپل ځان محفوظه ساتي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ټوله د بدنظرۍ کولو د مرض او ناجوړۍ څخه محفوظه وساتي او الله تعالی دي داڅو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

او الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته پر دې خبرو باندي عمل کول رانصیب کړي.

(آمین یارب العالیمن)

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د بدنظرۍ حقیقت

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾(۱).

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿إِنَّ النَّظَرَ إِلَى مَحَاسِنِ الْمَرْأَةِ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيسَ مَسْمُومٌ، فَمَنْ غَمَّضَ بَصَرَهُ مَخَافَةَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَعْقَبَهُ اللَّهُ بِذَلِكَ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا فِي قَلْبِهِ﴾(۲).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو مشرانو! ستاسو په حضورکي ما د قرآن کریم د یو آیت تلاوت وکړی، او هم مي د پیغمبرﷺ د یو حدیث مبارک روایت پیش کړی.

الله تعالی په دې آیت مبارک کي او پیغمبرﷺ په دې حدیث مبارک کي زموږ او ستاسو د یو بیمارۍ ذکر کړی دی، چي هغه "بدنظري" ده، او دا داسي بیماري ده چي ټوله معاشره د حد څخه زیاته په دې بیماري کي مبتلا ده.

ډېر زيات دینداره خلک د علماؤ او بزرګانو په صحبت کي کښېنستونکي او د لمانځه او روژې پابندي کونکي انسانان هم په دې مرض کي مبتلا دي.

(۱) سورة النور، آیت نمبر ۳۰

(۲) الزهد لهناد ابن السري: باب النظر: صفحه نمبر ۶۵۱؛ طبراني کبیر حدیث نمبر ۱۰۳۶۲

څکه نن سبا خو زموږ د معاشرې حالت دې حد ته رسېدلی دی، که چیرې یو سړی د کور څخه د باندې راووځي نو دهغه دپاره د خپلو سترګو حفاظت کول ګران عمل وي، څکه هر طرفته داسې مناظر دي، چې د هغه څخه سترګي راګرځول د هر انسان د پاره مشکل کار معلومېږي.

## د بدنظرۍ حقیقت:

د بدنظرۍ حقیقت دادی: چې پر یو غیرِمحرم باندې نظر برابرول بالخصوص چې کله د هغه نظر سره د انسان د شهوت جذبه ملګرې وي، یا د لذت حاصلولو د پاره و یو چاته نظر کول بیا هغه نامحرمه انسان چې ته نظر ورته کوې، حقیقتاً ژوندی وي، یاصرف د غیرِمحرم تصویر وي، نو د شهوت او لذت په شکل هغه ته نظر کول حرام دي، او دا عمل په بدنظرۍ کې داخل بلل کېږي.

او داد بدنظرۍ عمل د انسان د خپل نفس د اصلاح په لار کې د ټولو څخه زیات لوی حاجب او مانع دی، او دا عمل د انسان د باطن د پاره دومره تباه کونکي دی، چې د انسان د باطن په تباه کولو کې د نورو ګناهو څخه ډېر مخته تللی دی، او د انسان په باطني حالاتو خرابولو کې د دې عمل ډېر لوی دَخل دی.

چې تر څو پورې انسان د دې عمل اصلاح کړې نه وي، او د انسان خپل نظر په قابو کې نه وي راغلی تر هغه وخته پورې د انسان د باطن د اصلاح تصور تقریباً محال بلل کېږي.

څکه په حدیث شریف کې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

......... «إِنَّ النَّظَرَ إِلَى مَحَاسِنِ الْمَرْأَةِ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيسَ مَسْمُومٌ».

یعني نظر د ابلیس د غشو څخه یو زهریله غشی دی، او داغشی چې کله د ابلیس د کماني څخه ووځي، او یو سړی ئې پر خپله سینه باندې برداشت کړي، او د دې غشي مقابله ونه کړي.

نو د دې سړي د باطني اصلاح په مخ کې ډېر لوی مانع راغلی، نو اوس د ده دپاره د بدنظرۍ سره د خپل باطن اصلاح کول مشکل کار معلومېږي.

ځکه پیغمبر ﷺ فرمايي:

........﴿فَمَنْ غَضَّ بَصَرَهُ مَخَافَةَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ أَعْقَبَهُ اللّٰهُ بِذَلِكَ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا فِي قَلْبِهِ﴾.(١)

لېکن که چيري يو چا د دې زهرېله غشي څخه خپل ځان محفوظه کړي، او حفاظت په خاطر ئې پر داسي موقع خپل نظر کښته کړي، الله تعالى به ورته عبادت داسي خوند او لذت ور نصيب کړي، چي د هغه خوږوالي به دی په خپل زړه کي محسوسه وي او ده ته به د خپل نفس اصلاح کول آسانه سي.

## تريخ غوړپ چيښل:

د حکيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه خليفه مجاز حضرت ډاکټر عبدالحی رحمة الله عليه په يو ځای کي لیکلي دي: چي د نظر غلط استعمال د انسان باطني اصلاح د پاره سَمِ قاتل دی، که څوک د باطني اصلاح اراده لري نو د ټولو څخه مخکي به د خپل نظر حفاظت کوي.

او دا کار د انسان د پاره ډېر مشکل وي، ځکه چي انتهائي د بې پردګۍ او بې حيائۍ او د عريانۍ او فحاشۍ دور او زمانه ده په داسي حالاتو کي به انسان خپل نظر څنګه محفوظه کړي.

لېکن که يو سړی د خپل ايمان حلاوت او خوند پيداکوي، او د خپل رب سره تعلق او محبت جوړوي، او د خپل باطن د صفائي او طهارت اراده لري، نو بياخو به دا تريخ غوړپ ضرور نوشوي، ځکه د دې ترخه غوړپ نوشولو بغير ده طهارت او صفائي ممکنه نه ده.

او دا تريخ غوړپ په ابتداء او شروع کي خورا ډېر زيات تريخ وي، لېکن چي کله انسان استقامت وکړي، نو بياخو داغه تريخ غوړپ د انسان د پاره داسي خوږ کرځي، چي د دې بغير انسان لره سکون او ارام نه راځي.

---

(١) الزهد لهناد ابن السري: باب النظر: صفحه نمبر ۶۵۱: طبراني کبير حديث نمبر ۱۰۳۶۲

تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د دې حلاوت او لذت را نصیب کړي.
عال دا عمل که څه هم ډېر زیات تریخ دی، لېکن که یو ځل د تریخ والي سره
ن د دې برداشت وکړي، نو بیا به انشاءالله الله تعالی داسي خوند، داسي
داسي لذت، ور نصیب کوي، چي د هغه په مخکي به د بدنظرۍ لذت
ی نه معلومېږي، او نه به د دې لذت ومخته د بدنظرۍ د لذت څه حقیقت

## کي ډېر لوی نعمت دي:

کي د انسان د پاره یو خودکار د لېدلو مشین دی، او دا د الله تعالی یو
ي نعمت دی، چي انسان د هغه تصور نه سي کولای، او د انسان د غوښتني
ر او د محنت او قیمته بغیر الله تعالی انسان ته ورکړی دی.
کي پر دې باندي نه د انسان محنت سوی دی، او نه د انسان مال او دولت
رف سوی دی، نو ځکه د انسان سره د دې نعمت زیات قدر نه وي، او نه
سان د دې نعمت په قدر پوهېږي.
دې نعمت د قدر پوښتنه تاسو د هغه چا څخه وکړئ، چي د دې نعمت څخه
روم وي، مور زاده نابینا وي، او یا ئي وروسته د سترګو دید په یو سبب سره
م سوی وي، چي سترګي څنګه نعمت دی؟
دانخواسته که چیري د یو چا په سترګو کي بیماري پیدا سي او د هغه په بینائي
ي خلل راسي او د ده بینائي د ختمېدو پر طرف روانه سي، بیا به وده ته
رمعلومېږي، چي د انسان بینائي څومره لوی نعمت دی.
و په دې وخت کي به انسان خپل مال او دولت خو څه کوې بلکه د ده په لاس کي
که چیري د مځکي د ټولي ګړې حکومت وي، او د دې په خرڅولو باندي د ده د
سترګو بینائي راګرځي که چیري د ده سره عقل سلیم ورسره وي، لا به هم دا ټوله
سترګو پر بینائي راګرځولو خرڅه کړي، ځکه چي دا داسي یو مشین دی، چي
تر اوسه پوري په ټوله دنیا کي چا داسي مشین نه دی ایجاد کړی.

## دسترګي صحیح استعمال:

که چیرې انسان د دې نعمت صحیح استعمال وکړي، نو الله تعالی فرمایي: چې زه به وتاته پر دې باندې زیات ثواب هم درکوم.

مثلاً د دې سترګي په ذریعه که یو څوک د خپل مور او پلار ومخته د محبت په نظر سره وګوري، نو په حدیث شریف کې راځي: چې الله تعالی به وده ته د یو قبول حج او عمرې.

داغه رنګه په یو بل حدیث شریف کې راځي: چې کله خاوند کورته راداخل سي، او وخپله زنانه ته د محبت په نظر وګوري، او زنانه ودې خپل خاوند ته هم د محبت په نظر سره وګوري، نو الله تعالی ودواړو ته د رحمت په نظر ګوري.

نو چې کله انسان د خپلي سترګي استعمال په صحیح طریقه وکړي، نو صرف دانه چې پر دې باندې الله تعالی ته ده لذت او لطف ورکوي، بلکه د دې سره سره پر دې نظر باندې الله تعالی وده ته اجر او ثواب هم ورکوي.

لیکن که چیرې یو انسان د سترګي استعمال غلط کوي، او پر غلطو ځایو باندې نظر اچوي، او حرامو ځایو ته ګوري، نو بیاخو د دې وبال هم ډېر زیات سخت دی، لکه په یو حدیث شریف کې پیغمبر ﷺ داسې فرمایلي دي:

.........لنَظَرُ الرَّجُلِ إِلَى مَحَاسِنِ الْمَرْأَةِ سَهْمٌ مَسْمُومٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيسَ فَمَنْ لَمْ يَغُضَّ بَصَرَهُ عَنِ الْمَحَارِمِ كَحَلَ بَصَرَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِمِرْوَدٍ مِنَ النَّارِ﴾. (١)

چې کله یو سړی د زناني ومحاسنو ته ګوري نو دا د ده د پاره د ابلیس د زهرېله غشو څخه یو غشی دی، چې کم سړی د نامحرم زناني څخه سترګي بندي نه کړي نو د قیامت په ورځ به د ده په سترګو د دوزخ د اور سلائي ګرځول کیږي.

## د بدنظرۍ څخه د ځان ساتلو علاج:

وس د بدنظرۍ څخه د خپل ځان محفوظه کولو صرف او صرف یوه لار ده: هغه دا چي انسان به د همت څخه کار اخلي او په زړه به دا خبره مني چي زما نظر به پر غلط ځای باندي نه لګېږي، په خپل زړه باندي د منلو څخه وروسته که څه هم د انسان پر زړه باندي اره چلېږي، خو انسان به د هغه تکلیف برداشت په خپل همت سره کوي، او د خپل نظر به حفاظت کوي.

د دغه همت او ارادې کولو څخه وروسته باید انسان تر خپل وس او طاقت پوري خپل نظر راګرزوي، د دې همت او ارادې څخه وروسته به په خپلو سترګو باندي د الله نصرت او مدد ویني، چي پرده باندي په کم شکل راځي.

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي د سترګي د بدنظرۍ څخه د راګرځولو یو څه تدابیر بیان کړي دي، چي هر مسلمان ته هغه په خپل دماغ کي کښېنول ضروري دي، هغه فرمايي.

"که چیري د انسان نظر پر یو زنانه باندي ولګېږي، او نفس انسان ته دا ووائي: چي په یو ځل کتولو کي نو څه حرج دی، ځکه بد فعلي خو هسي هم ته نه کوې، نو په دې پوه سه چي دا د نفس چل او مکر دی، او طریقه د نجات داده: چي باید انسان عمل په ونه کړي.([1])

نو شیطان و انسان ته دا دوکه ورکوي، چي په دې کتولو کي څه ګناه نسته ځکه کتل خو په دې وجه منع دي، چي انسان په بدفعلي کي مبتلا نه سي او دلته خو د بدفعلي هیڅ امکان نسته، نو حضرت به فرمایل: چي دغه د نفس چل او مکر دی، او د دې علاج دادی: چي انسان عمل په ونه کړي، که هر څومره نفس تقاضا کوي، خو بیا هم په خپل همت سره نظر د هغه ځای څخه بل طرفته ګرځول پکار دي.

---

([1]) انفاس عیسی: حصه اول: صفحه نمبر ۱۴۲

## په لاره باندي د تلولو په وخت کي نظر کښته کول:

او داغه رنګه علماؤ د بدنظرۍ څخه د ځان محفوظه کولو دا علاج هم لیکلی دی: چي انسان کله پر لاره باندي ځي نو په کار دادی: چي خپل نظر کښته کړي او بلاضرورت یو طرف بل طرف ته و نه ګوري، بس الله الله کوي، او مخکه ته ګوري، پر لار باندي روان وي.

لکه الله تعالی د دې خبري یادونه په قرآن کریم کي هم کړې ده:

........﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ﴾.(۱)

یعني مومنانو ته ووایه: چي تاسو خپل نظرونه کښته ساتئ، نو په خپله په قرآن کریم کي الله تعالی د نظر کښته کولو حکم کړی دی، او بیا وروسته ئې د دې نتیجه بیان کړې ده: چي د دې په وجه به ستاسو شرم ګاهونه محفوظه سي او تاسو به پاکدامنه زندګي تېره کړی.

## د حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه وینا:

حکیم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه به فرمایل: چي کله شیطان الله تعالي د جنت څخه راوایستی، نو درایستولو په دوران کي هغه دا دُعا وغوښته چي یا الله ماته تر قیامته پوري ژوند او مهلت راکړه، او الله تعالی وده ته مهلت ورکړی.

د مهلت ورکولو څخه وروسته ئې دستي دا وویل: چي یا الله! زما دي ستا په عزت قسم وي، چي زه به ټوله زندګي د انسانانو په ګمراه کولو کي تیروم او د ګمراه کولو طریقه ئې په داسي شکل بیان کړه: چي الله تعالی ئې په قرآن کریم کي رانقل کوي:

..........﴿لَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ﴾.(۲)

یعني زه به دې بندګانو ته د راسته طرفه، د چپه طرفه، د مخ د طرفه، او د شاد طرفه، راځم او پر دوی به حمله کوم او د دوی د ګمراه کولو کوشش به کوم.
حضرت ډاکټر عبدالحی رحمۃ اللہ علیہ به فرمایل: چې شیطان خو څلور (۴) طرفه بیان کړي دي، نو دا ښکاره خبره ده: چې شیطان د دې څلورو (۴) طرفو څخه یعني د مخ د طرف، د شاد طرف، د راسته او چپه طرف څخه پر انسان باندي حمله کوي.
لېکن دوه (۲) طرفه د شیطان څخه پاته سوي دي، چې هغه ئې نه دي بیان کړي، یو لوړ طرف، او یو لاندي طرف، نو دا دواړه طرفونه د شیطان د حملې څخه محفوظه دي.
اوس نو که انسان چیري پر لاره باندي د تللو په وخت کي لوړ طرف ته ګوري، نو بیا خو ضرور د یو شي سره ټکر کیږي، او ده ته تګ کول مشکل وي، نو و انسان ته آخرني یو لاندي طرف ورپاته سو نو که چیري انسان پر لاره باندي د تګ کولو په وخت کي لاندي طرف یعني د پښو طرف ته ګوري، او پر لاره باندي روان وي، نو انشاءالله د شیطان د څلور (۴) طرفه حملو څخه به محفوظه وي.

## دا تکلیف د جهنم د تکلیف څخه کم دی:

نو د نظر د محفوظه کولو د پاره ښه طریقه داده: چې کله انسان پر لاره باندي روان وي، نو خپل نظر کښته کړي.
حضرت تهانوي رحمۃ اللہ علیہ یو ځای داهم لیکلی دی: چې د نظر په کښته کولو کي باید انسان د همت څخه کار واخلي که څه هم د نظر په کښته کولو کي د انسان ونفس ته تکلیف خو وي، مګر دا تکلیف د جهنم د اُور د تکلیف څخه کم دی.
یعني چې کله انسان د خپل نظر حفاظت کوي، نو د دې څخه نفس ته تکلیف رسېږي، لېکن د بدنظرۍ کولو په وجه چې انسان ته د جهنم د عذاب کم تکلیف ګوري دا تکلیف د هغه تکلیف څخه په کروړنو او اربونو درجې کم بلل کیږي، بلکه د دې تکلیف د جهنم د تکلیف سره هیڅ نسبت نه اخستل کیږي، ځکه د

جهنم تکليف غير متناهي يعني نه ختم کېدونکی دی، او دا تکليف د ېر ژر ختم کيږي.
حضرت تهانوي رحمة الله عليه مخته بيا فرمايي: چي کله يو څو ورځي په همت سره انسان خپل نظر راوګرځوي، نو خود بخود د انسان په مزاج کي د غير و طرف ته ميلان کميږي، بس داغه علاج دی، د دې څخه علاوه بل هيڅ علاج نسته.
داځکه چي کله انسان محنت او مشقت برداشت کړي، نو د الله تعالی د طرفه د مدد وعده ده، لکه الله تعالی په قرآن کريم کي فرمايي:
........وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾.(۱)
يعني چي کم څوک زما په لار کي مجاهده او کوشش کوی، زه ضرور هغه مجاهده او کوشش کونکي ته لار د نجات وربښکاره کوم.
لهذا په نظر کښته کولو کي چي کم څوک مجاهده وکړي، انشاء الله تعالی به د ده په ميلان کي د غيرو طرف ته کمي راولي.
د بعض خلګو دا ګمان دی، چي موږ به د يو "شيخ" لاس ونيسو هغه به پر موږ باندي دم وکړي، يا به داسي نسخه او وظيفه راوښيي، چي د هغه سره به زموږ د زړه ميلان د غلط نظر و طرف ته ختم سي، بايد په دې خبره باندي هر انسان ځان پوه کړي، چي داسي هيڅ کله نه سي کيدای چي تر څو پوري انسان د همت څخه کار وانه خلي.

## د همت سره د الله تعالی طرف ته رجوع کول:

ګورئ! دوه(۲) کاره کول يو همت استعمالول او دوهم د الله تعالی و طرف ته رجوع کول، د همت استعمالولو مطلب دادی: چي خپل ځان حتی الامکان يعني چي څومره ممکنه وي، هغومره د غلط نظر څخه محفوظه کول.

(۱)سورة العنکبوت: آيت نمبر ۶۹

او د رجوع الی الله مطلب دادی: چې کله هم پر انسان باندې ازمائش او امتحان راسي نو فوراً د الله وطرف ته رجوع کول او دا ویل: چې یا الله په خپل رحمت سره ما د دې امتحان څخه محفوظه کړې او زما نظر او زما خیالات راوګرځوې، که چیرې تا زما مدد نه وکړئ، نو زه په دې ګناه کې مبتلا کیږم.

## د حضرت یوسف علیہ السلام طریقه خپلول:

حضرت یوسف علیہ السلام چې کله په ازمائش کې مبتلاسو، نو هغه هم داغه کار وکړی، چې د خپل طرف څخه ئې کوشش وکړی، چنانچه چې کله "زلیخا" د ده ومخته ټولې دروازې بندې کړې، او حضرت یوسف علیہ السلام ته ئې د ګناه دعوت ورکړی، نو حضرت یوسف علیہ السلام ښه په سترګو دا لیدل چې زما ومخته ټولې دروازې بندې سوې، او زما د پاره د وتلو هیڅ لار نسته.

مګر د هغه باوجود حضرت یوسف علیہ السلام د هغه دروازو طرف ته منډې ور وهې، اوس چونکه د ده پوره یقین دادی: چې زما ومخته پر ټولو دروازو باندې قلفان لګېدلې دې، زه چې هر څومره منډې کړم وماته د وتلو لار نسته.

لیکن چونکه د ده په قدرت او طاقت کې د غومره سته چې تر دروازې پورې منډې کړې، او ده د خپلې حصې کار وکړی، او په منډه باندې ئې تر دوازه پورې ځان ورساوی، او د الله تعالی په حضور کې ئې ځان د دې وینا حقداره کړی، چې یاالله! زما په اختیار کې بس دومره شی وو، او زما په طاقت کې د دې څخه زیات نور هیڅ نسته نور نو مخته یا الله! ستا کار دی، او ستا د مدد انتظار دی.

نو چې کله انسان د خپلې حصې کار وکړي، او د الله تعالی څخه ئې وغواړي، چې یاالله! نور کار ستاپه اختیار کې دی، نو الله تعالی هم د خپلې حصې کار یعنې مدد ضرور را استوي، چنانچه حضرت یوسف علیہ السلام دروازې ته ځان راور سوی، او الله تعالی د ده د مدد په خاطر او ده ته د لارې ورکولو په خاطر ټول قُلفان مات کړل او دروازې ئې ورته خلاصې کړې.

لکه دا خبره مولانا روم رحمۃ اللہ علیہ په ډېر ښه شکل باندې بیان کړې ده:

گرچه رخنه نیست عالم را پدید ...... خیره یوسف وار می باید دوید

که څه هم تاته په دنیاکي هیڅ لار او پناګاه نه در معلومیږي، د څلورو (۴) طرفو څخه د ګناه دعوت در کول کیږي، لیکن ته د ګناه څخه په داسي شکل منډي کړه لکه حضرت یوسف علیه السلام چي څنګه منډي کړې، یعني چي څومره ته منډي کولای سې هغومره خو منډي کړه نور بیا د الله څخه مدد وغواړه.
بهرحال که چیري انسان دا دوه (۲) کاره وکړي، یو خپل همت په کار واچوي، او دوهم د الله څخه مدد وغواړئ، تاسو یقین وکړئ چي په دنیاکي د کامیابۍ د ټولو څخه لوی راز داغه دی.

## یو څو مجربي نسخې:

په آخر کي ستاسو په حضور کي د علماؤ د اقوالو او تعلیماتو څخه یو څو فائده منديٍ او مجربي خبري پیشوم: که چیري انسان هغه په دماغ کي کښېنوي، او فائده څني واخلي نو انشاء الله د یو بهترینې نسخې په شکل به د بدنظرۍ دامراضو د علاج د پاره "تیر به هدف" ثابت سي.
(۱)..... د ټولو څخه لوی احتیاط او نسخه داده: چي په کمو ځایو کي د بدنظرۍ امکان وي، باید تر خپله وسه پوري انسان د هغه څخه ځان وګوري، مثلاً د ودو (ښادیو) او نورو رواجو پر موقع باندي کله مخلوط محفلونه وي، هغو ته هرګز ورنه سي.
یا د یو چا د کور دروازه وروټکوي، نو د دروازې څخه یو طرف ته داسي ځای باید ودریږي، که چیري یو ماشوم دروازه خلاصه کړي، او د ننه په کور کي د بې پردګۍ حالات ښکاره سي، خو د ده نظر نه ورباندي لګیږي.
هوائي جهاز یا په نورو ذرائعو باندي د سفر کولو په دوران کي د ټکټ اخستلو په دوران کي کله پر "کاونټر" باندي نارینه او زنانه دواړه وي، نو باید انسان کوشش وکړي، چي د زناني ومخته د کتولو موقع او یا د هغې سره د خبرو کولو موقع پیدا نه سي، د "ریل ګاډی" او هوائي جهاز د سفر په دوران کي باید

انسان د ځان سره یو دلچسپ کتاب ولري، نو اکثره وخت هغه وایي، چې کله سترې سي نو بیا دې بیده سي، که چیري خوب نه ورځي نو د مراقبې په نیت باندي باید دی سر پټ کړي، او پټې سترګي کښېني، ځکه د سترګو خلاصولو څخه مسافرو زنانو ته د نظر کولو اندېښه وي.

او چې کله انسان پر لار باندي ځي، نو خپل نظر باید داسي لاندي وساتي چې نزدې تیرېدونکي انسانان د پښو د اندازې څخه وپېژني چې نارینه دي او که زنانه، باید هر وخت د انسان په ذهن کي داخبره وي: چې زناني زمونږ څخه پرده نه کوي، نو مونږ به د دوی څخه د خپل ځان حفاظت کوو.

داغه رنګه د طواف کولو په دوران کي انسان خپل نظر پر خپلو قدمو باید وساتي، هرګز لوړ ونه ګوري، که چیري په یو دفتر یا ائرپورټ (میدان هوائي) وغیره کي د انتظار په شکل انسان وناسته ته مجبوره سي، او هلته "ټي وي" چلېږي، او یا د زنانو بې پردې تصویرونه وي، نو ارادتاً دي په داسي شکل کښېني، چې شا ئې د هغه "ټي وي" او تصویرو و طرف ته سي.

یا انسان پر لاره روان وي، نو د سړک پر کناره فلمي بورډونه او اشتهاري بورډونه لګېدلي وي، او پر هغه باندي فحش او بې حیا تصویرونه لګېدلي وي، باید هغه ته نه وګوري.

چې کله د کفازو په ملک کي انسان سفر کوي، نو بهتره خو داده: چې د انسانانو پر مخانو نظر نه واچوي، اول خو د ګرمي په موسم کي د هغو د بدن اکثره حصې لڅي وي، او که چیري د یخ په موسم کي پر بدن باندي کپړې ولري، نو بیاهم د نارینه او زنانه په درمیان کي فرق نه کیږي، دېر ځله د دواړو لباس یو رنګ وي، زنانې هم کوټ، پتلون اغوندي، او ټاني اچوي او د نارینوو غوندي وربښتان جوړوي، نو د دې مصیبت څخه د ځان محفوظه کولو حل دادي: چې خپل نظر کښته و ساتل سي، او د خپل ایمان حفاظت وسي.

(۲)...... د ټولو څخه لویه خبره داده: چې د خپل کور پر زنانو او بچیانو باندې باید رحم وسي، ځکه که انسان پردیو زنانو او بچیانو ته په بدنظر ګوري، نو د ده دکور زناني او بچیان هیڅ کله دبل د غلط نظر څخه محفوظه نه سي کیدلای.

په روایاتو کي راځي: یو نوجوان د پیغمبرﷺ خدمت ته راغلی، ورته وایي: ای د الله رسولﷺ! ماته د زنا کولو اجازت راکړه؟ پیغمبرﷺ د خښم او غوصې کولو پر ځای په ډېر محبت سره ورته وایي: چې ته دا راته ووایه: ایا ته دا غواړې چې ستا د مور سره څوک زنا وکړي؟ هغه ورته وایي: نه، پیغمبرﷺ بیا پوښتنه ځني کوي، ایا ته دا غواړې چې ستا د زناني سره څوک زنا وکړي؟ هغه ورته وایي: نه.

دریم ځل پیغمبرﷺ پوښتنه ځني کوي، ایا تاته دا خوند درکوي، چې ستا د خور یا لورسره څوک زنا وکړي، نو هغه بیا په جواب کي ورته وایي: نه.

نو په آخر کي پیغمبرﷺ ورته وایي: چې سړیه! د کمي زناني سره چې ته زنا کوې، هغه به هم د یو چا مور، لور، زنانه، خور وي، لکه څنګه چې ته دانه خوښوې چې څوک ستاد محرمو زنانو سره زنا وکړي، داغه رنګه نور خلګ هم دانه خوښوي، چې د هغو د محرمو زنانو سره زنا وسي.

د هغه څخه وروسته پیغمبرﷺ د هغه نوجوان پر سینه باندي لاس کېښوی، او هغه ته ئې د عفت او د عصمت د حفاظت دعاء وکړه هغه صحابيؓ فرمایي: چې د پیغمبرﷺ د لاس ایښولو سره زما د سینې څخه د زنا کولو تقاضا ختمه سوه بلکه زما د زنا څخه دومره نفرت پیدا سو چې هغومره نفرت مي، د بلې یوې ګناه څخه هم نسته.

د دې څخه دامعلومه سوه، چې انسان باید د بدنظرۍ پر موقع باندي د ځان سره دافکر وکړي، لکه زه چې دا نه خوښوم چې خلګ زما محرمو زنانو ته په شیطاني نظر سره وګوري، داغه رنګه نور خلګ هم دانه خوښوي، چې زه د هغو زنانو ته

په غلط نظرسره وګورم، نو د دې سوچ او فکر څخه د انسان په زړه کې ارام او سکون راځي ، او د بدنظرۍ داعیه کمزورې کیږي.

امام غزالي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چې ای عزیزه! په دې خبره ځان پوه که چې کله یو غیرمحرمه زنانه ستا ومخته تیریږي، نو شیطان تقاضا کوي، چې ته ورته وګوره چې څنګه رنګ ئې دی؟ په دې وخت کې باید ته د شیطان سره مناظره وکړې ، چې زه ولې ورته وګورم؟ که چیرې بدشکل صورت وي، نو د ګناه مرتکب کونکي به سم او لذت به هم نکړم حاصل، او که چیرې ښائسته او خوبصورته وي، نو بیا خو د ګناه سره سره په زړه کې دا حسرت پیداکیږي، چې کاشکې دا خوبصورت شکل ځان ته وصل کړم، حالانکه هر خوبصورت شکل خو انسان ته نه سي وصل کیدلای نو صرف د خپل زړه افسرده(غمزده)کولو څه فائده؟ نو په زړه کې دا فیصله کوه چې نه ورته ګورم ، او نه د ګناه ارتکاب کوم، او نه خپل زړه افسرده کوم، ځکه د خپل زړه اطمینان ختمول، دا د عقلمندي خبره نه ده.

(۳)..... چې کله انسان د بدنظرۍ کولو په خاطر د شیطان په دوکه کې راسي، نو دستي دې د الله تعالی د دیدار څخه د محرومۍ تصور کوي، چې خدانخواسته سبا د قیامت په میدان کې د بدنظرۍ کولو په وجه د الله تعالی د دیدار څخه محروم نه سم.

ځکه په روایاتو کې راځي: چې په جنت کې به جنتیانو ته د الله تعالی دیدار ورنصیب کیږي، بعضو ته به په ټوله جنتي زندګي کې یو ځل وي، او بعضو ته به په کال کې یو ځل د الله دیدار وي، بعضو ته په میاشته کې او بعضو جنتیانو ته په جمعه کې، او بعض نیک بخته جنتیان به هره ورځ د الله تعالی دیدار کوي.

چې کم انسان په دنیاکې نابینا او ړوند پیدا سوی وي، او هغه د نیکو کارۍ او پرهیزګارۍ او د صبر او شکر زندګي تیره کړې وي، هغه ته به الله تعالی دا

سعادت ورنصيب کوي چي هر وخته به د الله تعالی په ديدار کي محو او مستغرق وي.

الله تعالی به فرمايي: دا زما هغه بنده دی: چي ده په دنيا کي هيڅ غير ته د محبت په نظر نه دي کتلي، اوس چي دی هر وخت غواړي نو هغه وخت دي، زما د ذات انور ديدار کوي.

بعضو علماؤ ليکلي دي: چي کم سړی په دنياکي د الله تعالی د رضا په خاطر د نامحرم څخه د خپل نظر حفاظت وکړي، نو الله تعالی به په جنت کي د هر هر نظر په بدله کي يو يو ځل وده ته د خپل ذات ديدار ور نصيب کوي، نو د انسان د پاره مناسب داده: چي د دغه مضمون مراقبه کوي، او خپل زړه په دې پوه کړي، چي د يو څو لمحو بدنظرۍ په وجه د الله تعالی د ديدار څخه ولي خپل ځان محروم او بې نصيبه کوم.

علامه ابن قيم رحمة الله عليه ليکلي دي: چي په جنت کي د هر عمل اجر او ثواب د هغه عمل د جنس څخه وي، لهذا چي کم سړی د غير محرم د مخ د ليدلو څخه خپلي سترګي راواړه وي، نو ده ته به د دې په بدله کي الله تعالی د خپل ديدار سعادت ورنصيب کوي، نو مناسب داده: چي په هر قسم ماحول کي انسان د خپل نظر حفاظت وکړي، چي د قيامت په ميدان کي د الله تعالی د ديدار مستحق جوړ سي.

(۴)..... بعض علماؤ لا داهم د نظر په حفاظت کولو کي ليکلي دي: چي کله د انسان نفس د غيرمحرم وطرف ته د شهوت نظر غواړي نو فوراً دي هغه انسان په خپل زړه کي د خپلي مور يا لور تصور راګرځوي، او هغه دي په خپل سوچ او فکر کي راولي.

دا دومره مقدس قرابتونه دي، چي د نفسانيت تقاضا په دا رنګه ختم کيږي، لکه د اوبو اچولو څخه چي د اور شغلې مړې کيږي، مګر دا عمل د باحيا او باشرعه انسانانو د پاره زيات فائده مند وي.

(۵)..... د بدنظرۍ کولو په وخت کي په خپلو سترګو کي د جهنم د اور سلائي ګرځولو تصور باید انسان وکړي.
علماؤ کرامو لیکلي دي: چي بدنظري کونکی انسان چي کله جهنم ته ورسي، نو فرشتې به د ده په سترګو کي ویلي سرب وراچوي، په بعضو کتابو کي لادا هم لیکلي دي: چي د اوسپني ګرم سیخان به د ده په سترګو ګرځول کیږي.
نو چي کله انسان د خپل نفس په خاطر د بدنظرۍ پر ځای راسي، نو په خپل ذهن کي دي دا تصور کوي: چي د معمولي لذت په خاطر زما په سترګو کي سبا د قیامت په میدان کي د جهنم ګرم سیخان ګرځول کیږي، زما به څه حال وي، د څو ورځو متواتر تصور کولو په وجه خودبخود د انسان د نفس د بدنظرۍ تقاضا ختمیږي.

## د پیغمبر ﷺ علي رضي الله عنه ته وینا:

کله داسي وسي چي انسان پر لاره باندي روان وي، نو غیرمحرمه زنانه د انسان مخ ته راسي، او د انسان نظر بلاقصد او ارادې د هغې پر مخ باندي ولګیږي.
د داسي صورت حال په باره کي حضرت علي رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وویل:
........يَا عَلِيُّ لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ﴾.(١)
ای علي! د یو نظر لګېدو څخه وروسته دوباره مه ورته ګوره، ځکه ستا د پاره صرف اول نظر معاف دی، نه دوهم.
د دې څخه دا معلومه سوه، چي اول اچانک بلا ارادې نظر معاف دی، لېکن که چیري یو وخت انسان اول نظر هم په خپله اراده او قصد سره ورته کوي، نو هغه هم حرام دي.

(١) مشکوة المصابیح: حدیث نمبر ۳۱۱۰

د اول نظر معاف کیدولو مطلب دا نه دی: چي اول نظر دي انسان دومره پوره ورته وکړي، چي دوباره د نظر کولو ضرورت پاته نه سي صرف دومره خبره ده: چي که چيري د يو انسان اچانک بلاقصد او بلاارادہ نظر پر غیرمحرم ولګيږي، نو پرواه نه لري، خو په دې شرط چي فوراً به د خپل نظر راګرځوي.

حضرت جرير بن عبدالله البجلي رضي الله عنه وايي:

......سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ فَامرني».

چي ما د پيغمبر صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه: چي ای د الله رسوله! چي کم نظر دفعةً پر غیرمحرم ولګيږي، د هغه متعلق څه حکم دی؟ ده مبارک ماته امر وکړی:

......أَنْ أَصْرِفَ بَصَرِي»(١) چه زه به خپل نظر راګرځوم.

بعض او قات حکیم، ډاکټر، یاقاضي، د یو شرعي عذر په وجه سره که چيري د يو غیرمحرم زناني ومخته وګوري نو د بقدر ضرورت کتولو وروسته باید فوراً خپل نظر راوګرځوي.

## د بدنظرۍ څخه د الله تعالی غیرت په جوش کي راځي:

علماؤ ليکلي دي: چي بدنظري د فحش کارو مقدمه ده: چي کم څوک د بدنظرۍ ارتکاب کوي، نو الله تعالی هغه د خپل دربارعالي څخه ملعون او مردود ګرځوي، او بدنظري کونکی د خپل رحمت څخه ليري کوي.

څکه د پيغمبر صلی الله علیه وسلم حديث مبارک دی:

............أَنَا غَيُورٌ وَاللّٰهُ غَيُرمِنِّي وَمِنْ غَيْرَتِهِ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَابَطَنَ».

زه غیرت مند يم او الله تعالی زما څخه زيات غیرت مند دی، د داغه غیرت په وجه الله تعالی ظاهري او باطني فواحش ټول حرام کړي دي.

نو پکار دادی: چي انسان نیکه زندګي تیره کړي، او د بدنظرۍ څخه ځان وګوري، چي د الله تعالی د غیرت په وجه د الله تعالی د عذاب څخه محفوظ پاته سي، او د الله تعالی ورحمت ته په نزدې انسانانو کي شامل سي.

## پر پاکدامنۍ باندي د جنت زېرى:

نبي اکرم ﷺ پر پاکدامنه زندګي تیرولو باندي د جنت بشارت او زېری بیان کړی دی، او هغه ئې هم پر خپل ضمانت باندي فرمایلي دي:

﴿مَنْ تَوَكَّلَ لِي مَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ وَمَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ، تَوَكَّلْتُ لَهُ بِالْجَنَّةِ﴾(۱).

چي کم سړی وماته د خپلو څنګنو په مابین کي اندام یعني "شرمګاه" او د دوو زامو په مابین کي اندام یعني ژبه د حفاظت ضمانت راکړي، نو زه به د ته د جنت د داخلیدلو ضمانت ورکړم.

پر یو بله موقع باندي پیغمبر ﷺ نوجوانانو ته په خپلو خبرو کي داسي و فرمایل:

﴿يَا شَبَابَ قُرَيْشٍ، لَا تَزْنُوا أَلَا مَنْ حَفِظَ فَرْجَهُ فَلَهُ الْجَنَّةُ﴾(۲).

اې د قریشو نوجوانانو! د خپلو شرمګاهو حفاظت کوئ، زنا مه کوئ، چي کم څوک خپل شرمګاه محفوظه وساتي، د هغه د پاره جنت دی، لهذا د جنت د دائمي انعاماتو حاصلولو د پاره ضروري ده: چي موږ د دنیا عارضي لذات او شهوات کنټرول کړو.

لګه د ابن ماجه شریف په یو حدیث کي لا داسي هم راځي: چي کم سړی پر نامحرم زنانه باندي قادر سي مګر د الله د بېرې د وجهي څخه ګناه نه وکړي، د هغه په بدله کي به په جنت کي وده ته الله تعالی خپل دیدار ورنصیب کړي.

(۱) بخاري شریف: حدیث نمبر ۶۸۰۷

(۲) المستدرک علی الصحیحین للحاکم: حدیث نمبر ۸۰۶۲

## د بني اسرائيلو پر عابد باندي د زنا د تهمت واقعه:

حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما د حضرت کعب احبار رحمة الله عليه څخه رانقل کوي، چي ده و فرمايل: چي په بني اسرائيلو کي يو صديق يعني د (اولي درجې ولي وو) چي د عبادت د پاره په يو گوشه ځای کي ئې خپله عبادت خانه جوړه کړې وه، او تر ډېري زمانې پوري ئې په هغه کي عبادت کاوی.

د ده زيارت لره به روزانه سهار او ماښام بادشاه حاضري راوړله، او د ده څخه به ئې پوښتنه کوله چي ستا که يو ضرورت وي؟ نو ده به په جواب کي ورته ويل: چي الله تعالى ته زما ضرورت ښه ور معلوم دی، او هغه ئې هميشه راپوره کوي. الله تعالى د ده پر عبادت خانه باندي د انگورو يو تاک راشين کړی وو، چي هغه به هره ورځ د انگورو يو وږی پيدا کاوي، او ده به په هغه باندي د خپل خوراک ضرورت پوره کاوي، او په دې شکل پر ده باندي ډېره زمانه تېره سوه.

يو ځل د ماښام په وخت کي د ده د عبادت خانې سره يو ډېره حسينه او جميله زنانه تېرېدله د ده د عبادت خانې په دروازه کي ئې ندا او آواز وکړی، چي ای د الله تعالى نيکه بنده! ده جواب په لبيک سره ورکړی، نو هغه زنانه ورته وايي: چي ايا ستا رب تاويني؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي زما رب خو هغه ذات دی، چي دا صفات ئې بيان سوي دي:

........﴿هُوَ اللهُ الوَاحِدُ القَهَّارُ، الحَيُّ القَيُّوْمُ، العَالِمُ بِمَا فِي الصُّدُوْرِ وَبَاعِثُ مَنْ فِي القُبُوْرِ﴾.

هغه يو دی، قهار دی، حي، وقيوم دی، د زړو په اسرارو واقف او خبر دی، چي کم څوک په قبرو کي دی د هغو راپورته کونکی دی.

هغه زنانه ورته وايي: چي زما کور او کلي زما څخه ډېر ليري دی، که چيري يوا شپه د خپل ځان سره په عبادت خانه کي ما پرېږدې، نو زما سره به دي ډېر احسان وي.

نو هغه بزرگ ورته وايي: چي پورته بالا خانې ته راوخيژه.

نو چي کله هغه زنانه لوړي بالاخانې ته ورپورته سوه ځپلي کپړې فوراً ئې غورځولې او لڅه ودرېده او د هغه عابد ومخته ئې خپل بدن ښکاره کړی، نو هغه بزرګ خپلي سترګي پټي کړې او ورته وئې ویل: چي ته تباه سې خپل ځان وکړه.

هغې په جواب کي ورته وویل: چي څه به وسي که ته نن شپه زما څخه فائده او واخلې.

هغه بزرګ خپل نفس ته مخاطب سو او وایي: ای نفسه! ته څه مشوره کوې؟ نو هغه خپل نفس ورته وایي: چي زما دي په خدای قسم وي، چي زه به د دې زناني څخه فائده او نفع اخلم.

هغه بزرګ خپل نفس ته وویل: ته تباه سې ته د ځان د پاره د دوزخ استوګنه غواړې، او زما د دومره اوږدې زمانې عبادت راضائع کوې، او خپل ځان په زنا کارانو کي شامله وې، او هر زناکاره الله تعالی پرمخي په دوزخ کي غورځوي.

لیکن د ده نفس د ده د ګمراه کولو د پاره پوره زور وکړی، نو هغه بزرګ ورته وویل: چي ای نفسه! زه ستا ومخته د دنیا یو معمولي اور پېشوم که چیري تا هغه برداشت کړی، نو بیا خو بلاشک نن به تا د دې زناني څخه نفع اخستونکی جوړوم.

حضرت کعب احبار رحمة الله علیه فرمایي: هغه بزرګ څراغ د تیلو ډک کړی، او پر هغه باندي ئې پلیته کښېښووله، او هغه ته ئې اور ورکړی، هغه زنانه ورته ګوري او د ده د نفس سره مکالمه اوري.

نو هغه بزرګ خپل لاس پر هغه اور باندي کښېښووی، هغه څراغ بل دی، لېکن هغه بل څراغ د بزرګ لاس نه سوځي، هغه بزرګ چیغه کړه او په ډېره غوصه باندي هغه څراغ ته وایي: چي ته ولي زما لاس نه سوځې؟

د هغه څخه وروسته هغه د څراغ اور د بزرګ ګوتي وسوځلې او تر ډېره حده پوري ئې لاسونه د څراغ په اور باندي کباب سول، هغه زنانه په ډېر حیرت سره

هغه بزرګ ته ګوري، آخر هغه زنانې يو زور داره چيغه ووهله او د دنيا څخه پر هغه ځای باندي رخصت يعني وفات سوه، او هغه عابد په کپړو سره د هغې بدن پټ کړی.

چي کله سهار سو، نو ابليس لعين په کوڅو کي چيغي کړې، چي ای خلکو! فلاني عابد د فلانکې زنانې سره زنا وکړه، او د زنا څخه وروسته ئې قتل کړه.

نو بادشاه د خپل لښکر او رعيت سره د بزرګ عبادت خانې ته ځان راورساوی، او په ډېره غوصه سره ئې عابد ته وويل: چي فلانکې زنانه د فلانکي لور چيري ده؟ عابد په جواب کي ورته وويل: چي زما سره موجوده ده، نو بادشاه ورته وويل: چي ما ته ئې په لاس راکړه، بزرګ ورته وايي: چي هغه خو وفات سوې ده.

بادشاه ورته وويل: چونکه هغه زنانه د زنا کولو د پاره ستاسره راضي نه وه نو په دې وجه دي قتل کړې ده، نو لښکر ته ئې امر وکړی چي د عابد عبادت خانه ونړوئ، او د عابد په غاړه کي ئې زنځير ورواچاوی، او تر ښاره پوري ئې کش وئ، او زنانه ئې راپورته کړه او د خپلو قريبانو پوري ئې ورسوله.

په هغه زمانه کي د هغه خلکو دا دستور وو: چي زنا کار به ئې په آره سره دوې(۲) ټکړې کاوی، نو عابد ئې د سزا ځای ته د ټولو خلکو په مخ کي راوستی، او په لويه مجمع کي ئې د دوې(۲) ټکړې کولو د پاره ودروی، د عابد لاس په لستوڼي کي پټ دی، او دی اصل واقعه هيڅ چا ته نه بيانوي.

چي کله ئې د عابد پر سر باندي آره ولګوله او جلادانو ته ئې امر وکړی، چي آره وچلوئ، آره چي کله د عابد تر دماغ پوري ورسېدله نو د عابد تر خوله يو آه وخاتې، الله تعالی حضرت جبرائيل عليه السلام ته وحي وکړې، چي عابد ته په يو ذريعه دا پيغام ور کړه، چي هيڅ به نه وايي زه ستا صبر ليدل غوارم، او دې صدمې او غم زما د عرش ملائکې او د اسمان مکينان ټول وژړول، زما دې په

خپل عزت او جلال قسم وي، که دي دوهم ځل آه وکښي نو زه به دا ټول اسمانونه پر مځکه باندي رانړوم.
عابد ته چي کله دا پیغام راورسېدی، نو هغه نه آه وکښي، او نه ئې بیا خبره وکړه، تر هغه وخته پوري چي روح ئې د بدن څخه رخصت کېدي.
چي کله وفات سو، نو الله تعالی هغه زناني ته دوباره ژوند ورکړی، نو هغه زناني دا وویل: چي زما دي په الله سره قسم وي، چي دا عابد د مظلومیت په حالت کي وفات سو، ده زماسره زنا نه ده کړې، او زه تر اوسه پوري باکره یم.
د هغه څخه وروسته ئې ټوله واقعه بیان کړه، خلکو چي کله د عابد لاس وکاتی نو هغه لکه څنګه چي هغه زناني بیان کړی وو، سوځلی وو، نو خلک ډېر پرېشانه او پښېمانه سوه، او دا ئې ویل: که چیري موږ ته د حقیقت حال علم وای، نو موږ به هیڅ کله د عابد سره داسي عمل نه وای کړی، نو یو طرف ته هغه عابد دوې(۲) ټکرې پر مځکه پروت دی، او هغه زنانه هم بیرته وفات سوه، او روح ئې رخصت سو.
نو بیاهلته هغه انسانانو د دوی دواړو د پاره قبرونه وکندل، نو د هغه قبرو څخه د مشکو او عنبرو بویونه راپورته کېدل، بیا ئې دوی دواړه د جنازې د لمانځه د پاره مخ ته راوړل نو د اسمان څخه یو منادي اواز وکړی:
......اِصبِرُوا حَتّٰی تُصَلِّي عَلَيهِمَا المَلَائِكَةُ﴾.
تاسو صبر وکړی، چي یو ځل فرښتې پر دوی باندي د جنازې لمونځ وکړي.
د هغه څخه وروسته هغه خلکو د جنازې لمونځ ورباندي وکړی، او دواړه ئې په خاورو کي دفن کړل.
بیا الله تعالی د دوی پر قبرو باندي یو دم د چمبیلي ګلان راشنه کړل، او د خلکو ومخته د دوی پر قبرو یو تخته ښکاره سوه چي پر هغه باندي دالیکلي وه:

..........بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى عَبْدِي وَوَلِيِّي، إِنِّي نَصَبْتُ الْمِنْبَرَ تَحْتَ عَرْشِي﴾.

د بسم الله څخه وروسته د الله عزوجل د طرف څخه وخپل بنده او ولي ته دا پیغام دئ: چې ما تر خپل عرش لاندې یو منبر ولګاوی.

........وَجَمَعْتُ مَلَائِكَتِي﴾.

او فرشتې مې را جمع کړې.

.........وَخَطَبَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ﴾.

او جبرائیل علیه السلام خطبه وویله.

..........وَأَشْهَدْتُ الْمَلَائِكَةَ إِنِّي زَوَّجْتُكَ خَمْسِيْنَ أَلْفَ عُرُوْسٍ مِنَ الْفِرْدَوْسِ﴾.

ا وما ټولې فرشتې پر دې خبره باندې ګواهانې جوړې کړې، چې ما د جنت الفردوس د پنځوس زرو (۵۰۰۰۰) حورو سره د ده نکاح وکړه.

..........وَهٰكَذَا أَفْعَلُ بِأَهْلِ طَاعَتِي وَأَهْلِ مَرَاقَبَتِي﴾.

او زه خپل فرمانبرداران او مقربین انسانان په داسې انعاماتو او اکراماتو سره نازوم.(۱)

نو دامعلومه خبره ده: چې کم څوک په دنیا کې خپل ځان پاکدامنه وساتي، او د خپل نظر او شرمګاه حفاظت وکړي؛ نو د قیامت په میدان کې به د الله تعالی د ډېرو انعاماتو او اعزازاتو مستحق جوړېږي.

کله به هغه د الله تعالی د دیدار په شکل وي، او کله به د جنت د نعمتو په شکل وي، او کله به د جنت الفردوس د حورو سره د نکاحونو په شکل وي.

الله تعالی دې د دې بې حیائۍ په دور کې د خپل نظر د حفاظت کولو توفیق راکړي، او چې د الله تعالی څومره نافرمانۍ کیږي، الله تعالی دې د هغه ټولو څخه د حفاظت زندګي رانصیب کړي،

او الله تعالی دې داڅو خبرې په خپل دربار عالي کې قبولې او مقبولې وګرځوي.

(آمین یارب العالیمن)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د ژبې حفاظت کول

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعــت | اول |
| تــاريـــــخ | ۱۳، ربیع الثانی ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾(١).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، رَفَعَهُ قَالَ: إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ فَإِنَّ الأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ فَتَقُولُ: اتَّقِ اللَّهَ فِينَا فَإِنَّمَا نَحْنُ بِكَ، فَإِنْ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا وَإِنْ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذَٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! دا د "سورة لقمان" آيت دی: په دې سورة کې الله تعالی د خپل نيک او مقبول بنده حضرت لقمان علیه السلام نصيحتونه بيان کړي دي.

د دې آيت په تفسير کې سحبان الهند حضرت مولانا احمد سعيد صاحب رحمة الله عليه د حضرت لقمان علیه السلام يو قول رانقل کړی دی: چې حضرت لقمان علیه السلام فرمايلي دي: چې ما د څلورو زرو (۴۰۰۰) پيغمبرانو علیهم السلام خدمت او ملاقات وکړی، چې څه مي د هغو څخه واورېدل يا مي د هغوی تعليمات حاصل کړل، د هغه ټولو خلاصه اته (۸) خبري وې.

(١)سورة لقمان آيت نمبر: ١٢

(٢)ترمذي شريف: حديث نمبر ۶۴۰۷

۱. اوله خبره: چې د لمانځه په حالت کې د خپل زړه حفاظت کول.
۲. دوهمه خبره: چې د خوړک کولو په وخت کې د خپل حلق(ستوني) حفاظت کول.
۳. درېيمه خبره: د يو چا وکور ته د ورتګ په حالت کې د خپل نظر حفاظت کول.

د دې خبرو په باره کې په تيرو جمعو کې په کافي تفصيل سره ما ستاسو ومخ ته خبره عرض کړه، الله دې موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

## څلورم(۴) نصيحت د ژبې حفاظت کول:

حضرت لقمان عليه السلام څلورم(۴) نصيحت دا فرمايلى دى: چې کله انسان په يو محفل او مجلس کې کښېني، نو د خپلې ژبې حفاظت کول ضروري دي.
د پيغمبر ﷺ په تعليماتو کې هم د ژبې حفاظت کول په ډير اهميت سره بيان سوى دى، او د ژبې حفاظت ته ډېر اهميت ورکول سوى دى، لکه حضرت ابو هريره رضي الله عنه د ژبې د حفاظت په هکله د پيغمبر ﷺ مختلف احاديث رانقل کړي دي، او امام بخاري رحمة الله عليه هم په خپل کتاب بخاري شريف کې هغه احاديث ذکر کړي دي.

## درې(۳) احاديث مبارکه:

حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايلي دي: چې پيغمبر ﷺ به فرمايل:
........مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ﴾.(۱)
چې کم سړى پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لري، نو د هغه د پاره مناسب داده؛ چې يا ښې او نيکې خبرې کوي، او يا خاموشه اوسي.

(۱) ... كتاب الادب ... من كان يؤمن بالله واليوم الآخر، حديث نمبر ۶۱۱۸

داغه رنګه حضرت ابو هريره ﷺ يو بل حديث هم را نقل کوي:

.......إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ، مَا يَتَبَيَّنُ فِيهَا، يَزِلُّ بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ الْمَشْرِقِ﴾.(۱)

چې ما د پیغمبر ﷺ څخه اورېدلي دي: ده مبارک به فرمایل: چې کله يو انسان د سوچ او فکر بغیر په ژبه سره يوه کلمه ادا کړي، نو هغه کلمه دغه سړی د جهنم په دومره ژوره کنده کې وغورځوي، چې د هغې د سر او پای په مابين کې فاصله د مشرق او مغرب د فاصلې څخه هم زياته وي.

يو دریم(۳) حدیث هم په داغه معنٰی کې د حضرت ابو هریره ﷺ څخه رامنقول دي:

.......إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ، لاَ يُلْقِي لَهَا بَالًا، يَرْفَعُهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ، وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ، لاَ يُلْقِي لَهَا بَالًا، يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ﴾.(۲)

حضرت ابوهريره ﷺ فرمايي: چې پیغمبر ﷺ به ويل: چې بعض او قات يو انسان د الله تعالى د رضا مندئ يو کلمه و وايي يعني يو داسي کلمه په ژبه سره ادا کړي، چې الله تعالى په هغې خوشحاله کيږي، او د الله تعالى د رضا سره مطابقه وي، ليکن چې کم وخت دې انسان دا کلمه په ژبه سره ادا کوله نو په هغه وخت کې د ده په زړه کې د دې کلمې د اهميت هيڅ اندازه نه وه ده په لاپرواهي کې دا کلمه تر خوله را وئيسته مګر الله تعالى د دې کلمې په ذريعه په جنت کې د ده درجات ډېر وربلند کړل.

د دې برعکس بعض او قات يو انسان په ژبه سره يو داسي کلمه ادا کړي، چې د الله تعالى د ناراضګي سبب وي، او دا انسان دا کلمه په لاپرواهي کې تر خوله راوباسي او د ادا کولو په وخت کې د ده په زړه کې د دې کلمې هيڅ اهميت نه وي، ليکن الله تعالى په دې کلمه سره داسي ناراضه سي، چې ددې يوې کلمې په وجه سره ئې وجهنم ته وروغورځوي.

---

(۱) صحيح البخاري: كتاب الرقاق: باب حفظ اللسان: حديث نمبر ۶۴۷۷

(۲) صحيح البخاري: كتاب الرقاق: باب حفظ اللسان: حديث نمبر ۶۴۷۸

## د ژبې نګراني کول:

په دې درو (۳) سره وو احاديثو کې پيغمبرﷺ د انسانانو توجه دې طرف ته راګرځولې ده: چې انسان د خپلې ژبې د ګناهو څخه د حفاظت اهتمام وکړي، او خپله ژبه د الله تعالی په مرضياتو کې خرڅه کړي، او د الله تعالي د ناراضګي د کارو څخه ئې راوګرځوي.

د دې څخه مخکې په باربار ما ستاسو په مخ کې دا تذکره کړې ده: چې زمونږ او ستاسو د پاره د ټولو څخه زيات د اهتمام وړ خبره دا ده: چې د ګناهو څخه خپل ځان محفوظه کړو، او په ګناه کې واقع نه سو.

بيا خاص په ګناهو کې د ژبې د ګناه څخه ځان محفوظه کول ډېر اهم دي، ځکه د ژبې ګناه داسې ده: چې بعض اوقات انسان بغير د سوچ او فکره د بې پرواهي په حالت کې خبرې کوي، او هغه خبرې د ده د پاره د سخت ترين عذاب موجب او سبب ګرځي.

نو ځکه پيغمبرﷺ فرمايلي دي: چې د خپلې ژبې نګراني کول که چيرې يو ښه خبره د سړي مخ لره راسي نو په ژبه سره ادا کول، او که نه وي نو خپله زندګي په خاموشي سره تيرول پکار دي.

ځکه چې حقيقي نجات پيغمبرﷺ په خاموشي کې بيان کړی دی، لکه يو حديث مبارک داسې هم راځي: ﴿مَنْ صَمَتَ نَجَا﴾[1] چې کم سړي د غلطو خبرو څخه خاموشي وکړه، نو هغه په حقيقت کې نجات پيدا کړی دی.

لکه يو صحابي حضرت عقبه بن عامر ﷺ هم د پيغمبرﷺ څخه پوښتنه وکړه: چې ای د الله رسوله! نجات به څنګه پيدا کړم؟

پيغمبرﷺ په جواب کې ورته وايي!

﴿......املِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ﴾.[2]

---

(1) بيهقي في شعب الايمان: حديث نمبر ۴۹۸۳

(2) ترمذی شريف: حديث نمبر ۲۴۰۶

د خپلي ژبي ځان مالک جوړ کړه يعني خپله ژبه په قابو کي وساته او زندګي د کور په کونج کي تيره کړه، يعني بلاضرورته د خلګوپه مجلسو کي شرکت مه کوه، او پر خپلو ګناهونو باندي خپل رب ته پښېماني او ژړا وکړه.

نو په دې حديث کي هم پيغمبرﷺ اوله جمله دا بيان کړې ده: چي ته خپله ژبه په قابو کي ساته يعني ژبه بې احتياطه مه چلوه.

او دويمه جمله داده: چي ستا دپاره دي، ستا کور کافي وي، يعني بې ضرورته دکور څخه دباندي مه وزه، صرف دضرورت دپاره دباندي ځه، هسي نه چي دباندي کمي فتنې وي، چي په هغه کي مبتلاسې.

او دريمه جمله که چيري ستاڅخه خطاء ياګناه وسي، نو پر هغه باندي ژړا کوه، دژړا کولو مطلب دادی: چي دهغه څخه توبه کاږه، او پر هغه باندي دندامت اظهار کوه، او د الله تعالى څخه مغفرت غواړه، دژړا مطلب دانه دی، چي واقعةً پر هغه باندي ژړا کول ضروري دي.

لکه يو څو ورځي دمخه ما ته يوسړی راغلی، او راته وايي: چي مالره ژړا نه راځي، نو پر دې باندي زه ډېر پرېشانه يم، اصل خبره داده: که چيري انسان لره ژړا نه ورځي، نو چي صرف په زړه کي پر ګناه باندي پښېماني وکړي، او دالله تعالى په دربار کي عذر پيش کړي، چي يا الله! زما څخه ګناه سوې ده، ما معاف کړه، نو هم کفايت کوي.

څکه حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه روايت کوي: او سعد هغه صحابي دی، چي دی مبارک فرمايي:

......كُنْتُ ثَالِثَ الاسْلَامِ﴾ زه په اسلام کي دريم مسلمان يم، او دا به ئې هم ويل:

......الْاَوَّلُ مَنْ رَمَى السَّهْمَ فِي سَبِيْلِ اللهِ﴾ زه اول هغه مسلمان يم چي کم چا دالله په لار کي دکافرانو په مقابله کي اول غشي ويشتلي دي، او پيغمبرﷺ به ده ته هميشه دا دعاء کوله:

......اَللّٰهُمَّ سَدِّدْ سَهْمَهُ وَاَجِبْ دَعْوَتَهُ﴾.

اې الله! ته دحضرت سعد ابن ابي وقاص غشي سيده کړې او د ده دعاګانې قبولي کړې، او پيغمبرﷺ به ده ته داهم ويل:

........ارْمِ يَا سَعْدُ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي﴾.(۱)

اې سعده! غشي وله زما مور او پلار دې ترتا قربان وي.

په ټولو صحابوو کې داسعادت صرف دوو(۲) صحابوو ته حاصل دی، يو حضرت زبير رضي الله عنه ته او بل و ده ته، محدثينو ليکلي دي چې د دې دوو(۲) کسانو څخه علاوه پيغمبرﷺ دبل چا دپاره دا جمله نه ده استعمال کړې.

نو حضرت سعدابن ابي وقاص رضي الله عنه دعشره مبشره څخه دی، احد العشره هم دی، او آخر العشره هم دی، د ده دوفات څخه وروسته عشره مبشره ټول ختم شول، نو دی مبارک دپيغمبرﷺ دا حديث رانقل کوي، چې پيغمبرﷺ به فرمايل:

........ابْكُوا، فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا بُكَاءً فَتَبَاكَوْا﴾.(۲)

تاسو پر خپلو ګناهو باندې د مغفرت دپاره يا دالله تعالى دمحبت يا دخوف په وجه ژړا کوئ، که چيرې ژړا نه درتله، نو بيا الله تعالى ته د ژړا شکل جوړ وئ، ځکه الله تعالى داسې مهربانه ذات دی، چې ستاسو د ژړا شکل د ژړا دحقيقت غوندې قبلوي.

## دژبې صحيح استعمال:

نو الله تعالى دا ژبه داسې جوړه کړې ده، که چيرې يو سړی دا ژبه صحيح استعمال کړي، لکه اوس ماستاسو ومخ ته د يو حديث روايت پيش کړی، چې يو سړی په بې پرواهۍ کې يو کلمه د ژبې څخه راوباسي او هغه ښه کلمه وي، د

---

(۱)مشکوة المصابيح، صفحه نمبر ۵۹۶ اکمال فی اسماء الرجال

(۲)ابن ماجه، حديث نمبر ۱۳۳۷

هغه کلمې په وجه نه معلوم چې الله تعالی ده ته څومره لوړې درجاتې ورکوي، او د ده په عمل نامه کې څومره اجر او ثواب لیکل کیږي.
او چې یو انسان د کفر د حالت څخه د مسلمانۍ حالت ته راځي نو هم د دغه ژبې په برکت سره به وي، چې په ژبه سره د شهادت کلمه ووایي:
........أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ رَسُوْلُه﴾.

- او د دې کلمې د شهادت د ویلو څخه مخکې خوکافر وو، او س د دې کلمې دویلو څخه وروسته مسلمان سو، مخکې جهنمي وو، اوس جنتي سو، مخکې د الله مبغوض وو، اوس د الله محبوب سو، او د پیغمبرﷺ په امت اجابت کې شامل سو، اوس دغه عظیم انقلاب د ده په زندګۍ کې د دغه یوې کلمې په وجه راغلي چې ده په ژبه سره ادا کړه.

په روایاتو کې راځي: چې کله یو بنده په اخلاص سره کلمه ووایي، نو یو فرښته دغه عمل واخلي، او د اسمانو وطرف ته روانه سي، په لار کې د اسمان د طرفه د راروانې فرښتې سره د دې ملاقات وسي نو هغه فرښته پوښتنه ځنې وکړي، چې چیرې ځې؟
د مخکې د خوا څخه روانه فرښته ورته وایي: پر مځکه یو بنده کلمه وویله زه د هغه عمل د الله تعالی وحضورته پیشوم، بیا دغه فرښته د هغه فرښتې څخه چې د اسمان د طرف څخه راروانه ده پوښتنه کوي، چې ته چیرې ځې؟ نو هغه ورته وایي: چې کم سړي د مځکې پر مخ کلمه وویله ما د هغه سړي د پاره د الله تعالی د حضور څخه د مغفرت پیغام راخستي دی، او راروانه یم، نو د ژبې په کلمه ادا کولو سره کله کله د انسان د ټولي زندګۍ ګناه معاف سي.

## ژبه په ذکر سره نوده ساتل:

داغه رنګه که چیرې د ایمان راوړلو څخه وروسته انسان یو ځل په ژبه سره د ﴿سُبْحَانَ اللّٰهِ﴾ کلمه ادا کړي، نو په حدیث شریف کې راځي: چې د دې کلمې په

ذريعه د ده د عمل نامې نيمه تله د عبادته ډکه سي، نو دا کلمه چي الفاظ ئې ډېر کم دي، لېکن ثواب ئې د الله په دربار کي دومره عظيم دي.
په بل حديث شريف کي راځي:
........كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي المِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ﴾.
دا دوې(۲) کلمې دي چي پر ژبه ډېري سپکي دي، يعني انسان ئې په لږ وخت کي ادا کوي، او د عمل په ترازو کي ډېري درنې دي، او الله تعالى ته ډېري محبوبي او خوښي دي:
........سُبْحَانَ اللَّهِ العَظِيمِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ﴾(۱).
بهر حال ژبه الله تعالى داسي اندام پيدا کړې ده: که چيري ئې انسان په صحيح طريقه سره استعمال کړي، نو بيا به په ډېر لږ وخت کي د انسان په عمل نامه کي د نيکو اعمالو اضافه کيږي، او د انسان دپاره به افضل عمل بلل کيږي.
لکه يو صحابي د پيغمبر ﷺ څخه سوال کوي، اى د الله رسوله! دا راته ووايه: کم عمل کول زما دپاره افضل دي؟ پيغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي:
........لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ﴾.(۲)
چي ستا ژبه دي، هميشه د الله تعالى په ذکر باندي تازه وي، يعني د ولاړي او ناستي تک او راتک په وخت کي هميشه ذکر کوه.

## يو چاته د دين مسئله ښوول:

داغه رنګه که چيري د ژبې په ذريعه سره انسان و يو چاته د دين يو کشنى خبره وروښيي، مثلاً يو سړى په غلطه طريقه سره لمونځ کوي، او تا ته دا در معلومه سوه، چي د ده د لمانځه کولو طريقه غلطه ده، نو تا په پټه سره په نرمي سره د محبت او شفقت په شکل هغه سړي ته د لمانځه طريقه وروښوله چي سړيه! دا

---

(۱) صحيح البخاري، حديث نمبر ۶۴۰۶
(۲) ترمذي شريف: حديث نمبر ۳۳۷۵

ستا لمونځ په دغه طريقه سره کول غلط دي، بلکه د لمانځه کولو صحيح طريقه داده : او په دې شکل سره لمونځ کوه.
او س ستا د ژبې په لږ حرکت سره د هغه سړي اصلاح وسوه، او هغه لمونځ په صحيح طريقه سره شروع کړی، نو چي اوس باقي عمر ځو مره لمنځونه هغه سړی په صحيح طريقه سره کوي، د هغو ټولو په اجر او ثواب کي به ستا حصه وي.

## د تسلي کلمه ويل:

يا مثلاً يو سړی په تکليف او پرېشاني کي مبتلا دی، تا د ده د پرېشانۍ د ليري کولو د پاره وده ته د يو تسلي کلمه ادا کړه، چي د هغه په نتيجه کي د ده پرېشاني کمه سوه او وده ته يو څه تسلي حاصله سوه، نو دا ستا دغه د تسلي کلمه ادا کول ستاد پاره د عظيم اجر او ثواب سبب وګرځيدله لکه د پيغمبرﷺ حديث مبارک داسي راځي:

.........مَنْ عَزّٰى ثَكْلٰى كُسِيَ بُرْدًا فِي الْجَنَّةِ﴾.(۱)

يعني يو سړی يو داسي زناني ته د تسلي کلمات ادا کړل چي د هغې بچی ورک سوی، يا مړ سوی وو، نو الله تعالى دې تسلي ويونکي ته په جنت کي يو ډېر قيمتي لباس ورنصيب کوي.

علامه ابن کثير رحمة الله عليه د پيغمبرﷺ دا حديث هم رانقل کوي، چي کله په يو کور کي د يو چا بچی وفات سوی، يا شهيد سوی وي، نو يو سړی د هغه مور او پلار يا د هغه نورو قريبانو ته د تسلي کلمات ادا کړي، او د ده په وينا سره د هغو په غم کي څه سپکوالی راسي.

نو چي الله تعالى و هغه قريبانو ته د قريب پر شهادت او وفات باندي څومره ثواب ور کوي، نو هغومره ثواب ودې تسلي ورکونکي ته پر تسلي ورکولو [illegible]

نو غرض مې دادې: چې ژبه په نیکو کارو کې استعمالول او په ژبه سره د خیر کلمات ادا کول، او د مسلمانانو د پرېشانیو د کمولو د پاره خپله ژبه پر کار اچول په ډېر لږ وخت کې د انسان عمل نامه د ثواب او اجر خزانه جوړه وي.

یا مثلاً یو سړی په لار روان دی، لیکن صحیح لار نه ورته معلومېږي، تا د هغه رهنمائي وکړه، او ده ته دې صحیح لار وروښووله نو ظاهراً خو تا یو کشنی عمل وکړي، او شاید ستا به په خیال او فکر کې داهم نه وي، چې ما د نیکۍ کار وکړی، لیکن الله تعالی د دې په بدله کې ستا په عمل نامه کې بیشماره اجر او ثواب لیکي.

بهر حال که چیرې یو سړی خپله ژبه صحیح استعمال کړي، نو بیا تاسو یقین وکړی، چې د ده دپاره د جنت دروازې راخلاصېږي، او د ده د بې شماره ګناهونو د مغفرت ذریعه جوړېږي.

لیکن خدانخواسته که چیرې ژبه انسان په ناجائزو کارونو کې او په غلطو وېناګانو کې استعمال کړي، نو بیا خو داغه ژبه د ده دپاره د جهنم ذریعه هم جوړېږي.

## ژبه کله انسان جهنم ته رسوي:

په حدیث کې پیغمبرﷺ فرمایلي دي: چې په انسانانو کې څومره خلګ جهنم ته ځي په هغو کې اکثریت هغه خلګ وي، چې د خپلې ژبې استعمال ئې غلط کړی وي، مثلاً درواغ ویل، غیبت کول، د مسلمان زړه پرېشانه کول، د چا په تکلیف باندې خوشحال کېدل، چې په دغه ګناهونو کې د انسان ژبه استعمال سي، د هغه په نتیجه کې انسان جهنم ته ورسېږي، لکه پیغمبرﷺ چې فرمایي:

......وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَوْ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ﴾.(۱)

(۱) ترمذي: کتاب الایمان: حدیث نمبر ۲۶۱۶

يعني د ډېر خلګ د خپلې ژبې د تيزي په خاطر جهنم لره ځي، لهذا چې کمه ژبه الله تعالى موږ ته را کړې ده، نو هغه لږ په سوچ او فکر سره استعمالول او هميشه په خپل قابو کې ساتل او په صحيح طريقه سره د دې د استعمال فکر کول، او بې احتياطه نه چلول، څکه پيغمبر ﷺ فرمايي:

......﴿مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ﴾.(١)

چې کم څوک د الله او د الله پر رسول باندې ايمان لري، نو د خير خبرې دې کوي، او يا دې پټه خوله پاته سي.

نو خاموشه او پټه خوله پاته کېدل په عامو مجلسو کې نه، بلکې په داسې ځايونو کې دي، دا د انسان دپاره لوی عبادت او د حفاظت ذريعه بلل کېږي، لکه پيغمبر ﷺ چې وايي:

......﴿الْعِبَادَةُ عَشَرَةُ أَجْزَاءٍ تِسْعَةُ أَجْزَاءٍ فِي الصَّمْتِ، وَجُزْءٌ فِي الْفِرَارِ مِنَ النَّاسِ﴾.(٢)

عبادت لس(۱۰) حصې دی، نه(۹) حصې په خاموشي او پټه خوله کېدو کې دي، او يوه حصه د خلګو څخه په لېرې اوسېدلو کې ده.

او بعض کتابو عافيت هم په خاموشي کې بللی دی لکه صاحب د "تنبيه الغافلين" دا حديث رانقل کړی دی:

......﴿بَلَغَنِي أَنَّ الْعَافِيَةَ عَشَرَةُ أَجْزَاءٍ، تِسْعَةٌ فِي السُّكُوتِ، وَوَاحِدَةٌ فِي الْفِرَارِ مِنَ النَّاسِ﴾.(٣)

چې ماته د پيغمبر ﷺ څخه دا خبره رارسېدلې ده، چې ده مبارک به فرمايل: چې عافيت لس(۱۰) حصې دی، نه(۹) حصې په سکوت او خاموشي کې دی، او يوه حصه د خلګو څخه په لېرې والي کې ده.

نو که څوک د عافيت زندګي د عبادت په پوښ کې غواړي نو د هغه دپاره بهترينه لار داده: چې خپله زندګي په تنهائي او خاموشي کې تېره کړي.

(١) صحيح البخاري: حديث نمبر ۶۰۱۸

(٢) مسند الفردوس: ديلمي حديث نمبر ۴۳۲۱

## حضرت مریم علیها السلام ته د خاموشي انعام:

په بعضو حکایاتو کي لا داهم رانقل سوي دي: چي حضرت مریم علیها السلام چي کله داندر ومانی، چي زه به خبري نه کوم او د الله تعالی په خاطر ئې خپله ژبه بنده کړه، نو الله سبحانه تعالی د دې د بچي حضرت عیسیٰ علیه السلام ژبه خلاصه کړه او د هغه په ذریعه سره ئې د دې پاکدامني او عصمت ښکاره کړې.

او علامه ابن جوزی رحمة الله علیه په "بحرالدموع" کي لا دا خبره هم رانقل کړې ده: چي کم سړی د الله تعالی په خاطر په دنیا کي د خپلي ژبی حفاظت وکړي، نو الله تعالی به د زکندن پر وخت د ده پر ژبه د شهادت کلمه جاري کړي.

او چي کم چا خپله ژبه د مسلمانانو په عزتو خرابولو کي استعمال کړه، او په خپله ژبه سره ئې د انسانانو پوشیده عیبونه په معاشره کي ښکاره کړل، الله تعالی به د ده ژبه د زکندن پر حالت باندي د شهادت د کلمې د وینا څخه محرومه او بې نصیبه کړي.(۱)

او پیغمبر صلی الله علیه وسلم داسي هم فرمايي:

......مَنْ كَثُرَ كَلَامُهُ كَثُرَ سَقَطُهُ، وَمَنْ كَثُرَ سَقَطُهُ قَلَّ وَرَعُهُ، وَمَنْ قَلَّ وَرَعُهُ مَاتَ قَلْبُهُ، وَمَنْ مَاتَ قَلْبُهُ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ﴾.(۲)

چي کم سړی زیاتي خبري کوي، نو د هغه لغزشونه زیات وي، او چي د کم سړي لغزشونه زیات سو، نو د هغه ورع او تقوٰی کمه سي، او چي د کم چا ورع او تقوٰی کمه سي، نو د هغه زړه مړ سي، یعني عبادت ته ئې زړه نه غواړي، او چي د کم چا عبادت ته زړه نه ورغواړي، نو هغه به د جنت څخه محروم او بې نصیبه پاته وي.

او بعض کتابو د حضرت عمر رضي الله عنه هغه نصیحت هم رانقل کړی دی، چي خپل شاګرد احنف بن قیس ته ئې کوي:

(۱) بحرالدموع: اردو نسخه: صفحه نمبر ۲۰۷

(۲) الزهد لابن عاصم: حدیث نمبر ۵۴

.........﴿يَا أَحْنَفُ مَنْ كَثُرَ كَلَامُهُ كَثُرَ سَقَطُهُ وَمَنْ كَثُرَ سَقَطُهُ قَلَّ حَيَاؤُهُ وَمَنْ قَلَّ حَيَاؤُهُ قَلَّ وَرَعُهُ وَمَنْ قَلَّ وَرَعُهُ مَاتَ قَلْبُهُ﴾.(۱)

اې احنفه! چې د کم چا خبرې ډېرې سي، نو د هغه خطاګانې ډېرې وي، او چې د کم چا خطاګانې ډېرې وي، نو د هغه حياء کمه وي، او چې د کم چا حياء کمه سي نو د هغه تقوی کمه وي، او د تقوی د کمېدو سره د انسان زړه مري، او د زړه مړه کېدل د انسان دپاره د جنت د محرومي سبب ګرځي.

## د حضرت علي ﷺ وصيت:

حضرت علي ابن طالب ﷺ به خپل بچي حضرت حسن ته دا وصيت کاوی: چې:

.........﴿أَمْسِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، فَإِنَّ تَلَافَ الْمَرْءِ فِي مَنْطِقِهِ﴾.(۲)

د خپلې ژبې حفاظت کوه ځکه د انسان هلاکت د ده په وينا کي وي، د حضرت علي ﷺ د دې څخه مراد عبث او غلطه وينا مراد ده، ورنه د دين وينا او بامقصده او د مصلحت وينا د دې څخه مستثنٰی ده.

## اول تلل بيا ويل:

نو د ډېرو خبرو کولو څخه انسان منع سوی دی، ځکه که چيري انسان زياتي خبري کوي، نو ژبه ئې په قابو کي نه وي، نو ضرور به د ده څخه په خبرو کي تجاوز کيږي، او د هغه په وجه به انسان په ګناه کي مبتلا کيږي، نو د شريعت تعليم دادی: چې تر ضرورت زياتي خبري نه کول او خپله ژبه د خپل ضرورت مطابق په خبرو کي استعمالول په کار دي.

لکه يو بزرګ فرمايلي دي: چې د انسان د پاره اول د خبري تلل دي، او د هغه څخه وروسته بيا ويل دي، چې کله انسان خبره د تللو څخه وروسته کوي، نو بيا خو د انسان ژبه په قابو کي راځي.

(۱) روضة العقلا: باب حفظ اللسان: صفحه نمبر ۴۴

(۲) بحر الدموع: الفصل الثامن والعشرون: صفحه نمبر ۱۲۵

## د ژبې د قابو کولو علاج:

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه (چې زموږ د ټوله "اهل سنت والجماعت" داعقیده ده: چې د انبیاؤ علیهم السلام څخه وروسته د ټولو څخه افضل انسان دی) په باره کې راځي: چې یو ځل ده مبارک خپله ژبه د لاس په ګوتو کې نیولې وه، او پرله پیچله ئې خلګو پوښتنه ځنې وکړه، چې ای ابوبکره! داسې ولې کوي؟ ده په جواب کې ورته وویل:

.........إِنَّ هَذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ﴾.(۱)

دې ژبې زه د ډېرو لویو هلاکتو سره مخامخ کړی یم، نو دا ژبه قابو کول غواړم.
په بعضو روایاتو کې لا داسې هم راځي: چې ده به همیشه په خپله خوله کې ډبره اچولې وه، د دې د پاره چې بلاضرورت خبره تر خوله راڅخه ونه وزي.
بهرحال ژبه داسې اندام دی، چې د هغه په ذریعه سره انسان جنت هم پیدا کولای سي، او دوزخ هم، نو ځکه د دې قابو کول ضروري دي، چې بې ځایه استعمال نه سي، او د هغه طریقه داده: چې انسان د ډېرو خبرو څخه ځان وګوري، ځکه انسان چې څومره زیاتې خبرې کوي، هغومره په ګناه کې مبتلا کیږي.
چنانچه د اصلاح غوښتونکي انسانان چې کله یو بزرګ لره د خپلې اصلاح په خاطر ورسي، نو هغه د هر سړي د پاره د ده د حاله سره مناسب عمل تجویز کوي، او ډېر حضرات داسې وي، بزرګان د هغو د اصلاح د پاره صرف د ژبې په قابو کې ساتل تجویز کوي.

## زموږ د معاشرې حالت:

نن سبا زموږ او ستاسو په معاشره کې د ژبې د غلط استعمال یو وباء ګرځیدلې ده، حالانکه دا ډېره خطرناکه خبره ده په عامو حالاتو کې دوستان راوبلل سي، چې تاسو راسئ یو ساعت به ګپ شپ او مجلس وکړو.

(۱) موطا امام مالک: کتاب الکلام: باب ماجاء فی مایخاف من اللسان

چي کله هغه د ګپو شپو مجلس شروع سي، نو په هغه کي درواغ هم ويل کيږي، او غيبت هم کيږي، او د مسلمانانو عيبونه ښکاره کيږي، او د نورو انسانانو چمونه را نقل کيږي.
نو د هغه نتيجه داوي: چي هغه يو مجلس نه معلوم چي د څومره ګناهونو مجموعه وي، نو د ټولو څخه مخکني عمل دادی: چي انسان د خپلي ژبې د قابو کولو اهميت په زړه کي پيدا کړي، الله تعالی دي په خپل رحمت سره زموږ په زړو کي د ژبې قابو کولو اهميت را واچوي. (آمين)

## د ژبې لغزش:

دا يو حقيقت دی: چي د ژبې لغزش او ښويدل د پښو د لغزش او ښوېدلو څخه زيات خطرناک دی، ځکه که د انسان پښې وښوييږي، نو انسان دوباره ولاړېدای سي، لېکن که چيري د ژبې څخه غلطه خبره صادره سي، نو بيا خو د انسان په اختيار کي هيڅ پاته نه وي.
حضرت حسن بصري رحمة الله عليه به په خپولو مجالسو کي اکثر داويل: چي ما ته يو ماشوم بچي ډېر لوی نصيحت وکړی، يو چا پوښتنه ځني وکړه، چي حضرت هغه څنګه نصيحت وو؟
ده په جواب کی ورته وويل: چي يو ځل باران سوی وو، او په لاره کي ختې وې، خلګ په ډېر احتياط سره پر هغه لار روان وو.
زه هم په هغه خلګو کي روان وم، يو ماشوم بچی مي وليدی چي مخامخ را روان وو، ما ورته وويل: چي بچيه! قدم په احتياط اخله هسي نه چي وښوييږې.
ده په جواب کي راته وويل: چي ای شيخه! زه که چيري وښوئيږم، نو بيرته به ولاړسم، ته د خپل ځان زيات خيال ساته که چيري ته وښوئيدې نو بيا خو به ټوله امت تباه کړې.
يعني د خپلو اعمالو او اقوالو زيات خيال ساته که چيري هغه غلط سول بيا خو ته د امت مقتدا ئې، نو ټوله امت به په غلطي کي واقع کړې.

نو ده مبارک به فرمایل: چې ماته هغه بچي د احتیاط او استقامت ډېر لوی درس راکړی.

## ژبه د زړه ترجمانه وي:

یحیٰ ابن معاذ رحمة الله علیه ډېر لوی بزرګ تیر سوی دی، هغه به ویل: چې د انسان د زړه مثال د "کټوي" دی، او د ژبې مثال ئې د "کاچوغي" دي، نو کاچوغه همیشه هغه څه راباسي، چې په کټو کي څه موجود وي.
نو د انسان ژبه هم همیشه هغه وینا کوي، چې د انسان په زړه کي څه وي، که چیري په زړه کي ظلمت وي، نو د ژبې څخه همیشه بده وینا راوځي، او که چیري په زړه کی نور وي، نو د ژبې څخه پاکیزه وینا صادرېږي.

## په مجلس کي احتیاط کول:

چې کله انسان په یو مجلس کي کښېني، باید د بدو کلماتو ادا کولو څخه خپل ځان وګوري، ځکه چې کله دی د مجلس څخه ولاړ سي، نو بیا نور خلک د ده د اقوالو حکایت ضرور کوي، او دا د ده د عزت د کموالي سبب ګرځي.
د هوښیارانو انسانانو وینا ده، چې که انسان د علماؤ په محفل کي کښېني، نو د خپلي ژبې سره دي احتیاط کوي، او چې کله د حکماؤ په محفل کي کښېني، نو خپل نګاه او نظر دي، په احتیاط سره کوي، او چې کله د بزرګانو په محفل کي کښېني، نو خپل زړه دي په قابو کي ساتي.
عام طور دا تجربه سوې خبره ده: چې اوږده ژبه د انسان عمر کموي، ځکه چې څومره زیات انسان وینا کوي، هغومره زیات خپل ځان په مصیبت کي مبتلا کوي.

**عجيب نصيحت:**

حضرت خواجه باقي بالله رحمة الله عليه ډېر کم ګو او خاموشه انسان وو، يوه ورځ يو مريد ورته وايي: چې حضرت چې کله کله دي، موږ ته نصيحت کولای نو موږ به ډېره فائده ځني اخستلای.

حضرت په جواب کي ورته وويل: چې کم چا زما د خاموشي څخه فائده نه واخسته هغه زما د خبرو څخه هيڅ فائده نه سي اخستلای.

نو ځکه د الله تعالی نيک بندګان هميشه خاموش طبع وي، البته که چيري د يو علمي مسئلې ځای راسي نو بيا خو بقدر ضرورت وينا کولای سي.

عام طور په معاشره کي بې وقوف انسان د خپلي ژبې څخه معلوميږي، لکه دا يو مشهور متل دی: چې د بې وقوف په غاړه د ږنګولې ضرورت نسته ځکه د ده ژبه په خپله هم هر چاته د ده بې وقوفي ښکاره کوي.

لکه د هوښيارانو قول دی: چې عقلمند انسان د سوچ او فکر څخه وروسته خبره کوي، او بې وقوف انسان د خبري کولو څخه وروسته سوچ او فکر کوي.

نو د انسان د پاره په انساني معاشره کي د بد ژبانه خلکو سره وينا کول مناسب نه وي، ځکه چې کله هغه د خولې د خوا خراب وي، او تا ته يوه بې کاره کلمه پيش کړي، نو ته به ضرور د هغه جواب ورکوې، نو ضرور به د ده په صف کي ورسره شامليږې.

لکه پيغمبر ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته فرمايي: چې تاسو خپل مور او پلار ته ښکنځل مه کوئ، صحابه کرام رضي الله عنهم پوښتنه ځني کوي، چې ای د الله نبي! خپل مور او پلار ته به څوک ښکنځل کوي؟

پيغمبر ﷺ ورته وايي: په تاسو کي چې يو سړی د بل مور او پلار ته ښکنځل وکړي، نو هغه به په جواب کي ضرور د ده ومور او پلار ته ښکنځل کوي، دا داسي دي، لکه دې سړي چې په خپله خپل مور او پلار ته ښکنځل وکړل.

## زناني او د ژبې غلط استعمال:

هسې خو ټوله معاشره د ژبې په ګناهونو کې مبتلا ده، لېکن پیغمبرﷺ په احادیثو کې د زنانو متعلق چې د کمو کمزورېو بیان کړی دی، په هغو کې یوه کمزوري دا هم ده چې د زنانو عام طور خپله ژبه په قابو کې نه وي.
لکه په روایاتو کې راځي، چې پیغمبرﷺ وزنانو ته په خپل خطاب کې فرمایي: چې ای زنانو! ما په جهنم کې د ټولو انسانانو څخه زیات تاسو ولیدلاست، یعني د نارینوو په مقابله کې ستاسو تعداد زیات وو، زناني پوښتنه کوي، چې ای د الله رسوله! د دې څه وجه وه؟ پیغمبرﷺ ورته وایي: چې
.........تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ﴾.(۱)
تاسو لعن طعن ډېر کوي، او د خپلو خاوندانو نا شکري ډېره کوي، په دې وجه په جهنم کې ستاسو تعداد زیات دی.
تاسو ګورئ! په دې حدیث کې چې پیغمبرﷺ کمې دوې(۲) خبرې زنانو ته کړې دي، د هغو د واړو تعلق د ژبې سره دی.
نو دا ښکاره خبره ده: چې پیغمبرﷺ په زنانو کې د کمو کمزورېو تشخیص کړی دی، نو په هغه کې لویه کمزوري د ژبې بې ځایه استعمالول ښکاره سوي دي، مثلاً چا ته پېغور ور کول، او چاته بده خبره کول، او د چا غیبت کول، او د چا چغلي کول، دا ټول په دې کې داخل دي.

## د ژبې پر حفاظت د جنت ضمانت:

پیغمبرﷺ به صحابوو ته فرمایل:
.........مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ﴾.(۲)

(۱) صحیح البخاري، حدیث نمبر ۳۰۴
(۲) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۶۴۷۴

لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی:

.........إن الرِّبَا نَيِّفٌ وَسَبْعُونَ بَابا أهْوَنُهُنَّ بَابًا من الرِّبَا مِثْلَ مَنْ أتى أمَّهُ فِي الإسْلَامِ وَدِرْهَم مِنَ الرِّبَا أشَدُّ مِنْ خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ زَنْيَةً وَأشَدُّ الرِّبَا وَأرْبَى الرِّبَا وَأخْبَثُ الرِّبَا اِنْتِهَاكُ عِرْضِ الْمُسْلِمِ وَانْتِهَاكُ حُرْمَتِهِ﴾.(۱)

د سود داويا(۷۰) څخه زياتي دروازې(حصې) دي، په هغو کي د ټولو څخه د کمتر "سود" د حصې ګناه داسي ده: لکه (نعوذبالله) يو سړی چي د خپلي مور سره په حالت د اسلام کي بدکاري کوي، او د سود يو درهم خوړل د پنځه دېرش(۳۵) ځله زنا کولو څخه هم سخته ګناه ده.

او د ټولو څخه سخترين سود، او تر ټولو لوی سود، او ترټولو بدترين سود، هغه د مسلمان عزت او حرمت خرابول، يعني د مسلمان غيبت کول دي.

نو د ژبې د ټولو څخه اهم ترين عمل دادی: چي د غيبت څخه ئې انسان محفوظه وساتي.

بيا خاص د علماؤ او د بزرګانو د تحقير او تذليل په نيت غيبت کول، داد عامو خلکو په مقابله کي زيات شديد او قبيح دي، د هغه وجه داده: چي د الله تعالی په نظر کي د علماء کرامو او بزرګانو د جماعت درجه ډېره لوړه ده، نو ځکه د هغو بې عزتي کول الله تعالی ته زياته ناخوښه وي، لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی چي الله تعالی فرمايي:

.......مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ﴾.(۲)

چي کم څوک زما د يو ولي سره دښمني ساتي زه د هغه خلاف اعلان جنګ کوم.

او داغه رنګه په عربيت کي معروفه مقوله ده:

........لُحُومُ الْعُلَمَاءِ مَسْمُومَةٌ﴾ يعني د علماؤ غوښي نهايت زهرېله وي، چي د دوی غيبت کونکي ته سخت نقصان رسوي.

---

(۱) الترغيب والترهيب: حديث ۴۲۸۲

د علماؤو او د بزرګانو تحقير او تذليل داسي جرم دی، چي د هغه سزاء الله تعالیٰ نه صرف په آخرت کي بلکه په دنيا کي هم ورکوي، چي کم خلګ په دې باره کي بې احتياطي کوي، هغه قدرتي طور په دنيا کي هم د ذلت خوارۍ او بې عزتۍ سره مخامخ سوي دي.

نو ځکه د هر مسلمان دا فرض دی، او د ده د هوشيارۍ تقاضا داده: چي خپل ځان د الله تعالی د عذاب څخه وساتي، او د علماؤو د غيبت په وجه خپل ځان د تباهي وکنده ته نه ورواچوي، او نه داسي مجلس ته ورسي، چي په هغه کي د عامو مسلمانانو يا د علماؤو غيبتونه کيږي.

بهرحال د ژبې حفاظت ډېر ضروري عمل دی، چي تر څو پوري انسان پر ژبه باندي قابو نه وي پيدا کړی، او دا ئي د ګناه څخه نه وي، راګرځولي تر هغه وخته پوري، انسان د خپل ځان په اصلاح کي کاميابۍ ته نه سي رسېدلای.

الله تعالی دي، مور او تاسو ته د خپلي ژبې د حفاظت کولو توفيق رانصيب کړي، او الله تعالی دي، دا څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایہ)

# غصہ قابو کول

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب و تخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کاسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِرَسُولِ اللّٰهِ ﷺ أَوْصِنِي، وَلَا تُكْثِرْ عَلَيَّ قَالَ: لَا تَغْضَبْ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! د تېرو څو جمعو څخه د"لقمان حکيم" نصيحتونه سلسله وار بيانيږي، په هغه نصيحتو کي يو نصيحت داوو:

چي اى انسانه! کله چي ته په يو مجلس او محفل کي کښېني، نو د خپلي ژبي حفاظت کوه.

د ژبي د حفاظت کولو متعلق په تېره جمعه کي په تفصيل سره خبره وسوه، الله تعالى دي ئې په خپل دربار کي قبوله او مقبوله وګرځوي، او الله تعالى دي موږ اوتاسو ټولو ته پر هغه باندي د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.(آمين)

(١)سورة آل عمران: آيت نمبر ١٣٤

(٢)جامع الاصول، حديث نمبر ۶٢٠۵

د ژبي د حفاظت كولو يوه حصه داهم ده: چي انسان د غصې او غضب او خښم كولو څخه خپل ځان وګوري، او د غصې او غضب په وخت كي د پوچ او ردبد ويلو څخه خپله ژبه محفوظه كړي.

## "غصه" يو فطري شی دی:

هسي خو الله تعالی "غصه" او خښم د هر انسان په فطرت كي ايښی دی، په دنيا كي داسي انسان نسته چي په هغه كي دي د خښم او غصې ماده نه وي، او الله تعالي د يو حكمت ماتحت دا ماده په انسان كي پيدا كړې ده.

دا ماده كه چيري يو انسان په قابو كي وساتي، او هغه په خپل قابو كي راولي، نو بيا خو به انسان په خپله زندګي كي د زياتو ګناهونو څخه محفوظه پاته كيږي. ما مخكي درته وويل: چي دا ماده د الله تعالی د حكمت سره تعلق لري، ځكه كه چيري په انسان كي دا ماده وجود نه ولري، نو كه چيري پر انسان باندي دښمن حمله وكړي، او ده ته "غصه" نه ورځي، يا يو "درنده" پر ده حمله وكړي، او په ده كي "غِصه" نه وي، نو بيا ذی د خپل ځان دفاع هيڅ كله نه سي كولای، لهذا د خپلي جائز دفاع دپاره د غصې استعمال جائز دي، شريعت پر دې باندي هيڅ پابندي نه ده لګولې.

## د غصې متعلق ګناهونه:

لېكن دا غه "غصه" كه چيري انسان په قابو كي نه وساتي، نو د دې په نتيجه كي چي كم ګناهونه صادريږي نو هغه بيا ډېر زيات دي.

۱. د غصې څخه "تكبر" پيدا كيږي.
۲. د غصې څخه "حسد" پيدا كيږي.
۳. د غصې څخه "بغض" پيدا كيږي.
۴. د غصې څخه "عداوت" پيدا كيږي.

او د دې څخه علاوه نه معلوم چې څومره خرابياني دي، چې هغه د غصې څخه پيدا کيږي، چې کله د انسان "غصه" په قابو او کنټرول کې نه وي.
مثلاً چې کله ستا "غصه" پر يو چا باندې راسي، او س هغه سړی چې ته ورته په "غصه" ئې ستا په قابو کې وي، يعني تر تا کمزوری وي، نو د دې غصې په وجه به ته وده ته تکليف ور رسوې، يا به ئې وهې، يا به وده ته بده وينا او ښکنځل کوې، او په هغه سره به د ده زړه زهير کوې، دا ټول د ګناه کارونه دي، چې د غصې په وجه باندې مخته راغلل.
څکه د غصې په وجه که چيري يو سړی چاته ښکنځل وکړي، نو پيغمبر ﷺ فرمايي:
......سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ﴾.(١)
يعني مسلمان ته ښکنځل کول بدترين فسق دی، او د مسلمان قتل کول کفر دی، داغه رنګه د غصې په نتيجه کې صرف بل مسلمان ته طعن او تشنيع کول، چې په هغه سره د مسلمان دل شکني وسي، دا هم لويه ګناه ده، خو دا ټول ګناهونه هغه وخت پيدا کيږي، چې ستا وداسې چاته "غصه" راغله چې هغه تر تا کمزوری يعني و تاته پر هغه باندې قابو حاصل وي.

## د غصې څخه "بغض" پيداکيږي:

ليکن که چيري ستا "غصه" و يو داسې چاته راغله چې هغه تر تا ماتحت نه وي، او نه ستا په قابو کې وي، نو د غصې په نتيجه کې به ته د ده غيبت ضرور کوې، مثلاً چې کم چاته په "غصه" سوې هغه تر تا قدرت مند او صاحب اقتدار دی، نو د هغه ومخته خو ته نه څه ويلای سې، او نه ژبه خلاصولای سې، بلکل به د هغه ومخته ته خاموش ئې.

(١) صحيح البخاري: حديث نمبر ۴۸

لېکن چې کله د هغه ځای څخه ولاړ سوې، نو بیا به په هر مجلس کې د هغه بدې بیانوې، او هم به د هغه غیبت کوې، او دغه غیبت کول هم د غصې څخه پیدا سو.
کله کله خو داسې هم وي: چې انسان د بل چا هر څومره غیبت وکړي، خو بیا ئې هم زړه نه په سړېږي، بلکه د ډېرې غصې په وجه د ده زړه دا غواړي، چې د دغه سړي غوښې وشکوم او ده ته زیات تکلیف وررسوم.
مګر چونکه هغه صاحب قدرت دی، او د ده پر هغه سړي باندې هیڅ قابو نه وي، نو د هغه په نتیجه کې د ده په زړه کې د غصې یو کیفیت پاته وي، د دغه کیفیت نوم "بغض" دی.
چې د ده په زړه کې هر وخت دا خواهش وي، که چیرې موقع په لاس راغله نو زه به ده ته تکلیف ورسوم، او که چیرې هغه سړي ته خودبخود تکلیف وررسېدی، نو دی بیا ډېر خوشحاله وي، نو دغه "بغض" چې یو مستقله ګناه ده هم د غصې څخه پیدا کیږي.

## د غصې څخه "حسد" پیدا کیږي:

او چې پر کم سړي د انسان "غصه" راغله، که چیرې هغه ته د تکلیف پر ځای راحت او خوشحالي ورسېږي، مثلاً هغه ته د یو ځای څخه زیاتې پیسې یا یو ښه منصب په لاس ورسي، نو ستا به په زړه کې دا خواهش وي، چې دا منصب او مال او دولت به څنګه د ده څخه ضائع او ختم سي، نو د دې نوم دې "حسد" او دغه "حسد" هم د غصې څخه پیدا کیږي.
نو د غصې په وخت کې که چیرې د انسان پر بل سړي باندې قابو وي، نو هم بېشماره ګناهونه ځنې صادرېږي، او که قابو نه وي، نو هم د بېشماره ګناهونو ذریعه جوړېږي.
لېکن که چیرې انسان خپله "غصه" په قابو کې وساتي، نو بیا خو به د دې ډېرو ګناهونو څخه محفوظه پاته وي.

نو حضرت ابو هريره ﷺ فرمايي:

.......إِنَّ رَجُلاً قَالَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصِنِي، وَلَا تُكْثِرْ عَلَيَّ﴾ يو سړی پيغمبر ﷺ ته راغلی ورته وايي: ای د الله رسوله! ماته يو نصيحت وکړه، خو ډېر اوږد نصيحت به نه راته کوې، نو هغه سړی د نصيحت کولو درخواست هم کوي، او د دې سره دا شرط لګوي، چې مختصر به وي، پيغمبر ﷺ پر دې شرط باندې يوه ذره ناراضګي نه ښکاره کوي، چې سړيه! نصيحت هم غواړې او شرطونه هم راباندې لګوې.

بلکه هغه سړي ته د ده د غوښتني په مقابل کې دا يو مختصره جمله او نصيحت پېشوي: ﴿قَالَ: لَا تَغْضَبْ﴾(١) ته "غصه" مه کوه.

که چيرې انسان د پيغمبر ﷺ په دې مختصر نصيحت سره عمل وکړي، نو د سوو نه بلکه د زرو ګناهونو څخه محفوظه پاتېدای سي.

## د غصې په وجه حقوق العباد ضائع کېدل:

که چيرې انسان د عامو انسانانو پر حالاتو نظر وکړي، نو انسان ته به دا حقيقت ورښکاره سي، چې د انسان په ذات کې د ګناه سرچشمې دوې(٢) دي:

١. يو غصه.

٢. دوهم شهوت.

لېکن د شهوت په وجه چې د انسان څخه کم ګناهونه کيږي، کڅه هم لوی ګناهونه دي، خو بيا هم چې کله الله تعالی انسان ته د توبې توفيق ورکړي، نو د توبې په وجه انشاءالله هغه ګناهونه معافيږي، او د هغو څخه د انسان توبه قبلېږي، او هغه ګناهونه د انسان د عمل نامې څخه خرابېږي.

لېکن د غصې په وجه چې د انسان څخه کم ګناهونه صادرېږي، د هغو اکثريت تعلق د حقوق العباد سره وي، مثلاً د غصې په وجه يو څوک وهل، يا يو چاته بده

وینا کول، یا د یو چا زړه زهیر کول، دا ټول حقوق العباد دي، داغه رنګه د غصې په وجه د یو چا غیبت کول، یا د یو چا سره بغض کول، یا د یو چاسره حسد پیدا کول، د دې ټولو هم تعلق د حقوق العباد سره دی.

او حقوق العباد ضائع کول، دا دومره سنګینه او درنه خبره ده، که چیرې انسان وروسته د هغه څخه منع هم سي، او توبه هم وکاږي، نو هم د هغه انسان توبه کامله نه وي، ځکه چې د کم انسان ئې حق ضائع کړی وي، تر څو پورې چې هغه نه وي معاف کړی، نو تر هغه وخته پورې په هیڅ شکل د ده دغه ګناه نه معافیږي.

الله تعالی په توبه کولو سره به خپل حق خو به معاف کړي، لیکن د بندګانو چې کم حقوق تا تر پښنو لاندې کړي دي، هغه تر هغه وخته پورې نه معافوي چې تر څو پورې تا د هغو بندګانو څخه معافي حاصله کړې نه وي.

او س به ته د چا او چا څخه معافي اخلې، او د هغو حقوق به د خپلي عمل نامې څخه څنګه خرابوې، او هغه انسانان به ته چیرې پیدا کوې، نو زه وایم: چې په حقوق العباد کې کوتاهي کول، ډېر سنګین عمل دی، نو ځکه پیغمبر ﷺ د هغه سړي په جواب کې دا مختصر او جامع نصیحت پېشوي چې: ﴿لا تغضب﴾ ته غصه مه کوه.

چې کله انسان پر خپله غصه باندې قابو حاصل کړي، او غصه په خپل قابو کې راولي، نو الله تعالی فرمایي: چې کله زما بنده خپله غصه قابو او کنټرول کړله، نو زه هم اوس د ده سره د غصې معامله نه کوم.

## پر غصه نه کولو باندي عظیم بشارت:

لکه د پیغمبر ﷺ په بعضو احادیثو مبارکوکې لا دا مضمون هم راغلی دی: چې د قیامت په ورځ به د حساب او کتاب دپاره یو بنده د الله تعالی وحضور ته پیش سي.

الله تعالی به د فرشتو څخه پوښتنه وکړي، چي د دې بنده په عمل نامه کي کم نیک اعمال لیکلي دي؟ حالانکه الله تعالی ته هر څه ورمعلوم دي، لیکن بعضي او قات وانسانانو ته د ښکاره کولو دپاره بعضي پوښتني کوي.

نو فرشتې به په جواب کي ورته ووایي: چي د دې سړي په عمل نامه کي زيات نیک اعمال خو نسته نه ئې زيات نفلي لمنځونه کړي دي، او نه ئې زيات عبادتونه کړي دي.

لیکن د ده په عمل نامه کي يو خاص نیک عمل لیکلی دی: هغه دا چي کله به يو سړي د ده سره زیادت او تجاوز وکړی، نو ده به همېشه هغه ته معافي کوله.

او چي کله به د يو سړي پر ذمه باندي د ده مالي حق راغلی، او هغه سړي به ده ته دا ویل: زما سره د ادا کولو وسع او طاقت نسته نو ده به خپلو نوکرانو ته ویل: چي چونکه دا سړی د حق ادا کولو استطاعت نه لري، نو ئې پرېږدئ، نو ده به هغه سړي ته خپله حق ورپرېښوی.

الله تعالی چي کله د فرشتو څخه دا واوري، نو به ورته وايي: چي کله زما دا بنده زما د بندګانو سره د معافي معامله کوله، او هغو ته ئې خپله حق ورپرېښوی، نو نن زه هم د ده سره د معافي معامله کوم، او دی معاف کوم، او تر خپل حق ورتېرېږم، چنانچه پر دغه بنیاد باندي به الله تعالی د ده مغفرت کوي.

لکه په قرآن کريم کي الله تعالی د نیکو مسلمانانو په تعریف کي هم فرمایلي دي:

......وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ﴾.(١)

یعني نیک مسلمانان هغه دي: چي هغه خپله غصه کنټرول کوي، او د مسلمانانو سره د معافي معامله کوي.

او پیغمبر ﷺ په خپلو احادیثو مبارکوو کي پر غصه خوړلو باندي د انسانانو دپاره ډېر لوی انعام بیان کړی دی: لکه په حدیث شریف کي راځي:

(١) سورة آل عمران: آیت نمبر ۱۳۴

......مَا مِنْ جُرْعَةٍ أَعْظَمَ أَجْرًا عِنْدَ اللّٰهِ، مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ كَظَمَهَا عَبْدٌ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ وَمَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى إِنْفَاذِهِ، مَلَأَ اللّٰهُ قَلْبَهُ أَمْنًا وَإِيمَانًا﴾.(۱)

د الله تعالى په درباركي د غصې د غرڅ تيرولو څخه بل هيڅ داسي خوښ غړڅ نسته چي انسان ئې تېر كړي، او چي كم سړي خپله غصه تېره كړه، په داسي حال كي چي دى د هغې پر كښېلو باندي قادر وو، الله تعالى به د ده زړه د امن او ايمان څخه معمور او آباد وګرځوي، په بعضو احاديثو كي لا داجمله هم راغلې ده:

......دَعَاهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ اللّٰهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ مَا شَاءَ﴾.(۲)

چي الله تعالى به ئې د قيامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو ومخته راطلب كړي، او ده ته به دا اختيار وركړي، چي د جنت كمه حوره دي خوښه ده، هغه د ځان دپاره منتخبه كړه.

## مجاهده كول:

نو دغه وجه وه، چي زموږ د دين بزرګانو لره به چي كله يو سړى د اصلاح دپاره راتلى، نو د توبې كښېلو څخه وروسته به ئې اكثر وده ته دا سبق وركاوى، چي خپله غصه به مكمله ختم كوې، او د غصې ختم كولو دپاره به ئې په هغه باندي لوى لوى مجاهدې كولې.

## د عبدالقدوس ګنګوهي رحمة الله عليه د زوى مجاهده:

حضرت شيخ عبد القدوس ګنګوهي رحمة الله عليه د ډېري لوړي درجې د اولياوو څخه وو، او ډېر زيات خلک به دده كور لره د خپلي اصلاح دپاره راتلل، د ده صاحبزادګانو يعني (زامنو) د ده په زندګي كي د ده قدر نه و پېژاندى.

---

(۱) مسند احمد، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۱۲۸ ؛ ابن ماجه: حديث نمبر ۴۱۸۹ ؛ بحر الدموع: صفحه نمبر ۲۴۶

(۲) سنن ابي داود: حديث نمبر ۴۷۷۷

اکثر داسي وي: چي تر څو پوري مشر او بزرګ په کور کي ژوندی وي، نو د کور د انسانانو په زړو کي د هغه خاص قدر نه وي، او نه د هغه تربيت او مقام ور معلومیږي، چي کله د دنیا څخه رخصت سي، نو بیا د دوی سترګي خلاصي سي، چي زموږ څخه څومره لوی دولت د لاس څخه وواتی.

حضرت عبدالقدوس ګنګوهي رحمة الله عليه چي تر څو پوري ژوندی وو، نو ډېر خلک به دلېري وطنو څخه د ده څخه د فیض اخستلو دپاره راتله، لېکن د ده خپل بچي د ده هیڅ پرواه نه کوله، همېشه به په خپلو میلو او تماشو کي مشغوله وو، چي کله د ده اِنتقال وسو، نو بیا هلته د ده و بچي ته درک ولګېدی.

چي کله یوه ورځ دی د کور پر بام باندي کوتري الوزوي، او په تماشو باندي مصروف وو، نو په کوڅه کي یو بازاري بزرګ چي چېنه ئې اغوستې وه، او مرېدان په پسې وه، روان وو، نو ده بطور مسخره دبام څخه ږغ ورباندي کوي: چي سرېه! تاکله پیري شروع کړې ده، یعني ته څو په حقیقت کي پیر نه ئې، نو هغه په جواب کي ورته وایي: چي تاسو کله کبوتر بازي شروع کړه، نو موږ مجبوره سو چي اوس مي پیري شروع کړه، نو هغه هم دا خبره د یو طعن او پېغور په شکل ورته وکړه.

دې خبري د عبدالقدوس ګنګوهي رحمة الله عليه د زوی پر زړه باندي ډېر زیات اثر وکړی، نو کورته راغلی د خپلي مور څخه معلومات کوي، چي زما پلار ته چي کم خلک د خپلي اصلاح دپاره راتلل او زما د پلار څخه ئې د اصلاح دولت پورته کړی، په هغو کي به څوک داسي وي، چي هغه زما د پلار څخه زیات فیض حاصل کړی وي.

نو مور د یو بزرګ نوم ور وښووی چي ستا د پلار په متعلقینو کي پلانکي بزرګ ستا د پلار څخه زیات فیض حا صل کړی دی، او هغه اوس په "بلخ" کي اوسېږي، او د شیخ عبدالقدوس ګنګوهي رحمة الله عليه کور په هندوستان کي وو.

چنانچه هغه صاحبزاده د "ګنګوه" يعني هندوستان ځخه د "بلخ" پر طرف د تګ اراده وکړه، او هغه بزرګ ته ئې اطلاع ورکړه، چې زه ستا حضورته درځم، هغه بزرګ ته چې کله دا اطلاع ورسېده چې زما د شيخ زوی تشريف راوړي، نو هغه په خپل کلي کي خپل ټول متعلقين راطلب کړل، او دا ئې ورته وويل: چې د هندوستان ځخه زما د شيخ زوی زموږ وطن لره رارسېدونکی دی، موږ او تاسو به ټوله د هغه مخ ته ورووزو او د هغه به استقبال کوو.

نو چې کله هغه بزرګ د خپلو مرېدانو سره د دې صاحبزاده استقبال ته راغلی نو په ډېر اعزاز او اکرام سره ئې خپل کور ته راوستی، او د ده د مهمانۍ په خاطر ئې بهترين دعوت جوړ کړی، او بهترينې نفقې ئې ورته برابري کړې.

چې کله يوه(۱) او دوې(۲) ورځې تېرې سوې، نو صاحبزاده هغه بزرګ ته وايي: چې حضرت! تاخو زما سره ډېر محبت وکړی، او زما دې ډېره قدرداني او عزت وکړی، حالانکه زه ستا حضور ته د يو بل مقصد دپاره راغلی يم.

هغه بزرګ پوښتنه ځنې کوي، چې د کم مقصد دپاره راغلی ئې؟ نو هغه شهزاده په جواب کي ورته وايي: چې حضرت! د دې مقصد دپاره راغلی يم، چې زما د پلار ځخه چې کم دولت يعني فيض تاسو راوړی دی، نو د هغه يو حصه زه بېرته ستاسو ځخه حاصلول غواړم، ځکه موږ په زندګي کي غفلت وکړی، او د ده ځخه مو هغه فيض او دولت حاصل نه کړی.

هغه بزرګ په جواب کي ورته وويل: چې کله ته د دې مقصد دپاره راغلی ئې، نو اوس د دې مقصد حاصلولو په خاطر پر تا باندي مهماني اعزاز او اکرام او دا دعوت او شانداره خورکې ټولي بندي سوې.

اوس به ته داسي کوې چې د مسجد سره يو حمام يعني د غسل او اودس کولو چې کم ځای دی، هلته به ستا هستوګنه او د شپې او ورځي ګزاره وي، او دورځي به ځې ځنګله ته، بوټي به راوړې او د شپې به په هغه د حمام اوبه ګرمه وې،

چونکه د یخ موسم دی، د ټولو لمونځ گزارانو دپاره به ته د اوداسه د گرمو اوبو انتظام برابروې.
نو صاحبزاده ته ئې ووېل، چي بس ستا داغه یو کار دی، نور ئې وده ته نه یو وظیفه او نه یو تسبیح او اوراد وروښوول، شهزاده چي ځان ته وکتل چي چیري هغه اعزاز او اکرام او نن ده ته دا خدمت وسپارل سو.

## د تکبر علاج:

چونکه هغه شهزاده په ډېر اخلاص سره د خپلي اصلاح دپاره راغلی وو، نو د هغه بزرگ د وینا مطابق ئې هغه کار پر مخ روان کړی، نو یو څه اوږده زمانه د ده پر ذمه دا غه کار وو، چي پنځه(۵) وخته لمونځ کول، او د مسجد د حمام دپاره اوبه گرمول.
څکه هغه بزرگ په دې پوهېدی، چي په دې صاحبزادگانو کي خانداني شرافت وي، او د هغه په وجه د دوی په زړو کي طهارت او پاکي وي.
مگر په دوی کي یو عیب هم اکثریت ځای پیدا کیږي، چي هغه عیب د تکبر او د خپلي لويي وي، نو د دوی د علاج دپاره ودوی ته داسي کارورسپارل سو، چي په هغه سره د دوی د دغه عیب او بیماري علاج وسي.
یو څه زمانه وروسته شیخ د دې خبري امتحان اخلي چي هغه د شهزادگۍ خیال او تصور د ده په زړه کي سته او که ختم سوی دی، د دې امتحان اخستلو دپاره هغه بزرگ د خپل کور "بنگی" (خاکروب) چي هغه به د کور "بیت الخلا" صفا کوله، او د هغه نجاست به ئې لیري وړی، هغه ته ئې ووېل: نن چي ته کله د دې کور نجاست او امبار پر کمه لار باندي وړې نو د حمام سره چي کم د حمام ذمه وار د اُور پر بلولو مقرر سوی دی، دا خپله د انبار او نجاست ډکه بالتۍ به در سره وي، او د هغه سره به نژدې تېر سې، ده چي څه در ته ووېل، ته به هیڅ نه ورته وایي، چي واپس راغلې، هغه حال به ما ته راکړې.

چنانچه د هغه بنگي د انبار د که بالتي په لاس کي د هغه شهزاده سره تېر سو نو هغه شهزاده ته ډېر غصه او غضب ورغلی، او دې بنگي ته ئې وویل: چي دا دومره لار دي پرېښوله او راغلې زما ومخ ته تېرېږې دا دي ډېر بد عمل وکړی، که چیري "کنگوه" وای ما به وتاته د دې عمل بدله درکړې وای.
نو هغه بنگی چي واپس راغلی نو خپل شیخ ته ئې د ده د جواب اطلاع او معلومات ورکړل، نو هغه بزرگ ته دا ورښکاره سول چي تر اوسه پوري لا په دې صاحبزاده کي د صاحبزادگی یو څه کسر باقي دی، نو یو څه زمانه ئې نوره هم پر دا غه کار باندي مقرر وساتی.

## دوهم امتحان:

چي کله بیا یو څه زمانه تېره سوه، نو هغه بنگی ئې راطلب کړی، او ورته وئې ویل: چي اوس به د انبار څخه ډکه بالتۍ درسره واخلې، او د دې ځل به بلکل وده ته نزدې تېر سې، چي ده څه درته وویل، هغه به ماته راور سوې.
نو هغه بنگی د دې ځل هغه صاحبزاده ته ډېر قریب تېر سو، نو هغه صاحبزاده دې بنگي ته په غصه وکتل خو په ژبه باندي ئې هیڅ نه ورته وویل، هغه بنگی ورغلی، هغه بزرگ ته ئې اطلاع ورکړه چي نن خو دا واقعه پېښه سوه، یعني په غصه ئې راته وکتل خو په خوله ئې څه نه راته وویل.
نود هغه بزرگ په دې سر خلاص سو، چي دا علاج د صاحبزاده دپاره انشاءالله مؤثر ثابت دی.

## دریم امتحان:

بیا یو څه زمانه بعد هغه بزرگ بنگي ته حکم وکړی، چي د دې ځل به ده ته دومره قریب تېرېږې، چي د انبار بالتۍ د ده د جامو سره ولگېږي، او قصداً به نوک ووهې، او د انبار بالتۍ به پر ده باندي غوځاره کړې؛ چي دی ښه په نجاست
... ته دومره قریب تېر سو، چي

نجاست د هغه د کپړو سره ومښتي، او قصداً ئې يو څه نجاست د ده پر جامو باندي ورچپه کړې.
نو د دې ځل هغه صاحبزاده بلکل هغه ښځي ته نه په پورته نظر وکتل، او نه ئې څه ورته وويل، هغه ښځی بزرګ ته راغلی او د دې حالاتو اطلاع ئې ورکړه، نو هغه شيخ ډېر خوشحاله سو، او وايي: چي الحمدلله ډېره فائده سوې ده.

## څلورم امتحان:

بيا يو څه زمانه بعد شيخ هغه ښځي ته حکم ورکړی، چي د دې ځل به هغه د نجاست بالټۍ درسره واخله چي کله د ده سره تېرېږې، نو قصداً به نوک ووهې، او په دې شکل چي د بالټۍ ټول نجاست د ده پر بدن باندي ورتوی کړې، بيا به د ده حال ماته راوړې.
چنانچه هغه ښځی د بالټۍ سره چي کله د ده سره تېرېږي، نو ځان ئې غوځار کړی، او ټول نجاست ئې پر هغه صاحبزاده باندي توی کړی، او د دې پر ځای چي د صاحبزاده سره د خپل ځان فکر وي، بلکه د هغه ښځي فکر ور سره پيدا سو، او د هغه ښځه ئې پوښتنه وکړه او را پورته ئې کړې، چي خوږ خو نه سوې؟ د خپل ځان هيڅ غم ورسره نسته چي زما کپړې يا بدن خو په نجاست باندي خراب سو.
چنانچه هغه ښځی ورغلی، هغه بزرګ ته ئې بيا د دې اطلاع ور کړه، نو هغه وفرمايل: چي انشاءالله اوس د کاميابۍ اميد سته.

## لوی امتحان او دولت باطني ور کول:

د دې څخه وروسته يو بله واقعه پېښه سوه، هغه دا: چي شيخ د ښکار کولو دپاره ځنګله ته تلی او ښکارکونکي سپيان(تازيان) هم ورسره وه، شايد هغه بزرګ به په دې کي هم يو دېني مصلحت او حکمت لېدلی وو، او د ښکاري سپيانو په ذريعه باندي ښکار کول څه ناجائز کار هم نه دی، بلکه جائز دی.

چي کله هغه بزرګ د ښکار دپاره روانېدی، نو هغه صاحبزاده ئې هم دځان سره روان کړی او د ښکاري سپي ځنځير ئې د ده په لاس کي ورکړی، هغه ښکاري سپی چونکه ډېر قوي او طاقتور وو، او دی بېچاره ډېر نحيف او کمزوری او فاقه مست وو.

چنانچه چي کله هغه ښکاري سپی په ښکار پسي منډي کړې، نو هغه صاحبزاده د کمزوري په وجه دهغه سپيانو سره يورنګه منډي نه سوې وهلای نو غوځار سو، او چونکه د بزرګ د طرفه دا حکم وو: چي د سپي ځنځېر به نه ايله کوې، نو ځنځېر هم نه سي پرېښولای نو په هغه سپي په سي ځکېږي او بدن ئې ټوله زخمي او په وينو ولړل سو، لېکن د هغه بزرګ د حکم پر ځای کولو په وجه ئې ځنځېر دلاسه خطا نه کړی.

د دې واقعې څخه وروسته هغه بزرګ خپل شيخ حضرت مولانا عبدالقدوس ګنګوهي رحمة الله عليه په خوب کي وېنی نو هغه ورته فرمايي: چي ما خو پر تا باندي دومره مشقتونه نه دي راوستلي لکه ته چي ئې نن زما پر اولاد باندي راولې، ځکه د اولاد خيال د هر پلار سره وي.

چنانچه چي کله سهار سو، نو هغه بزرګ صاحبزاده راطلب کړی، او په سينه پوري ئي ونيوي، او ورته وئې ويل: چي کم دولت ما ستا د پلار څخه راوړی وو، تا زما څخه د هغه دولت غوښتنه کړې وه نو چي کم ستاد پلار امانت وو، هغه امانت لو دولت نور زما د طرفه وتاته در وسپارل سو، چونکه د دغه طرزعمل بغېر هغه دولت تا ته نه سو رسېدلای نو ځکه ما ستاسره دغه طرزعمل اختيار کړی.(۱)

(۱) اصلاحي خطبات: جلد نمبر ۸: صفحه نمبر ۲۶۴

## غصه خوړل د ملائکو څخه مخته کېدل:

بهر حال ما تاسو ته دا خبره عرض کړله، چي کله هغه صاحبزاده د خپلي اصلاح دپاره بزرگ ته راغلی، نو نه هغه وده ته څه وظیفه، او نه څه تسبيحات، نه نور څه معمولات ورته بیانوي، بلکه اولنی کار دا کوي: چي د هغه په ذريعه د ده دماغ څخه تکبر ختم سي، او د الله تعالی د بندګانو سره ئې د نيک سلوک کولو جذبه پېداسي؛ او غصه چي د تکبر سبب او نتيجه ده ختم سي.

حکيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي د سلوک او تصوف "عظيم باب" او اول قدم دادی: چي د انسان د طبيعت څخه غصه ختمه سي، او انسان خپله غصه په قابو کي راولي، چي کله د انسان غصه په قابو کي راغله نو الله تعالی انسان داسي مقام ته رسوي چي بيا به ملائکي هم په ده باندي غبطه کوي.

په ملائکو کي غصه موجوده نه ده، او نه و دوی ته د يو چا څخه تکليف رسېږي، نو ملائکي په دغه حال کي د الله تعالی عبادت کوي، خو دغه عبادت په دغه سي حالاتو کي کول ډېر لوی کمال نه بلل کېږي، الله تعالی فرمايي: چي ما دوی د غسي پيدا کړي دي، چي د دوی په مزاج او فطرت کي بلکل غصه نسته.

لېکن بل طرف ته انسان د آدم عليه السلام اولاد دی، چي د هغه په خلقت او فطرت کي الله تعالی غصه ايښې ده، او بيا هم انسان د الله تعالی د ډېري څخه او يا د الله تعالی د محبت څخه خپله غصه قابو کوي، نو دغه د آدم اولاد د ملائکو څخه هم په درجه کي لوړېږي، هغه څنګه لوړېږي، تاسو به ئې اوس واوری.

## د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه واقعه:

حضرت امام ابو حنيفه رحمة الله عليه چي د هغه په فقه موږ او تاسو ټوله عمل کوو، او په ټوله دنيا کي الله تعالی د هغه فيض جاري کړی دی، د ده سره په خپل وخت کي حاسدين يعني حسد کونکي ډېر زيات وو، ځکه چي الله تعالی وده ته ډېر

لوړ مقام او زیات شهرت ورکړی وو، نو د معتقدینو سره سره حاسدین ئې هم درلودل، چي هغو به د حسد په وجه د ده بدی بیانولې، او ده ته به ئې ردبد ویل.
یوه ورځ دی مبارک کورته روان دی، نو یو سړی په لار کي ور سره ملګري سو، او مسلسل ئې په توله لار کي وده ته بنکنځل پوچ او رد ویل، دی مبارک دغسي روان وو، هیڅ ئې نه ورته ویل.
چي کله د کوڅې کنج او د کرځېدلو ځای راغلی، نو و دربدی، او هغه سړي ته ئې وویل: چي چونکه د دې ځای څخه زما او ستا لار سره جلا کېږي، زه پر جلا لار کورته ځم او ستا د کور لار جلا ده، هسي نه چي ستا په زړه کي حسرت او ارمان پاته سي، لهذا زه پر دې ځای یو ګړی درته درېږم، ته چي کم بنکنځل راته کوې، یا پوچ او رد راته وائې نو خپل ارمان پوره کړه، او هغه راته ووایه، نو بیا به زه د خپل کور پر طرف ولاړسم، دا واقعه په کتابو کي لیکلې موجوده ده.

## توله شپه په عبادت کي تیرول:

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په حالاتو کي لیکلي دي: چي د ده مبارک همېشه معمول داوو، چي د ماخستن په اوداسه به ئې د سهار لمونځ کاوی، د هغه هم عجیبه قصه وه.
په ابتداء کي دده داسي معمول نه وو، بلکه په ابتداء کي د ده معمول داوو: چي د شپې په اخره حصه کي به د تهجد د لمانځه دپاره راپورته کېدی.
یو ه ورځ پر لار باندي روان دی، نو دوې(۲) سپین سري(بوډۍ) زناني هم رواني دي، هغه یوه وبلي ته وایي: هغه سړی چي د ماخستن په لمانځه باندي همېشه د سهار لمونځ کوي، هغه دغه دی، او ده ته ئې اشاره وکړه.
امام ابو حنیفه رحمة الله علیه چي کله دا الفاظ واورېدل، نو ده ته غیرت ورغلی چي دا بوډۍ زما په باره کي دا ګمان لري چي زه د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کوم، حالانکه په حقیقت کي زه داسي نه یم، نو د دې خو مطلب دادی: چي زما په داسي خبره باندي خلک تعریفونه کوي، او هغه په ما کي نسته.

نو د دغه ورځې څخه ئې دا عزم او قصد وکړی، چې آئنده به ټوله عمر د ماخستن
په اوداسه سره د سهار لمونځ کوم، چنانچه د دې څخه وروسته ده مبارک دا
معمول جوړ کړی، چې ټوله شپه به ئې عبادت کاوی، او د ماخستن په اوداسه به
ئې د سهار لمونځ هم ادا کاوی.

او داسې نه وو، چې ټوله شپه به ئې عبادت کاوی، نو بیا به ټوله ورځ بیده وو،
ځکه چې امام ابو حنیفه رحمة الله علیه تجارت هم کاوی، او درس او تدریس د ده
معمول وو، او ده ته به انسانان د لرې علاقو څخه د علم حاصلولو دپاره راتلل
لهذا ده به ټوله شپه عبادت کاوی، او د سهار د لمانځه وروسته به ئې درس او
تدریس او د تجارت وغیره کارونه سرته رسول او په دې باندې به د ماپښین تر
لمانځه پورې مصروف وو، او د ماپښین د لمانځه څخه بعد به ئې تر ماذیګر
پورې د پرېوتلو او آرام کولو معمول وو.

## د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه یوه بله عجیبه واقعه:

یوه ورځ د ماپښین د لمانځه بعد کورته راغلی، او په خپل کور کې بالاخانې ته
پورته سو، او هلته د آرام کولو د پاره پر بستره پرېواتی، په دې دوران کې یو چا
لاندې د کور دروازه وټکوله، تاسو اندازه ولګوئ، چې کم سړی ټوله شپه د
عبادت کولو په خاطر ویښ وي، او ټوله ورځ په درس او تدریس باندې مصروف
وي، نو په دې وخت کې چې پر ده باندې دروازه وټکول سي، د ده به کم کیفیت
وي، او په داسې وخت کې چې ده ته یو انسان راسي نو ده ته به څومره ناخوښه
وي، چې داسې بې وخته یو سړی ورته راسي.

لیکن امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د بسترې څخه راولاړ سو، او د بالاخانې څخه پر
زینو باندې راکښته سو، دروازه ئې ورخلاصه کړه، که ګوري یو صاحب ولاړ
دي، امام صاحب پوښتنه ځنې وکړه چې سړیه! څنګه ولاړ یې؟ هغه سړي ورته
وویل: چې د یو مسئلې پوښتنه مې در څخه کوله.

تاسو ګورئ! چي کله امام صاحب د مسائلو بیانولو دپاره خپل وخت مقرر کړی وو، نو هغه سړي هلته د امام صاحب څخه مسئله نه پوښتله اوس بې وخته د امام صاحب د پرېشانه کولو او د خوب خرابولو دپاره دلته راغلی.

لېکن امام ابو حنیفه رحمة الله علیه هغه سړي ته هیڅ نه وویل، بلکه ورته وایي: چي سړیه! څه مسئله معلومول غواړې، هغه سړی ورته وایي: چي څه ووایم، زه چي اوس راتلم نو پر لار مي هغه مسئله په یاد وله چي دا به د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه څخه پوښتم، لېکن اوس راڅخه هېره سوله او د دماغ څخه مي ؤوتله هیڅ په یاد نه راځي.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ورته وایي: چي کله مسئله په یاد درغله بیا راسه زما څخه پوښتنه وکړه، نه ئې هغه سړي ته بده خبره وکړه، او نه ده لره غصه ورغله بلکه په خاموشي او آرامه سره واپس بالاخانې ته وخاتی، او پر خپله بستره باندي پرېواتی.

چي کله ئې سترګي سره ورغلې، نو دوباره دروازه وټکېدله، دی مبارک بیا راکښېناستی او لاندي راغلی، دروازه ئې ورخلاصه کړه، که ګوري نو هغه سړی بیا ولاړ دی.

دی بیا پوښتنه څني کوي، چي سړیه! څنګه راغلې نو هغه ورته وایي: چي حضرت! ما ته هغه مسئله په یاد راغله، د هغې د پوښتني دپاره راغلم.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ورته وایي: چي دمسئلې پوښتنه وکړه، هغه سړي ورته وویل: چي تر اوسه پوري مي په دماغ کي وه، او هم راته یاده وه، لېکن کله چي د زینو نیمائي ته راورسیدې، نو زما د دماغه ووتله، او راڅخه هېره سوه.

که چیري د یو عام انسان سره داسي وسي، نو د هغه د اشتعال او غصې به څه حالت وي، مګر امام ابو حنیفه رحمة الله علیه خپل نفس تر پښو لاندي کړی وو، هغه سړي ته بیا د غصې کولو پر ځای صرف دومره وایي: چي سړیه! هیڅ خبره نه ده، چي کله مسئله دریاده سي، نو راسه زما څخه ئې پوښتنه وکړه، د دې څخه

وروسته امام ابوحنیفه رحمة الله علیه بالاخانې ته پورته سو او پر بستره باندې پرېواتی.
چې بیا ئې سترګي سره ورځي، نو درېیم ځل دروازه وټکېدله امام ابوحنیفه رحمة الله علیه بیا راولاړ سو، او پر زینو راکښته سو، چې دروازه ئې ورخلاصه کړه، که ګوري هغه سړی بیا ولاړ دی، او وایي: چې حضرت! هغه مسئله او س په یاد راغله.
امام ابو حنیفه رحمة الله علیه پوښتنه ځني کوي، چې څه مسئله ده؟ نو هغه سړی ورته وایي: چې دا مسئله مي معلوموله چې دانسان دنجاست (پاخانه) خوند ترېخ وي، او که خوږ وي؟ نو دغه مسئله معلومول غوارم.

## د صبر پیمانه ډکېدل:

که چیري بل سړی وي، نو تر دې وخته پوري به ضبط او صبر وکړي، لېکن د هغه سړي د پوښتني کولو څخه وروسته د هغه د صبر پیمانه ضرور ډکېږي.
لېکن امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په ډېر زیات اطمینان سره جواب ورکوي، چې که چیري د انسان نجاست تازه وي، نو په هغه کي خوږ والی وي ، او که چیري وچ سي، نو ترېخ والی پکښي پیداکېږي.
هغه سړی بیا پوښتنه ځني کوي، چې ایا تا د دې نجاست خوند کتلی دی؟ (العیاذ بالله) چې ته وماته دا معلومات راکوې.
حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ورته وایي: چې سړیه! د هر شي علم د څکلو سره کار نه لري، بلکه د بعضو شیانو علم په عقل سره هم معلومېږي، او د انسان عقل انسان ته داوایي: چې کله نجاست تازه وي، نو پر هغه باندي مچان کښېني، او چې کله وچ سي، نو مچان نه پر کښېني، د دې څخه دامعلومه ده: چې د وچ او تازه په مابین کي فرق دی، ورنه نو مچان به پر دواړو کښېنستای.

## د خپل وخت حلیم انسان:

چي کله امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دا جواب ورکړی، نو هغه سړي ورته وویل: امام صاحب! زه وستا وحضـ ـرته دواړه لاسونه جوړه کوم، او ستا څخه معافي غواړم ته به ما ته معافي کوې، ماتاته ډېر تکلیف دوررسوی، لیکن تا نن زه د ماتي سره مخامخ کړم، امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ورته وایي: چي ما ته څنګه د ماتي سره مخامخ کړې؟

هغه سړي ورته وویل: چي زما د یو دوست سره پر یو خبره بحث روان وو، زما وینا داوه: چي حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه په علماوو کي د ټولو څخه زیات برداشت والا انسان دی، او غصه نه کونکی بزرګ دی.

او زما دوست راته وویل: چي د ټولو څخه بردبار او غصه نه کونکی بزرګ امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دی، او زموږ ددواړو په مابین کي دا بحث راغلی نو بیا موږ د دې خبري د معلومات کولو دپاره دا طریقه وسنجوله: چي زه به په داسي وخت کي ستا کورته راځم چي کله ستا د آرام وخت وي، او دغه رنګه به تا دوه(۲) درې(۳) واره کښته پورته خېژوم، او بیا به ستا څخه داسي بې هوده سوال کوم، او دا به ګورم چي ته په غصه کي راځې او که نه؟

ما ورته وویل: که په دې شکل امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په غصه کي راغلی، نو خبره ما وګټله او که چیري غصه نه سو، نو خبره تا وګټله.

لیکن نن تازه مات کړلم او واقعه داده: ما د مځکي پر مخ داسي حلیم انسان چي هغه ته غصه نژدې هم ورتلای نه سي، ستا څخه علاوه بل څوک نه دی لیدلی.

د دې څخه تاسو اندازه ولګوئ! چي د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه کم مقام وو، چي د ده پر مقام باندي ملائکي په غبطه کي رانه سي، نو د چا پر مقام به راسي، چي امام ابو حنیفه رحمة الله علیه بلکل خپل نفس ختم کړی وو. (۱)

(۱) اصلاحي خطبات، جلد نمبر ۸: صفحه نمبر ۲۷۰

## "حلم" انسان ته زينت ور کوي:

چنانچه پيغمبرﷺ به همېشه دا دعاء کوله:

........﴿اَللّٰهُمَّ اَغْنِنِي بِالعِلْمِ وَزَيِّنِّيْ بِالْحِلْمِ﴾.(۱)

اې الله ماته په علم باندي غنا راکړې، او په حلم باندي مي ښائسته کړې.
يعني وقار او علم رانصيب کړې، د انسان سره چي کله علم وي، او حلم او بردباري نه لري، نو بيا د علم باوجود په انسان کي آراستګي اوزينت نه سي راتلای.

## د غصې څخه د حفاظت تدابير:

لکه څنګه چي قرآن کريم او د پيغمبرﷺ احاديثو انسان د غصې کولو څخه منع کړې دی، داغه رنګه ئې د غصې څخه د خپل ځان د حفاظت کولو تدابير هم بيان کړي دي، او زموږ بزرګانو به د هغه تدابيرو په ذريعه د غصې قابو کولو مشق همېشه کاوی.

اوله خبره خو دا ده: چي کله انسان ته غيراختياري طور غصه راسي، او د انسان په طبعيت کي جوش پېداسي، پر دې غيراختياري غصه او جوش باندي د الله تعالى د طرفه هيڅ مواخذه نه وي، ځکه چي هغه د انسان د اختيار څخه وتلې ده.
لېکن په طبعيت کي چي غصه او جوش راغلی نو د انسان دپاره مناسب دادي: چي دغه جوش او غصه په خپلو حدودو کي دننه وساتي او د هغه اثر په خپل فعل او قول باندي ښکاره نه کړي.
مثلاً ستا يو سړي ته غصه راغله او په زړه کي دي جوش او جذبه پيدا سوه، نو دا هيڅ د ګناه خبره نه ده، لېکن که چيري د دې غصې په نتيجه کي تا هغه سړی وواهی، او يا دي ښکنځل ورته وکړل، يا دي په خپل فعل او قول سره د هغه زړه

(۱) کنزالعمال: حديث نمبر ۳۶۶۳

زهر کړي، نو ګویا د دغه غصې په تقاضا باندي تاعمل وکړی، نو اوس به پر دې باندي الله تعالی تا ته سزا درکوي، او داګناه ده.

## د غصې په وخت کي "اعوذبالله" ویل:

لهذا چي کله هم په زړه کي غصه او جوش راسي، نو د ټولو څخه مخکي هغه کار کول چي الله تعالی په قرآن کریم کي د هغه تلقین فرمایلی دی:

.......وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ﴾.(۱)

یعني چي کله شیطان د غصې په شکل تاته یو وسوسه در واچوي، نو ته د شیطان د شر څخه په الله سره پناه غواړه او "اعوذبالله من الشیطان الرجیم" وایه، چي اې الله! زه د دې شیطان مردود د شر څخه پناه غواړم، اوس چي کله شیطان په دماغ کي غصه در واچوله لېکن تا د الله تعالی څخه د پناه طلب وکړی، نو انشاءالله د غصې د بدي تېجې څخه به الله تعالی ستا حفاظت کوي.

لهذا د دې خبري عادت جوړول: چي کله غصه راسي، نو فوراً "اعوذبالله" ویل، هیڅ مشکل کار نه دی، صرف د خپل سوچ راګرځول او پر دې باندي د مشق کولو ضرورت دی.

## د غصې په وخت کي کښېنستل یا پرېوتل:

د غصې په وخت کي دوهم کار دا کول: چي د هغه تلقین موږ ته پیغمبر ﷺ فرمایلی دی: او ډېر لوی عجیب او غریب نفسیاتي کار دی، پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي کله په طبیعت کي د غصې تېزي وي نو په دې وخت کي که ته ولاړ وې، نو کښېنه، که چیري بیا هم په غصه کي کمي رانه غله نو پرېوزه.

ځکه د غصې خاصیت دا دی: چي دا لوړه ځي او و دماغ ته پورته کېږي، او چي کله د غصې غلبه وي، نو انسان لوړ طرف ته غورځي، چنانچه تاسو به لېدلي

(۱)سورة الاعراف: آیت نمبر ۲۰۰

وي، چي د غصې په وخت کي که انسان پروت وي، نو راکښېني، او که ناست وي، نو ولاړېږي، نو ځکه د دې غصې د ختم کولو دپاره دا تدبېر ښوول سوي دي: چي ته به د غصې برعکس کار کوې، لهذا که چیري د غصې په وخت کي ته ولاړ وې، نو به کښېنې، او که ناست وې، نو به پرېوزې او خپل ځان به کښته حالت ته راولې.

دا تدبېر پیغمبر ﷺ بیان کړی دی، ځکه تاسو ته دا معلومه ده: چي د غصې په وجه نه معلوم انسان په کم مصیبت کي مبتلا سي، نو ځکه پیغمبر ﷺ د غصې د کمولو دپاره دا آسانه تدبیر انسانانو ته ښکاره کړی دی. (۱)

په یو روایت کي لا داسي هم راغلي دي: چي د غصې په وخت کي د انسان دپاره دا مناسب دي، چي په دې وخت کي دی یخې اوبه وچښي.

## د غصې په وخت کي د الله تعالی د قدرت فکر کول:

یو تدبیر دا هم دی: چي انسان د غصې په وخت کي باید دا فکر وکړي: لکه څنګه چي زه پر دې انسان باندي غصه کوم، که چیري الله تعالی ماته دا رنګه په غصه سي، نو په هغه وخت کي به بیا زما څه حالت وي.

په حدیث شریف کي راځي: چي یو ځل پیغمبر ﷺ په لار کي روان وو، که ګوري حضرت صدیق اکبر ﷺ خپل غلام ته په غصه دی، او ډېر سخت الفاظ ورته وایي، نو پیغمبر ﷺ په هغه وخت کي ورته وفرمایل:

......لَلهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ﴾. (۲)

چي ستا څومره قدرت او اختیار پر دا غلام باندي حاصل دی، د هغه څخه زیات قدرت او اختیار الله لره پر تا باندي حاصل دی، ته په خپل قدرت او اختیار سره

---

(۱) ابو داود: کتاب الادب: باب ما یقال عند الغضب

(۲) شرح السنة للبغوي: حدیث نمبر ۲۴۱۰

دې غلام ته تکلیف ور رسوې هسې نه چې الله تعالی په خپل قدرت او اختیار سره د دې څخه زیات تکلیف وتاته ورسوي.

## د الله تعالی "حلم":

د الله تعالی حلم ته نه ګورئ! چې څومره په ښکاره مخلوق د هغه نافرماني کوي، کفر کوي، شرک کوي، د ده د وجود څخه انکار کوي، لېکن الله تعالی د دې ټولو باوجود ټولو ته رزق ورسوي.
بلکه پر خپلو بعضو نافرمانه بندګانو باندې دنیا په ډېر کثرت سره راوروي، نو دا د الله تعالی حلم او برداشت بلل کېږي، لکه په روایاتو کې راځي:
......تخلقوا بأخلاق الله﴾. (۱)
په خپلو ځانو کې د الله تعالی د اخلاقو پیدا کولو کوشش وکړئ، او دافکر کوی، چې کله الله تعالی خپله غصه پر خپلو بندګانو باندې نه استعمالوي، او نه پرې مابانديي غصه کوي، نو زه پر خپلو ماتحت انسانانو باندې ولې غصه استعمال کړم.

## د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل غلام ته غصه کېدل:

په روایت کې راځي: چې کله پیغمبر ﷺ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ولېدی، چې هغه خپل غلام ته تیز الفاظ ویل، نو پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل:
.........لَعَّانِينَ وَصِدِّيقِينَ؟ كَلَّا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ﴾. (۲)
یعني یو طرف ته ته پر خپل غلام لعنت او ملامتیا کوې، او بل ظرف ته به صدیق هم جوړېږې زما دې په رب د کعبې قسم وي، چې داسې نه سي کېدای.
یعني ستا مقام خو د صدیقیت دی، او د صدیقیت سره لعنت کول هیڅ کله نه سي جمع کېدای نو په دې طریقه سره پیغمبر ﷺ دی د غصې کولو څخه منع کړی.

---

(۱) حلیة الاولیاء وطبقات الاصفیاء، صفحه نمبر ۳۷۶
(۲) شعب الایمان: حدیث نمبر ۴۷۹۱

لهذا چي كله ويو چاته په غصه سوې نو د ډېرولو څخه مخكي دا تصور كوه، چي څومره قابو او قدرت ماته پر دې بنده باندي حاصل دی، د هغه څخه زيات قدرت الله تعالی لره پر ما باندي حاصل دی، كه چيري الله تعالی ما د غصې په شكل راوګرځوي، نو بيا به زما څه حالت وي، بهر حال د غصې قابو كولو دپاره دا څو مختلف تدبيرونه دي، چي قرآن كريم او نبي كريم ﷺ موږ ته راښولي دي.

## په ابتداء كي بلكل غصه نه كول:

په ابتداء كي چي كله انسان د خپلو اخلاقو اصلاح كول شروع كړي، نو په هغه وخت كي به د پر حق غصې كولو څخه هم پرهيز كوي.

يعني بعضي ځايونه داسي وي، چي هلته غصه كول جائز او برحق وي لېكن د يو مبتدي دپاره چي هغه اوس د خپل نفس اصلاح كول شروع كړي وي، مناسب دادی: چي د حق او ناحق د فرق كولو بغير پر هره موقع باندي خپله غصه قابو كړي، چي رفته رفته دا خبيثه ماده په اعتدال كي راسي، كه چيري يو ځل انسان داقابو كړي، او د دې زهر د خپل ځان څخه ختم كړي، د هغه څخه وروسته چي دی د غصې استعمال كوي، نو هغه به انشاءالله د غصې د صحيح استعمال ځای وي.

## په غصه كي اعتدال:

بعض اوقات د غصې كولو ضرورت پېښ سي خاص بيا پر هغه انسانانو چي د انسان زېرتربيت وي، مثلاً پلار ته پر خپل اولادباندي د غصې كولو ضرورت پېښ سي، يا استاذ ته پر خپلو شاګردانو باندي يا شيخ د خپلو مرېدانو د اصلاح په خاطر غصه كوي، نو دومره غصه دي كوي چي څومره ئې ضرورت وي، د ضرورت څخه دي زيات تجاوز نه كوي.

ځکه که انسان په غصه کولو کي د ضرورت څخه زيات تجاوز وکړی نو بيا په هغه کي د انسان خپل نفسانيات ګډيږي، او د هغه غصې په وجه په رزق کي بې برکتي راځي، او د هغه په نتيجه کي به انسان ګناه ګاره کيږي.
بهر حال غصه دا د الله تعالی د طرفه يو ماده په انسان کي د يو حکمت په خاطر ايښول سوې ده، که چيري انسان دغه ماده په قابو او کنټرول کي وساتي نو بيا به د زندګي د بې شماره ګناهونو څخه محفوظه وګرځي.
نو ځکه د هغه سړي د نصيحت غوښتني په جواب کي پيغمبرﷺ د غصې نه کولو تلقين ورته کوي.
الله تعالی دي موږ او تاسو ته د پيغمبرﷺ پرتهولو تعليماتو باندي دعمل کولو توفيق رانصيب کړي، او الله تعالی دي د پيغمبرﷺ پر نقشه او قدم د زندګی تېرولو توفيق راکړي، او الله تعالی دي داځو مختصري خبري په خپل دربار عالي کي قبولي اومقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایہ)

# خپل مرګ یاد ساتئ

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مـقــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريــــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾(١).

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ﴿أَكْثِرُوا مِنْ ذِكْرِ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ، فَإِنَّهُ مَا ذَكَرَهُ أَحَدٌ فِي ضِيقٍ مِنَ الْعَيْشِ إِلاَّ وَسَّعَهُ عَلَيْهِ، وَلاَ فِي سَعَةٍ إِلاَّ ضَيَّقَهُ عَلَيْهِ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! دا د "سورة لقمان" آيت دی، په دې سورة کې الله تعالی د خپل نيک او مقبول بنده حضرت لقمان علیه السلام نصيحتونه بيان کړي دي.

د دې آيت په تفسير کې سحبان الهند حضرت مولانا احمدسعيد رحمة الله عليه د حضرت لقمان علیه السلام يو قول رانقل کړی دی، چې حضرت لقمان علیه السلام فرمايلي دي: چې ما د څلورو زرو (۴۰۰۰) پيغمبرانو په خدمت او صحبت کې وخت تېر کړی، چې د هغو څخه مې څه واورېدل، د هغه ټولو خلاصه دا اته (۸) نصيحتونه وو.

۱. اول نصيحت دا وو: چې د لمانځه په حالت کې د خپل زړه حفاظت کول.

(۱) ...

۲. دوهم نصيحت: د خورک کولو په حالت کي د خپل ستوني حفاظت کول.
۳. دريم نصيحت: د بې پردګۍ په ماحول کي د خپل نظر حفاظت کول.
۴. څلرم د مجلس او محفل په دوران کي د خپلي ژبي حفاظت کول.

د دې څلورو(۴) نصيحتو په باره کي په تېرو جمعو کي ما په تفصيل سره ستاسو ومخ ته خبره عرض کړه، الله تعالی دي موږ او تاسو ته پر هغه باندي د عمل کولو توفيق رانصيب کړي، او الله تعالی دي ئې د خپلي رضا دپاره وګرځوي.(آمين).

## مرګ ياد ساتل:

پنځم او شپږم نصيحت حضرت لقمان عليه السلام دافرمايلی دی: چي دوې(۲) خبري همېشه ياد ساتل:
چي يو د انسان خپل مرګ دی.
او دوهم د الله تعالی ذات دی.

نو مرګ بايد انسان هر وخت په دماغ کي حاضر وساتي، او د دماغ څخه ئې نه وباسي، د هغه وجه داده: عام طور انسان چي کله په دنيا کي زندګي تېروي، نو د دنيا مختلف مناظر د ده ومخته پېښېږي، او د هغه په وجه آخرت د ده څخه هېر سي، او د دنيا محبت د ده و زړه ته ورشوه سي.

او د دنيا محبت د ټولو ګناهونو بنياد دی، ځکه د دنيا د محبت څخه د انسان په دماغ کي غفلت پيدا کيږي، او د غفلت په حالت کي د انسان څخه هر قسم ګناه صادرېږي، او چي په څومره اندازه په انسان کي غفلت راسي، په هغه اندازه انسان په ګناه کي مبتلا کيږي.

او چي څنګه په انسان کي غفلت ډېرېږي، په هغه اندازه انسان د الله تعالی او د هغه د دين څخه لېري کيږي، او شيطان ته نزدې کيږي، او په ګناهونو کي د ده زندګي مبتلا کيږي.

د دې غفلت لېرې کونکی او د دنیا محبت د زړه څخه ختم کونکی شی د مرګ یاد دی، چې انسان په زړه کې په څومره اندازه کې د مرګ استحضار کوي، نو هغوَ مره د ده په زړه کې د دنیا محبت هم کمېږي ، او د ده څخه ګناه هم کمه صادرېږي، نو د هغه په نتیجه کې د ده زندګي په کامیابه شکل تېرېږي.

## د مرګ په یاد سره لذتونه ختم کیږي:

څکه پیغمبرﷺ هم په خپلو احادیثو مبارکوو کې د مرګ د یادولو زیات تاکید کړی دی، چنانچه صاحب د "مسند بزار" د پیغمبرﷺ یو حدیث مبارک رانقل کړی دی، چې پیغمبرﷺ فرمایلي دي:

........أَكْثِرُوا مِنْ ذِكْرِ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ، فَإِنَّهُ مَا ذَكَرَهُ أَحَدٌ فِي ضِيقٍ مِنَ الْعَيْشِ إِلاَّ وَسَّعَهُ عَلَيْهِ، وَلاَ فِي سَعَةٍ إِلاَّ ضَيَّقَهُ عَلَيْهِ﴾.(١)

د لذتو او خوندو ماتونکی شی یعني مرګ په کثرت سره یادساتئ، څکه چې کم سړی د تنګۍ په زمانه کې مرګ په یادساتي، نو پر هغه به وسعت راځي، یعني (ده ته به طبعي سکون حاصلېږي، څکه چې د مرګ د سختۍ په مقابله کې هره سختي آسانه ده) او که چیري د عافیت او خوشحالۍ په زمانه کې انسان مرګ یاد ساتي نو دا به د ده دپاره د تنګۍ باعث وګرځي،(یعني د مرګ د یادولو په وجه سره به د خوشحالۍ په زمانه کې د آخرت څخه د غفلت په وجه د ګناهونو د کولو څخه به محفوظه وي).

او داغه رنګه په یو بل حدیث شریف کې لا دا جمله هم اضافه سوې ده: چې د هغه حاصل دادي.

که چیري تاسو د مال د کثرت په وخت د مرګ تذکره کوی، نو د زیاتوالي سره سره به هغه مال تاسو ته کم درمعلوم سي او که چیري د مال د کمۍ په حالت کې

تاسو د مرګ یا دکوي، نو د کمې سره سره به هغه مال ستاسو دپاره زیات معلومیږي،

یعني مال خو به زیات وي، لیکن د هغه محبت به په زړه کي نه وي، او چي کله د مال محبت د انسان په زړه کي نه وي، بیا که چیري د مځکي تړوله مخ د ده د مالونو ډک ستي، نو هم وده ته نقصان نه رسوي.

لیکن خدانخواسته که چیري د مال محبت د انسان و زړه ته ورشوه سي نو بیا خو هغه مال د انسان دپاره وبال جان وي.

نو د مرګ یاد داسي شی دی، که چیري بادشاه ته ورنصیب سي، نو بیا هغه بادشاهي د ده وآخرت ته یوه زره نقصان نه رسوي.

او که چیري د چا سره مال کم وي، خو دی همېشه د مرګ مراقبه او یاد کوي، نو هغه مال به وده ته ډېر زیات ورمعلوم سي، ځکه چي دی به په دې فکر کي وي، چي د مرګ څخه وروسته به زما څه انجام وي، او زه چي هلته ورسم نو د دې مال به زما څخه حساب اخستل کیږي، نو به دی قناعت اختیار وي، او چي څومره لږ مال وي، نو هغه به ډېر بولي.

او دی به دا فکر کوي، چي کله خلګ آخرت ته ورسیږي، نو چي د کم چاسره مال نه وي، او هغه فقیر وي، او د الله تعالی فرمانبرداره وي، نو هغه به د نافرمانه مالدارانو په مقابله کي پنځه سوه(۵۰۰) کاله مخکي جنت ته رسیږي، او مالداران به د قیامت په میدان کي د خپل مال په حساب او کتاب ورکولو کي اخته وي، لهذا کم مال والا غریب انسان چي کله د مرګ یاد کوي، نو هغه کم مال به بیا وده ته زیات ورمعلومیږي.

## د مرګ یادولو بعض فوائد:

علامه سیوطي رحمة الله علیه لیکلي دي: چي د بعضو علماو څخه رامنقول دي، چي کم سړی د مرګ یاد په کثرت سره کوي، نو الله تبارک وتعالی به وده ته د دري(۳) شیانو حاصلولو توفیق یقیني ورکوي.

۱. "**تعجیل التوبه**" یعني که چیري د ده څخه یو ګناه وسي، نو دی ژر تر ژره توبه کاږي، او د ګناه معاف کولو کوشش به کوي، چي هسي نه بغیر د توبې کښلو مرګ راباندي راسي.

۲. "**قناعت القلب**" یعني د مرګ یاد ساتونکی انسان په حرص او طمع کي نه مبتلا کیږي، بلکه چي کم شی ده ته میسر وي، په هغه باندي به قناعت او صبر کوي، او دا قناعت به وده ته طبعي سکون او دلي راحت ورکوي، دی به همېشه دا سوچ کوي، چي زندګي ډېره کمه ده، چي څه رنګه تېرېږي، نو هغسي تېرېږي، د مال د زیاتولو د فکر کولو هیڅ فائده نسته.

۳. "**نشاط العبادة**" یعني د مرګ استحضار کونکی انسان چي کله عبادت کوي نو په پوره دلجمعي او یکسوئي سره به ئې کوي، د دې دلجمعي دوې(۲) وجهې وي، اول دا: چي د ده سره دا خطره وي، چي معلومه نه ده چي آئنده به ده ته د عبادت کولو موقع په لاس ورسي او که نه، دوهمه وجه دا وي: چي د مرګ د یادولو په وجه ده ته پر عبادت کولو باندي په آخرت کي د لوی ثواب پیدا کولو کامل یقین وي.

نو ځکه ده ته په عبادت کولو کي هغه کیف او سرورنصیب کیږي، چي د انسان الفاظ ئې نه سي بیانولای.

## د مرګ د هیرولو نقصانات:

د دې برخلاف چي کم سړی خپل مرګ په دماغ کي نه راګرځوي، او همېشه د آخرت څخه په غفلت کي ژوند تېروي، الله تعالی به دی په دریو (۳) محرومیانو او بدنصیبیو کي مبتلا کړي.

۱. "**تسویف التوبة**" یعني که چیري د ده څخه یو ګناه وسي، نو دی په توبه کولو کي د ځنډ او تاخیر څخه کار اخلي او په استغفار او توبه کښلو

کي به تلوار نه کوي، او ډېر ځله د داغه ګناه سره سره د توبې کښلو بغیر ده ته مرګ راسي.

۲. "ترك الرضابالكفاف" چي کله د مرګ یاد د انسان په دماغ کي نه وي، نو د انسان هوس او خواهشات ډېرېږي او د ی د ضرورت په مطابق روزي باندي نه راضي کېږي، بلکه د ﴿هَلْ مِن مَّزِيدٍ﴾ په بیماري کي همېشه مبتلا وي، د مرګ څخه د غفلت په وجه منصوبې جوړوي، چي د هغه انجام داراوروزي، چي د انسان ارمانونه نیمګړي پاته وي، او مرګ راسي، د زندګی تسلسل ختم کړي.

۳. "التكاسل في العبادت"(۱) یعني چي کله انسان د مرګ څخه غافل سی، نو قدرتي طور په عباداتو کي سستي ځني کېږي، اول خو عبادت کوي نه او که ئې چیري کوي، نو بیا ئې پر طبعیت باندي نهایت شاق او سخت وي، او دا صرف په دې وجه چي انسان ته د دې استحضار نه وي، چي زما څخه د مرګ وروسته د دې عباداتو متعلق سوال کېږي، او که چیري خدانخواسته هلته د الله تعالی د رضا مطابق جواب نه وسي نو داسي رسوائي به وي، چي د هغې په مقابله کي د دنیا ټولي رسوائیاني او بې عزتیاني هیڅ هم نه وي.

## د مرګ یادولو یو څو ذرائع:

د پیغمبرﷺ په احادیثو مبارکوو کي که یو طرف ته د مرګ د یاد ساتلو تلقین په ډېر کثرت سره راغلی دی، خو بل طرف ته د بعض داسي اعمالو ترغیب هم وارد سوی دی، چي د مرګ په یادساتلو کي مؤثر او معاون ثابتېږي.

(۱) شرح الصدور: صفحه نمبر ۴۵

په هغو کې د ټولو څخه اهم عمل دادی: چې کله نا کله قبرستان او هدېرې ته ورتلل د قبر د زندګی او په قبرو کې د پرتو انسانانو د حالاتو متعلق غور کول، چنانچه په حدیث شریف کې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

........زُوْرُوْا الْقُبُوْرَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ﴾.(١)

د قبرو زیارت کوی، ځکه چې هغه تاسو لره مرګ په یاد درولي.

او داغه رقم حضرت انس ﷺ هم د پیغمبر ﷺ څخه یو روایت رانقل کوي، چې پیغمبر ﷺ به فرمایل:

........كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ أَلَا فَزُوْرُوْهَا فَإِنَّهَا تُرِقُّ الْقَلْبَ وَتُدْمِعُ الْعَيْنَ وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ وَلَا تَقُوْلُوا هَجْرًا﴾.(٢)

ما به مخکې تاسو د قبرو د زیارت څخه منع کولاست مګر اوس دا خبره واورئ: چې تاسو قبرو لره ورځئ ځکه چې هغه د انسانانو زړونه نرم کوي، او د سترګو څخه اوښکې بهیوي، او آخرت انسان لره په یاد وروليې، خو لېکن فحش خبرې به هلته نه کوئ.

داغه رقم په حدیثو کې قبرستان د عبرت ځای بلل سوی دی، او د دې سره قبرستان ته د ورتللو اصل مقصد هم دا ښوول سوی دی، چې هلته به انسان محض د تفریح او تماشې په غرض نه ورځي، بلکه اصل مقصد به ئې د مرګ یادول او د آخرت استحضار وي.

## د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ واقعه:

حضرت عمربن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ یو ځل د خپل یو قریب د جنازې سره هدېرې ته راغلی، چې کله جنازه کښېښول سوه، نو دی یواځې د هدیرې په یو ګُنج کې ډېر سوچ او فکر په حالت کې کښېناستې.

(١)صحیح مسلم: حدیث نمبر۱۰۸
(٢) رواه الحاکم: شرح الصدور: صفحه نمبر۴۹

یو سړي ورته وویل: چي اې امیرالمؤمنین! ته خو د دې جنازې ولي ئې، او ته دلته ولي یواځي ناست ئې، ده په جواب کي ورته وویل: چي ماته بزبانِ حال د دې قبر څخه یو آواز راوه سو، او دا ئې راته وویل: چي اې عمر بن عبدالعزیز! ته زما څخه ولي پوښتنه نه کوې، چي زه د دې راتلونکو انسانانو سره څه سلوک کوم؟ ما ورته وویل: ضرور راته ووایه نو هغه قبر په جواب کي راته وویل.

چي کله انسان زما غېږي ته راسي، نو زه د هغه کفن ورڅیرم، او د هغه بدن ټکړې ټکړې کوم، او د هغه ټوله وینه زبېښم، او د هغه غوښي خورم.

او دا درته وایم: چي د انسان د جوړو او بندو سره زه څه کوم، وړې د بازوګانو څخه جلا کوم، او بازوګان د څنګلو څخه جلا کوم، ورنونه د پنډیو څخه جلا کوم، او پنډۍ د پښو څخه جلا کوم.

چي کله ئې دا وویل: نو حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه په ژړا سو، او په ژړا کي ئې داویل: چي د دنیا قیام ډېر قلیل دی، او د هغه دوکه ډېره زیاته ده، چي په دنیا کي کم څوک عزتمند دی هغه به په آخرت کي ذلیل وي، او چي څوک په دنیا کي دولت والا دی، هغه به په آخرت کي فقیر وي، او د دنیا ځوان ډېر ژر بوډا کیدونکی دی.(۱)

مګر د افسوس مقام دی، چي نن زموږ پر زړو باندي د غفلت داسي درنې پردې راغلي دي، او د قساوت داسي مهلک زنګ لګېدلی دی چي اوس خو قبرستانونه او هدیرې د کیلو او تماشو میدانونه جوړ سوي دي.

د عرس په نامه باندي میله او په نورو نومو سره د اولیاؤو پر قبرو باندي د بدتمیزۍ طوفانونه جوړ دي چي ﴿اَلْاَمَانُ وَالْحَفِيْظُ﴾ او د دې سره سره چي دا ټوله کارونه د اجر او ثواب په اعمالو کي هم شامل ګرځول کیږي.

داغه رنګه چي کم قبرستانونه د اباديو په درمیان کي راغلي دي، هغه عام طور د محلې د هغه اوباشه نوجوانانو د کیلو او بازیو میدانونه جوړ سوي دي، او په

(۱) موت کی تیاری: صفو نمبر ۱۵

هغه قبرستانو کي په نشو اخته انسانانو کمین ګاهونه او د استوګني اود نشو کولو ځایونه برابر کړي دي، نو د قبرو د لیدلو سره سره داغه رنګه حرکتونه کول د آخرت څخه د غفلت او د قساوت قلبي لوی دلائل بلل کیږي.

## مړو ته غسل ورکول او په جنازو کي شرکت کول:

داغه رنګه د مرګ د یادولو دپاره دوه(۲) اهم او مؤثر اسباب په بعضو روایاتو کي دا بیان سوي دي.

۱. مړو ته په غسل ورکولو کي شرکت کول.

۲. د مردګانو په جنازو کي په کثرت سره شریک کېدل.

د حضرت ابو ذر غفاري ﷺ روایت دی: چي ماته به پیغمبر ﷺ فرمایل:

........زُرِ الْقُبُورَ تَذْكُرْ بِهَا الْآخِرَةَ وَاغْسِلِ الْمَوْتَى فَإِنَّ مُعَالَجَةَ جَسَدٍ خَاوٍ مَوْعِظَةٌ بَلِيغَةٌ وَصَلِّ عَلَى الْجَنَائِزِ لَعَلَّ ذَلِكَ أَنْ يَحْزُنَكَ فَإِنَّ الْحَزِينَ فِي ظِلِّ اللهِ يَتَعَرَّضُ لِكُلِّ خَيْرٍ﴾.(۱)

د قبرو زیارت کوه، د هغه په ذریعه به تاته آخرت په یاد درځي، او مړو ته غسل ورکوه، ځکه چي په بې روحه جسد کي غور او فکر کول، پر خپل ځای یو مؤثر نصیحت دی، او پر جنازو باندي لمونځ کوه، کیدای سي، چي د هغه په ذریعه به ستا زړه غمګین سي، او غمګین زړه د الله تعالی په سایه کي وي، او هر خیر ده ته مخامخ کیږي.

په دې حدیث کي پیغمبر ﷺ درې(۳) خبري فرمایلي دي.

اول قبرستان ته تګ کول چي د هغه ذکر مخکي تېر سو.

دوهم مړو ته غسل ورکول، داهم یو اهم نصیحت دی، او د موجوده معاشرې دپاره انتهائي قابل توجه دی، نن سبا د غیرِمسلم د رواج او طریقو څخه متاثره د مسلمانانو په معاشره کي هم د مړي د جسد څخه یو قسم د وحشت اظهار کول کیږي، خپل قریبان هغه ته نزدې نه ورځي، چي کله د غسل ورکولو موقع راسي'

(۱) رواه الحاکم: شرح الصدور صفحه نمبر ۵۰

نو هم ئې نورو خلګو ته ورپرېږدي، په خپله نه ورنزدې کېږي، حالانکې دابعد او لېري والی د مړي سره يو قسم زياتوب بلل کېږي.

د مړي جسد د اسلام په نظر کې ډېر قابل احترام وي، د هغه سره د اکرام معامله کول ضروري ده.

د ټولو څخه بهتره داده: چې مسائل ځان ته معلوم کړي، او د مړي نزدې قريب په خپله وده ته غسل ورکړي، که چيري پوره طريقه ورمعلومه نه وي، نو کم ازکم د غسل ورکونکي سره دي په اوبو توېولو کې يا د مړي په جسد پورته کولو کې تعاون وکړي.

د مړو سره په دغه رنګه تعلق کې سره د خپل مرګ منظر هم د انسان مخ ته پېښېږي، او فطري طور انسان د خپل مستقبل په باره کې پر غور او فکر کولو باندي مجبوره کېږي.

په دې حديث شريف کې دريم هدايت دا بيان سوی دی: چې د جنازو په لمنځو کې په کثرت سره شرکت کول.

د مسلم شريف روايت دي: چې پيغمبر ﷺ به فرمايل:

.......مَنْ شَهِدَ الْجَنَازَةَ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا فَلَهُ قِيرَاطٌ، وَمَنْ شَهِدَهَا حَتَّى تُدْفَنَ فَلَهُ قِيرَاطَانِ﴾.(¹)

چې کم سړی د مسلمان په جنازه کې شريک سي هغه ته به يو قيراط ثواب ورکول کېږي، (چې د هغه اندازه به د "أحد" د غره سره برابره وي،) او چې کم سړی د جنازې سره قبرستان او هديرې ته ورسي نو هغه ته به دوه(۲) قيراطه ثواب ورکول کېږي.

نو بايد انسان همېشه دا کوشش وکړي، چې کله موقع په لاس ورسي، جنازه د ځني تېره نه سي، د جنازې په لمانځه کې چونکه د مړي قربيان موجود وي، د هغو دغم او اندوه په وجه ټوله ماحول غمګين وي، نو انسان ته دستي دا تصور

---

(¹)مسلم شريف: حديث نمبر ۵۲

او فکر ورپیدا کیږي، چي یوورځ به زما جنازه هم داسي پورته کیږي، او خلګ به په داغه اندازه سره د رنج او غم اظهار کوي.
لکه یو عربي شاعر وایي:

﴿یَاصَاحِبِي لَاتَغْتَرِرْ بِتَنَعُّمٍ ☆ فَالْعُمْرُ یَنْفَدُ وَالنَّعِیْمُ یَزُوْلُ﴾

﴿وَاِذَا حَمَلْتَ اِلَی الْقُبُوْرِ جَنَازَةً ☆ فَاعْلَمْ بِاَ لَکَ بَعْدَهَا مَحْمُوْلُ﴾

اې دوسته د دنیا د ارام او راحت څخه مه دوکه کیږه، ځکه چي عمر ختمیدونکی دی، او عیش زائله کیدونکی دی، که ته یو جنازه قبرستان ته وروړې نو دا یقین کوه، چي د دې څخه وروسته به ستا جنازه هم قبرستان ته وروړل کیږي.
د حدیث په آخر کي پیغمبرﷺ دې خبري ته اشاره کړې ده: چي کله د جنازې په لیدلو سره د انسان زړه غمجن سي، نو قدرتي طور د انسان په زړه کي دانابت الی الله کیفیت پیداکیږي، او د سابقه ګناهونو څخه د ندامت او شرمندګۍ احساس ژوندی کیږي، او په دې حالت کي چي انسان کمه تمنٰی وکړي، نو د الله تعالی رحمت د هغه د تکمیل دپاره تیار وي.

## د روح ختلو د سختۍ فکر کول:

او د دې سره سره د زکندن او د روح ختلو د حالت د سختۍ فکر کول، داهم د انسان په دماغ کي د مرګ یاد تازه کوي، او د خوف او بیرې په وجه انسان د الله تعالی د نافرمانۍ او ګناه څخه محفوظه کیږي.
د مرګ راتلو او د زکندن د وخت شدت او سختي ناقابل بیان ده، د دې اصل کیفیت وهغه چاته ورمعلومیږي، چي دا حالت ورباندي تیر سوی وي.
قرآن کریم د غافله انسانانو د رابیداره کیدلو په خاطر فرمایلي دي:
......وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذَلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيدُ﴾.(۱)

او د مرګ سختي حقیقتاً نژدې رارسېدونکې ده، دا هغه شی دی، چې د هغه څخه ته ځان پېچونکی ئې.

د نورو څخه به انسان څه ووایي، په خپله پر پیغمبرﷺ باندي هم د مرګ شدت او سختي تېره سوې ده.

د بخاري شریف روایت دی: چې وفات ته نژدې د پیغمبرﷺ و مخته په یو لوښي کي اوبه پرتې وې، پیغمبرﷺ به هغه په خپل لاس سره په خپل مخ باندي پُرخلې، چې د تکلیف په شدت کي یو څه کمي راسي، او د پیغمبرﷺ پر ژبه مبارکه به دا الفاظ جاري وو:

........لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ﴾.(۱)

د الله څخه علاوه بل معبود نسته واقعي د مرګ سختي برحق ده.

حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي: چې د وفات په وخت کي چې کله ما پر پیغمبرﷺ باندي کم شدت او تکلیف په خپلو سترګو باندي ولیدی، اوس زه پر وفات کیدونکي انسان باندي په حالت د زکندن کي تکلیف او شدت هیڅ کله ناخوښه نه بولم.(۲)

د دې څخه دامعلومه سوه، چې د مرګ په وخت کي د شدت معامله عامه ده، پر مؤمن باندي هم راځي، او پر کافر باندي هم راځي، البته د دې اثرات جلا جلا مرتب کیږي، د مؤمن دپاره دا شدت د درجاتو د بلندیو سبب ګرځي، او د کافر او فاجر دپاره د عذاب شروعات بلل کیږي.

د بعضو روایاتو څخه دامعلومیږي، چې الله تعالی د مؤمن د غلطیو معافولو دپاره کله ناکله دا مؤمن په دنیاوي تکالیفو کي مبتلا کوي، که چیري یو کسر پکښي پاته وي، نو د مرګ پر وخت د شدت او سختی په شکل د هغه تلافي کوي.

---

(۱) صحیح البخاري: حدیث نمبر۴۴۴۹

(۲) صحیح البخاري، کتاب المغازي: حدیث نمبر ۴۴۴۶

او فاسق که چیري یو نیک عمل وکړي، نو د هغه بدله کله ناکله الله تعالی په دنیا کي ورکوي، حتی چي د دې عمل په وجه کله ده ته د مرګ اساني هم ور په نصیب کیږي.(۱)

لهذا د یو کافر د اسانه مرګ لیدلو څخه باید انسان دا ګمان ونه کړي، چي په آخرت کي به هم د ده سره د اسانی معامله کیږي.

او د یو مسلمان د سخت مرګ لیدلو څخه هم باید انسان دا خیال ونه کړي، چي په آخرت کي به د ده سره شدت کیږي.

البته دا ضروري ده، چي د خپلي کمزوری او ناتوانی په وجه باید هر مؤمن همېشه دا دُعا کوي: چي الله تعالی د ده سره د مرګ پر وخت د اسانی معامله وکړي، چنانچه د پیغمبر ﷺ څخه هم د مرګ د اسانی دُعا کول را منقول دي.

## د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه د زکندن حالت:

حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه انتهائي عقلمند مدبر او ذکي او فهیم صحابي وو، مصر او فلسطین الله تعالی د ده پر لاس باندي فتح کړل، دی د مصر او فلسطین فاتح بلل کیږي.

چي کله د اسلام راوړلو دپاره د عثمان بن ابي طلحه رضي الله عنه او خالد ابن ولید رضي الله عنه سره مدینې منورې ته راغلی، پیغمبر ﷺ چي کله ولیدل، نو د ده مبارک مخ د خوشحالی څخه وځلېدی، او ده مبارک ویل: چي په خدای قسم نن خو مدینې زموږ و طرف ته خپل زړه راغو ځولی دی.

د ده د زندګی په حالاتو کي لیکلي دي: چي کله پر ده باندي د نزع کیفیت راغلی، نو د ده بچی ورته وویل: چي اباجانه! تا به همېشه ویل، چي کاش ماته یو هوشیار انسان د زکندن حالات بیان کړي وای، چي زه په دې پوه سوی وای، چي د زکندن په حالت کي انسان د کمو حالاتو سره مخامخ کیږي، او تا به پر دې

باندي تعجب کاوی، چي انسان په هوش کي د کيدلوباوجود د زکندن په وخت کي پر ده باندي تېرېدونکي حالات نه بيانوي.
نو ای پلار جانه! ته اوس هغه حالاتو ته رارسېدلی ئې لهذا ته اوس ومونږ ته دا ووايه چي ته د زکندن څنگه محسوسه وې؟ چي کله ئې د بچي دا خبره واورېده، نو حضرت عمرو بن العاص ﷺ په جواب کي ورته وفرمايل: چي بچيه! حقيقت دادی: چي د زکندن حالات بيانول د الفاظو د گرفت څخه وتلي دي، لېکن بيا هم زه په يو څه اشاراتو تا پوه کوم.
زه اوس په دې وخت کي خپل ځان داسي محسوسه وم، گويا زما پر غاړه د "رضوی" غر پروت دی،او ماته داسي معلومېږي گويا زما په نس کي د اغزي داره درختي بناخ دی، يو څوک ئې کشوي، او ماته په ساه اخستلو کي دومره تنگي او تکليف دی، گويا زما روح د ستني د سپم د لاري څخه زما د بدن څخه وزي.
او د هغه څخه وروسته چي کله د ده د وفات وخت رانژدې سو، نو په رواياتو کي راځي: چي ﴿فَبَکٰی طَوِیْلًا﴾ نو ده ډېره اوږده ژړا وکړه، داسي ژړا چي بلکل ختم کيدله نه، نو د ده بچی عبدالله چي په ځو شيانو کي د خپل پلار څخه مخته وو.
په مقام کي.
په صحابيت کي.
په علم کي.
په هر شي کي ځکه چي هغه د سابقينو څخه وو.
نو هغه ورته وايي: چي ای پلاره! ته ولي ژاړې؟
.......اَمَا بَشَّرَکَ رَسُوْلُ اللہ بِکَذَا، اَمَا بَشَّرَکَ رَسُوْلُ اللہ بِکَذَا﴾.
تاته خو څو ځله رسول اللهﷺ دجنت زېري درکړي دي نوبيا ته پر څه باندي دومره زياته ژړا کوې؟

ده خپلي اوښکي وچي کړې، او مخ ئې د زوی پر طرف را واړاوی، او ورته وایي: ای بچیه!

........﴿اِنِّي کُنْتُ عَلَی اَطْبَاقٍ ثَلَاثٍ﴾ زما په زندګي کي درې(۳) دوره راغلي دي.

یو هغه دور وو: چي زه کافر وم، او زما د زندګی د ټولو څخه لویه تمنٰی دا وه: چي د الله نبي ﷺ په خپله توره قتل کړم، که چیري په دې دور کي زه مړ وای، نو یقینابه دوزخي وای.

بیا پر ما باندي دوهم دور راغلی، چي زما وزړه ته د اسلام حقانیت ورننه واتی، او زه د مسلمانی په اراده د الله د نبي ﷺ دربار مدینې منورې ته راغلم، او د بیعت کولو دپاره مي خپل لاسونه د پیغمبر ﷺ وحضورته ورواړاندي کړل، چي کله پیغمبر ﷺ لاسونه رامخ ته کړل، نو ما بېرته خپل لاسونه څنې شاته کړل.

پیغمبر ﷺ راته وویل:

......﴿مَالَکَ یَا عَمْرُو﴾ اې عمره! څه پېښه سوه؟

ما په جواب کي ورته وویل:

........﴿اُرِیْدُ اَنْ اَشْتَرِطَ﴾ زه شرط لګول غوارم.

پیغمبر ﷺ راته وویل:

........﴿مَاذَا تَشْتَرِطُ﴾ څه شرط لګول غواړې؟

ما په جواب کي ورته وویل: چي دا شرط لګول غوارم:

........﴿اَنْ یُغْفَرَ لِي مَا سَلَفَ﴾ چي زما تېر ګناهونه دي وماته ټول رامعاف سي.

پیغمبر ﷺ راته وویل: ای عمرو! ایا تاته دا معلومه نه ده:

........﴿اِنَّ الْاِسْلَامَ یَهْدِمُ مَاکَانَ قَبْلَهُ﴾ اسلام راوړل مخکي ټول ګناهونه ختم کوي.

کله چي ماته د تېرو ګناهونو د معافی معلومات وسو نو کاش چي ما را روان ګناهونه هم په هغه وخت کي څان ته معاف کړي وای.

او په هغه وخت کي زما داحال وو: چي زه د الله د نبي په دربار کي په داسي کښته نظر ناست وم:

......مَامُلِئْتُ عَيْنِي مِنْهُ حَيَاءً﴾ ماته چي به کله خپله تېره زندګي په ياد راغله او د پېغمبر ﷺ سره جنګونه او دښمنۍ به رایادي سوې، نو د شرم او حیا په وجه مي هيڅ کله یيا د پېغمبر ﷺ ومخ مبارک ته په پوره ته نظر نه دي کتلي.
نن که څوک زما څخه د پېغمبر ﷺ د شکل متعلق پوښتنه وکړي، زه پوره معلومات نه سم ورکولای، که چیري زه په دې وخت کي مړ وای، نو یقینا به جنتي وای.
د دې څخه وروسته زما په زندګي کي یو دریم دور راغلی: چي په هغه کي پر موږ باندي د دنیا دروازې راخلاصي سوې، او موږ هغه وکړل، چي څه مي وکړل، اوس دا معلومه نه ده: چي الله تعالی به زموږ سره څه وکړي، بیا ئې د الله تعالیٰ دربار ته دواړه لاسونه پورته کړل، او د عاجزي په شکل ئې دا کلمات ادا کړل:
اې باري تعالی! تا موږ ته حکم کړی وو، او موږ ستا د حکم عدولي او مخالفت وکړي، اې الله! تا موږ منع کړي وو، او موږ ستا نا فرماني وکړه، اې رب کریم!
......لَا بَرِئٌ فَاعْتَذِرُ وَلَا قَوِیٌّ فَانْتَصِرُ وَلَا مُسْتَكْبِرٌ بَلْ مُسْتَغْفِرٌ﴾.
بې قصور نه یم چي معذرت وکړم او نه طاقتور یم، چي ځان خلاص کړم، که چیري ستا رحمت زما سره شامل حال نه وي، نو د هلاکت سره مخامخ یم، د هغه څخه وروسته ئې درې ځله "کلمه طیبه" وویله، او خپل روح ئې الله تعالی ته تسلیم کړی، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَاَرْضَاهُ.(۱)
په یو روایت کي لا داسي هم دي: چي د انتقال په وخت کي ده د خپل لښکر مشران او محافظین راطلب کړل، او ورته وئې ویل: چي ایا تاسو! په ټولو ما د الله تعالی د عذاب څخه بچاوولای سی، هغو ټولو ورته وویل: چي هیڅ کله نه، نو ده ورته وویل: چي ټوله واپس ولاړسئ.

(۱) مشاہیر کے آخری کلمات: صفحہ نمبر ۸۷

بیا ئې اوبه طلب کړې، او اودس ئې وکړی، او خپل مخ ئې د قبلې طرف ته وګرځاوی، او دغه لوړه ذکر سوې دعاء ئې وغوښته او په آخر کې ئې د دې آیات کریمه:

.........لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾.(۱)

تلاوت په کثرت سره کاوی، او د آیت د تلاوت په دوران کې ئې خپل روح د الله تعالی وحضورته تسلیم کړی، او د دنیا څخه رخصت سو.(۲)

## د حضرت عائشه صدیقه ﷺ آخري وینا:

حضرت عائشه صدیقه ﷺ د الله د محبوب ﷺ محبوبه او ګرانه زنانه وه، په خپله د الله نبي ﷺ دا اقرار کړی وو:

.......اللَّهُمَّ هَذَا قَسْمِي فِيمَا أَمْلِكُ، فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ، وَلَا أَمْلِكُ﴾.(۳)

اې زما مولا! تا خو د عدل حکم کړی دی، چې زه به د ټولو زنانو په مابین کې د برابرۍ معامله کوم، لیکن زما زړه او د زړه محبت د عائشې سره دی، پر دې باندې زما ګرفت مه کوه، ځکه زما پر زړه باندې ستا قبضه ده، او په هغه کې د عائشې محبت دی.

او عائشه مبارکه هغه زنانه وه: چې د دې په برکت الله تعالی دې امت ته د "تیمم" تحفه ورکړه.

او دا هغه زنانه وه: چې کله به د پیغمبر ﷺ سر مبارک د دې په غیږ کې وو، نو جبرائیل علیه السلام به د وحي د راوړلو دپاره د پیغمبر ﷺ حضورته راتلی، او چې کله به د بلې زنانې په غیږ کې د پیغمبر ﷺ سر وو، نو بیا به جبرائیل علیه السلام د وحي راوړلو دپاره نه راتلې.

(۱) سورة الانبیاء، آیت نمبر ۸۷

(۲) کتاب العاقبة، صفحه نمبر ۶۴

(۳) سنن الدارمي، حدیث نمبر ۲۲۵۳

او الله تعالى داسي علمي مقام ورکړی وو، علماوولیکلي دي: چي په یو لک پنځویشت زره(۱۲۵۰۰۰) صحابه کرامو کي صاحب فتوىٰ یعني هغه صحابه چي علماء بلل کېدل، او نورو صحابوو به د دوی څخه د مسائلو پوښتني کولې، بیابه ئې په هغه باندي عمل کاوی، د هغو تعداد یو سل نه پنځوس (۱۵۹) وو.
بیابه په هغه یوسل او نه پنځوس(۱۵۹) صحابوو کي څوارلس(۱۴) داسي صحابه وو، چي د هغوی حیثیت ډېر نمایان وو، چي هغه یو سل او نه پنځوس(۱۵۹) صحابه وو به د هغو طرف ته رجوع کوله، په هغه څوارلس(۱۴) کي که سرې وګوري، نو په هغو کي یو نوم د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها نوم هم وو.
د دې څخه دا معلومه وه، چي ام المؤمنین دومره علم حاصل کړی وو، چي د وخت لوی لوی او جلیل القدر صحابه کرامو به هم د دې څخه په پرده کي د مسائلو معلومات کاوی.
او په دې امت کي د قرآن کریم د حفظ کولو اولنی اعزاز هم د حضرت عائشې مبارکي په نصیب وو.
او هغه مبارکه زنانه وه، چي د هغې د پاکدامنۍ دپاره جبرائیل امین د عرش څخه قرآن کریم راوړی:
.......إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ مَا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ﴾.
دا د "سورة النور" د دوو(۲) رکوع مقدار حصه د مسلمانانو د مور حضرت عائشې په پاکدامني کي رانازله سوې ده.
د پیغمبر ﷺ په حضور کي د ټولو زنانو څخه زیات مقام او زیات محبت د دې څخه علاوه د بلې یوې زناني نه وو، سوا د حضرت خدیجې رضي الله عنها حضرت عائشې رضي الله عنها به فرمایل: چي زما په ټولو ژوندیو بنو کي پر یوه باندي هم زره په

غبطه کي نه دی راغلی، لکه څومره غبطه چي مي پر حضرت خدیجهؓ باندي راتله، چي هغه هم وفات سوې وه.
پیغمبرﷺ به اکثر د حضرت خدیجېؓ تذکره کوله، حضرت عائشه مبارکه وایي: چي یوه ورځ ما ورته وویل: ای د الله رسوله! ته همېشه د یوې بوډۍ زناني تذکرې کوې، او د هغه صفتونه بیانوې، حالانکه الله تعالی تاته نوجوانه او خوبصورته زنانه په نصیب درکړې ده.
د پیغمبرﷺ رنګ مبارک د غصې څخه متغیر سو، او وئې فرمایل: اې عائشې! خبردار! آئنده به د خدیجې په باره کي څه نه وایې.
خلګو زه دروا غجن وبللم، او دې زما تصدیق وکړی.
خلګو تولو زما څخه بېزاري ښکاره کړه، او دې ماته پناه راکړه.
خلګو زما څخه لاسونه ونیول، او دې پر ما باندي مال او دولت خرڅ کړی.
نو دا هغه حضرت عائشه وه، چي د امت یو لوی حصې ته الله تعالی د دې په ذریعه علم ورسا وی.
چي کله د دنیا څخه د رخصت وختورباندي راغلی، نو په ژړا ژړا ئې په خپلو اوښکو خپل پړونی مبارک لوند کړی.
حضرت عبدالله بن عباسؓ ورته راغلی، د حجرې د راننوتلو اجازت غواړي، د "جنګ جمل" څخه وروسته حضرت عبدالله بن عباسؓ د شرم په خاطر د دې ملاقات ته نه راتلی، لیکن چي کله د دې د زندګۍ آخري ورځ سوه، نو هغه تشریف راوړی، او ورته وایي: ای د مسلمانانو موري! اجازت غواړم، دې اجازت ورکړی.
چي کله حضرت عبدالله بن عباسؓ حجرې ته دننه راغلی، نو که ګوري، حضرت عائشه مبارکه په ډېر افسوس او زار و قطار سره ژړا کوي، نو دی مبارک تسلي ورکوي.
چي ته خو د الله د رسول محبوبه زنانه وې.

ستا په وجه الله تعالی د دې امت سره د تیمم په ذریعه اساني وکړه، ستا پاکدامني الله تعالی د اسمان څخه راواستوله، چې کله به ستا په غېږ کې د پیغمبرﷺ سر مبارک وو، نو وحي به راتلې، آخرتا ته څه غم دی.
دا په جواب کې ورته وایي: اې عبدالله! ما ته دوکه مه راکوه:
......﴿يَالَيْتَنِي كُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا﴾ کاش زه په دنیا کې پیدا سوې نه وای:
......﴿يَالَيْتَنِي كُنتُ كَانَ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُورًا﴾ کاش زه په دنیا کې داسې څوک نه وای، چې چا ذکر کولای.
یعني الله تعالی زما وجود په دنیا کې نه وای پیدا کړی، نو د هغې مبارکې په ذهن کې د آخرت فکر او غم په داسې شکل ناست وو.(۱)

## د یو بچي د آخرت فکر:

بهلول دانا یو بزرګ وو، یو ځای لره روان دی، په لاره کې یو څه هلکان بازۍ کوي، د هغو څخه مخته پر یو څه فاصله باندې یو هلک خاموشه ناست دی، د هغه پر مخ باندې د سنجیدګۍ او پرېشانۍ اثار ښکاره دي.
بهلول دانا وایي: چې ما په زړه کې دا فکر او اندازه ولګوله چې دا نور هلکان دی په خپلو بازیو نه ګډوي، نو ځکه غمجن او پرېشانه ناست دی، د ځان سره مې دا فکر وکړی، چې زه به یو څه د ده دادرسي وکړم، چې دی خوشحاله سي.
نو زه هغه هلک ته نږدې ورغلم او ورته وه مي ویل: چې ایا تا دا نور هلکان د ځان سره په بازیو نه ګډوي، نو شاید ته د دې وجهې څخه پرېشانه یوازې او خاموشه ناست ئې.
ده زما و طرف ته سر راپورته کړی، او ما ته ئې وکتل او راته وایي: بهلوله! د الله تعالی فرمان دی:

(۱) بیانات جمیل: جلد نمبر ۲

........﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا﴾ايا ستاسو دا ګمان دی، چي ماتاسو بې فائدې پيدا کړي یاست، یعني الله تعالی موږ د بازېو دپاره نه یو پيدا کړي.
زه حيران سوم، چي دومره کم عمره بچي دومره پخه او مضبوطه خبره زما په زړه کي دا خيال راغلی، چي دا بچی ډېر هوښيار معلوميږي، نو مي ورته وويل: چي ای بچيه! ما ته يو څه نصيحت وکړه، ده په جواب کي يو څه اشعار راته شروع کړه، چي د هغه مطلب داوو: ای مسافره! ستا سفر ډېر اوږد دی، د خپل سفر تياري وکړه.
ما چي کله دا واورېدل، نو په ژړا سوم چي کله مي طبعيت يو څه خپل حال ته راواپس سو نو ما د ده څخه پوښتنه وکړه، ای هلکه! ستا عمر ډېر کم دی، د اوس څخه بيا ته د جهنم څخه دومره زيات ولي ببربږې، او د الله تعالی د ذات د هيبت څخه دومره زيات ولي لړزېږې؟
ده په جواب کي راته وويل: بهلوله! زه په کور کي وينم، چي کله زما مور اور بلوي، نو کشني کشني لرګي راجمع کړي، اول څل اور په هغو بلوي، د هغه څخه وروسته لوی لرګي و اورته وراچوي، نو اور په تېزي کي راځي.
ای بهلوله! زه چي کله دا منظر وينم نو زړه مي بلګ وهي، او په زړه کي مي دا خيال پيداسي، چي الله رب العزت خو د جهنم د اور د تېزولو وعده کړې ده، هسي نه چي د محشر په ورځ کم عمره بچيان را جمع کړي، او اول د جهنم اور په دوی بل کړي، او بيا د لويو خلګو نوبت راورسېږي، نو ځکه ژاړم او دا وايم: چي ای الله تعالی ! ماته د جهنم د اور څخه پناه راکړې، بهلول دانا فرمايي: چي ما کله دا واورېدل، نو زه بېهوشه سوم، زما د بېهوشي وروسته هغه هلک پر يو طرف تللی وو. (۱)

(۱) موت کی تیاری: صفحہ نمبر ۲٦

## د حضرت حبیب عجمي رحمة الله علیه د مرګ حالت:

حضرت حبیب عجمي رحمة الله علیه د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه مرید وو، چي کله د انتقال وخت ورباندي راغلی، نو ډېر په خوف او وېره کي وو، یو چا پوښتنه څني وکړه، چي حضرت! ته خو د الله "ولي" ئې دومره په خوف او بېره کي ئې د دې څخه مخکي مو ږ ته په دومره خوف او بېره کي نه ئې لېدلی.
ده په جواب کي ورته وویل: سفر مي ډېر اوږد دی، توښه راسره نسته، د دې څخه مخکي مي پر دې لار باندي د سفر کولو اتفاق نه دی سوی، د داسي آغا او سردار زیارت لره ورځم چي د دې څخه مخکي مي هیڅ کله دا زیارت نه دی په نصیب سوی، داسي خوفناکه مناظر مي مخ ته دي، چي هیڅ کله مي د دې څخه مخکي نه دي لېدلي، تر قیامته پوري تر خاورو لاندي یوازي پرېوتل دي، چي هلته به هیڅ غمخوار راسره نه وي، بیا د الله تعالی وحضورته پېشېدل دي، زما سره دا بېره ده، که الله رب العزت دا پوښتنه را څخه وکړه، چي اې حبیبه! په شپېته(۶۰) کاله کي یوه داسي تسبیح راته پېش کړه، چي په هغه کي د شیطان هیڅ دخل نه وي، نو بیا به زه څه جواب ورکوم.(۱)
محترمو! دا یو حقیقت دی، چي حبیب عجمي رحمة الله علیه په شپېته(۶۰) کاله زندګي کي د دنیا سره یوه زره هم زړه نه ولګاوی، او دومره د تقولی او د پرهېز د زندګی تېرولو سره دومره بېرېږي، نو زموږ کم نصیبو به کم حال وي، چي هیڅ وخت هم د دنیا سره لاتعلقي خو لېري خبره ده، د ګناهونو څخه خالي نه یو، او ټوله زندګي مي د شیطان په خوشامد او خوشحالولو کي تېره سوه، الله تعالي دي زموږ او ستاسو پر حالاتو باندي رحم وکړي.
او الله تعالی دي مي په زړو کي د خپل مرګ یاداشت او فکر پیدا کړي، او الله تعالي دي موږ او تاسو ټولو ته په دې خبرو د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

---

(۱) موت کی تیاری: صفحہ نمبر ۴۷

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د اللّٰه تعالي یاد ساتل

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰه صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰه صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾(١).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ﴿أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! د تېرو جمعو څخه زه دخپلو خبرو ابتداء د "لقمان حکیم" دیو قول څخه کوم، چي هغه د څلورو زرو(۴۰۰۰) پیغمبرانو علیهم السلام دتعلیماتو څخه داتو(۸) خبروپه شکل را خلاصه کړي، هغه اته(۸) خبري دا دي:

١. د لمانځه په وخت کي دزړه حفاظت کول.
٢. د خورک په وخت کي دستوني حفاظت کول.
٣. د مجلس په دوران کي دژبي حفاظت کول.
۴. د بې سترۍ پر موقع باندي دنظر حفاظت کول.
۵. خپل مرګ همېشه یاد ساتل.

د دې پنځو(۵) نصیحتو په باره کې په ټېرو جمعو کې په تفصیل سره خبره وسوه، الله تعالی دې موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندې دعمل کولو توفیق رانصیب کړي، او الله تعالی دې ئې په خپل دربار کې قبول او مقبول وګرځوي.(آمین)

حضرت لقمان علیه السلام شپږم نصیحت دا بیان کړی دی، چې الله تعالی همېشه یاد ساتل یعني د الله تعالی په یاد سره همېشه خپل زړه ژوندی ساتل.

د الله تعالی یاد دټولو څخه لوی عمل دی، او د الله تعالی معرفت د ټولو څخه لوی نعمت دی، ځکه موږ او تاسو دنیا ته د الله تعالی د یاد دپاره راغلي یو، چې کم چا ته د الله تعالی یاد ورنصیب سي، نو یقیناً د هغه په دواړو جهانو کې کامیابي نصیب سوه.

یا د انسان په زړه کې د الله تعالی د یاد او د هغه د تذکرې څخه د الله تعالی محبت پیدا کیږي، او د الله تعالی محبت د ټولو طاعاتو جړ او بنیاد دی، چې په څومره اندازه د انسان په زړه کې د الله تعالی محبت راسي، نو په هغومره اندازه هغه انسان د الله تعالی فرمانبرداره جوړیږي، او چې څنګه د انسان په زړه کې د الله محبت زیاتېږي، نو هغسې د انسان اندامونه او زړه ودماغ د الله تعالی فرمانبرداره کیږي.

او د الله تعالی محبت د الله تعالی د ذکر او یاد ساتلو څخه پیدا کیږي، او قرآن کریم او د پیغمبر ﷺ احادیث د الله تعالی د یاد او ذکر د فضائلو څخه ډک دي.

## د ذکر مجلس ته د فرشتو راتلل:

په یو حدیث شریف کې راځي:
چې د الله تعالی یو څه فرشتې داسې هم وي، چې په لارو کې ګرځي، او همېشه د ذکر او د الله تعالی د یاد د محفلو او مجلسو په تلاش کې وي، چې په کم ځای کې د الله تعالی د ذکر او د یاد مجلس ورپیدا سي، نو هغه فرشتې یو بل ته اواز سره وکړي: چې دلته راسئ دلته راسئ، ستاسو مقصود دلته موجود دی.

تاسو چي د کم مجلس په تلاش کي واست، او د کم شي چي تاسو طلب کاوی، هغه دلته دی، چي هغه د الله تعالی ذکر او یاد دی، د دې اعلان او اواز د اوریدلو سره تولي تلاش او طلب کونکي فرشتې په ډېر تلوار د هغه مجلس او محفل طرف ته راځي، او پرهغه مجلس خپل وزر غوړوي، او هغه مجلس په خپلو وزرو کي راګېروي، او یوه فرشته تر بله لوړېږي، تر دې حده پوري چي تر اسمانه پوري ورسېږي.

چي کله هغه فرشتې د مجلس د فراغت څخه وروسته د الله تعالی دربار ته حاضري سي، نو الله تعالی د دې سره چي په هرڅه باندي ښه خبردی، بیا هم د هغه فرشتو څخه پوښتنه کوي، چي ای فرشتو! زما بندګانو څه ویل؟ هغه فرشتې عرض کوي، چي ای پروردګار عالم! ستا بندګانو ستا لوئي او ستا حمد او ستا بزرګي بیانوله، هلته موږ هم په هغه مجلس کي ور سره کښېنستلو، او ستا د لوئي او بزرګی بیان مو واوریدی، او اوس د هغه مجلس څخه واپس ستا دربار ته راورسېدو.

الله تعالی د دوی څخه پوښتنه کوي: چي کمو بندګانو چي زه یادولم او زما ذکر ئې کاوی، ایا دوی زه لېدلي وم؟ فرشتې په جواب کي ورته وایي: چي نه، هغوی ته نه وې لېدلی.

نو الله تعالی بیا پوښتنه څني کوي: که چیري هغه ما ووېني نو د دوی به بیا څه حال وي؟ فرشتې عرض کوي: چي څومره عبادت چي دوی اوس کاوی، که چیري تا ووېني نو د دې څخه زیات به ستا عبادت وکړي، او د دې څخه زیات به ستا بزرګي او پاکي بیان کړي.

بیا الله تعالی د فرشتو څخه سوال کوي: چي ښه دا راته ووایاست ایا زما هغه بندګانو د څه شي غوښتنه کوله؟ نو فرشتې جواب ورکوي، چي یا الله! هغوی ستا څخه د جنت غوښتنه او سوال کاوی، الله تعالی ورته فرمایي: ایا زما دغه بندګانو جنت لېدلی وو؟ فرشتې په جواب کي ورته وایي: چي ای پروردګاره!

دوى جنت نه وولېدلی، الله تعالی بیا پوښتنه کوي، که چیري دوی جنت ووېني بیا به د دوی څه حال وي؟

فرښتې دا عرض کوي: چي یا الله! که چیري دوی جنت ویني، نو د دې څخه زیات به د جنت طلبګاره سي، څومره چي اوس د هغه طلبګاره او غوښتونکي دي، او د هغه دپاره به د دې څخه زیات ستا وطرف ته رجوع کوي، او ستا څخه به د جنت په غوښتنه کي اصرار زیاتوي.

ته موږ ته ګوره، او د الله رب العالمین شان او رحمت ته ګوره، چي د دې حقیرو بندګانو په باره کي څه رنګه باربار د فرښتو څخه پوښتني کوي.

بیا پیغمبر ﷺ و فرمایل: چي الله تعالی د فرښتو څخه بله پوښتنه او سوال دا کوي: چي دا راته ووایاست چي زما هغه بندګانو د څه شي څخه پناه غوښتله فرښتې جواب ورکوي: چي ای پروردګار عالم! هغوی د دوزخ څخه پناه غوښته یعني (د دوزخ څخه ېرېدل) الله تعالی پوښتنه کوي: ایا زما دې بندګانو دوزخ لېدلی وو؟ فرښتې جواب ورکوي: چي نه، یعني هغوی دوزخ نه وو لیدلی.

الله تعالی ورته فرمایي: که چیري هغه بندګان دوزخ ووېني، نو بیا به د دوی څه حال وي، فرښتې جواب ورکوي، یا الله! که چیري هغوی دوزخ ووېني، نو نور به هم د دوزخ څخه دپناه غوښتلو کوشش وکړي، او نور به هم د دوزخ څخه زیات وېرېږي او د دوزخ په باره کي به نوره هم ستا و دربار ته زیاته رجوع وکړي، توبه به کوي، معافي به غواړي او پناه به غواړي.

په آخر کي الله تعالی فرمایي: ای فرښتو تاسو ټول ګواهان اوسئ، چي ما د دوی ټولو مغفرت وکړی، او دوی ته مي د جهنم څخه آزادي ورنصیب کړه.

په دې فرښتو کي یو ه فرښته د الله تعالی په دربار کي عرض کوي، یا الله! په دې مجلس کي یو سړی داسي هم وو: چي د ذکر کولو په نیت نه وو راغلی بلکه هغه د خپل کار کولو دپارپر لاره تېرېدی چي کله ئې ولېدل، چي یو څه خلګ ناست دي، ده دا فکر وکړی، چي لږ ګړی به د دې خلګو سره کښېنم چي دوی څه کوي،

او څه وایي، نو د ذکر کولو په نیت هرګز نه وو راغلی او نه ئې ذکر کاوی، ایا د هغه هم د دې انسانانو په ډله کي بخښنه او مغفرت نصیب سو؟
الله تعالی په جواب کي ورته فرمایي:
......﴿هُمُ الْجُلَسَاءُ لاَ يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ﴾.(۱)
دا داسي محبوب انسانان دي، چي کم څوک د دوی سره په هر نیت باندي کښیناستی، نو هغه هم نه بدبخته کیږي، چي کله د دوی مغفرت او بخښنه وسوه، نو د هغه کسانو هم د دوی سره مغفرت او بخښنه نصیب سوه.

## د الله تعالی عظیم ذات او صفات:

چونکه الله تعالی د ډېر عظیم ذات او صفاتو مالک دی، نو ځکه کله کله پر ډېر لږ عمل باندي د انسان سره ډېره لویه اساني وکړي.
ځکه زموږ دا عقیده ده: که چیري د ټولي دنیا درختي قلمونه سي، او د ټولي دنیا دریابونه رنګ او سیاهي جوړه سي، او په دې قلمونو او سیاهي سره د الله تعالی تعریفات او صفات او رحمتونه لیکل شروع سي، نو یو وقت به داسي راسي، چي دا ټول قلمونه به مات او سیاهي به ختم سي، لیکن د الله رب العزت تعریفونه او صفات او رحمتونه به هیڅ کله پای ته و نه رسیږي.(۲)

## د الله یو صفت قدردان دی:

الله تعالی په دې وجه هم د انسانانو پر لږ عمل د انسانانو سره ډېره اساني کوي؛ چي د ده په صفاتو کي یو صفت دا دی: چي دی قدردان دی.
قدرداني دې ته وایي: چي پر یو چاباندي د محبت په خاطر دومره زیات مهربانه کېدل، چي د هغه عمل که هرڅومره معمولي وي، نو هغه نه رد ول، او د هغه د

(۱)صحیح البخاري: حدیث نمبر ۶۳۰۸
(۲)سورة لقمان: آیت نمبر ۲۷

توقع او اميد څخه زيات د هغه سره د نيکۍ معامله کول، دا قدرداني بلل کيږي.

## د يوې تنګۍ په بدل کې دوې (۲) اسانۍ:

که چيرې الله رب العزت په خپلو بندګانو کې پر يو چاباندې مشکل حالات راولې، نو د هغه حالاتو څخه وروسته دغه انسان ته د مخکې څخه هم ډېر زيات بهتر او ښه حالات ورنصيب کوي، ځکه د الله تعالى دا ارشاد دى:

........﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾.(۱)

بيشکه د هرې تنګۍ وروسته اسانې راځي، يقيناً د هرې تنګۍ وروسته اسانې راځي.

چونکه داغه يوه خبره دوه(۲) ځله مکرره سوې ده، نو ځکه مفسرين ليکي: چې د دې مطلب دادى: چې څومره تنګي راځي که چيرې بندۀ هغه په صبر سره برداشت کړي، نو الله تعالى ده ته دوچنده اسانې ورنصيب کوي.

او داغه مضمون يو شاعر په خپل شعر کې داسې بيان کړى دى:

﴿إِذَا اشْتَدَّتْ بِكَ الْعُسْرُ فَفَكِّرْ فِي أَلَمْ نَشْرَحْ ☆ فَعُسْرٌ بَيْنَ يُسْرَيْنِ إِذَا فَكَّرْتَهَا فَافْرَحْ﴾.(۲)

چې کله پر تاباندې سخت مصيبت راسي، نو ته په الم نشرح سورة کې غور او فکر کوه، چې يوه تنګي د دوو(۲) اسانيو په درميان کې ده، چې کله په دې کې ته غور وکړې، نو ستا مصيبت به ختم سي، او ته به خوشحاله سې.

## د حضرت عمر ﷺ د دعا قدرداني:

په رواياتو کې راځي: چې حضرت عمر ﷺ يو ځل د مکې مکرمې څخه د خپلې قافلې سره مدينې منورې ته را روان دى، نو په لاره کې شپه ورباندې راغله، نو په يو خلاص ميدان کې ئې قافله واړوله، او پر داغه خلاص ميدان باندې دى

---

(۱) سورة الانشراح: آيت نمبر ۵-۶

(۲) کشف الاسرار: شرح اصول البزدوى: صفحه نمبر ۱۸

مبارک وېده سو، چي کله د شپې په درمیان کي د ده سترگي مبارکي را روښي سوې، نو که گوري د اسمان په فضاء کي د څلورلسم د سپوږمۍ نور سره خور دی، حضرت عمرﷺ چي کله د اسمان په فضاء کي سپوږمۍ ته گوري، نو اچانک او یو دم ده ته د مدینې منورې سپوږمۍ او فضاء په خیال کي ور غله، او د پیغمبرﷺ یاد ئې په دماغ کي سره وگرځېدی، چونکه وخت هم د تنهائي دی، او یخه هوا چلېږي، او د اسمان څخه نور رااوري او د دعا د قبولیت موقع دهٔ.

نو په دې وخت کي حضرت عمرﷺ د الله رب العزت وحضورته د خپل زړه راز خلاص کړی، او لاسونه ئې د دعا په شکل پورته کړل، او د خپل زړه تمنّی ئې په دې شکل پېش کړه:

.....اللّٰهُمَّ ارْزُقْنِي شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ، وَاجْعَلْ مَوْتِي فِي بَلَدِ رَسُولِكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾.(۱)

ای الله! ماته په خپله لار کي شهادت راکړې، او زما مرگ او قبر د محمدرسول اللهﷺ په ښار کي جوړ کړې.

اوس حضرت عمرﷺ خو دومره غوښتنه وکړه، چي الله ماته شهادت راکړې، نو اوس که ده ته شهادت د مدینې منورې په هر ځای کي ور کول سي که هغه په غره کي وي، او که په یو میدان کي وي، هر ځای چي وي د ده تمنّی پوره ده.

لېکن الله تعالی د ده د تمنّی او غوښتني داسي "قدردان" دی، چي د ده تمنّی او غوښتنه په کم شکل ورپوره کوي،

..... حضرت عمرﷺ د او داسه په حالت کي دی.

..... او د پیغمبرﷺ پر مصله ولاړ دی.

..... او د قرآن کریم تلاوت کوي.

(۱) صحيح البخاري: حديث نمبر ۱۸۹۰

د دغه قرب او احسان په کیفیت کي الله رب العزت حضرت عمرؓ ته شهادت ورنصیب کوی، ځکه دغه زخم چي د ده د شهادت سبب جوړ سو، په دغه وخت کي د ده پر بدن باندي ولګېدی.

د پیغمبرﷺ په مصله باندي شهادت ورنصیب کېدل، چي د الله تعالی د طرفه قدرداني نه وي، نو به څه وي، ده خو په فقط شهادت غوښتی وو، مګر الله تعالی د ده تر امید او توقع زیاته د ده سره د خیر معامله وکړه.

ده دوهمه دعا دا غوښتې وه: چي زما مرګ او قبر د محبوبﷺ په ښار یعني مدینه منوره کي جوړ کړه، او س که د ده قبر په "جنة البقیع" کي جوړ سي نو هم د ده دعا پوره ده.

مګر الله تعالی داسي قدردان دی، چي د ده د قبر دپاره چیري ځای انتخابه وي، الله تعالی و ده لره.

..... په ریاض الجنة کي.

..... د پیغمبرﷺ په حجره کي.

..... او د خپل محبوبﷺ قدمو خواته نژدې.

د دفن کېدلو ځای منتخبه وي، دا د الله رب العزت د طرفه څخه د ده [illegible] دپاره ډېره لویه قدرداني بلل کیږي.

## پر حضرت زیدؓ باندي د الله تعالی عنایت:

حضرت زیدؓ یو صحابي دی، په ماشوم والي کي یو چا غلام جوړ کړی وو، بالآخر د نبي اکرم ﷺ په خدمت کي راغلی، او د پیغمبرﷺ په کور کي ئې استوګنه وه.

د ده پلار د ده په باره کي ډېر فکرمند وو، د ده په طلب او تلاش کي ئې ډېر کوشش کاوی، او د ده په یاد کي به ئې ژړا کوله، او اشعار به ئې ویل، یو چا ورته وویل: چي ستا بچی خو په "حجاز مقدس" کي په مکه مکرمه کي د محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب په کور کي موجود دی.

چنانچه د ده پلار او اکا ئې د راوستلو دپاره مکې مکرمې ته راغلل، او دی ئې ولېدی، او ډېري خبري ئې ورته وکړې، چي ستا مور په تا پسې ډېره غمجنه ده، او زه ستا پلار هم ستا په هکله همېشه په تشویش کي یم، او نور قربان دي هم ډېر پرېشانه دي، موږ ستا په خاطر ډېر سفرونه وکړل، او ډېر مشقتونه مي برداشت کړل، نو تر تا پوري راورسېدو، ته به اوس زموږ سره واپس خپل کورته ځې، چي ستا قربان ستا په لېدلو سره خوشحاله سي.

چونکه هغو دی بې اجازته د ځان سره نه سو بېولای، نو د ده د خبرو شخه وروسته هغه د پیغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سول، او د پیغمبر ﷺ په خدمت کي ئې دا عرض پېش کړی.

"ای د قریشو سرداره! تاسو د بنوهاشم اولاد ډېر کریم او شریف خلک یاست، تاسو مهمان نواز یاست، او د خلکو سره احسان کونکي یاست، زموږ یو ماشوم بچی ستاسو سره دی، تاسو هغه زموږ سره واستوئ، چي د هغه په کورته بیولو سره موږ خپله زندګي په سکون سره تېره کړو".

پیغمبر ﷺ ورته وویل:

"زه دا اختیار "زید" ته ورکوم، که چیري هغه ستاسو سره ځي نو زما د طرفه هغه ته اجازت دی، او که زما سره اوسېږي، نو زه خو ئې په زبردستي سره ستاسو سره نه سنم استولای".

چي کله اختیار حضرت زید رضی الله عنه ته وسپارل سو، نو هغه یو نظر د پلار ومخته کوي، او یو نظر د خپل محبوب ﷺ ومخته ګوري، نو را ولاړ سو، د پیغمبر ﷺ په غېږ کي کېښناستی، د خپل ماشوم والي باوجود وایي: ای د الله نبي ﷺ! زه ستا شخه هېڅ کله نه جلا کېږم، پیغمبر ﷺ چي کله د حضرت زید رضی الله عنه دا وینا واورېدله نو د الله محبوب ﷺ د ده شخه ډېره خوشحاله سو، او وایي:

"زه د نن شخه بعد "زید" خپل بچی جوړوم"

تاسو حضرت زيد ﷺ ته ګورئ! چي هغه د خپل پلار د غيږي پر ځای د پيغمبر ﷺ غيږ خوښه کړه، الله تعالى د ده د دې عمل داسي قدرداني کوي، چي صحابه کرام د ده په ټوله زندګي کي دی د "زيد بن محمد ﷺ" په نامه سره يادوي، نبي اکرم ﷺ په خپلو قريبانو کي د يوې زناني سره د ده نکاح وکړه، بلکه زه دا ويلای سم: چي په ټولو صحابه کرامو کي صرف د ده نوم الله تعالى په قرآن مجيد کي ياد کړی دی، د الله تعالى ارشاد مبارک دی:

........فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا﴾.(۱)

يا چي کله حضرت زيد ﷺ د دې ښځه خپل حاجت پوره کړي، نو ای پيغمبر ﷺ موږ ستا په نکاح کي درکړه، صحابه کرامو به د حضرت زيد ﷺ ډېر زيات اکرام کاوی.

د حضرت زيد ﷺ زوی حضرت اسامه ﷺ وو، نبي اکرم ﷺ به پر ده باندي ډېر مهربان وو، او همېشه به ئې د لښکر امير جوړاوی، حالانکه په لښکر کي به اکابر صحابه کرام موجود وو، لېکن دی به د خپلي کم عمري سره سره همېشه د امير په شکل تلی، او پيغمبر ﷺ به همېشه د امارت بيرغ د ده په لاس ورکاوی.

د حضرت عمر ﷺ زمانه وه، يو څه صحابه کرامو ته د "بيت المال" څخه يو څه وظيفه ورکول کېدله، يو ځل د هغه وظيفې د تعين ضرورت راغی، نو د اسامه بن زيد ﷺ او د عبدالله بن عمر ﷺ نمونه مخ ته راغلل.

عبدالله چونکه د پيغمبر ﷺ زيات خدمت کړی وو، او امام المحدثين وو، او په علم کي ئې ډېر لوړ مقام درلودی، او په صحابوو کي هم د ده ډېر لوړ مقام وو، خلک به د ډېرو ليرو علاقو څخه ده له د حديثو د روايت کولو ډپاره راتلل.

حضرت عمر ﷺ د ده دپاره وظيفه کمه مقرر کړله، او د اسامه بن زيد ﷺ دپاره ئې وظيفه زياته مقرره کړه، دی ډېر زيات حيران وو، او راغی د خپل پلار څخه

(۱) سورة الاحزاب: آيت نمبر ۳۷

ئې پوښتنه وکړه، چي ای اباجانه! تا د اسامه بن زید ﷺ دپاره وظیفه زيات مقرره کړې ده، او زما دپاره دي کمه مقرره کړې ده، آخر د دې څه وجه ده؟
حضرت عمر ﷺ ورته عجيب جواب ورکوي.
"بچيه! ما دا کار ځکه کړی دی چي ستا په نسبت اسامه او ستا دپلار په نسبت د اسامه پلار د الله رب العزت ومحبوب ﷺ ته زيات محبوب وو".
دا خو د هغه خپل قول دی، مګر د دې وينا مقصد دادی: چي د اسامه پلار نبي ﷺ خپل زوی جوړ کړی وو، نو د ده سره د پيغمبر ﷺ د ډېر قرب نسبت وو نو ځکه حضرت عمر ﷺ د هغه نسبت ډېر خيال ساتی، د هغه په وجه ئې د ده زوی وظيفه د خپل زوی د وظيفې څخه زياته مقرره کړه، دا د الله تعالی د طرفه حضرت زيد ﷺ د اعمالو قدرداني وه.

## د الله تعالی په دربار کي د اعمالو قدر:

الله رب العزت دومره قدردان ذات دی، بنده که هر څومره کښنی عمل وکړي، نو الله تعالی هغه عمل يقيني قبلوي.
حالانکه د دنيا د بادشاهانو دا دستور دی: که چيري يو څوک وهغه ته يو کښنی او معمولي تحفه پيش کړي، نو هغه ئې په خپل شان کي ګستاخي بولي، او هغه رده وي، ځکه د دوی زړه همېشه دا غواړي چي زموږ حضور لره دي لوی لوی تحفې را پيشېږي، مګر الله رب العزت دومره کريم ذات دی، چي هغه په خپله دا ارشاد فرمايلی دی:
......فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾. (¹)
چي کم بنده د يوې زرې برابر نيک عمل وکړي، الله تعالی د قيامت په ورځ ده ته د هغه عمل اجر ورکوي.

(¹) سورة الزلزال: آيت نمبر ۷

او داغه رنګه قرآن کریم دا دستور هم بیان کړی دی:

......أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى﴾.(¹)

بیشکه په تاسو کي نارینه وي، او که زنانه وي، د هغو کړی عمل زه هیڅ کله نه ضائع کوم.

یا خاص کر د الله داسي کریم شان دی، چي بنده کله عمل کوي، او په عمل کي غلطي څني وسي، نو الله تعالی داهم کولای سي، چي دې بنده ته ووایي: چي ورسه مالره صحیح عمل یعني د غلطي کولو بغیر عمل راپېش کړه، که چیري الله تعالی دابېي کولای بیا به انسانان په څومره مشقت کي وای.

لیکن د الله تعالی داسي کریم شان دی، که چیري یو بنده لمونځ کوي، او د ده څخه په دې لمانځه کي رکعتونه هیر سي، او دی د دنیا په خیالاتو کي داسي محو وي، چي دا ئې هم په یاد نه وي، چي زه په کم رکعت کي یم، نو اوس د شاهانه ادابو تقاضا خو داده: چي ده ته دا وویل سي: چي ای زما بنده! ته زما ومخته ولاړ ئې بیا هم دومره غافله ئې، نو اوس د سره څخه بیا لمونځ وکړه، ستا دغه لمونځ ماته قابل قبول نه دی.

مګر پروردګار عالم دا حکم نه ورته کوي، که چیري دغه حکم ورته وکړي، نو بیا خو به موږ ټوله ورځ د لمنځو په کولو کي تېره وو، نو نه معلوم چي د الله تعالی د خوښي یو لمونځ به په ټوله ورځ کي ادا کړو، او که نه.

چي کله د بنده څخه د رکعاتو تعداد هیر سي، نو د شریعت حکم دادی: چي په خپل زړه کي دي سوچ او فکر وکړي، چي ما څو رکعته لمونځ وکړي، درې(۳) یا څلور(۴)، چي کم طرف ته ئې ګمان غالب سو، نو بیا دی نور رکعتونه ور پسي پوره کړي، او صرف په آخر کي دی سجده سهو وکړي، نو الله تعالی د ده دغه د غفلته څخه ډک لمونځ هم قبلوي، حالانکه د ده د خپل لمانځه رکعتونه هم یاد نه دي.

(¹) سورة آل عمران: آیت نمبر ۱۹۵

خو چې کم بنده لمونځ کوي او د ده د لمانځه رکعتونه یاد نه وي، نو د ده دپاره اسانه طریقه داده: چې خپل لمونځ بیا د سره څخه وکړي، مګر په دې صورت کې د دې بنده محنت ضائع کیږي، نو الله تعالی خو قدردان ذات دی، هغه د بنده محنت ضائع کول نه غواړي، لهذا دائې یو اصل جوړ کړی دی، که چیرې د واجب درجې پورې د بنده څخه غلطي وشي، او دی په آخر کې سجده سهو وکړي، نو زه داغه لمونځ قبلوم.

یا یو داسې بنده چې د ښمنانو په یو داسې ځای کې قید کړی دی، چې د شپې په وخت کې ده ته دا معلومات نه کیږي چې قبله پر کم طرف ده، حالانکه لمونځ د قبلې کول خو ضروري عمل دی، مګر پر آسمان وریځ ده، او شا وخوا درختې دي د هغه سرې د قبلې په طرف هیڅ دماغ نه رسیږي، چې کم طرف ته به وي.

نو په دې وخت کې هم د شریعت دا مسئله ده، چې دی دې تحرّی او فکر وکړي چې کم طرف ته ئې ګمان غالب سو، او زړه ئې دا اطمنان وکړی، چې قبله به دې طرف ته وي، نو پر هغه طرف دې مخ کړي، او خپل لمونځ دې شروع کړی.

اوس چې کله ده لمونځ شروع کړي، او دوه(۲) رکعته ئې وکړل، د هغه څخه وروسته وریځ سره ولاړه او سپوږمۍ ښکاره سوه، او د سپوږمۍ ښکاره کیدو سره ده ته دا احساس وسو، چې قبله خو بلکل زما د شا طرف ته ده، او زه د قبلې مخالف طرف ته پر لمانځه ولاړ یم.

اوس شریعت دا نه وایي: چې د ا سرې دې بیا د سره څخه لمونځ را وګرځوي بلکه د شریعت دا مسئله ده: چې اوس د لمانځه په درمیان کې، خپل رخ د قبلې طرف ته راوګرځوه، او دا باقي دوه(۲) رکعته لمونځ پسې ادا کړه، نو الله تعالی ستا دا څلور(۴) سره رکعته قبلوي، او س دغه چې د الله د طرفه قدرداني نه وي، نو به څه وي.

## د عبدالله ﷺ د عمل قدر داني:

حضرت ذوالبجادین ﷺ یو صحابي وو، ده ته الله تعالی حسن او جمال او ښائسته شکل ورکړی وو، یو ځل د خپلو دوستانوسره د پیغمبر ﷺ خدمت ته راغلی، د پیغمبر ﷺ په لیدلو سره ئې د اسلام حقانیت وزړه ته شوه سو، او مسلمان سو.

دا ځکه چي پیغمبر ﷺ ته الله تعالی دوې(۲) روحاني معجزې ور کړي وې، په هغو کي یوه معجزه د پیغمبر ﷺ ښائسته سترګي او شکل وو، چي کله به یو چاته الله تعالی زنده دل یعني ژوندی زړه ورکړی وو، نو هغه چي به کله دپیغمبر ﷺ ښائسته سترګي او خوبصورت شکل ولیدی، نو دستي به ئې دخولې څخه دا نعره ختله: چي:

........﴿هَذَا الوَجهُ لَيسَ بِوَجهِ كَذّابٍ﴾ دا مخ هیڅ کله درواغجن مخ نه دی، نو به ئې د شهادت کلمه پر خوله باندي جاری سوه.

او دوهمه روحاني معجزه د پیغمبر ﷺ د خولې څخه د قرآن کریم تلاوت اوریدل وو، چي کم چا به په ژوندي زړه سره دپیغمبر ﷺ دخولې څخه دقرآن کریم څو آیاتونه واوریدل، نو د ده پر زړه به ئې داسي تاثیر کاوی، چي بیا به د ده دپاره داسلام دقبولیت څخه سوا بله چاره نه وه.

نو حضرت عبدالله ﷺ چي کله دپیغمبر ﷺ صحبت ته د دوستانو سره حاضر سو، او دپیغمبر ﷺ مبارکي سترګي ئې ولیدې، او د ده دخولې مبارکي څخه ئې دقرآن کریم تلاوت واوریدی، چونکه دی زنده دل انسان وو، نو دستي ئې د اسلام حقانیت وزړه ته شوه سو، او د مسلمانی کلمه ئې وویله، او په اسلام باندي مشرف سو.

د مسلمان کیدلو څخه وروسته واپس خپل کورته راغلی، چونکه د ده پلار مخکي لا وفات سوی دی، او دی د خپلي مور سره د اکا په کور کي اوسیږي، نو

د ځان سره ئې دا فکر وکړی: چې زه به د خپل کور د انسانانو په مخ کې د خپل اسلام قبولیت نه ښکاره کوم، او خپل ایمان به د غسي پوشیده ساتم.

لیکن ایمان هیڅ کله نه پټېږي، ځکه دا قانون دی: چې عشق او مشک هیڅ کله نه پوټېږي، نو ایمان هم د الله او د الله د رسول ﷺ سره یو قسم عشق دی، نو دا هم هیڅ کله نه پوټېږي.

اکا چې کله د ده په حالاتو کې بدلون ولیدی، نو ورته وایي: چې ماته داسې معلومیږي، چې ته مسلمان سوی ئې؟ نو ده په جواب کې د خپل اسلام راوړلو اقرار وکړی، او ورته وایي: چې هو زه مسلمان سوی یم.

نو اکا یوه شپه ورته وایې: که چیري ته زما په کور کې اوسېدل غواړې، نو واپس به خپل کفر ته راځې، او که چیري کفر ته نه راځې، نو اوس به په شپه شپه کې زما د کور څخه وزې.

حضرت عبدالله ذوالبجادین ﷺ جواب ورکوی: چې د کور څخه په دې شپه کې وتلای سم، خو لیکن د اسلام څخه دوباره کفر ته نه سم راتلای، نو اکا را ونیوی، او زیات وهل ئې ورکړل، او په زور سره ئې د غصې او غضب په حالت کې د خپل کور د دروازې څخه ویاستی.

چې کله د دروازې څخه راوزي نو هغه اکا دوباره تر دې ګرېوان ونیوی، او ورته وایې: چې دا لباس خو زما د کور دی، دا لباس به زما په کور کې پرېږدې، او لغ به زما د کور څخه وزې، چنانچه دی ئې بې لباسه د لڅوالي په حالت کې په وهلو سره د خپل کور څخه ویاستی.

د ده مور د ده په لیدلو سره ډېره غمجنه او پرېشانه سوله، مګر د ده د اکا په وجه ئې څه ویلای نه سو، اخر ئې په یو بهانه سره د خپل سر چادر ترد هوال دباندې ور وغورځاوی، چې زما بچې به کم ازکم زما د سر په چادر سره خپل ستر پټ کړي.

چنانچه حضرت عبدالله رضي الله عنه هغه چادر راواخستی، او دوې(۲) ټکرې ئې کړې، يو ئې لنګ جوړه کړه، او دوهمه ټکړه ئې پر خپل بدن راوپيچله، او د خپل کور څخه روان سو.

حالانکه د حضرت عبدالله رضي الله عنه د نوجوانۍ زمانه وه، او ده دا خپل ځان په داسي قيمتي جامو کي ګرځولی وو، چي عامو خلکو به د ده د ښائسته لباس او حسن مثالونه خلکو ته ورکول، نن په هغو دوو(۲) چادرو کي پيچلی د خپل کور او د کلي څخه وزي، په دغه وجه باندي ده ته "ذوالبجادين" وايي، يعني دوو چادرو والا.

حضرت عبدالله رضي الله عنه چي کله د کلي او محلې د حدودو څخه را وواتی، نو د ځان سره په سوچ او فکر کي ذی، چي پر کم طرف به ځم، آخر ئې په دې خپل زړه کي دا فيصله وکړه، چي هغه يوه هستي ده، چي د هغه سره دی، دمحبت سودا کړې ده، او د هغه په خاطر دی، کور او کلي پرېښول نو اوس به دهغه در ته ورځم، او نور به خپل ژوند دهغه په دربار کي تيروم، او خپلي سترګي به دهغه په ديدار باندي مړوم، نو ټوله شپه ئې سفر راوکړی، او سهار لمانځه ته ئې مديني منورې ته او مسجدنبوي ته خپل ځان را ورساوی.

پيغمبر صلی الله علیه وسلم د سهار په لمانځه کي چي کله سلام وګرځاوی، نو حضرت عبدالله رضي الله عنه په صف کي ناست وو، د ده مبارک نظر ورباندي ولګيدی، نو دستي ئې وپېژاندی:

دونوں جہاں کسی کی محبت میں ہار کے ☆ وہ آرہا ہے کوئی شب غم گزار کے

د لمانځه څخه وروسته د پيغمبر صلی الله علیه وسلم خدمت ته حاضر سو، او د هغه په حضور کي دا عرض پيشوي: چي ای د الله رسوله! زما سره داسي معامله وسوه، چي يو ځل ئې ووهلم ، او بيا ئې لباس را څخه وکښی، او په ظلم ئې د کور څخه وئيستلم، پيغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وايي: چي د دې څخه بعد به ته د "اصحاب صفه"

سره او سیږي، او خپل ځان به زما په طالبانو کي شماري، چنانچه ده د "اصحاب صفه" سره خپله استوګنه شروع کړه.

چونکه د ده په زړه کي د الله تعالی د محبت جذبه ډېره زیاته وه، نو کله کله به د الله تعالی په محبت کي مغلوب الحال سو، او په لوړ آواز سره به ئې د "الله الله" ذکر کاوی، یو ځل حضرت عمر ﷛ چي کله د ده جهري ذکر واورېدی، نو ورته وایي: ای عبدالله! په دومره لوړ آواز سره ذکر مه کوه، پیغمبر ﷺ چي کله خبر سو، نو حضرت عمر ﷛ ئې راطلب کړی، او ورته وایي:

"ای عمره! عبدالله ته هیڅ مه وایه، دی چي څه کوي، په ډېر اخلاص سره ئې کوي".

یو ځل پیغمبر ﷺ د جهاد په سفر باندي روان دی، نو حضرت عبدالله ﷛ هم ورسره دی، په لاره کي یو ځای حضرت عبدالله ﷛ بیمار او ناجوړه سو، پیغمبر ﷺ چي کله د عبدالله په ناجوړي باندي خبر سو، نو د حضرت ابوبکر او عمر ﷠ دواړو سره د عبدالله عیادت او پوښتني ته راغلی، چي کله پیغمبر ﷺ هغه خیمې ته راغلی، چي په کمه خیمه کي حضرت عبدالله ﷛ پروت دی، نو که ګوري، د حضرت عبدالله ﷛ د زندګۍ آخري لمحات دي.

په روایاتو کي راځي، چي پیغمبر ﷺ د حضرت عبدالله ﷛ سر په خپله غېږ کي کښېښوی، "سبحان الله" عجیب خوش نصیب صحابي دی، چي د ده سر د پیغمبر ﷺ په غېږ کي پروت دی، او د ده نګاه او نظر د پیغمبر ﷺ پر مخ مبارک باندي لګیږي، او هغه د ده سره د محبت خبري کوي، او ده ته تسلي ورکوي.

د داغه تسلۍ ورکولو په دوران کي د ده آخرنی وقت راورسېدی، او روح مبارک ئې په داسي حال کي د بدن څخه رخصت اخلي چي د ده نظر د پیغمبر ﷺ پر مخ مبارک دی، او سر ئې د پیغمبر ﷺ په غېږ مبارکه کي دی، ګویا دی په زبان حال سره داسي وایي:

تیری معراج کہ تو لوح و قلم تک پہنچا ☆ میری معراج کہ میں تیرے قدم تک پہنچا

ستا معراج خو دا وو: چې ته تر لوح او قلم پورې ورسیدې، زما معراج بیا دا وو: چې الله تعالی ستا تر قدم پورې ورسولم.

او داغه مضمون یو شاعر داسې هم بیان کړی دی:

نکل جائے دم تیرے قدموں کے نیچے ☆ یہی دل کی حسرت یہی آرزو ہے

چې د روح د ختلو پر وخت مې سر ستا پر قدم وي، دا مې د زړه ارزو او تمنّی ده.

چې کله ئې روح د بدن څخه رخصت سو، نو پیغمبرﷺ وفرمایل: چې عبدالله ته غسل ورکړی، چنانچه صحابه کرام ده ته په غسل ورکولو کې مشغول سول، پیغمبرﷺ خپل دوړې چادر مبارک ور واستاوی، او ورته وئې ویل: چې عبدالله ته زما په دې چادر کې کفن ورکړی.

اوس تاسو د الله تعالی قدرداني ته ګورئ! چې کم بدن د الله تعالی د ذات په خاطر یو ګړی، بې لباسه کړل سو، هغه بدن تر قیامته پورې الله تعالی د خپل محبوبﷺ په چادر مبارک کې پټ کړی.

پیغمبرﷺ د جنازې لمونځ ورکړی، او قبر ور لره وکندل سو، د شریعت حکم دادی: چې د مړی و قبر ته د شوه کولو دپاره به هغه څوک و قبر ته مخکې ورشوه کیږي، چې د دې مړی د تهولو څخه زیات نزدې قریب وي.

حضرت عبدالله رضي الله عنه چونکه کور او قریبان تهول د پیغمبرﷺ په عشق کې پرې ښي وو، او تن تنها د پیغمبرﷺ حضور ته راغلی وو، نو په دې وخت کې بې شماره زیات صحابه کرام رضي الله عنهم موجود دي، لیکن د الله محبوبﷺ وفرمایل: چې د عبدالله د تهولو څخه زیات نزدې قریب زه یم، لهذا د عبدالله قبر ته د شوه کولو دپاره به زه مخکې د ده قبر ته ورشوه کیږم.

چنانچه پیغمبرﷺ قبر ته ورشوه سو، او حضرت عمر رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم پر خپلو لاسو باندې د حضرت عبدالله رضي الله عنه جسد راپورته کړی، او پیغمبرﷺ ورته وفرمایل:

"اى عمره! زما ورور عبدالله ماته را حواله كړه، او د ده د اكرام زيات خيال ساته".

چنانچه حضرت عمر ﷛ حضرت عبدالله ﷛ پيغمبر ﷺ ته ور حواله كړى، او پيغمبر ﷺ په خپلو لاسو سره هغه امانت وخپل خداى ته وسپارى.

هسي په قبر كي تدفين خو د ټولو انسانانو كيږي، لېكن دا تدفين هم ډېر عجيب وو.

...... د چا قبر ته مخكي پلار ورشوه كيږى.

...... د چا قبر ته مخكي زوى ورشوه كيږى.

...... د چا قبر ته مخكي دوست ورشوه كيږى.

لېكن د حضرت عبدالله ﷛ وقبر ته د شوه كولو دپاره الله رب العزت مخكي خپل محبوب ﷺ حضرت محمد ﷺ د ده وقبر ته ورشوه كړى.

چي كله د الله محبوب ﷺ دى په قبر كي كښېښوى، نو په دې وخت كي د هغه د خولې مباركي څخه د دعا داسي كلمات ووتل: چي هغه كلماتو د حضرت عمر ﷛ زړه وجوشاوى.

حضرت عمر ﷛ به دا واقعه ډېره بيانوله: ده به ويل: چي ما كله د پيغمبر ﷺ هغه الفاظ واورېدل، نو زما په زړه كي به دا تمنى پيدا سوه، چي كاش نن د عمر جسد واى، چي په دې شكل د الله محبوب ﷺ په خاورو كي ايښي واى.

يو چاپوښتنه څني وكړه، چي حضرت! هغه كمه خبره وه، چي د هغې په وجه ستاپه زړه كي دا تمنى پيدا سوه؟ ده په جواب كي ورته ويل: چي كله پيغمبر ﷺ عبدالله ﷛ د قبرپه ډوري كي كښېښوى، نو د خولې څخه ئې دا دعا ووتله.

"اى الله! زه د عبدالله څخه راضي يم، ته هم د عبدالله څخه راضي سه" (١)

"سبحان الله" الله تعالى څومره قدردان دى، او د الله محبوب ﷺ هم څومره قدردان دى.

---

(١) بكرے موتی: جلد نمبر ۴: صفی نمبر ۱۰۲

## د روژه دار قدر او منزلت:

چي کله بنده عبادت کوي، نو الله تعالی د ده دعبادت څخه دراضي کیدلو په وجه د ده قدرداني کوي.

په حدیث شریف کي راځي: چي کله بنده روژه ونیسي، اود روژې په وجه دده د خولې څخه د ده د معدې دخالي والي په وجه یو قسم بوی راځي، نو هغه بوی د الله تعالی په حضور کي د مشکو د خوشبوئي څخه زیات پسندیده وي.

دا د الله تعالی قدرداني ده، تاسو نه ګورئ! چي یو بنده د الله تعالی پر حکم باندي لبیک وکړي، بیا د ده د خولې څخه یو داسي بوی پیدا سي، چي هیڅ چاته خوښ نه وي، مګر چونکه الله تعالی قدردان دی، د ده د خولې د بوی هم قدرداني کوي. (۱)

## پر "زبیده خاتون" باندي نظر کرم:

"زبیده خاتون" د "هارون رشید" بادشاه د کور زنانه وه، ډېره نیکه او دینداره ملکه وه،د دې د قرآن کریم سره دومره محبت وو: چي دې په خپل کور کي درې سوه(۳۰۰) حافظات زناني په اجرت او مزدوري سره ساتلې، او د هغو دپاره ئې مختلف وختونه مقرر کړي وه، چي په هر وخت کي به سلو(۱۰۰) زنانو د دې په محل کي د قرآن کریم تلاوت کاوی، او څلورویشت(۲۴) ساعته به د دې په محل کي د قرآن کریم تلاوت روان وو.

چي کله دې زناني ته دا معلومه سوه، چي خلک د حج په سفر باندي ځي، اوپه لاره کي هغو ته اوبه نه وي، نو ځکه هغه د خپل ځان سره پر خپلو سوارلیو باندي د ضرورت اوبه راوړي، او ډېر ځله داسي وي، چي د دوی د ضرورت اوبه ختم سي، نو بیا دوی د حج سفر په تنده باندي تیروي، او ډېره ځله داسي هم وسي، چي بعض حاجیان د تندي په وجه وفات هم سي.

---

(۱)خطبات فقیر: جلد نمبر۱۲: صفحه نمبر۴۶

هره زنانه د خپل خاوند څخه کله ناکله يو فرمائش لري، اود خپلي تمنى کار په خپل خاوند باندي کوي.
"زبيده خاتون" خپل خاوند "هارون رشيد" بادشاه ته وويل: چي زما په زړه کي دا تمنى ده: چي ته يو "نهر"(ويياله) جوړ کړې، چي تر ميدان عرفات پوري رسيدلې وي، چي کله حاجيان دحج په سفر کي وي، نو هغوی ته به داوبو په باره کي اساني وي، او هر وخت به په اسانه سره دوی ته دخپل ضرورت دپاره اوبه موجودي وي.
"هارون رشيد" دهغې زناني فرمائش پوره کړی، او يو ډېر "عظيم الشان" "نهر" ئې جوړ کړی، چي دهغه څخه به په زرونو انسانانو حيواناتو او مرغانو اوبه څښلې، او فائده به ئې ځني اخستله.
حالانکه يو څاته داوبو يوه پياله ورکول څومره لويه نيکي ده، په رواياتو کي راځي: چي دقيامت په ورځ به يو جهنمي جنتي ته وګوري، او هغه به وپېژني او ورته وبه وايي: چي تاخو په دنيا کي يو ځل زما څخه داوبو د پيالې طلب کړی وو، او ما تاته هغه داوبو پياله درکړې وه، ايا تاته ياد دي؟ نو هغه جنتي به ورته وايي: چي هو راته ياد دي، نو دی به ورته وايي: چي دهغي پيالې په خاطر نن دالله په حضور کي زما شفاعت وکړه.
په داغه حديث شريف کي راغلي دي: چي ديوې پيالې اوبو ورکولو په وجه به هغه جنتي شفاعت کوي، او الله تعالى به د ده په شفاعت سره هغه جهنمي د جهنم څخه راباسي، او دهغه پر ځای به د جنت زندګي ورنصيب کوي، نو ديوې پيالې اوبو ورکولو دالله تعالى په حضور کي دومره لوی قدر وي. (۱)
انسان خو بالآخر انسان دی، حيوان ته اوبه ورکول، څومره لوی قيمتي عمل دی.

---

(۱) خطبات فقير: جلد نمبر ۱۲: صفحه نمبر ۴۸

په حدیث شریف کي راغلي دي: چي یوې زنانې خپله ټوله زندګي په کبیره ګناهونو کي تیره کړې وه، یو ځل پر لاره باندي روانه ده، نو یو سپی ئې تږی ولیدی، د ګرمۍ موسم وو، او دهغه ژبه راوتلې وه، او دتندي په وجه ئې دخاه دغاړي لنده خاوره څټله.

د دې په زړه کي پر هغه باندي ترس او رحم راغی، او دې په خپل چادر کي خپله دپښې موزه وتړله، او دڅاه څخه ئې هغه سپي ته اوبه راوکښلې، او هغه ئې په اوبه کړی، نو دهغه سپي داوبه ولو په وجه دالله تعالی رحمت په جوش کي راغلی، د دې سپي داوبه ولو په عوض کي الله تعالی ددې دزندګۍ ټوله کبیره ګناهونه ورمعاف کړل، نو چاته اوبه ورکول، انسان وي، که حیوان، دالله تعالی په دربار کي قیمتي عمل بلل کیږي. (۱)

"زبیده خاتون" په لکونو ترږو انسانانو ته اوبه ورسولې، چي کله دا وفات سوه، نو یو چاپه خوب کي ولیدله، او پوښتنه ئې ځني وکړله، چي الله تعالی څه معامله درسره وکړه؟

دې په جواب کي ورته وویل: چي پرماباندي دالله تعالی رحمت وسو، او الله تعالی دخپل رحمت په خاطر زما مغفرت نصیب کړی،هغه ورته وویل: چي چونکه تاخو په دنیا کي ډېر لوی کارونه وکړل، او دحاجیانو دپاره د"نهر" جوړول ستا لویه کارنامه وه، شاید الله تعالی به دهغه په وجه ستا مغفرت نصیب کړی وي.

دې په جواب کي ورته وویل: چي زما مغفرت د"نهر" په وجه نه دی سوی، نو هغه چا پوښتنه ځني وکړه، چي آخر ولې؟

دې ورته وویل: چي کله زما د"نهر" جوړولو عمل دالله تعالی په حضور کي پېش سو، نو پروردګار عالم وفرمایل: چي تاخو "نهر" په دې وجه جوړ کړی دی: چي ستا سره د"بیت المال" دولت موجود وو، که هغه نه وای، تانه سو جوړ

---

(۱) صحیح البخاري: بحواله اصلاحي خطبات: جلد نمبر۸: صفحه نمبر۲۱۹

ولای داخو څه خاص کارنامه او عمل نه دی، چي کم عمل دي خالص زما درضا دپاره کړی دی، هغه راپیش کړه، دا وایي: چي ما کله دا واورېدل نو ډېره په خوف او بیره کي مبتلا سوم، چي زما سره خو شاید هیڅ داسي عمل نه وي چي هغه دي صرف دالله درضا دپاره وي، چي نن زما دنجات ذریعه وګرځي.
د دغه بیري په حالت کي دالله تعالی رحمت زما طرف ته متوجه سو، او الله تعالی راته وفرمایل: چي ستا یو داسي عمل دی، چي هغه تا صرف زما درضا دپاره کړی دی، نن دي دهغه په وجه مغفرت نصیب کوم.
هغه عمل دادی: چي یو ځل تا ډوډۍ خوړله، او ډېره د اشتها په حالت کي خپلي خورکې ته متوجه وې، چي کله دي یو ګوله برابره کړه، چي دا به په خپله خوله کي اچوم، وخولې ته د داخلولو په وخت کي دمسجد څخه دآذان اواز ستا تر غوږو پوري راورسیدی.
او په دې وخت کي ستا سر سرتور وو، او ستا پر سر باندي په پوره شکل پړونی او چادر نه وو غوړېدلی، نو د سر یو څه حصه دي لڅه وه، په دې وخت کي ستا په زړه کي دا خیال راغلی، چي دالله نوم د مسجد څخه زما تر غوږ پوري رارسیږي، او زما سر لڅ دی، هسي نه چي دا زما دپاره لویه بې ادبي وي.
نو خپله لوږه دي قابو کړه، او هغه ګوله دي کښېښوله او خپل پړونی دي پر سر باندي سم کړی، او دهغه څخه وروسته دي هغه ګوله وخوړله، نو په دغه ګوله کي چي تا کم تاخیر او ځنډ وکړی، دا دي زما دنامه دادب په وجه وکړی، نن زه د دغه عمل په وجه ستا مغفرت کوم.
"سبحان الله"...... الله رب العزت دې ته نه ګوري چي دا عمل ډېر دی، او که لږ، ځکه دالله تعالی په دربار کي دقبولیت معیار قلت او کثرت نه وي، بلکه دالله تعالی په دربار کي داعمالو دقبولیت معیار هغه دا وي: چي کم عمل دالله درضا دپاره سوی وي، نو هغه دالله تعالی په دربار کي ډېر قدر لري، چونکه

"زبیده خاتون" دغه عمل دالله تعالی د رضا دپاره کړی وو، نو ځکه دهغه پر بنیاد باندي الله تعالی د دې مغفرت نصیب کړی.
نو د"لقمان حکیم" هغه نصیحت چي هغه دڅلورو زرو(۴۰۰۰) پیغمبرانو د تعلیماتو څخه راخلاصه کړی وو، هغه دا: چي همېشه خپل رب یاد ساتل او دهغه قدرداني په خپل تصور او فکر کي راګرځول.
او خپله زندګي دهغه په عبادت او اطاعت کي تیرول، او خپل ځان دهغه دنافرمانۍ او ګناهونو څخه محفوظه کول.
الله تعالی دي زموږ او ستاسو په دماغو کي دالله تعالی یاد راسخ او مضبوط وګرځوي، او الله تعالی دي زموږ او ستاسو زندګي د الله تعالی پر احکامو باندي تیره کړي، او الله تعالی دي موږ او تاسو د خپل رب د نافرمانۍ کولو څخه محفوظه وګرځوي.
او الله تعالی دي په دې څو مختصرو خبرو دعمل کولو توفیق رانصیب کړي، او الله تعالی دي زموږ او ستاسو دغه اصلاحي مجلسونه په خپل دربار کي قبول او مقبول وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# احسان د اللّٰه دپاره کول

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰه صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰه صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقـــام | [illegible] مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعت | [illegible] |
| تـاريـــخ | ١٣ ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق ١١ جنوري ٢٠١٨ |
| تـعـــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ قَالَ: فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِرَارًا، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا، مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الْمُسْبِلُ، وَالْمَنَّانُ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! د تېرې څه مودې څخه د "لقمان حکيم" د نصيحتونو لړۍ روانه ده، چې هغه د څلورو زرو (۴۰۰۰) انبياء کرامو عليهم السلام د تعليماتو څخه راخلاصه سوې وه، او د اتو (۸) خبرو په شکل پېش سوې وه.

۱. د لمانځه په حالت کې د ذهن او فکر حفاظت کول.
۲. د خوړک په حالت کې د ستوني حفاظت کول.
۳. د بې پردگۍ په ځای کې د نظر حفاظت کول.
۴. او د مجلس په دوران کې د ژبې حفاظت کول.

(۱) سورة لقمان آيت نمبر: ۱۲

٥. خپل مرګ همېشه ياد ساتل.
٦. او خپل رب همېشه يادول.

د دې نصيحتو متعلق په تېرو وعظو کې په تفصيل سره خبره وسوه، الله تعالی دې ئې په خپل دربار کې قبوله او مقبوله وګرځوي، او الله تعالی دې موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.(آمين)

حضرت لقمان عليه السلام اوم (۷) نصيحت دا فرمايلی وو: چې کله ته پر يو چاباندې احسان وکړې، نو د احسان کولو څخه وروسته هغه د همېشه دپاره هېروه.

پر مسلمان باندې احسان کول، او بيا خاص په هغه کې د الله تعالی رضا په فکر کې درلودل ډېر لوی عبادت دی.

په يو حديث شريف کې راځي: چې کله يو سړی د يو مسلمان سره د ده د خدمت په سلسله کې يا د ده د يو کار برابرولو دپاره ولاړسي نو پر هر قدم باندې ده ته اويا(۷۰) نيکی ملاوېږي، او اويا(۷۰) ګناهونه (صغيره) ئې معاف کيږي، دا سلسله در هغه ساعته پورې جاري وي، تر څو چې دی خپل ځای ته بيرته واپس راځي.

که چيرې د ده د تللو په ذريعه د هغه انسان کار وسي، نو دی الله تعالی د دې په ذريعه د ګناهونو څخه داسې پاک کوي، لکه په دغه ورځ چې د مور څخه پيدا سوی وي، او که چيرې په دې دوران کې د ده انتقال وسي، نو بغير حساب او کتاب به ئې الله تعالی جنت ته داخلوي.(¹)

## اويازره(۷۰۰۰۰) فرشتې دعاګانې کوي:

په يو بل حديث شريف کې راځي: چې کله يو مسلمان د بل مسلمان د ضرورت پوره کولو کوشش کوي، چې د هغه په وجه د هغه مسلمان حالات بهتر سي، او د

(¹)ابن ابی الدنيا: بحواله اصلاحی بيانات ورسائل: جلدنمبر۲؛ صفحه نمبر ۱۵۳

هغه پرېشاني لیري سي، او د هغه کار جوړ سي، نو الله تعالی به د دې کومک کونکي انسان دپاره اویا زره (۷۰۰۰۰) فرشتې مقرر وي.
که چیري ده د هغه مسلمان حاجت او ضرورت د سهار په وخت کي ورپوره کړی وو، نو دا فرشتې د ده دپاره د ماښام تر وخت پوري دعاګاني کوي، او که د ماښام په وخت کي ده دغه کار کړی وو، نو تر سهاره پوري د ده دپاره د رحمت دعاګاني غواړي، او چي کله دی د هغه کار دکولو څخه وروسته واپس راځي، نو پر هر قدم الله تعالی د ده یوه ګناه معافه وي، او یوه ئې درجه بلنده وي.(۱)
دا صرف د کوشش کولو ثواب دی، که چیري یو سړي د بل سړي خدمت وکړی. او په هغه سره د هغه سړي مراد او مطلب سر ته ورسیدی، نو د هغه ثواب د دې څخه نور هم زیاتیږی.

## احسان کول کله عبادت دی:

بهر حال احسان کول ډېر لوی عبادت هم دی، لیکن دا هغه وخت لوی عبادت بلل کیږي، چي ضرف او صرف د الله تعالی د رضا دپاره وي، او د احسان کولو څخه وروسته انسان هغه هیر کړي، که چیري هغه سړی چي ده احسان ورسره کړی دی، د ده سره بدسلوکي کوي، او د ده د احسان بدله هیڅ نه ورکوي، بیا هم ده داسي هیر کړی وي، چي هیڅ کله هغه پر ژبه نه راوړي، او نه پر چا باندي احسان اچوي.
لیکن که چیري هغه سړی د ده د احسان بدله نه ورکوي، نو دی د خپله طرفه پر هغه باندي احسان اچوي، نو دا په حقیقت کي پر خپل احسان باندي خاوري تویول دي، او هغه خرابول دي، او د هغه د آخرت د ثواب څخه خپل ځان محرومه کول دي.

(۱) صحیح ابن حبان: بحوانه اصلاحي بیانات ورسائل: جلد نمبر۲: صفحه نمبر ۱۵۴

محرومه کیدل خو څه کوي، بلکه په آخرت کي به پر دې احسان اچولو باندي الله تعالی ده ته سزا ورکوي، ځکه چي د الله په دربار کي د احسان کونکي دپاره ثواب دی، او د احسان اچونکي دپاره سزا ده.

حضرت ابوذر غفاري ﷺ د پیغمبر ﷺ یو روایت رانقل کوي:

……… ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ قَالَ: فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ثَلَاثَ مِرَارًا، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا، مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الْمُسْبِلُ، وَالْمَنَّانُ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ﴾.[1]

درې(۳) کسان داسي دي: چي د قیامت په ورځ به الله تعالی نه د دوی سره کلام کوي، او نه به دوی ته په نظر د رحمت ګوري، او نه به د دوی پاکي او صفائي بیانوي، او د دوی دپاره به بدترین عذاب وي.

حضرت ابوذر غفاري ﷺ فرمایي: چي پیغمبر ﷺ دا خبره درې(۳) ځله مقرره کړه: (چي په ښه طریقه سره مؤکده سي، او د انسانانو په ذهنو کي د دې اهمیت پیدا سي) حضرت ابو ذر ﷺ چي دا واوریدل، نو ورته وایي: ای د الله رسوله! خائب او خاسر دي وي، دا کم کسان دي، پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وویل:

۱. اول هغه سړی چي خپلي پائڅې تر بجلکو لاندي ځړوي.
۲. دوهم چي پر انسانانو احسان اچوي.
۳. دریم چي په دروا غجنو قسمو سره خپل سامان خرڅوي.

لهذا د احسان اچولو څخه باید انسان خپل ځان محفوظه کړي، او د احسان کولو څخه وروسته هغه احسان کول د همېشه دپاره هیر کړي.

لیکن موږ خلک د احسان کولو څخه وروسته هغه ډېر زیات یادوو، او دا مي عادت جوړ کړی دی، د کم چاسره چي موږ احسان کړی دی، که چیري هغه هم زموږ سره احسان وکړي، نو موږ خپل احسان پټ ساتو، او په هغه وخت کي د

[1] مسلم شریف: حدیث نمبر ۱۷۱

هغه اظهار نه کوو، چې موږ خو هم پرتاباندې احسان کړی دی، ځکه چې دی زموږ د احسان څخه زیات پر موږ باندې احسان کوي.
لېکن که چېرې هغه سړي د احسان پر ځای باندې زموږ سره بدسلوکي وکړه، او یا ئې زموږ د احسان بدله رانه کړه، نو موږ فوراً د خپلو احسانانو فهرست د هغه ومخته پېشوو، چې موږ خو په فلانکي وخت کې ستا سره دا احسان کړی دی، او په فلانکي وخت مې دغه احسان کړی دی، او تا زموږ ټوله احسانات هیر کړل، نو اوس زمانه خو بالکل د احسان کولو نه ده، او د چا سره د ښو کولو نه ده، ماستاسره دا سلوک وکړی، او دا سې همدردي مې وکړه، او ستا مې دومره خدمت وکړی، لېکن ستا د طرفه څخه د هغه په عوض کې ماته دا بدله راورسېده.
نو هغه سړي خو د بدسلوکۍ ګناه وکړه، لېکن دې احسان کونکي خپل احسان پر هغه باندې واچوی، او د خپل احسان کولو نیکي ئې برباد کړه.

## صرف د الله دپاره احسان کول:

انسان چې کله هم د چا سره احسان کوي، نو صرف د الله تعالی د رضا دپاره دې وکړي، یعني (د بدلې او عوض په نیت دې ئې نه کوي) او د احسان کولو وروسته دې د همېشه دپاره هغه خپل احسان کول، هیروي، چې د ده د احسان کولو عبادت ضائع نه سي.
ورنه پر یو چاباندې د لږ احسان اچولو په خاطر به ستا پر ټولو احسان کولو باندې اوبه تېرې سي.
مثلاً په یو لک روپۍ (۱۰۰۰۰۰) باندې تا د یو چا سره احسان وکړی، او د هغه ضرورت دې ورپوره کړی، زموږ په دین کې د دې عمل کولو ډېر لوی ثواب دی، لېکن که چېرې تا پر هغه سړي باندې یو ځل احسان واچوی، نو بس په دا غه لمحه کې دې دستي هغه خپل ټول عمل ضائع کړی، هغه یو لک روپۍ (۱۰۰۰۰۰) دې په خاورو او پرو باندې بدلې سوې.

که چیري ته د هغه یو لک روپو (۱۰۰۰۰۰) بالکل چا ته تذکره هم نه کوي، نه د ده ومخته او نه د نورو ومخته او په دنیا کي ئې بالکل د دماغ څخه وباسي، صرف په آخرت کي د الله تعالی څخه د ثواب امید ولري نو الله تعالی به پر دې باندي وتاته ثواب عظیم درکوي.

او چي کمه نیکي او احسان صرف د الله تعالی د رضا دپاره وسي، نو الله تعالی په څو چنده انسان ته اجر او ثواب ورکوي.

په روایاتو کي راځي: چي کله دا آیت را نازل سو:

......مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾.(۱)

چي کم بنده د چاسره په یو حسنه سره نیکي او احسان وکړي، نو د هغې په مقابل کي الله تعالی فرمایي: موږ لس(۱۰) چنده اجر او ثواب ورکوو.

پیغمبر ﷺ ته چي کله دا آیت جبرائل امین راوړی، نو ده دستي د الله تعالی په دربار کي عرض وکړی، چي یا الله! دا اجر او ثواب خو د ټولو امتو د انسانانو دپاره دی، او دا غه اجر او ثواب دي زما د امت د پاره هم راواستاوی، نو پیغمبر ﷺ د الله تعالی په دربار کي دا تمنی پیشوي:

.....يَارَبِّ زِدْ أُمَّتِي﴾ یا الله! زما دامت سره احسان وکړه، او زما دامت داجر او ثواب حصه ور زیاته کړه.

د پیغمبر ﷺ پر تمنی باندي الله تعالی دوهم ځل جبرائل علیه السلام د بل آیت سره را استوي:

......مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً﴾:(۲)

چي کم سړی الله تعالی ته قرض حسن ورکړي، یعني د الله تعالی د مخلوق سره احسان او نیکي وکړي، نو الله تعالی به د ده د نیکی بدله په ډېرو زیاتو دوچندیو سره ورکوي، نو په دې آیت کي خبره د لس(۱۰) چنده عوض پر ځای

(۱) سورة الانعام، آیت نمبر ۱۶۰

(۲) سورة البقرة: آیت نمبر ۲۴۵

دېره مخته ولاړه ځکه الله تعالی د اجر او ثواب په باره کې د زيات تضعيف وعده وکړه.

لېکن د پيغمبرﷺ زړه مبارک اطمينان نه کوي، ده مبارک بيا د الله تعالی په دربار کې ژړا او دعا شروع کړه: چې:

.......﴿يَارَبِّ زِدْ أُمَّتِيْ﴾ اې الله! زما د امت سره يو څه نور احسان وکړه، د دوی د اجر او ثواب حصه ور زياته کړه، نو الله تعالی دريم ځل حضرت جبرائيل عليه السلام د دې آيت سره را استوي:

.......﴿مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾.(۱)

الله تعالی ورته فرمايي: اې زما نبي! چې کم څوک ستا د امتيانو څخه خپل مالونه زما درضا دپاره نفقه او صدقه کړي، د دې اجر او ثواب به زما په دربار کې داسې وي: لکه يو سړی چې يوه دانه تخم په مځکه کې وکري، او د هغه څخه اوه(۷) وږي را پورته سي، او په هر وږي کې سل (۱۰۰)دانې وي، يعني زه ستا د امتي د يوې نيکی عوض په اوه سوه(۷۰۰) ورکوم.

لېکن پيغمبرﷺ بيا د﴿يَارَبِّ زِدْ أُمَّتِيْ﴾ دعا کوي، چې اې الله! زما د امت سره يو څه نور احسان وکړه.

څلرم ځل حضرت جبرائيل عليه السلام راځي: چې د ضرب او تقسيم خبري پرېږده، بلکه الله تعالی ستا د امت په باره کې دا فيصله راکړه:

.......﴿إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾.(۲)

اې پيغمبره! ستا په امت کې چې کم څوک زما د مخلوق سره احسان او نيکي وکړي، او د احسان او نيکی کولو مقصد ئې صرف زما رضا وي، چې د کم

(۱) سورة البقرة: آيت نمبر ۲۶۱
(۲) سورة الزمر: آيت نمبر ۱۰

چاسره ئې احسان او نیکي کړې ده، د هغه د طرفه د ده د احسان او نیکۍ په مقابله کې، بدسلوکي کیږي.
دَی د خپلې نیکۍ احسان پر هغه نه اچوي، او د هغه پر دغه بد سلوک صبر کوي، او د هیڅ چا په مخ کې خپله نیکي او احسان نه یادوي، بلکه صرف د ثواب طمع او امید زما څخه لري نو دغه د بل پر بد سلوک باندې صبر کونکي انسان ته زه اجر او ثواب بغیر د حسابه او کتابه ورکوم، یعنې ده خو یو عمل د نیکۍ او احسان کړی دی، لیکن زما د طرفه به د ده سره حساب نه وي، بلکه عوض به ئې بلاحسابه د ده په نصیب کیږي.

## د قریبانو احسانات:

تاسو ګورئ! خاوند هم احسان کوي، زنانه هم احسان کوي، مور او پلار هم احسان کوي، اولاد هم احسان کوي، ورور هم احسان کوي، او قریب هم احسان کوي، په معاشره کې د یوه انسان پر بل انسان باندې احسان کول دا د زندګۍ یو لازمه حصه ده لیکن دا خبره په یاد وساتئ: چې یو خو احسان صرف د الله تعالی دپاره کوئ، یعنې د احسان کولو څخه وروسته احسان کول هیروئ، هیڅ کله هم د چا و مخته تذکره مه کوي.
صرف احسان کول نه بلکه هر عمل چې انسان کوي، نو باید په هغه کې د ده مقصد صرف او صرف دالله تعالی رضا وي.
ځکه د الله تعالی په دربار کې د عمل قدر او قیمت هغه د عمل کونکي د نیت او ارادې په طبق وي، که چیرې د انسان نیت او اراده صرف د الله تعالی رضا وي، نو بیا هغه عمل د الله تعالی په دربار کې زیات قدر او قیمت پیدا کولای سي، که څه هم یو معمولي شاني عمل وي.

## د صحابه وو د اعمالو قدر د الله په حضور کي:

چي کله په مدينه منوره کي "جيش العسره" يعني د "غزوه تبوک" موقع راغله، نو پيغمبر ﷺ په مسجد نبوي کي د چاندې اعلان کوي، نو ټول صحابه کرام د خپل حيثيت او استعداد مطابق په "غزوه تبوک" کي خپله مالي ونډه او حصه راوړي، او د چاندې په مال کي ئې جمع کوي، نو ډېرو صحابه کرامو خپله چانده د پيغمبر ﷺ حضور ته راوړه، او د غزوې په مال کي ئې جمع کړه.

يو صحابي حضرت ابو عقيل ﷺ چي هر څه وګرځېدی، نو نه په کور کي څه سته او نه ئې په لاس کي څه سته چي د پيغمبر ﷺ د چاندې په مال کي ئې جمع کړي، ځکه وخت او زندګي ئې د غربت په شکل کي تېرېږي.

آخر راغلی، يو يهودي لره هغه ته وايي: که چيري زه ټوله شپه ستا د باغ اوبه ولو مزدوري پر غاړه واخلم نو ماته به څومره اجرت او مزدوري راکړې، خو آخر ئې د هغه يهودي سره پر بنېږ(۶) کيلو خورماوو باندي معامله وسوه.

حضرت ابو عقيل ﷺ ټوله شپه د هغه يهودي په باغ کي د اوبو لګولو په شکل تېره کړه، چي کله سهار سو، نو ده لره سهار بنېږ(۶) کيلو خورماوي په مزدوري کي په لاس ورغلې، نو درې(۳) کيلو ئې په کور کي خپلو بچيانو ته کښېښوې، او هغه نوري درې(۳) کيلو ئې په لمن کي راواخستې، او مسجدنبوی ته راغلی، او د پيغمبر ﷺ حضور ته ئې په چانده کي د جمع کولو دپاره پيش کړې.

د ده څخه مخکي يو بل صحابي حضرت عبدالرحمٰن بن عوف ﷺ زر(۱۰۰۰) منه کجوري او خورماوي دچاندې دپاره راوړي وې، نو د ده سره درې(۳) کيلو کجوري او د عبدالرحمٰن بن عوف زر(۱۰۰۰) منه کجوری وې، لېکن پيغمبر ﷺ هغه درې(۳) کيلو خورماوي د عبدالرحمٰن بن عوف پر زر(۱۰۰۰) منه خورماوو يوه يوه دانه سر بيره سره خوري کړې.

يو صحابي پوښتنه څني کوي: چي اى د الله رسوله! ولي داسي کوې؟ پيغمبر ﷺ ورته وايي:

........لَعَلَّ اللهَ تَقَبَّلَ هٰذَا بِبَرَكَةِ هٰذَا).

زما امید دی، چي الله تعالی به د عبدالرحمٰن بن عوف د زر(۱۰۰۰) منه خورماوو صدقه د ابو عقیل رضي الله عنه د درې(۳) کیلو په برکت سره قبوله کړي.

دا هغه په عمل کي مقصود د الله تعالی رضا او اخلاص دی، چي معمولی صدقه او نیکي د کم ځای څخه کم ځای ته رسوي.

یو بل صحابي حضرت علبه بن زید رضي الله عنه چي هر څومره وګرځې دی، نو نه ئې مزدوري پیدا کړه، او نه ئې په لاس کي څه سته، ماخستن کور ته راغلی، په ډېر سوچ او فکر کي دی، او ډېر زیات پرېشانه دی، چي پیغمبر ﷺ د "غزوه تبوک" دپاره اعلان کړی دی، لېکن زما سره دومره شی نسته چي هغه د پېغمبر ﷺ وحضور ته پېش کړم، او نه دومره څه راسره سته: چي پر هغه باندي د خپل ځان دپاره د "تبوک" وطرف ته د تللو او په غزوه کي د شرکت کولو دپاره بندوبست وکړم.

د شپې په وخت کي د ځان سره داغه سوچ او فکر کوي، خوب نه ورځي، آخر راولاړ سو، د لمانځه نیت ئې وتاړی او تر ډېره پوری ئې لمونځ وکړی، چي کله د لمانځه څخه فارغه سو، د الله تعالی په دربار کي ئې ډېره ژړا وکړه، آخر د ځان سره دا وایي: چي یا الله! تا موږ ته په جهاد کي د شرکت کولو حکم کړی دی، او ستا نبي ﷺ موږ ته په جهاد کي د شرکت کولو ترغیب راکړی دی، او تا ماته دومره وس او طاقت نه دی راکړی: چي زه د الله د رسول ﷺ سره د جهاد په هکله نصرت او کومک وکړم، او نه دي په جهاد کي د تللو دپاره ماته د سوارلۍ پیدا کولو وس او طاقت راکړی دی، او نه دي خپل رسول ﷺ ته دومره وس او طاقت ورکړی دی: چي هغه زما دپاره د سوارلۍ انتظام وکړي.

یا الله! نور خو مي هیڅ په وس کي نسته صرف دا یوه صدقه مي په وس او طاقت کي ده: چي کم مسلمان د مال یا جان یا عزت په باره کي پر ما باندي ظلم کړی

وي، زه د خپله طرفه ټولو مسلمانانو ته د هغه معافي کوم، او د هغه معاف کولو اجر او ثواب ټولو مسلمانانو ته صدقه کوم.

سهار چي کله لمانځه ته راغلی، پيغمبر ﷺ چي کله د جماعت لمونځ وکړی، د سلام ګرځولو څخه وروسته صحابه کرامو ته وايي: چي بيګاه (تيره) شپه په تاسو کي چا صدقه وکړه؟ صحابه کرام هيڅ څوک ږغ نه کوي، پيغمبر ﷺ دوه(۲) دري(۳) ځله خپله خبره مکرره کړه، آخر حضرت علبه بن زيد ﷺ ته په زړه کي دا وروګرځېدله چي هسي نه زما هغه د شپې صدقه يادوي.

د پيغمبر ﷺ د بار بار پوښتني وروسته چونکه هيڅ څوک ږغ نه کوي، نو حضرت علبه بن زيد ﷺ د خپلي شپې هغه حالت او هغه صدقه پيغمبر ﷺ ته بيانوي، نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي الله تعالی دي صدقه په داسي قبوليت سره قبوله کړه، چي د غه شاني قبوليت د بل چاصدقې ته الله تعالی نه وو ورنصيب کړی.(۱)

نو د صدقې او د نيکۍ او احسان کولو د قبوليت معيار د الله تعالی په دربار کي قلت او کثرت نه دی بلکه اخلاص او عدم اخلاص دی.

د جيش العُسره د اعلان کيدلو څخه وروسته حضرت ابو بکر ﷺ او حضرت عمر ﷺ دواړه د چاندې راوړلو په فکر کي دي، او حضرت عمر ﷺ په دې وخت کي د وسعت او فراخۍ په حالت کي دی، او حضرت ابوبکر ﷺ په دې وخت کي د تضييق او تنګدستی په حالت کي دی.

حضرت عمر ﷺ ډېره خوشحاله دی، چي نن خو به د حضرت ابوبکر ﷺ څخه په چانده راوړلو کي وړاندي کيږم، ځکه ده ته دا ورمعلومه وه: چي زما سره چي څومره مال او دولت سته او زه څومره شی راوړلای سم، هغومره شی د ابوبکر ﷺ په وس او طاقت کي نسته.

(۱)حياة الصحابه: جلد نمبر۱ صفحه نمبر ۵۸۲

حضرت عمرؓ کور ته راغلی، د خپل کور ټوله مال ئې سره دوې(۲) حصې کړې، نیمه حصه ئې کور ته پرېښوې او نیم مال ئې مسجدنبوي ته په چانده کي د جمع کولو دپاره راوړی، چې هغه مال کافي زياته اندازه معلوميدی، او پيغمبرﷺ يو طرف ته کښېښوی، او حضرت عمرؓ د خپلي چاندې د مال سره کښېناستی.

حضرت ابوبکرؓ چې کله کور ته راغلی، نو په کور کي هيڅ نسته ځکه وخت د مسکنت او تنګدستی دی.

آخر چې په کور کي څه وه، هغه ئې ټوله راټول کړل، او په خپل چادر او پټو کي ئې واچول دا خپل زړه ئې اطمينان نه کوي، آخر ئې د بدن لباس وياستی، او هغه ئې هم د چاندې په مال کي جمع کړی، د حجرې په غولي کي يو زوړ ټاټ هوار دی، هغه ئې هم راټول کړی، او دوې(۲) ټکړې ئې ځني جوړي کړې، يوه ټکړه ئې د لنګ په شکل پر خپل بدن وپېچله او په هغه دوهمه ټکړه کي ئې د چاندې مال په شا راواخستی، او د پيغمبرﷺ حضور ته مسجدنبوي ته ئې راورساوی.

چونکه د حضرت عمرؓ مال په زياته اندازه دی، او د ابوبکرؓ مال په کمه اندازه دی، نو عمر خوشحاله دی، چې نن خو د ابوبکرؓ څخه د چاندې په راوړلو کي ډېره مخته ئې، او مسابقه دې د ابوبکرؓ څخه وګټله، ځکه ده ټوله عمر په دې کوشش کي تېر کړی، چې په نيکو کارو کي به د ابوبکرؓ څخه ځان مخته کوي، لېکن هيڅ کله کامیابه سوی نه وو، په دې ورځ د ده مال د ابوبکر د مال څخه زيات دی، نو دی د خپلي مسابقې په ګټلو ډېر خوشحاله دی.

حضرت ابوبکرؓ د خپل مال سره کښېناستی، پيغمبرﷺ چې کله د پوښتني کولو اراده وکړه، نو د ابوبکرؓ د عزت افزائي دپاره الله تعالی حضرت جبرائيل علیه السلام د عرش څخه را استوی، چې ای پيغمبره! د پوښتني طرز او طريقه بدله کړه، داسي پوښتنه مه کوه، چې عمره! ستا مال څومره او د ابوبکر مال څومره دی.

بلکه پوښتنه په دې طرز وکړه: چې ای عمره! تاکور ته څه پرېښول، او ابوبکره! تا کورته څه پرېښول.

حضرت عمرؓ وايي: چې کله د پېغمبرﷺ د پوښتني طرز بدل وو، نو زما زړه ډبه هاري کوی، او ډېر په خوف کي وم، چې د ابوبکرؓ د اعزاز د حفاظت دپاره د الله تعالی غيبي نظام په حرکت کي راغلی دی.

چي کله پېغمبرﷺ د عمرؓ څخه پوښتنه وکړه، نو حضرت عمرؓ ورته وايي: چې نيم مال مي کورته پرېښوی، او نيم مال مي ترتا پوري راورساوی.

او حضرت ابوبکرؓ د پوښتني څخه وروسته ورته وايي: چې ای د الله رسوله! ......تَرَکْتُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ﴾ الله او د الله رسول مي کورته ور پرېښول، چې څه مي په کور کي وو، هغه مي ټول ترتا پوري راورسول.

لږ ګړی بعد حضرت جبرائيل علیه السلام د ټاټ په لباس کي د پېغمبرﷺ حضور ته راغلی، پېغمبرﷺ پوښتنه ځني کوي: چي ای جبرائيله! څنګه راغلې؟ او په ناولده لباس کي ولي راغلې؟

حضرت جبرائيل علیه السلام ورته وايي: چي لباس خو مي ځکه ناولده دی، چي نن ابوبکرؓ کم لباس اغوستی دی، هغه الله تعالی ته دومره محبوب او خوښ دی چي په څوارلس(۱۴) طبقه يعني(اوه(۷) مځکي او اوه(۷) آسمانونه) ملائکو کي ئې دا اعلان کړی دی: چي تاسو به ټول د ابوبکر په شان لباس اغوندئ، چي زه ټول د ابوبکرؓ په لباس کي ووينم.

او الله تعالی په دې وخت کي ماته د ابوبکرؓ دپاره سلام راکړی، چي ورسه ابوبکرؓ ته زما سلام پېش کړه، او دا ورته ووايه: چي ای ابوبکره! زه ستا څخه راضي يم، ايا ته زما څخه راضي ئې؟

پېغمبرﷺ د حضرت جبرائيل علیه السلام پيغام حضرت ابوبکرؓ ته پېشوي، ابوبکر ؓ چي کله د الله سلام او پيغام اوري، نو په سترګو مبارکوو کي ئې اوښکي

راغلې، او وايي: چې زما رب ته ووايه: چې ته زما څخه راضي ئې، نو زه په هر حال کي ستا څخه راضي يم.(۱)

نو صحابه کرامو چي کله خپل نيک اعمال صرف د الله تعالی درضا دپاره کول، نو د هغو نيکو اعمالو د الله تعالی په دربار کي په دا شان قدر او قيمت پيدا کاوی.

نو د يو چاسره احسان کول، بايد صرف په دې نيت باندي وي، چي په دې عمل به زما رب زما څخه راضي سي، که چيري انسان په دې کي دا نيت ولري، چي سبا به داسړی هم زما سره احسان وکړي، نو په دنيا کي خوبه هغه سړی د ده د احسان په عوض کي د ده سره احسان وکړي، لېکن په آخرت کي بايد د دې د اجر او ثواب پيدا کولو طمع او اميد و نه کړي، لکه قرآن کريم هم دې خبري ته اشاره کړې ده:

........وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ﴾.(۲)

تاسو چي خلګو ته يو څه هديه يا تحفه په دې نيت ورکوئ، چي سبا به دی هم ماته دغو مره يا د دې څخه زياته هديه او تحفه را کوي، نو ته دا احسان او نيکي په دې نيت باندي کوې: چي ستا په مال کي اضافه راسي، نو د اخبره په ذهن کي کښېنوه، چي په دنيا کي خوبه اضافه او زياتوب پيدا کړي، لېکن د الله تعالی په دربار کي په دې کي يو ذره اضافه نه کيږي.

او چي کم زکوة يا صدقه يا هديه يا تحفه ته د الله تعالی د رضا دپاره ورکوې، نو الله تعالی به د داسي خلګو په مال کي "چند درچند" اضافه کوي.

(۱) خلبات فقير، جلد نمبر۲، صفحه نمبر۹۹

(۲) سورة الروم: آيت نمبر ۳۹

## هر کار د الله تعالى دپاره كول:

دا خو صرف د هديې او د تحفې او نيکۍ او احسان کولو خبره ده، د دې څخه علاوه د قريبانو او عزيزانو حقوق دي، مثلاً د چا په غم او پرېشاني کې شرکت کول، يا د يو چا د ضرورت پر موقع باندې د هغه مدد کول، په دې کې هم پېغمبر ﷺ موږ ته دا تعليم راکړی دی: چې کله د يو عزيز او قريب سره نيکي او احسان کوې، او د هغه ضرورت ورپوره کوې، نو صرف د الله تعالى دپاره ئې کوه.

او په دې نيت او فکر سره ئې مه کوه، چې سبا به دی زما صفتونه کوي، او يا به زما شکريه ادا کوي، يا به ماته بدله راکوي، ځکه د دې به آخري نتيجه دا وي: چې د هغه کار به هم وکړې، او بيا به هم په دنيا او آخرت کې د هغه ثمره او نتيجه پيدا نه کړي.

زموږ په معاشره کې د يو غلط فکر په وجه د عربي ژبې يو مشهور متل دی: چې عربوو به د جاهليت په دور کې دا متل ډېر تکرار وی:

......اَلْاَقَارِبُ كَالْعَقَارِبِ﴾ د اقارب معنى ده: عزيز او قريب او رشته دار، او عقارب جمع د عقرب ده، د عقرب معنى ده: لړم د دې متل معنى داده: چې قريب او عزيز او تربور همېشه د لړم په شان وي، لکه لړم چې همېشه د انسان د نيښ د وهلو په فکر کې وي، هيڅ کله انسان نه معافه وي، دا غه رقم قريب او تربور هم همېشه انسان ته د تکليف رسولو په فکر کې وي.

دا متل ځکه مشهوره سوی دی، چې نن سبا کله انسانان د قريبانو سره احسان او نيکي کوي، نو په دې اميد سره ئې کوي، چې سبا به دی هم زما سره احسان او نيکي کوي، لېکن چې کله د ده د توقع مطابق د ده سره احسان او نيکي نه وسوه، نو د دې نتيجه دا راووته: چې هغه د ده په سترګو کې لړم ښکاري.

لېکن که چېرې دی په دې نيت باندې احسان او نيکي د هغه قريب سره وکړي، چې زما الله ماته د احسان او نيکۍ کولو حکم کړی دی، او دا د حضور ﷺ

ت طریقه ده، او په دې وخت کې انسان دا فکر کوي، چې زما قریب او عزیز
ته زما د احسان بدله او عوض راکوي، او که ئې نه راکوي، لېکن الله تعالی
ته بهترین عوض او بدله راکونکې دی، او ماخو دا عمل د الله تعالی د بدلې
عوض په طمع او نیت سره کړی دی، نو بیا به یقیناً د دغه عمل بدله الله تعالی
ه ته ورکوي.
ند او مزه خو بالکل دا کوي، چې ته د قریبانو سره احسان او حسن سلوک
ې، او د هغو د طرفه د احسان او حسن سلوک پر ځای ستا سره تجاوز او
اتی کیږي، مگر ته بیا هم په خپل احسان او حسن سلوک کې د دوی سره کمی
راولې، په دې وجه چې د کم چا دپاره ئې کوې، هغه تاو یني او ستا د احسان
حسن سلوک عوض او بدله ذر کوي.
که پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:
.....﴿لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِي، وَلَكِنِ الْوَاصِلُ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا﴾.(۱)
صله رحمي کونکی هغه سړی نه بلل کیږي، چې هغه د بدلې او عوض پیدا
لو انتظار کوي، بلکه وصله رحمي کونکي هغه سړی دی: چې نور خلک
صله رحمي ځني قطع کوي، او دی د هغه باوجود وصله رحمي ورسره کوي.

## پیغمبر ﷺ د قریبانو سره ښه سلوک:

سو د پیغمبر ﷺ زندگي مطالعه کړئ، چې هغه د خپلو قریبانو سره څنګه
لوک کاوی.
یو څو قریبانو څخه علاوه نور ټوله قریبان د ده دښمنان وو، او د ده د وینو تږي
، او ده ته ئې په تکلیف رسولو کې پوره کوشش کاوی، تر دې حده پورې چې
ده اکا ابو لهب او د هغه زامن چې ده ته په قرابت کې ډېر نزدې وه، مگر همېشه
ده ته د تکلیف رسولو په فکر کې وه.

---

(۱) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۵۹۹۱

لېکن پیغمبرﷺ د خپله طرفه د قرابت داری د حق په ادا کولو کي يو ذره کوتاهي نه کوله، چنانچه چي کله د فتح مکې موقع راغله، نو د بدلې آخستلو په ځای ده ټوله معاف کړل، او دا اعلان ئې وکړی: چي کم سړی حرم ته را داخل سي، هغه په امن دی، نه ئې د چا څخه بدله واخسته، او نه ئې د چا څخه دا توقع ساتله چي هغه به زما د حسن سلوک بدله راکړي، لهذا د قريبانو پر بدسلوکي باندي حسن سلوک کول، د پیغمبرﷺ سنت دی، او په ښه طريقه چاته بدله ورکول، دا هم سنت دی.

نن سبا د انسانانو د زندګی څخه دا سنت وتلی دی، او د معاشرې انسانانو په دې سنت باندي عمل ترک کړی دی، حالانکه پیغمبرﷺ فرمايلي دي:

........مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِي عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي فَلَهُ اجر مائة شهيد﴾.(۱)

چي کم سړی زما په يوه سنت په داسي وخت کي عمل وکړي، چي په زمانه کي فساد راغلی وي، يعني د زمانې انسانانو زما په سنتو باندي عمل ترک کړی وي، نو الله تعالى به وده ته د سنت پر دې عمل باندي د سلو(۱۰۰) شهيدانو ثواب ورکوي.

نو که سړی د زيات ثواب پيدا کولو شوق لري نو نن سبا د پیغمبرﷺ په دغه سنت د عمل کولو په ذريعه سره به انشاءالله د ده دغه شوق سر ته رسيږي.

## د مخلوق څخه ښه توقعات ختم کول:

په دې وجه حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه په خپلو مواعظو کي د ډېره لويه د تجربې خبره فرمايلې ده.

ده مبارک فرمايلي دي: چي په دنيا کي په راحت سره د ژوند تيرولو د پاره صرف يوه نسخه ده، هغه دا: چي د مخلوق څخه توقعات ختم کول، مثلاً دا توقع ساتل: چي فلان سړی به زما سره احسان وکړي، فلان سړی به زما په کار راسي'

او فلان سړی به زما په غم او پرېشاني کي کومک راورسوي، دا تمام توقعات ختم کول، صرف د يو ذات يعني الله تعالى څخه توقع ساتل.

ځکه چي د مخلوقاتو څخه د توقع ختم کولو څخه وروسته که د دوی د طرفه ستا سره احسان وسي، نو هغه به ستا د توقع خلاف وي، نو د هغه په وجه ته ډېر خوشحاله کېږې، ځکه چي د توقع خلاف در سره وسو او که چيري د مخلوق د طرفه يو تکليف در ورسيږي، نو بيا به زيات نه پرېشانه کيږې، ځکه چي د احسان توقع هسي هم نه وه، بلکه توقع دي د تکليف وه، او دا تکليف د توقع مطابق درورسيدی، نو به انسان ډېر نه پرېشانه کيږي.

ځکه چي د احسان دتوقع ساتلو پر ځای چي انسان ته تکليف ورسيږي، نو هغه تکليف پر انسان باندي ډېر زيات بوج وي، او انسان ډېر پرېشانه کوي، چي توقع مي دا وه، او دا راسره وسوه، او د توقع بغير چي کمه خوشحالي راسيَ، نو هغه بيا ډېره زياته وي.

## دنيا انسان ته صرف تکليف رسوي:

د دنيا حقيقت دادي: چي انسان ته صرف تکليف رسول کيږي، که چيري يو وخت خوشحالي او منفعت انسان ته حاصل سي، نو په دې پوه سه، چي دا د الله تعالى زيات انعام دی، او که چيري تکليف راسي، نو دا فکر کوه: چي داخو هسي هم راتلی، نو پر دې باندي د زيات پرېشانه کيدلو ضرورت نسته.

داخبره سل په سله کي دُرُسته او صحيح ده، که چيري موږ دغه خبره په دماغ کي کښېنوو، او پر دې باندي عمل وکړو، نو بيا به ټولي شکوې او شکايتونه ختم سي، ځکه دا شکوې او شکايتونه دتوقعاتو څخه وروسته پيدا کيږي، چي کمه توقع انسان ساتي، نو د الله تعالى څخه دې وساتي، او د مخلوق څخه دي، توقعات ساتل پرېږدي، نو انشاءالله په زندگي کي به ئې ارام او راحت نصيب سي.

## د الله تعالى د نيكو بندګانو حال:

زموږ بزرګانو دانسخه بيان کړې ده، او ماسټاسو ومخته کښېښوو له او تاسو واورېدله، لېکن صرف په اورېدلو او ويلوسره خبره نه برابرېږي، بلکه داخبره په دماغ کي کښېښول، او د دې مشق کول، او بار بار د خپل ځان جائزه اخستل په کار دي، چي موږ دنورو څخه کم کم توقعات ساتلي دي؟ او ولي مي ساتلي دي؟ او دا توقعات د الله تعالى د ذات څخه ولي نه ساتو؟

تاسو د الله تعالى نيک بندګان وينئ، چي هغه همېشه خوشحاله ژوند تېروي، چي پر دوى باندي هر څومره لوى غم، او مصيبت راسي، نو يو څه لږ طبعي پرېشانه سي، لېکن هغه غم او پرېشاني دوى هيڅ کله د بې چينئ او بې تابئ حالت ته نه رسوي، ځکه دوى د خپل مالک سره تعلق جوړ کړى وي، نه ئې د مخلوق طرف ته نګاه وي، او نه ئې د مخلوق څخه توقعات وي، او نه د مخلوق څخه څه غواړي، چي څه غواړي هغه د الله د ذات څخه غواړي، د هغه نتيجه داوي: چي د دوى ژوند همېشه په سکون او اطمينان سره تيرېږي.

## د يو بزرګ واقعه:

حکيم الامت حضرت تهانوى رحمة الله عليه د يو بزرګ په باره کي ليکلي دي: چي د ده څخه چا پوښتنه وکړه: چي حضرت څنګه حال دى؟ او مزاج دي څنګه دى؟

ده په جواب کي ورته وويل: چي الحمدلله ډېره ښه حال دى.

او وايي: چي سړيه! د هغه چا حال به څنګه ښه نه وي، چي په دې کائناتو کي يو کار هم د ده دخوښي او رضا خلاف نه کيږي.

نو يعني زه هغه سړى يم، چي په دې کائناتو کي يو کار هم زما د رضا خلاف نه کيږي، بلکه هر کار زما د مرضي مطابق وي.

او چي د چا پر مزاج د کائناتو ټول کارونه برابر وي، نو د هغه څخه زيات خوشحاله ژوند به دچا وي؟

هغه سوال كونكي ډېر په تعجب كي سو، او هغه بزرګ ته وايي: چي دا خبره خو انبياء كرامو عليهم السلام ته هم الله تعالى نه ده ور نصيب كړې.
چي د دې كائناتو هر كار دي، د دوى د مرضي مطابق وي، بلكه د دوى د مرضي خلاف ډېر كارونه كيږي.

نو زه په دې نه پوهيږم، چي د كائناتو هر كار څنګه ستا د مرضي مطابق وي؟
هغه بزرګ په جواب كي ورته وايي:
.........چي په حقيقت كي ما خپله مرضي د الله تعالى د مرضۍ تابع كړې ده، بس چي كم كار زما د الله تعالى مرضي وي، هغه زما مرضي ده، چي كم د الله تعالى مشيت وي، هغه زما مشيت دى.
او په دې كائناتو كي هركار د الله تعالى د مرضي او د مشيت مطابق كيږي، او ماخو خپل نفس په دا اشكل ختم كړى دى.
او هغه مي د الله تعالى د مرضي تابع كړى دى، نو ګويا هر كار زما د نفس د مرضي سره برابر دى، نو ځكه زه په خوشحالي اطمينان او سكون سره خپل ژوند تيروم.

## د بزرګانو سكون او اطمينان:

بهر حال د الله تعالى نيكو بندګانو ته چي كم سكون او ارام او راحت ميسر دى، د هغه په باره كي حضرت سفيان ثورى رحمة الله عليه فرمايلي دي:

كه چيري د دنيا بادشاهانو ته زموږ د عافيت او سكون او راحت معلومات وسي، نو هغه به د تورو او نيزو سره زموږ مقابلې ته راوړاندي سي، او زموږ څخه به د دې راحت او سكون اخستلو مطالبه وكړي.

دا سکون د مخلوق څخه د نظر اړولو او د مخلوق څخه د توقعاتو ختم کولو په وجه انسان ته حاصلیږي.
چې کله د مخلوق څخه انسان توقعات ختم کړي، نو بیا به دی دا ووینې چې کم قسم سکون ده ته حاصلیږي.
لیکن دا شیان صرف د اورېدلو او ویلو نه بلکه د نیک صحبت په نتیجه کې رفته رفته انسان ته نقل کیږي، او د انسان دنیا او آخرت آبادیږي.

## خلاصه:

نو د حضرت لقمان علیه السلام د نصیحت خلاصه داده: چې کله انسان احسان او نیکي کوي، یا د عزیزانو او قریبانو حقوق ادا کوي.
نو کوشش دې دا وکړي: چې محض د ریا کارۍ او رسمونو پوره کولو دپاره نه وي، بلکه مقصد دې صرف د الله تعالی راضي کول وي.
او دا مقصد هلته حاصلوای سي: چې د احسان او نیکۍ او حقوقو ادا کولو څخه وروسته هغه ټول د خپل دماغ څخه د تل دپاره هیر کړي.
نه ئې په خپل دماغ کې راګرځوي.
او نه ئې د بل چا و مخته تذکره کوي.
او نه د چا څخه د عوض او بدلې طمع لري.
او نه ئې پر چا باندې احسان اچوي.
الله تعالی دې موږ او تاسو ته د "لقمان حکیم" په دغه نصیحت او ټولو نصیحتو باندې د عمل کولو توفیق راکړي.

او الله تعالی دي دا څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وکړځوي.

(آمين يارب العاليمن)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# د بل بد سلوک هیرول

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ تاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ تاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريــر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريــــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿أَلَا وَإِنَّ فِي الْإِنْسَانِ مُضْغَةً إِذَا صَلُحَتْ صَلُحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ. أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! د لقمان حکیم په راخلاصه سوو نصیحتو کي اتم نصیحت دا وو: چي کله یو څوک ستاسره بدسلوک وکړي، او تا پرېشانه کړي، ته د همېشه دپاره هغه د بدسلوک د دماغ څخه لیري او هېر کړه.
ګورئ! انسان ته په دنیا کي الله تعالی د نورو انسانانو سره یو ځای استوګنه ورکړې ده، او بل طرف ته ئې د انسان سره د نفس او شیطان ملګري جوړه کړې ده، نو کله کله په معاشرتي زندګي کي د نفس او شیطان په تقاضا د نورو انسانانو د طرفه د انسان سره بدسلوک ضرور کېږي، انسانان وسړي ته بدي وېناوي کوي، تکلیف ورکوي، نقصان ور رسوي، او جنګونه او جګړې

(۱)سورة لقمان آیت نمبر: ۱۲

(۲)مسند احمد: حدیث نمبر ۱۸۳۷۴

پيښېږي، نو د اتوله د انسانانو په زندگي كي راځي، داسي نه سي كيداى: چي انسان دي د نورو انسانانو سره اوسيږي، او بيا دي وده ته د هيڅ چا د طرفه تكليف نه ورسيږي.

نو د تكليف رسېدلو په وخت كي د انسان دپاره مناسب عمل معافي كول دي، اگرچه د تكليف په بدله كي ده ته هم د تكليف رسولو شرعاً حق سته، لكه څومره تكليف چي ده ته رسېدلى دى، هغومره تكليف دغسي پرېښول دَى هم هغه انسان ته ورسوي، لېكن اعلى درجه داده: چي د الله تعالى دپاره دي هغه تكليف معاف كړي، او د معاف كولو څخه وروسته دي هغه بدسلوک او تكليف د همېشه دپاره د دماغ څخه ليري او هېر كړي.

د هغه به نتيجه داوي: چي د ده تعلقات به د هغه انسان سره بيرته پر ځاى سي، او د دوى زړونه به سره نزدې سي، او د ده په زندگي كي به سكون او اطمينان و ده ته ور نصيب سي.

## د بل د بدسلوكۍ يادولو نتيجه:

كه چيري انسان هغه تمام تكاليف چي د بل د طرفه ورسېدلي دي، په يادساتي، نو همېشه به ئې د نورو انسانانو سره قطع تعلقي وي، او هم به ئې بې اتفاقي وي، اويو به د بل سره ژوند په پرېشاني كي تېروي.

او دا پرېشاني او بې اتفاقي د ډېرو گناهونو جړ او بنياد جوړېږي، بالفرض كه د انسان څخه گناه صادره نه سي، بيا هم د دې بې اتفاقۍ په نتيجه كي د انسان زندگي د بې ارامۍ او بې سكونۍ سره مخامخ وي.

د انسان په زندگي كي هغه وخت راحت او سكون راتلى سي، چي يو مسلمان د بل مسلمان سره د محبت ژوند تېروي، او په خپل مابين كي ملاقاتونه او ښه تعلقات سره ساتي، او د انسان د خپلو عزيزانو او قريبانوسره او د عامو مسلمانانو سره د ده د دوستۍ او د محبت زندگي سر ته رسوي.

ځکه پیغمبر ﷺ فرمايي:

......الْمُؤْمِنُ مَأْلَفٌ ، وَلَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ﴾.(۱)

مومن د محبت مرکز او بنیاد دی، او چې په کم مومن کې محبت نه وي، یعني نه دی د چاسره محبت کوي، او نه د ده سره څوک محبت کوي، الله تعالی په هغه مومن کې خیر نه دی ایښی.

نو د محبت زندګي د انسانانو سره هلته انسان تیرولای سي، چې په معاشره کې د قریبانو د طرفه د دوستانو د طرفه د همسایګانو د طرفه او د عامو انسانانو د طرفه ده ته کم تکلیف ورسیږي، یا د ده سره بدسلوک وسي، نو دی هغه د دماغ څخه لیرې کړي، او د هغه جواب په معافي سره وکړي.

او د بل د تکلیف یا بدسلوک په وخت کې عام طور انسان ته غصه ورځي، او د غصې په وجه په انسان کې د "انتقام" جذبه پیدا کیږي، حالانکي لقمان حکیم چې کم نصیحت د څلورو زرو(۴۰۰۰) انبیاؤو تعلیماتو څخه راخلاصه کړي دي، یا زموږ د شریعت چې کم تعلیم زموږ ومخته پروت دی، هغه دادی: چې د "انتقام" اخستلو پر ځای باندي معافي کول، الله تعالی ته ډېر زیات محبوب عمل دی.

لېکن دافسوس خبره دا ده: چې نن سبا خلګ په معاشره کې دا وایي: او دا ئې ذهن جوړکړی دی: چې موږ به د "خښتې" جواب په "کاڼي" سره ورکوو، یعني چې څومره زیادت ده کړی دی، موږ به د هغه څخه څوچنده زیادتي ورسره کوو، دغه ته "انتقام" وایي، او دغه د "انتقام" جذبه انسان د بربادۍ سره مخامخ کوي.

(۱) مصنف ابن ابي شیبه: حدیث نمبر ۳۴۵۴۴

**د پیغمبرﷺ عفوه او درګزر:**

حالانکه د انسان و مخ ته د پیغمبرﷺ زندګي بطور هدایت پرته ده او پیغمبرﷺ ته په مکي زندګي کي د مکې د انسانانو د طرفه بیا خاص د خپلو قریبانو د طرفه ډېر زیات تکلیفونه ورسېدل، چي د هغو په نتیجه کي د خپل کور او وطن وپرېښولو ته مجبوره سو، او د هجرت په شکل مدینې منورې ته ولاړی، لېکن پیغمبرﷺ هیڅ کله هم د هغه تکلیفو "انتقام" د چا څخه نه دی اخستی، حتّی چي کله د مکې مکرمې د فتح موقع راغله او د الله نبيﷺ د یو فاتح په شکل مکې مکرمې ته راننوزي، نو په دې وخت کي دی مبارک داسي د عاجزۍ په شکل کي دی او سر مبارک ئې دومره کښته نیولی دی: چي د ده تندی د سوارلۍ د شاتې د وربښتانو سره منښلي، او د اجمله ئې پر ژبه مبارکه باندي جاري ده:

......لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ، نَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ﴾.(۱)

الله تعالی یوازي معبود دی، د ده څخه ماسوا بل معبود نسته ده د خپل بنده نصرت وکړی، او ده یوازي د ټولو دښمنانو وډلو ته ماتي او شکست ورکړی.

په دې وخت کي پیغمبرﷺ د فخر او تکبر پر ځای سر کښته نیولی دی، او د سوارلۍ د ګردن او غاړی د وربښتانو سره دده تندی مبارک منښلي، او د خپل رب تعریفونه کوي، چي کله صحابه کرام ټول مکې مکرمې ته په یو جنګي هیئت کي راداخل سول، نو یو صحابي سعد بن عبادهؓ نعره کړه:

......الْيَوْمَ يَوْمُ الْمَلْحَمَةِ، الْيَوْمَ تُسْتَحَلُّ الْكَعْبَةُ﴾.(۲)

نن ورځ د جنګ ورځ ده، نن به موږ په کعبه کي جنګ حلال بولو، ځکه الله تعالی د نبي اکرمﷺ دپاره صرف د فتح د ورځي دپاره په مکه مکرمه کي جنګ او قتال حلال کړی وو، او بیا وروسته تر قیامته پوري حرام وګرځېدی.

(۱) مسند احمد: حدیث نمبر ۱۵۳۸۸

(۲) اخبار مکة للفاکهي: صفحه نمبر ۱۹۹

چي کله هغه صحابي دا خبره وکړه، نو ابوسفیان چي په دې وخت کي ئې ایمان لانه وو راوړی، اعتراض وکړی: چي ای محمده! ستا ملګری څه وایي؟ ایا ته ئې اورې؟

د هغه پر اعتراض پیغمبرﷺ د سعد بن عبادهؓ څخه جنډه او بیرغ واخستی، او د ده و زوی ته ئې ورکړی، او ورته وئې ویل: چي داسي وایه:

.........﴿اَلْيَوْمَ يَوْمُ الْمَرْحَمَةِ، يَوْمَ يُعَظِّمُ اللّٰهُ فِيهِ الكَعْبَةَ، وَيَوْمَ تُكْسَى فِيهِ الكَعْبَةُ﴾(۱).

نن ورځ د رحم ورځ ده، نن به الله تعالی کعبې ته عظمت ورکوي، او نن به الله تعالی کعبې ته د عزت لباس وراغوندي.

چنانچه کله نبي اکرمﷺ د بیت الله په حرم راننواتی، نو صحابه کرامؓ "بیت الله" ته راغلل، او په لمانځه او طواف او عباداتو کي مشغوله سول.

په کتابو کي لیکلي دي: چي د مکې مکرمې د هري نوجواني زناني دا یقین وو، چي زما عزت به نن بربادیږي، ځکه هغه په دې پوهیدله، چي موږ دغه مسلمانان په څومره تکلیفو کي د دې وطنه مهاجر کړي وو، او نن چي دوی د فاتحینو په شکل پر موږ باندي راغلل، نو هر یو یو به زموږ څخه بدله اخلي.

لېکن چي کله د ماخستن څخه وروسته وخت راغلی، او هیڅ څوک هم د دوی د کورو تر دروازې پوري رانغلل، نو هغه زناني ډېري حیراني سوې، د خپلو نارینوو څخه پوښتني کوي، چي تاسو خو وګورئ، چي هغه مسلمانان څه سول، معلومات خو ئې وکړئ، کېدای سي، چي هغه په خپل مابین کي یو مشوره او ترتیب سره برابره وي، او یا د یو وخت په انتظار کي وي، نو هغه نارینه وو همت وکړی، او د خپلو کورو څخه د باندي په دې نیت راووتل: چي د مسلمانانو معلومات وکړي.

چي کله حرم شریف ته نزدې راغلل، نو که ګوري، مسلمانان ټول په عباداتو باندي مصروف دي، څوک د الله د کور طواف کوي، څوک پر "مقام ابراهیم"

---

(۱) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۴۲۸۰

باندي پر سجده پراته دي، څوک په "بیت الله" پوري منښتي دي، دعاګاني غواړي، او چا خپلي منګلي د"بیت الله" په پوښ کي ښخي کړي دي.
هغو چي دا منظر ولیدی، نو ټول حیران سول، چي دا خلک خو د فاتحینو په شکل دې وطن ته راداخل سول، او اوس د انتقام اخستلو پر ځای د خپل رب په عباداتو کي مشغوله دي.
تاسو ګورئ! پیغمبرﷺ د هغوی څخه هیڅ قسم انتقام نه واخستی، حالانکي هغه ټول د ده جاني دښمنان وو، هغوی پیغمبرﷺ ته دومره تکالیف رسولي وو، چي په خپله پیغمبرﷺ به فرمایل:
﴿......لَقَدْ ضُرِبْتُ فِي اللّٰهِ وَمَا ضُرِبَ أَحَدٌ فِي اللّٰهِ، وَلَقَدْ أُذِيتُ فِي اللّٰهِ وَمَا أُوذِيَ فِي اللّٰهِ أَحَدٌ﴾.(۱)
"زه د دین په لار کي دومره وهل سوی یم، چي هیڅ څوک هم دا شان نه دی وهل سوی، او ماته د دین په خاطر دومره تکلیفونه راورسول سول، چي هیڅ یو نبي ته دومره تکلیفونه نه دي رسیدلي".
دوهمه ورځ پیغمبرﷺ د عامي معافی اعلان وکړی، او دا ئې وفرمایل: چي کم سړی راسي، او کلمه ووایي، اومسلمان سي، هغه ته معافي ده، تر دې حده چي د یو څو کورو نومونه ئې یاد کړل، چي کم سړی دې کورو ته ورسي، نو د هغه دپاره هم معافي ده.
او دېره عجیبه خبره خو داده: زموږ په معاشره کي چي کله یو انسان پر یو علاقه باندي قبضه راولي، نو عام طور هغه دوه(۲) کاره کوي، اول کار دا کوي: چي مخالفین ځپي او د هغو څخه انتقام اخلي.
او دوهم کار دا کوي: چي خپل متعلقین پوره نازوي، نن په دنیا کي موږ وینو چي کم چاته طاقت په لاس ورسي، نو د هغه اوله تمنی داوي: چي خپلو

(۱) معجم ابن الاعرابي: صفحه نمبر ۳۱۰

مخالفينو ته سزاورکړي، او دوهمه تمنٰی ئې داوي: چې خپل متعلقين پوره ونازوي.

لېکن پيغمبرﷺ خپلي دواړي دغه تمناوي پوره نه کړې، چې کله مکې مکرمې ته د فاتح په شکل راداخل سو، نو ده انتقام اخستلای سو، مګر ده انتقام نه واخستی، او نه ئې و مخالفينو ته د سزا ورکولو په ترتيب باندي عمل وکړی، او نه ئې خپل دوستان ونازول.

په حديث شريف کي راغلي دي: چي کله پيغمبرﷺ د هجرت په وخت کي مدينې منورې ته روانيږي، نو د "بيت الله" شريفي چابي(کيلي) ساتونکي "عثمان بن طلحه" ته ئې وويل: چي يو ځل خو د "بيت الله" دروازه راخلاصه کړه، زما زړه دا غواړي چي زه په "بيت الله" کي دننه يو ګړی د الله تعالی عبادت وکړم، هغه په جواب کي ورته وويل: چي ستا غوندي انسانانو دپاره د "بيت الله" دروازه نه سي خلاصيدای، او نه ئې زه ستا دپاره خلاصوم.

پيغمبرﷺ په ډېر حسرت کي ورته وفرمايل: ايا ته واقعي زما دپاره د "بيت الله" دروازه نه خلاصوې؟ هغه ورځ به څنګه وي، چي پر کم ځای اوس زه ولاړ يم، دلته ته ولاړ ئې، او چي کم ځای اوس ته ولاړ ئې، هلته د "بيت الله" د "کيلي" چابي په لاس کي زه ولاړ يم.

هغه پيغمبرﷺ ته يو څو تيزي خبري وکړي، چي ته وګوره، او د "بيت الله" "کيلي" چابي وګوره، ستا په لاس به د "بيت الله" "کيلي" چابي څنګه درځي.

چي کله پيغمبرﷺ د فتح مکې په ورځ د فاتح په شکل مکې مکرمې ته راداخل سو، نو د "بنوعبدالدار" قبيلې هغه د "بيت الله" "کيلي" چابي ساتونکی "عثمان بن طلحه" ئې را طلب کړی چي کله هغه راغلی، نو پيغمبرﷺ ورته وفرمايل: د "بيت الله" "کيلي" چابي ماته راکړه، پيغمبرﷺ هغه "کيلي" څني واخسته، او ده ته ئې هغه خبره وريه يادکړه، او ورته وئې فرمايل.

ته هغه وخت په ياد دروله، چي ماتاته ويلي وه: چي پر كم ځاى زه ولاړ يم، هلته به ته ولاړ ئې، او چي پر كم ځاى ته ولاړ ئې، هلته به زه د "بيت الله" "كيلي" چابي په لاس كي ولاړ يم، ايا الله تعالى هغه وعده پوره كړه، او كنه؟

عثمان بن طلحه وويل: يقيناً هم الله تعالى هغه وعده پوره كړه، د هغه څخه وروسته ئې "كيلي" چابي ځني واخسته، او د "بيت الله" شريفي قلف ئې خلاص كړى، او "بيت الله" ته دننه ورغلى، او هلته ئې د الله تعالى عبادت وكړى، د هغه څخه وروسته چي كله د "بيت الله" څخه د باندي راووانى، او دروازه ئې قلف كړه.

نو په دې وخت كي د قريشو د مختلفو قبيلو خلك پيغمبرﷺ ته ورنژدې سول، د هر يوه دا تمنى ده: چي د دې څخه وروسته به د "بيت الله" "كيلي" چابي ساتونكي موږ جوړ كړي.

چنانچه د ټولو نظرونه د پيغمبرﷺ وطرف ته متوجه سول، چي د الله نبيﷺ به هغه "كيلي" چابي موږ ته راكړي، مگر د الله محبوبﷺ چي كله دروازه "قلف" كړه، چي د كم كافر څخه ئې اول ځل "كيلي" چابي اخستې وه، هغه "كيلي" چابي ئې هغه كافر ته ور حواله كړه، او ورته وئې فرمايل:

"ته دغه "كيلي" چابي د خپل ځان سره محفوظه كړه، او دا به تر قيامته پوري ستا په خاندان كي محفوظه وي".

چي كله پيغمبرﷺ پر ده باندي دا احسان وكړى، نو د دغه كافر په سترگو كي اوښكي راغلې، او وئې ويل:

"اى دالله محبوبﷺ ماته كلمه ووايه چي زه مسلمان سم".(١)

داد پيغمبرﷺ حسن سلوك او ښه طريقه وه، چي د بل د بدسلوك انتقام او بدله ئې د هغه څخه نه اخستله. او د همېشه دپاره ئې د هغه انسان بدسلوك د خپل دماغ څخه هيروى.

---

(١) خطبات فقير: جلد نمبر١٠، صفحه نمبر٢٢١،٢٢٢،٢٢٣،٢٢٤

## په معافولو کي عزت دی:

په قرآن مجيد کي الله تعالی د مؤمنانو په صفاتو کي يو صفت دا بيان کړی دی:
......﴿وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾.(۱)

نيکوکاران خلګ غصه کنټروله وي، او خلګو ته معافي کونکي وي، او الله تعالی د دغسي نيکوکارانو خلګو سره محبت کوي.

چنانچه په حديث شريف کي راغلي دي: چي د معافولو په وجه د انسان عزت زياتيږي.

د دې څخه دا معلومه ده: چي د انتقام په اخستلو سره انسان د عزت خاوند نه جوړيږي.

په يو بل حديث شريف کي راځي: چي د قيامت په ورځ به يو منادي اعلان کوي: چي د کم چا د الله پرذمه باندي حق دی، نو هغه دي ولاړ سي، او بغير حساب او کتاب دي جنت ته ولاړ سي.

د پيغمبرﷺ څخه پوښتنه وسوه: چي دا به کم خلګ وي، چي د دوی حق د الله تعالی پر ذمه پاته وي.

پيغمبرﷺ په جواب کي ورته وفرمايل: چي کم خلګ په دنيا کي انسانانو ته معافي کونکي دي، د هغوبه د الله تعالی پر ذمه باندي حق پاته وي، چي د الله تعالی د بندګانو سره ئې د جرم کولو سره د انتقام اخستلو پر ځای د معافی معامله کړې ده، او د دغه عمل په وجه به هغه بغيرحساب او کتاب جنت ته داخليږي. (۲)

نو ځکه چي کله يو سړی د غلطي کولو څخه وروسته راسي، او دا وايي: چي وروره! ما د الله تعالی په خاطر معاف کړه، اوزما څخه انتقام مه اخله، او زما غلطي د خپل دماغ څخه هيره کړه، نو تاسو هغه ته معافي کوئ، او د هغه تجاوز

(۱) سورة آل عمران، آيت نمبر ۱۳۴
(۲) خطبات فقير: جلد نمبر۱۰، صفحه نمبره ۲۳

او غلطي د دماغ څخه لیري کوئ، ځکه چي د دغه معافی د الله تعالی په دربار کي ډېر لوړ مقام دی.

په یو حدیث شریف کي راځي: چي کم څوک د انسان د یو لغزش او غلطی څخه درگزر کوي، یعني هغه معافوي، نو د قیامت په ورځ به الله تعالی د ده تر لغزشو هم درگزر کوي، او د ده سره به د معافی او اسانی معامله کوي.

په یو بل حدیث شریف کي راځي: چي کم انسان په دنیا کي د نورو خلگو خطاگاني څومره ژر معافوي، الله به تعالی د قیامت په ورځ دغومره ژر د ده گناهونه معافوي.[1]

نو ځکه زه همېشه دې خپلو ملگرو ته دا وصیت لرم: چي کم سړی د معافی عذر ستاسو مخته پیش کړي، نو د هغه عذر ژر قبلوئ، او د هغه سره همېشه د اسانی معامله کوئ.

## د ټولو څخه زیات بدترین انسان:

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د پیغمبر ﷺ یو روایت رانقل کوي: چي نبي اکرم ﷺ به فرمایل: ایا زه تاسو د بدو انسانانو څخه اگاه نه کړم؟ صحابه کرامو عرض وکړی، چي ای د الله نبي ﷺ! موږ ته د بدو انسانانو څخه ضرور خبر را اکړه، ده مبارک ورته وفرمایل: د ټولو څخه زیات بدترین انسان هغه دی: چي یوازي خورک کوي، او خپل "غلام" مریی وهي او د انسانانو سره د معافی معامله نه کوي.

د هغه څخه وروسته بیا پیغمبر ﷺ وفرمایل: ایا زه وتاسو ته د دې څخه هم بدترین انسان در وښیم صحابه کرامو عرض وکړی: ای د الله نبي ﷺ! ضرور ئې راوښیه، پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: د دې څخه زیات بدترین انسان هغه دی: چي د خلگو سره بغض ساتي، او خلک د ده سره بغض کونکي وي.

---

[1] طلبات نفير: جلد نمبر ۱۰: صفحه نمبر ۲۳۶

دوهم قسم هغه دښمن وي: چي د انسان سره د حسد پر بنیاد دښمني کوي، هغه هیڅ کله د انسان دوست نه جوړیږي، او نه انسان په خپل ژوند کي د هغه څخه د دوستی طمع کولای سي.

امام اوزاعي رحمة الله علیه یوه ورځ حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه ته وویل: ای خراساني! دغه ابوحنیفه څوک دی؟ چي په دین کي د خپل ځانه څخه نوي نوي خبري رواج کوي.

عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه "کتاب الرهن" ورته پیش کړی، ورته وایي: ته دا مطالعه کړه، هغه چي کله مطالعه کړی، نو ورته وایي: ای عبدالله! دا "نعمان" څوک دی؟ چي دومره بهترین کتاب ئې لیکلی دی، او الله تعالی دومره بهترین علم ورکړی دی، که چیري ته علم حاصلول غواړې، نو د دغه نعمان شاګردي اختیار کړه.

چونکه د دې څخه مخکي د امام اوزاعي رحمة الله علیه د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه سره تعارف نه وو، او نه ئې د نعمان په نامه پېژاندی، عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه ورته وویل: حضرت! دا خو هغه ابوحنیفه دی، چي تاسو هغه ته په بدعتي وایاست، او د هغه څخه بد وړئ.

## د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه صبر:

یو ځل امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د خپلو شاګردانو په مابین کي د حدیثو په درس باندي مشغوله دی، او یو ډېره لویه حلقه د شاګردانو ورباندي راګرځېدلې ده.

یو سړی د خوارجو څخه و امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ته د ذهني اذیت ورکولو په نیت په مجمع کي ولاړ سو، امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ته وایي: چي ته خو ډېر مسائل بیانوې، لېکن په خپله په هغه باندي عمل نه کوې.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ورته وایي: هغه څنګه؟ هغه خارجي ورته وایي: چي ما اورېدلي دي، چي ستا مور ګنده سوې ده، او خاوند ئې وفات سوی دی، او دا ډېره حسینه او خوبصورته ده، نو د شریعت مسئله خو داده: چي ګنده زناني ته

به نکاح ورکول کیږي، نو زه ستا د مور د نکاح پیغام وتاته پیشوم، چې ته د خپلې مور نکاح زما سره وکړه.
حالانکه په دې وخت کې د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د مور عمر اته نوي(۹۸) کاله دی.
اوس دا څومره د غصې راپورته کولو خبره ده، چې یو سړي ته د بوډۍ مور د نکاح پیغام ورکول سي.
امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د هغه سړي څخه د انتقام اخستلو پر ځای په ډېره نرمي سره ده ته جواب ورکوي: ورته وایي: حضرت! زما مور عاقله بالغه ده، او د شریعت مسئله داده: چې د عاقلي او بالغي زناني څخه د پوښتني وروسته به د نکاح بندوبست کیږي.
امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د درس د مجلس څخه ولاړ سو، د ډېري جذبې په وجه شاګردانو ته وایي: زه نن نور سبق نه سم ویلای، او هغه سړي ته وایي: چې زه به کور ته ورسم، او د خپلې مور څخه به پوښتنه وکړم، نو د کور پر طرف روان سو.
د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د روانیدو څخه وروسته چې کله هغه سړي د زینو څخه را شوه کیدی، نو پښه ئې وښویدله او پر مغزي را غوځار سو، او پر هغه ځای باندي وفات سو.
شاګردانو په امام ابو حنیفه رحمة الله علیه پسې منډې کړې، چې حضرت! ته راسه، هغه سړی څه په وسو، امام ابو حنیفه رحمة الله علیه چې کله راغلی، نو هغه سړی وفات سوی وو، نو شاګردانو ته وایي: تاسو نه ګورئ! چې د ابو حنیفه صبر هم دیو سړي روح واخستی.
نو د تجاوز او ظلم څخه وروسته باید انسان صبر وکړي، او معامله د الله تعالی په حواله ورکړي، نو بیا الله تعالی پر ده باندي د تجاوز اوظلم کیدلو بدله او انتقام په خپله اخلي، او د الله تعالی انتقام ډېر لوی انتقام دی، ځکه چې الله تعالی د خپل شان مناسب انتقام اخلي.

## د حضرت تهانوي رحمة الله عليه تحمل مزاجي:

حکيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه يو ځای په ډېره لويه مجمع کي تقرير کاوی، نو هلته پر استيج باندي و ده ته يو پرچه ورکول سوه، ده چي کله وکتله نو پر هغه باندي ليکلي وه:
"اشرف علي! ته کافر ئې او ته ولدالزنا ئې او خپله خبره به په ډېر احتياط سره کوې".
نو ده هغه پرچه وويله، او په ډېر محبت سره ئې جواب ورکړی، ورته وايي:
وروره! دا پرچي را غلې ده، او د ټولي مجمع په مخ کي ئې پرچه وويله، او د هغه ځخه وروسته ورته وايي: که چيري زه کافر يم، نو دا دی اوس کلمه وايم:
......لا اله الا الله محمد رسول الله﴾.
او کم دوهم تهمت چي تا ليکلی دی، د هغه جواب دادی: چي حسن اتفاق دی، چي په دې مجمع کي اوس هم زما د مور او پلار د نکاح کولو ګواهان موجود دي.
دريم خبره چي ته وايي خبره په احتياط سره کوه، نو زه خو نه چندې غوښتولو لره راغلی يم، او نه مي د نکاح کولو پيغام راوړی دی، نو زه خبره ولي په احتياط باندي وکړم، زه خو به خپل حق ضرور بيانوم.

## د تربيت دپاره دوهلو اندازه:

بعض اوقات غصه کول د انسان دپاره د ډېر لوی نقصان باعث وګرځي، شاګرد ته د ادب ورکولو دپاره شريعت و استاذ ته د درو(۳) څاپېړو وهلو اجازت ور کړی دی، هغه هم پر مخ نه بلکه پر ملا باندي.
لېکن مور ليدلي دي، چي ډېر ځله د استاذ غصه د هغه په قابو کي نه وي، او لرګی يا چلاخه په لاس کي شاګرد د يو مجرم په شان باندي وهي نو دا وهل عام طور د تربيت دپاره نه وي، صرف د خپلي غصې سړولو دپاره ئې وهي. د بچي

څه تصور دی، هغه دا چي د قرآن د یوې رکوع اورولو په وخت کي د ده څخه یوه غلطي وسي، تاسو یقین ومنئ! که چیري داغه رکوع د استاذ څخه په داغه وخت کي واوربدل سي، نو بیا به د یوې پر ځای دوې(۲) غلطی راووزي.
چي کله استاذ ووینې، چي شاگرد قصداً وخت ضائع کوي، یا د سبق سره لاوبالي کوي، نو شریعت بطور اصلاح ده ته د سزا ورکولو اجازت کړی دی، لیکن که چیري استاذ د شریعت د حدودو څخه وتلې سزا شاگرد ته ور کوي، نو بیا به د قیامت په میدان کي د دې سزا د ده څخه پوښتنه خامخا کیږي.

## د عفو او درگزر فضائل:

د غصې په وخت کي معافي کول لوی فضیلت لري.
☆......په یو روایت کي پیغمبر ﷺ فرمایي:
........مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ، دَعَاهُ اللَّهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ﴾.([1])
چي کم سړی خپله غصه برداشت کړي، حالانکه دی د دې خپل غصې پر کښلو باندي قادر وي، نو د قیامت په ورځ به الله تعالی د ټوله مخلوق ومخته دی را طلب کړي، او د جنت چي څومره حوري دي په خپل اختیار سره چي کمه یوه غواړي هغه به ورکړي.
☆.....په یو کتاب کي لیکلي دي: چي یو ځل الله تعالی حضرت موسیٰ علیہ السلام ته وحي وکړې.
ای موسیٰ! ایا زه وتاته داسي عمل دروښیم: چي د هغه په کولو سره به هغه ټول شیان ستا دپاره د مغفرت دعاگاني کوي، چي پر کمو شیانو لمر او سپوږمۍ او ستوري راخیږي.

---

([1]) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۴۱۸۶

حضرت موسیٰ علیه السلام عرض کوي:
ای الله! هغه کم عمل دی ضرور ئې راوښیه.
الله تعالی ورته فرمایي: که چیري د مخلوق د طرفه پر تجاوز کولو باندي صبر وکړي، او انتقام اخستل د دماغ څخه لیري کړي، او هغه تجاوز هیر کړي، نو به دا ټول شیان ستا دپاره د مغفرت دعاګاني کوي. (١).

## د حضرت یوسف علیه السلام عفو او درګزر:

د سورة یوسف په تفسیر کي مفسرینو یو نکته لیکلې ده: چي حضرت یوسف علیه السلام چي کله په مصر کي د خپلو وروڼو سره یو ځای سو، نو ده د الله تعالی په حضور کي د قید څخه د خلاصیدلو شکریه ادا کړه.
لیکن چي کله په کنعان کي دی قافلې والا د څاه څخه راوکښی، نو هلته ئې شکریه ادانه کړه، د دې څه وجه وه؟
علماوو لیکلي دي ، چي د هغه وجه دا وه: چي په څاه کي دی خپلو وروڼو اچولی وو، او ده په هغه ګړي کي سم دستي خپل وروڼه په خپل زړه کي معاف کړل، چونکه معاف کول دې ته وایي: چي انسان نه اشارتاً او نه کنایتاً د هغه چا څخه شکوه وکړي:
لهذا که چیري دی د څاه څخه د راوتلو په وخت کي د الله تعالی شکریه ادا کړي، نو ظاهراً خو شکریه ده، لیکن په حقیقت کي د وروڼو شکوه، پکښي راځي، نو ځکه د څاه څخه د راوتلو په وخت کي دی د شکریې ادا کولو و طرف ته توجه هم نه کوي.

(١) خطبات فقیر: جلد نمبر ١٠: صفو نمبر ٢٣١

هغه صحابي د څلورو (۴) طرفو څخه ودرېدی، او خپل سوال ئې تکرار کړی، او پیغمبرﷺ پر څلور (۴) طرفه مخ ورو ګرځاوی، او جواب ئې ورکړی، په دې کي حکمت داوو: چي دالله د محبوبﷺ دا پیغام د دنیا هر طرف ته ورسیږي، چي د ټولو څخه ښه عمل بهترین اخلاق دي. (۱)

## حضرت عائشيؓ ته د پیغمبرﷺ نصیحت:

☆...... حضرت عائشهؓ روایت کوي: چي کله به هم د ازواج مطهراتو د خبرو په وجه په ماکي حمیت او غصه راتلله، نو نبيﷺ به زما غوږ ونیوی، او په ډېر محبت سره به ئې کرار کرار مښووی، او کله به ئې زما پر پزه باندي ګوته کېښېښوله، او داسي به ئې راته ووېل:

ای عائشې ته همېشه دا دعا وایه: چي ای د محمدﷺ ربه! زما ګناه راوبخښه، او زما د زړه غصه لیري کړه، او د فتنو څخه مي حفاظت وکړه. (۲)

## جنت ته رسونکي عمل:

☆...... په طبراني شریف کي یو روایت دی: چي یو صحابي د الله د محبوبﷺ خدمت ته راغلي، عرض ئې وکړی:

..........دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَغْضَبْ ، وَلَكَ الْجَنَّةُ».(۳)

چي ای د الله نبيﷺ! ماته یو داسي عمل راوښیه، چي د هغه د کولو څخه ماته جنت راکړل سي.

پیغمبرﷺ په جواب کي ورته فرمایي:

غصه مه کوه، الله تعالی به د دې عمل په وجه تاته جنت درنصیب کړي.

---

(۱) خطبات فقیر: جلد نمبر۱۰: صفو نمبر۲۲۳

(۲) خطبات فقیر: جلد نمبر۱۰: صفو نمبر۲۲۳

(۳) مسند الشامیین للطبراني، حدیث نمبر۲۱

## د حضرت ذوالنون مصري رحمة الله عليه د شفقته ډكه دعا:

حضرت ذوالنون مصري رحمة الله عليه يو ځل په كښتۍ كي سفر كاوى، په درياب كي د دوى وڅنګ ته يو بله كښتۍ تيرېدله، په هغه كي يو څه نوجوانان سفركوي، هغه په خپل مابين كي مذاق او مسخرې كوي، چي كله نوجوانان په داسي حال كي وي، نو چي كله يو بزرګ دوى لره په لاس ورسي، نو پر هغه باندي مذاق كول، دوى د خپل سير او تفريح او محفل او مجلس تازه كولو يو حصه بولي.
نو دوى پر حضرت ذوالنون مصري رحمة الله عليه باندي يو څو د مذاق او مسخرو جملې وويلې، يعني پر ده باندي ئې يو څه مذاق او مسخرې وكړلې.
چي كله د حضرت ذوالنون مصري رحمة الله عليه ملګرو د دوى مذاق او مسخرې واورېدلې، نو ټول په غصه سول، په دوى كي يو ملګري حضرت ذوالنون مصري رحمة الله عليه ته وويل: حضرت! ته ورته وګوره، دا خلګ د الله څخه نه ېرېږي او په دې دومره بې پايانه درياب كي هم دا قسم حركتونه كوي، او خپل فسق او فساد ئې روان كړى دى.
لهذا ته دوى ته ښرا وكړه، چي الله تعالى د دوى كښتۍ غرقه كړي، حضرت ذوالنون مصري رحمة الله عليه خاموشه دى، هيڅ نه وايي، لېكن چي كله هغه ملګرو باربار ده ته دا ويل، نو ده دې كښتۍ والا انسانانو ته وكتل، او لاس ئې په دعا پورته كړى، او په دعا كي داسي وايي:
"اى الله! لكه څنګه چي په دنيا كي تا دوى خوشحاله كړي دي، په آخرت كي هم دوى ته دغسي خوشحالي ورنصيب كړه".
چي كله كښتۍ والا انسانانو ته د حضرت ذوالنون مصري رحمة الله عليه د طرفه د دوى د بدسلوك په عوض كي دا ښه دعا وسوه.
نو الله تعالى د ده د دې ښو اخلاقو او ښې دعا په بركت هغه ټول كښتۍ والا انسانانو ته د خپلو بدو اعمالو څخه د توبې كښلو توفيق ورنصيب كړى.

## د ابراهیم ابن ادهم رحمة الله علیه عفو اودرګزر:

حضرت ابراهیم ابن ادهم رحمة الله علیه یو ځل حلق کړی وو، یعني سر ئې خرېلی وو، او په کښتۍ کي سپور دی، یو طرف ته سفر کوي.

په هغه وخت کي کښتیاني دومره غټې وې، چي په هغه کي به دوه او درې سوه انسانان په اسانۍ سره کښېنستل.

دی د کښتۍ په یو کونج کي په ذکر او اذکارو باندي مشغوله دی، چي کله په کښتۍ کي کشنیانو بچیانو د ده ځلېدونکی خرېلی سر ولیدی، نو هغوی ته ئې ښه خوند ورکړی، نو هغه ماشومان د ده پر سر د خپلو بازیو کولو په شکل لاس تیروي، او پر هغه باندي خپل هوس او ساتیری کوي.

یو بچی راغلی، دده پر سر ئې لاس تیر کړی، نو هغه ته ئې ډېر خوند ورکړی، نو دوهم بچی راغلی، هغه هم د ده پر سر لاس تیروي، او د هغه څخه خوند اخلي، حتی چي هغه بچیان یو د بل څخه وروسته راځي، او د ده پر خرېلي سر لاس تیروي.

په هغه بچیانو کي یو بچی ډېر شرارتي وو، چي کله راغلی، د ده پر سر لاس تیروي، نو د شرارت په وجه ئې د لاس تیرولو څخه وروسته په څاپېړه پر سر وواهی، د هغه څخه وروسته دوهم بچي هم په څاپېړه وواهی، دریم بچی چي کله راغلی، هغه هم دغسي وکړل، هغه بچیان دی پر سر په څاپېړو وهي، اود بدتمیزۍ یو طوفان ئې جوړ کړی.

او مشران ورته ګوري، ورباندي خاندي او د کښتۍ ټوله انسانان پر ده باندي مذاق جوړوي، او په کښتۍ کي د بدتمیزۍ یو طوفان روان دی.

چي کله د الله یو ولي ته په دې شکل ایذا او تکلیف رسیږي، نو د الله تعالی غیرت هم په جوش کي راغلی، چنانچه الله رب العزت ده ته د الهام په شکل وفرمایل:

"اې ابراهيم ابن ادهمه! دوی خو د خپلې بدتميزۍ ټول حدود پوره کړل، که چيرې په دې وخت کې ته دوی ته ښرا وکړې، نو زه به دا کښتۍ په درياب کې ډوبه کړم، او دوی به ټول په کښتۍ کې غرق سي".

چې څنګه د ابراهيم ابن ادهم رحمة الله عليه په زړه کې دا الهام وسو، نو ده فوراً د الله په دربار کې لاسونه پورته کړل، او په دې شکل دعا غواړې:

"اې الله! که چيرې ته د دوی دا د ناستې کښتۍ اړول غواړې، نو د هغه پر ځای چې څو مره بندګان په دې کښتۍ کې موجود دي، د هغو ټولو د زړونو کښتۍ واړوې، او په معاشره کې ئې نيک انسانان جوړ کړې".

د ابراهيم ابن ادهم رحمة الله عليه هغه دعا د الله په دربار کې قبوله سوه، چنانچه ويل کيږي: چې په کښتۍ کې څو مره انسانان ناست وو، نو هغو ټولو ته الله تعالی د مرګ څخه مخکې د ولايت مقام ورنصيب کړی.

نو د انسان دپاره مناسب داوي: چې د يو چا پر تجاوز باندې غصه ورسي، نو د انتقام اخستلو پر ځای خپله غصه قابو کړي، که چيرې خپله غصه پوره کړي، نو هسې نه چې بيا د قيامت په ورځ د الله رب العزت د غصې برداشت کولو ته مجبوره سي.

## د غصې قابو کولو مختلفې طريقې:

د غصې قابو کولو دپاره علماؤ مختلفې طريقې ليکلې دي.

☆...... د ټولو څخه مخکې طريقه داده: چې کله يو چا ته غصه ورسي، نو هغه دې ﴿لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ﴾ وايي، د دې په برکت سره شيطان چې د انسان په رګو کې دوينې په شان ګرځي، او د غصې په حالت کې انسان پر غصه کښلو باندې راپاره وي، نو هغه شيطان غورځي، او د انسان غصه ختم کيږي.

☆..... که چيرې په دې سره غصه ختم نه سي، نو بيا دې د ﴿أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾ په الفاظو سره د الله رب العزت څخه پناه غواړي، د دې اعوذبالله د ويلو په وجه به الله تعالی وده ته د غصې څخه پناه ورکوي.

☆..... که چيري په دې سره هم غصه ختم نه سوه، نو بيا د انسان دپاره مناسب داوي: چي خپل کيفيت بدل کړي، مثلاً که چيري پروت وي، نو دي راکښيني، او که چيري ناست وي، نو دي ولاړ سي، او که ولاړ وي، نو يو څو قدمه دي واخلي، او خپل ځای دي بدل کړي، د ځای د بدلولو په سبب به الله تعالی د ده غصه سړه وي.

☆..... که چيري په دې سره هم غصه سړه نه سوه، نو بيا خو مناسب داوي: چي په يخو اوبو باندي اودس وکړي، د او داسه په برکت به الله تعالي د ده غصد ختم کړي.

☆..... که چيري په اوداسه کولو سره هم غصه ختمه نه سوه، نو دوه(۲) رکعته لمونځ دي شروع کړي، او د سجدې په حالت کي دي دا سوچ او فکر کوي: چي زه په سجده کي پروت يم، او د الله يو عاجزه بنده يم، که چيري نن زه د يو چا غلطي معاف نه کړم، نو سبا به الله رب العزت د قيامت په ورځ زما غلطی څنګه معاف کړي.

زموږ مشايخو ليکلي دي: چي کله انسان د سجدې په حالت کي د خپلي عاجزۍ تصور او فکر کوي، نو غصه به ئې انشاءالله تعالی ختم کوي.

☆..... که چيري په دې سره د انسان غصه کمه نه سي، نو حضرت عمر رضی الله عنه فرمايلي دي: چي د دې طريقه داده: چي يو څه اوبه دي راواخلي، او په خپله "پزه" کي دي واچوي، نو د هغه په ذريعه به دېر ژر د ده غصه سړه سي.

☆..... او که چيري په دې سره هم غصه سړه نه سوه، نو بيا دي هغه دُعا وغواړي کمه چي حضرت عائشې رضی الله عنها ته پيغمبر صلی الله علیه وسلم ورښوولې وه، هغه دُعا داده:

" ای د محمد ربه! زما ګناه رامعاف کړه، اوزما د زړه غصه ليري کړه، او د راتلونکو فتنو څخه زما حفاظت وکړه".

☆..... او که چيري په دې سره د انسان غصه ختم نه سي، نو بيا آخره طريقه داده: چي څو ځله دي پر پيغمبرﷺ باندي "درود شريف" ووايي.
دا پخه خبره ده: چي څو ځله پر پيغمبرﷺ د "درود شريف" ويلو په خاطر الله رب العزت انسان ته د غصې څخه نجات ورکوي، نو ځکه په عربو کي اوس هم دا عادت دی: که چيري په دوی کي دوه(۲) کسان جنګ او جګړه سره شروع کړي، نو عام انسان دوی ته فوراً د دې تلقين کوي:
﴿صَلُّوا عَلَى مُحَمَّدٍ...... صَلُّوا عَلَى مُحَمَّدٍ﴾

نو د انسانانو په مابين کي چونکه معاشرتي زندګي ده، نو د دوی په مابين کي يو د بل سره خامخا ناراضګي راځي، او کله د دوی په ذهنو کي د غصې کيفيت پيدا کيږي، نو د دوی په باره کي د څلورزرو(۴۰۰۰) پيغمبرانوعليهم السلام د تعليماتو څخه راخلاصه سوی نصيحت او زموږ د دين هم دا تعليم دی: چي د غصې په وخت کي د بل تجاوز او بدسلوک هيرول، او په دې مذکوره طريقوسره خپله غصه قابو کول په کار دي.
او پر هغه تجاوز او بدسلوک باندي انسانانو ته معافي کول په کار دي، چي د قيامت په ورځ موږ هم د الله رب العزت د معافی کولو مستحقين او لائقين جوړ سو.
الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي ورګرځوي، او الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د "لقمان حکيم" پر دې نصيحت او پر ټولو نصيحتو باندي د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.
(آمين يارب العالمين)
وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# اخلاص کول

(بیان)

مولوی **اطیع اللّٰه** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم اللّٰه** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعت | اول |
| تـاريـــخ | ۱۲ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ﴿اَلْخَلْقُ كُلُّهُمْ هَلْكَى إِلَّا الْعَالِمُونَ، وَالْعَالِمُونَ كُلُّهُمْ هَلْكَى إِلَّا الْعَامِلُونَ، وَالْعَامِلُونَ كُلُّهُمْ هَلْكَى إِلَّا الْمُخْلِصُونَ، وَالْمُخْلِصُونَ عَلَى خَطَرٍ عَظِيمٍ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! الله تعالى انسان ته په دنيا كي بې شماره نعمتونه وركړي دي، ځكه د الله تعالى فرمان دى:

........﴿وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا﴾.(۳)

كه چيري تاسو د الله رب العزت نعمتونه شمارل غواړى، نو تاسو ئې هيڅ كله نه سى شمارلاى، په دې بيشماره نعمتو كي چند نعمتونه دهر لوى نعمتونه بلل كيږي، چي هغه د دې ټولو نعمتو په درميان كي يو نمايان او ښكاره حيثيت هم لري.

(۱)سورة البينة، آيت نمبر:۵

هغه درې(۳) نعمتونه دي.

## اول(۱) لوی نعمت:

په ټولو نعمتو کي اولنی لوی نعمت د انسان خپل عقل دی.
په حدیث شریف کي راځي:
........اَوَّلُ مَاخَلَقَ اللّٰهُ الْعَقْلَ﴾.(۱)

الله تعالی د ټولو څخه مخکي عقل پیدا کړی دی، او عقل لوی نعمت دی، چي کم چا ته الله تعالی په کامله طریقه سره ورکړی وي.
د عقل لفظ په عربي کي د "عَقَلَ نَاقَةً" څخه را اخستل سوی دی، یعني "اُوښي" ته "مهار" وراچول، او هغه "مهار" ته په عربي کي "عِقال" وایي، چي هغه "اُوښه" راقابو کوي، اویو طرف بل طرف ته د منډي وهلو څخه ئې راګرځوي.
چي کمه "اوښه" ته "مهار" وراچول سوی وي، نو هغه د مالک پر مرضی باندي ګرځېږي، او د خپلي مرعی او څراګاه څخه د بل چا مرعی او څراګاه ته تجاوز نه کوي.
داغه رنګه، چي کله انسان ته عقل سلیم ورکول سي، نو ګویا هغه هم د الله تعالی د طرفه په مهار باندي پابنده سو، نو هغه هم بیا خپل ژوند د شریعت په حدودو کي دننه تیروي، او د شریعت د حدودو څخه بل طرف ته تجاوز نه کوي.
د اوامرو او نواهیو په شکل چي الله تعالی کمه مرعی او څراګاه ورته ټاکلې ده، نو بیا دی د خپلي زندګی دورانیه په دغه څراګاه کي دننه تیروي، او د خپلي څراګاه څخه بل طرف ته تجاوز نه کوي.

(۱) المعجم الاوسط: حدیث نمبر ۷۲۴۱

## په جنت کې د عقل مطابق درجه:

او په جنت کې هم د انسانانو د درجاتو تفاوت د عقل پر بنیاد باندي وي، چې کم چاته الله تعالی په دنیا کې کامل عقل ورکړی وي، نو د هغه به لوړ درجات وي، او د کم چا چې په عقل کې فتور او خلل او نقص وي، نو د هغه درجات به کښته وي.

حضرت عائشه مبارکه یو ځل د پیغمبرﷺ څخه پوښتنه کوي، چې ای د الله رسولﷺ! د قیامت په ورځ انسانان کم مقام او مرتبه پیدا کوي، هغه په کم حساب سره دوی ته ورکول کیږي.

پیغمبرﷺ ورته فرمایي: چې د قیامت په ورځ د انسانانو درجات د عقل په مطابقت وي، یعني که عقل کامل وو، نو درجات هم کامل ورکول کیږي، او که په عقل کې نقصان وو، نو په درجاتو کې هم کمی راځي، دا مبارکه ډېره حیرانه سوه، او وایي: ای د الله رسولﷺ! ایا هغه درجات د عمل مطابق نه وي؟

نو پیغمبرﷺ ورته وایي: چې درحقیقت عمل د عقل مطابق وي، یعني چې کم چاته الله تعالی کامل عقل ورکړی وي، نو هغه په دنیاکې نیک اعمال زیات کوي، او په آخرت کې د لوړو درجاتو لائق ګرځي، او چې د کم چاپه عقل کې نقصان وي، نو د هغه نیک اعمال کم وي، نو په آخرت کې د هغه درجات هم کم وي.(۱)

## دوهم (۲) لوی نعمت:

دوهم لوی نعمت علم دی، چې الله رب العزت په انسانانو کې په کامله طریقه سره د چا سینه په ظاهري او باطني علومو سره منوره کړې وي، نو هغه ته یو لوی نعمت ورکول سوی دی.

---

(۱) خطبات فقیر: جلد نمبر۵: صفحہ نمبر ۱۹۸

زموږ د ټوله "اهل سنت والجماعت" دا عقیده ده: چې په ټوله انسانیت کې د انبیاء کرامو څخه را لاندې لوړه درجه د صحابه وو ده، او بیا په ټولو صحابه وو کې لوړه درجه د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ده.

اوس حضرت ابوبکر ﷺ ته د دې لوړې درجې ورکیدلو لوی بنیاد هغه علوم ظاهري او باطیني وو، ځکه چې پیغمبر ﷺ به د ده په باره کې فرمایل:

........مَا صَبَّ اللهُ فِي صَدْرِي اِلَّا وَقَدْ صَبَبْتُهُ فِي صَدْرِ اَبِي بَكْرٍ﴾.(١)

الله رب العزت چې زما په سینه کې څه را اچولي دي، هغه ټوله ما د ابوبکر ﷺ په سینه کې وراچولي دي.

نو د پیغمبر ﷺ د ټولو علومو وارث حضرت ابوبکر ﷺ وو، چې الله تعالی د هغه علومو په برکت ده ته ډېر مضبوط او کامل یقین او ایمان ورنصیب کړی وو.

پیغمبر ﷺ به د ده په باره کې کله کله فرمایل:

........اِنِّي لَاَعْرِفُ رَجُلًا بِاسْمِهِ وَ اِسْمِ اَبِيْهِ﴾ زه یو سړی پېژنم، د ده او د ده د پلار د دواړو نمونه را معلوم دي.

........مَايَاتِيهِ اِلَّا وَبَابٌ مِنْ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ يَقُوْلُ مَرْحَبًا وَتَشْرِيْفًا﴾.

چې کله دی د جنت پر دروازه رابنکاره سي، نو د جنت ټولې دروازې به وده ته د مرحبًا او تشریفًا نعرې وهي، او د جنت د هرې دروازې به دا تمنی وي، چې کاشکي زما په لاره جنت ته ور ننوزي، حالانکه په جنت کې د هر چا خپله دروازه ده، چې هغه به پر هغه دروازه جنت ته ور ننوزي، مثلاً د لمونځ گزارانو دپاره خپله دروازه ده، او د مجاهدینو دپاره خپله د جهاد دروازه ده، او د صائمینو دپاره خپله دروازه ده، چې هغه ته ریان ویل کیږي.

هیڅ څوک هم د بل په دروازه جنت ته نه سي ننوتلای، لیکن یو ابوبکر به وي، چې هغه به د جنت په ټولو دروازو جنت ته ننوتلای سي.

---

(١) خطبات فقیر: جلد نمبره: صفو نمبر۲۰۰

حضرت سلمان فارسيﷺ چي کله د پیغمبرﷺ څخه دا واورېدل، نو ورته وايي:

......﴿إِنَّ هٰذَا لَمُرْتَفِعٌ شَأْنُهُ لِمَنْ هِيَ هٰذَا يَارَسُوْلَ اللهِ﴾ ای د الله رسول! دا خو ډېره لوړه مرتبه ده، الله تعالی دا لوړه مرتبه چاته ورکوی؟

پیغمبرﷺ ورته فرمايي:

......﴿إِنَّمَا هِيَ لِابْنِ أَبِيْ قُحَافَةَ﴾(١) دا د قحافه بچي ابوبکرﷺ ته الله ورنصيب کوي.

وروسته پیغمبرﷺ فرمايي:

......﴿لَيْسَ بِكَثْرَةِ صَلَاتِهِ وَلَا صِيَامِهِ بَلْ لِمَا قَرَّ فِيْ قَلْبِهِ مِنَ الإِيْمَانِ﴾.(٢)

دا درجه د ډېرو لمنځو او روژو په وجه نه بلکه د ابوبکر د باطني ايمان او يقين په وجه الله تعالی ورکوي.

او د ايمان او يقين د مضبوط والی لوی بنياد علوم نبويه دی، نو ګويا الله تعالی ابوبکرﷺ ته لوړه درجه د علومو نبويه وو په وجه ورنصيب کړې ده، نو دوهم لوی او نمايان نعمت د الله په نعمتو کي علم دی.

## زر(١٠٠٠) رحمتونه:

د بعضو احاديثو د مضموم څخه دا معلومېږي: چي روزانه د مځکي پر مخ د الله رب العزت زر(١٠٠٠) رحمتونه رانازلېږي، چي په هغه کي نه سوه نه نيوي(٩٩٩) علماوو او طلباوو ته ورکول کېږي او باقي په عامو انسانانو کي تقسيمېږي.

نو ځکه پیغمبرﷺ فرمايلي دي:

........﴿كُنْ عَالِمًا، أَوْ مُتَعَلِّمًا، أَوْ مُسْتَمِعًا، أَوْ مُحِبًّا، وَلَا تَكُنِ الْخَامِسَةَ فَتَهْلَكَ﴾.(٣)

---

(١) سنن ترمذي: حديث نمبر ٣٦٧٣

(٢) بحر الفوائد المسمى بمعاني الاخبار: صفحه نمبر ٤٠

(٣) الإبانة الكبرى لابن بطه: حديث نمبر ٢١٠

ته عالم جوړ سه، يا طالب العلم جوړ سه، يا د دوی خبري اوره، يا د دوی سره محبت كونكی اوسه، د دې څخه ماسوا بل څوک مه جوړېږه، هسي نه چي په هلاكت كي واقع سې.

## د عالم د اكرام ثمره:

په يو روايت كي راځي: چي كله يو سړی يو عالم ته كومک وركړي، او د عالم د نصرت او مد د دپاره راوړاندي سي.
مثلاً هغه بوډا وي، يا كمزوری او ستړی وي، نو چي كم سړی د ده كومک اونصرت ته راوړاندي كيږي، الله تعالی به هغه سړي ته د هر قدم په بدله او عوض كي د يو غلام ازادولو ثواب وركوي.
او په يو بل حديث كي پيغمبر ﷺ پر غلام آزاد ولو باندي د جنت وعده بيان كړې ده.
او كه چيري يو سړی د محبت او عقيدت په وجه عالم په سر يا تندي باندي مچ كړي، نو الله رب العزت به د هر وريښته په عوض كي ده ته اجر او نيكي وركوي.(¹)

## د عالم ناسته د پيغمبر ﷺ ناسته ده:

په "تنبيه الغافلين" كي حضرت فقيه ابو الليث سمرقندي رحمة الله عليه د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارک رانقل كړی دی، چي پيغمبر ﷺ به فرمايل:
........﴿مَنْ زَارَ عَالِمًا فَكَأَنَّمَا زَارَنِي﴾. چي كم چا د يو عالم زيارت وكړی، نو ګواكي هغه زما زيارت وكړی.
........﴿وَمَنْ صَافَحَ عَالِمًا فَكَأَنَّمَا صَافَحَنِي﴾. او چي كم چا د عالم سره مصافحه وكړه، نو هغه ګواكي زما سره مصافحه وكړه.

(¹) خطبات فقير: جلد نمبر ۵: صفحه نمبر ۲۰۲

.........وَمَنْ جَالَسَ عَالِمًا فَكَأَنَّمَا جَالَسَنِي، وَمَنْ جَالَسَنِي فِي الدُّنْيَا أَجْلَسَهُ اللّهُ مَعِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الْجَنَّةِ﴾.(۱) او چي کم چا د عالم سره مصافحه وکړه، نو هغه ګواکي زما سره مصافحه وکړه، او چي کم چا د عالم سره ناسته اختيار کړه، نو هغه ګواکي زما سره ناسته اختيار کړه، او چي کم چا په دنيا کي زما ناسته اختيار کړه، نو الله تعالى به ئې په جنت کي زما همنشين جوړ کړي.

## د قيامت په ورځ د علماؤو اکرام:

او په يو روايت کي لادا هم راغلي دي: چي د قيامت په ورځ کي به ټول "امت محمديه" د پيغمبرﷺ تر بيرغ لاندي جمع وي، د امت چي څومره خلک تږي وي، نو هغو ته به د پيغمبرﷺ په امر فرښتې د "حوض کوثر" څخه ډکي پيالې پيشوي.

ليکن چي کم څوک علماء عاملين وي، نو دې علماؤو ته به د الله رب العزت محبوبﷺ په خپل لاس سره د "حوض کوثر" جامونه پيشوي، ځکه چي دوی د انبياوو وارثان دي.(۲)

## د چمبيلي د ګل تعبير:

يو سړی ابن سيرين رحمة الله عليه ته راغلی، او خپل خوب ئې ورته بيان کړی، چي حضرت! ما په خوب کي ليدل چي يوه کوتره وه، او هغې د چمبيلي ګلان خوړل، ده ورته وفرمايل: چي د دې تعبير دادی: چي چند علماء به ډېر ژر د دنيا څخه رخصت سي.

چنانچه په را روانو ورځو کي شل(۲۰)لوی لوی علماء د دنيا څخه رخصت سول، نو په خوب کي د چمبيلي ګلان ليدل، د دې تعبير په علماوو سره کيږي، ځکه چي د علماوو خپل شان وي.

(۱) تنبيه الغافلين: حديث نمبر ۶۸۵

(۲) خطبات فقير: جلد نمبر ۵: صفحه نمبر ۲۰۲

نو دوهم لوی نعمت چي د هغه حیثیت د الله تعالی په نعمتو کي ښکاره او نمایان دی، هغه دا: چي الله تعالی د انسان سینه په ظاهري او باطني علومو سره آباد کړي.

## دریم (۳) لوی نعمت:

دریم لوی نعمت دادی: چي انسان ته الله تعالی په دیني خدماتو کي هغه چي د دین په هره شعبه کي وي، اخلاص کامل ورنصیب کړي.

تاسو یو اصل په یاد وساتئ! چي د انسان په زړه او دماغ کي د اعمالو کولو په وخت کي څومره اخلاص وي، د هغه په مقدار د الله د طرفه ده ته اجر ورکول کیږي، عمل که هر څومره کشنی وي، خو د اخلاص په وجه دغه کشنی عمل الله تعالی په ډیر لوی عمل باندي قبلوي.

ځکه د الله تعالی په دربار کي د قبولیت معیار د اعمالو قلت او کثرت نه وي، بلکه د الله تعالی په دربار کي د اعمالو د قبولیت معیار هغه اخلاص او عدم اخلاص دی.

نو چي کم چاته الله تعالی په اعمالو کي اخلاص ورنصیب کړي، نو دا د ده دپاره د الله تعالی په نعمتو کي لوی او نمایان نعمت شمارل کیږي:

## د اخلاص معنی:

یو ځل د حضرت فقیه ابو اللیث سمرقندي رحمة الله علیه څخه چا پوښتنه وکړه، حضرت! د اخلاص څخه معنی ده؟ او مخلص بنده چاته وایي؟ او مخلص بنده به په معاشره کي انسان څنګه پیژني؟ ده ورته وفرمایل: ایا تا "شپانه" لیدلی دي، چي د غره په لمن کي د پسو "رمه" پیایي، هغه ورته وویل: هو لیدلی مي دی.

نو حضرت سمرقندي رحمة الله علیه ورته فرمایي: چي کله "شپانه" د خپلي "رمې" په درمیان کي پر لمانځه باندي ودریږي، ایا د ده په زړه کي دا طمع وي: چي

دغه حيوانان به زما تعريف وکړي، چي زموږ "شپانه" څومره صوفي، بزرګ، او ښه سړی دی، نو هغه سړی ورته وايي: چي د "شپانه" خو د حيوانانو څخه هيڅ کله دا طمع او توقع نه وي، چي دا حيوانان به زما تعريف وکړي، او نه حيوانان په دي پوهيږي.

نو دی مبارک ورته فرمايي: لکه څنګه چي د لمانځه کولو په وخت کي د "شپانه" په زړه کي د حيوانانو څخه د تعريف طمع نه وي، داغه رنګه مخلص بنده چي کله د خلګو په مابين کي عبادت کوي، نو د ده هم د خلګو څخه دا توقع او طمع نه وي، چي دا خلګ به زما تعريف وکړي، بلکه هغه خپل عبادت صرف د الله د رضا دپاره کوي، الله تعالى دي موږ ته په دغه شکل اخلاص رانصيب کړي.

څکه پيغمبر ﷺ فرمايي:

........أَلْخَلْقُ كُلُّهُمْ هَلْكَى إِلَّا الْعَالِمُونَ﴾.

مخلوق ټول هلاکيدونکی دی، سوا د علماؤو څخه.

........وَالْعَالِمُونَ كُلُّهُمْ هَلْكَى إِلَّا الْعَامِلُونَ﴾.

او اهل علم هم ټول د هلاکت سره مخامخ دي، سوا د هغه عالم څخه چي په خپل علم باندي عمل کوي.

........وَالْعَامِلُونَ كُلُّهُمْ هَلْكَى إِلَّا الْمُخْلِصُونَ﴾

او عمل کونکي هم ټول هلاکيدونکي دي، سوا د هغه خلګو څخه چي په خپلو اعمالو کي اخلاص لري.

......وَالْمُخْلِصُونَ عَلَى خَطَرٍ عَظِيمٍ﴾.(۱)

او اخلاص کونکي هم په ډېره لويه خطره کي دي، نه معلوم چي دوی به تر آخر وخت پوري پر اخلاص باندي دوام ولري او که نه، او دا خپل صفا عمل به د قبوليت تر مقامه پوري سالم ورسوي، او که نه.

(۱) مرقاة المفاتيح: باب البر والصلة: صفحه نمبر ۳۰۹۳

نو باید موږ او تاسو د اخلاص په باره کي زیات فکرمند سو، او په خپلو اعمالو کي اخلاص او د الله رضا پیدا کړو، چي سبا د قیامت په میدان کي دغه اعمال زموږ د نجات ذریعه وګرځي، او خدانخواسته که چیري زموږ په اعمالو کي د اخلاص پر ځای ریاکاري راسي، نو بیا خو نجات څه کوي، بلکه هغه اعمال به د مردودیت په شکل زموږ پر مخ وېشتل کیږي.

## د اخلاص څخه خالي عمل قبول نه دی:

او د اخلاص معلوم‌ولو دپاره الله تعالی مختلف چینونه(څنځیرونه) لګولي دي، لکه په دنیا کي چي کله یو انسان د یو ښار څخه بل ښار ته ځي، او سامان ور سره وي، نو د هغه د چیک او معلومات دپاره په لاره کي چینونه وي، چي د چیک او معلوماتو څخه وروسته هغه سړی د خپل سامان سره مخ ته پرېږدي.

د الله په دربار کي د بنده په عمل کي د اخلاص معلوم‌ولو دپاره اوه(۷) چینونه دي، چي پر هغه باندي د بنده په عمل کي اخلاص کتل کیږي.

چنانچه په روایاتو کي راځي: چي کله یو بنده د مځکي پر مخ نیک عمل وکړي، نو فرښته هغه عمل د ځان سره واخلي، او د اسمان پر لور روانه سي.

چي کله اول اسمان ته ورسیږي، نو د اسمان دروازه بنده وي، دا ئې ور وټکوي.

نو پر هغه دروازه باندي مقرره فرښته پوښتنه ځني کوي، څوک ئې، او ولي دروازه ټکوې؟ دا ورته وایي: چي زه فرښته یم، او یو بنده د مځکي پر مخ نیک عمل کړی دی، زه هغه عمل د الله وحضورته د قبولیت دپاره پېشوم.

نو هغه فرښته ورته وایي: چي د دې عمل تلاشي او چیک ماته راکړه، نو هغه فرښته بیا هغه عمل ګوري، چي ایا دا عمل ئې د الله د رضا دپاره کړی دی، یا ئې په بل غرض کړی دی.

که چیري هغه عمل د الله د رضا دپاره وي، نو بیا دروازه ورخلاصه کړي، او د الله تعالی دربار ته د دوهم اسمان پر طرف هغه فرښته د هغه عمل سره روانه سي،

او که چیري د الله د رضا دپاره نه وي، نو دروازه نه ورخلاصوي، او هغه عمل بیرته د مځکي پر طرف را استوي.
داغه رنګه بیا پر دوهم اسمان باندي د دې عمل چیک او تلاشي اخستل کیږي، هلته ئې هم فرشته په دې عمل کي د اخلاص معلومات کوي، او بیا پر دریم اسمان بیا پر ځلورم اسمان حتی چي پر اوو (۷) اسمانو باندي فرشته د هغه عمل د اخلاص چیک او تلاشي کوي.
چي کله تر اوو (۷) اسمانو تیر سي، نو د الله تعالی وحضور ته پېښیږي، نو الله تعالی په خپله هم د دې عمل چیک او تلاشي اخلي، که چیري سل په سله کي دا عمل د الله د رضا دپاره وي، نو الله رب العزت ئې قبلوي، او هغه عمل دې خپل کولو والا ته په دې الفاظو دعا کوي:
.........حَفِظَكَ اللَّهُ كَمَا حَفِظْتَنِي﴾. الله تعالی دې داسي حفاظت وکړه، لکه زما چي دې څنګه حفاظت وکړی.
او که چیري یو فیصد هم د غیر وطرف ته د عمل کولو په وخت کي د ده توجه تللې وي، نو الله تعالی ئې بیرته مځکي ته را استوي، او په یو بدبویه کپړه کي پیچل کیږي، او هغه بنده پر دې مخ په وېشتل کیږي، او هغه عمل و ده ته په دې الفاظو ښرا کوي:
.........ضَيَّعَكَ اللَّهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِي﴾.(۱) الله تعالی دی داسي ضائع کړه، لکه زه چي دي څنګه ضائع کړلم.
الله تعالی ډېر بارک بینه ذات دی، که چیري د انسان په عمل کي خدانخواسته لږ ګډوډي پیدا سي، نو بیا هیڅ کله د الله تعالی په دربار کي قبولیت نه سي پیدا کولای.

(۱)

ځکه قرآن کریم وايي:

......﴿إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ﴾.(۱) ستا رب دخپلو بندګانو و اعمالو ته په "مرصاد" کي دی.

"مرصاد" قرآني او عربي لفظ دی، په عربي کي دی هغه کیفیت ته وايي: چي کله ښکاري وښکار ته د ښکار کولو په وخت کي په "کمين" کي ناست وي، او پر ده باندي د ښکار کولو حیوان را روان وي، او د ده تر ملونې لاندي راسي، نو په دې وخت کي چي کله دی وار ورباندي کوي، نو دې ښکار ته دومره زیات متوجه وي، چي بلکل د سترګو رف موقع هم نه سي پیدا کولای، نو ښکاري چي کله په دغه کیفیت کي راسي، نو د ده دغه کیفیت ته په عربي کي "رصد" ويل کیږي، او هغه ځای د ناستي ته "مرصاد" ويل کیږي.

نو د دې مطلب دا دی: چي الله تعالی په نهایت باریکه طریقه سره د بندګانو اعمالو ته متوجه دی، که چیري خدانخواسته د بندګانو په اعمالو کي لږ د بي اخلاصی خرابي پیدا سي، نو بیا هیڅ کله د الله رب العزت د قبولیت ودربار ته نه رسیږي، او نه د الله رب العزت په حضور کي د قبولیت په شکل قدر او قیمت پیدا کولای سي.

## د مخلص بنده درې (۳) علامې دي:

.......اوله علامه ئې داده: چي هغه د خپلو نیکو اعمالو بدله صرف او صرف د الله تعالی د ذات څخه غواړي، هغه د خپل عمل د بدلې ورکونکی صرف او صرف د الله ذات بولي، لکه د دې مثالونه زموږ په سلفو کي ښکاره دي.

(۱)سورة الفجر آیت نمبر ۱۴

## د حضرت عائشې مبارکې اخلاص:

د حضرت عائشې صديقې ﷺ عمل داوو: كه به يو سائل د دې دروازې ته راغلى، او د يو شي سوال او طلب به ئې كاوى، نو دې به د خپلي خادمي پهٔلاس هغه ته خير او خيرات ورواستاوى، او په خپله به راغله، د دروازې يو كونج ته به ورته ودرېدله، او غوږ به ئې ونيوى، چي هغه سائل څه وايي.

يو ورځ هغه خپلي خادمي پوښتنه ځني وكړه، چي اى أمّ المؤمنين! ستا په دې يو عمل مي سر نه خلاصيږي، چي كله دروازې ته سائل راسي، ته زموږ په لاس شى ورواستوې، او په خپله دي د پردې وشا ته غوږ نيولى وي، چي هغه سائل د خيرات اخستلو په وخت كي څه وايي، د دې څه وجه ده؟

أمّ المؤمنين ورته وفرمايل: چي زه هغه سائل ته غوږ نيسم، چي د خيرات اخستلو په وخت كي ماته كومه دعا كوي، او چي كومه دعا راته وكړي، زه پر هغه ځاى وده ته هم هغه دعا كوم، په دې نيت باندي چي زما دغه دعا د ده د دعا بدله جوړه سي.

هسي نه چي د ده دعا زما د عمل بدله جوړه نه سي، زه د دغه عمل اجر او بدله صرف او صرف د خپل پروردګار څخه غواړم.

سبُحان الله ...... هغو د دې خبرې څومره خيال ساتى، چي زموږ د عمل بدله بايد د الله رب العزت د دربار څخه راكول سي.

نو كم انسان چي عمل د الله د رضا دپاره وكړي، او د هغه عمل كه د اخلاص په شكل وي، نو د الله څخه ماسوا د بل چا څخه د عمل بدله غوښتل، د ده په دماغ كي نه راځي.

...... دوهم علامه د مخلص بنده داده: چي هغه د دې خپل عمل پر كولو باندي د هيڅ چا څخه د تعريف او صفت كولو توقع نه ساتي، بلكه د هغه دا عقيده وي: چي زما عمل چي د كم ذات دپاره دى، هغه زما دا عمل ويني، او د ملائكو په

مجلسو کي زما ددې عمل تعریف او صفت کوي، د هغه څخه ماسوا پر دې عمل باندي زه د بل چا د تعریف او صفت کولو ضرورت نه لرم.

## د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه اخلاص:

حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه چي کله "مدائن" فتح کړی، نو د فتح څخه وروسته د صحابه کرامو دا عادت وو، چي یو څو ورځي به ئې د هغه فتح پر ځای تیرولې، چي کله په "مدائن" کي ددوی دوې یا درې ورځي تیري سوې.
او مجاهدین د خپل وطن پر طرف را روانیږي، نو یو "نقاب پوش" مجاهد د ده حضور ته راغلی، هغه په یو پارسل او کپړه کي پیچلی وزني شی د ده ومخته کښښووی، او ورته وایي: ای امیر الجیش! دا یو د مسلمانانو امانت دی، چي ستا حضورته مي راورساوی، او ته دا خپل امانت زما څخه تسلیم کړه، او خپل مستحق ته ئې ورسوه.
حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه چي کله هغه پارسل او غوټه خلاصه کړه، نو په هغه کي د "مدائن" د بادشاه د سر تاج دی، چي هغه تاج د سونې څخه جوړ سوی، او پر هغه باندي داسي قیمتي جواهر او ملغلري لګېدلي دي، که چیري هغه مجاهد یوه ملغلره د خپل ضرورت دپاره صرف کړي، نو د ده د نسلونو مالي کفایت کولای سي.
څکه چي د "مدائن" بادشاه په دې جنګ کي قتل سوی دی، او د ده د سر څخه هغه تاج لویدلی دی، او په خاورو کي پروت وو، نو هغه مجاهد راپورته کړی دی، او په ټوله لښکر کي هیڅ چاته دا معلومه نه ده: چي هغه تاج دې یو مجاهد لره په لاس ورغلی دی، او هغه مجاهد هم هغه تاج د ځان سره د ټولو مجاهدینو څخه پټ خوندي ساتلی دی.
چي کله د مجاهدینو ټول ترتیبات سره برابر سول، او د جنګ ستړیا ختمه سوه، نو ده هغه تاج راوړی، او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ته ئې پیش کړی.

حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ د ده ودې اخلاص ته ډېر حيران دی، چي په ټوله مجاهدينو کي په دې تاج باندي هيڅ څوک خبر نه وو، چي دا چا لره په لاس ورغلی دی، او دا مجاهد چونکه يو غريب انسان دی، او هغه دا د خپل ځان سره محفوظ کولای سو، يا ئې د دې څخه د خپل ځان د ضرورت دپاره يو څو ملغلري جدا کولای هم سوې، لېکن بيا ئې هم هيڅ نه دي کړي، بلکه دا تاج ئې روغ سلامت او په حفاظت تر ما پوري را ورساوی، نو و دې اخلاص ته هغه ډېر حيران سو.

د تاج تسليم ولو څخه وروسته حضرت سعدبن ابي وقاص ﷺ د هغه مجاهد څخه پوښتنه کوي، چي سړيه! ستا نوم څه دی؟ چي کله ده پوښتنه وکړه، نو د ده پر پوښتنه کولو د هغه مجاهد په سترګو کي اوښکي راغلې، او خپل مخ ئې څني واړوی، او ورته وايي: ای د مجاهدينو اميره! د خدای په خاطر ما مه رسوا کوه، او مه زما د نامه پوښتنه کوه، چي د کم ذات دپاره ما دا عمل کړی دی، هغه ته زما نوم ډېر ښه ور معلوم دی، وبل چاته زما د نامه وربښوولو ضرورت زه نه وينم، نو د داغه خبرو کولو په دوران کي هغه د ده د دربار څخه ولاړی.

نو ما مخکي درته وويل: چي د اخلاص په بشکل چي عمل وسي، نو هغه عمل کونکی پر خپل عمل باندي د الله څخه سوا د بل چا څخه د تعريف کولو طمع او توقع نه ساتي.

دمخلص بنده دريمه علامه دا ده: چي هغه په معاشره کي خپل نيک اعمال د نورو انسانانو څخه داسي پټوي، لکه عام خلک چي خپل ګناهونه څنګه پټ ساتي، ځکه هغه خپل عمل د الله د رضا دپاره کوي، او خپل رب په ځان باندي خبر بولي، د بل چا د خبرولو ضرورت نه ويني.

## د حضرت ابوبکر ﷺ د اخلاص واقعه:

زمونږ د اکابرينو عجيبه اعمال او عجيبه اخلاص او عجيبه ... [illegible]

........ تاسو د حضرت ابوبكرؓ يو عمل او په هغه عمل كي د هغه و اخلاص ته غور كښېږدئ.

يو ځل حضرت عمر ابن الخطابؓ دربار صديقي يعني "مسجدنبوي" ته راغلی، او هلته د مدينې منورې د كونډو يتيمانو ناداره او بې كسه خلكو لست(فهرست) اوېزان دی، د مدينې منورې ټولنه چونكه د مجاهدينو ټولنه وه، نو هلته به كونډي او يتيمان ډېر ول، چي په هغه كي دا ليكلي دي: چي فلان بوډا انسان دی، او فلانی بوډۍ زنانه ده، دا كونډه زنانه او يتيمان دي، او فلان غريب او مسكين دی، او بيمار دی، د خدمت دپاره هيڅ څوک نه لري.

بيا چي كمو كمو كسانو د دوی د خدمت ذمه داري اخستې وه، د هغو كسانو نومونه هم د دې كونډو، يتيمانو او غريبانو د نوموسره ليكلي دي.

حضرت عمرؓ هغه ټوله لست ووايی، په هغه كي چي كم انسانان وخدمت ته ضرورت لري د هغو ټولو د خدمت ذمه واران متعين ګرځېدلي دي، هيڅ څوک داسي پاته نه دی، چي د هغه د خدمت ذمه واري دي يو چا پر غاړه اخستې نه وي.

آخر د لست په پای كي د يو بوډۍ زناني نوم ليكلی دی، او د هغې سره د بل داسي يو چا نوم نسته، چي هغه دي د دې د خدمت ذمه واري پر غاړه اخستې وي، او د دې خدمتونه هم ليكلي دي، چي د دې د كور د جارو كولو ضرورت دی، او د دې د كور د لوښو د ډكولو ضرورت دی، نو د بوډۍ نوم او د دې د ضرورت خدمتونه ليكلي دي، لېكن داسي څوک نه دی ليكلی چي هغه دي د دې دا خدمت او ضرورت ورپوره كړي.

نو حضرت عمرؓ دا اراده وكړه، چي د دې دغه خدمتونه او ضرورتونه به زه پر خپله ذمه اخلم، نو ده د هغه بوډۍ زناني نوم او د هغې خدمتونه او د هغې د كور لار او د كور تعين ټول په دماغ كي يادوساتل، او ځان ئې د دې وخدمت كولو ته چمتو كړی.

چنانچه دوهمه ورځ سهار په مسجد نبوي کي د لمانځه کولو څخه وروسته د هغه زناني کور ته راغلی، او د هغې د کوډلي څخه دباندي ږغ ورکوي، ورته وايي: موری! ته لږ پرده وکړه، زه خادم ستا د خدمت کولو دپاره راغلی یم، چي زه ستا خدمت وکړم.

هغه بوډۍ زنانه د کوډلي څخه دننه جواب ورکوي: چي بچيه! ته څوک خدمت ته راغلی ئې؟ زما خادم خو وختي راغلی وو، هغه زما کوډل جارو کړې ده، او زما د اوبو لوښي ئې را ډک کړي دي، او نور کار بچیه! زه په خپله کولای سم، باقي خدمت ته ضرورت نه لرم.

دا بله ورځ حضرت عمرؓ چي کله د تهجدلمونځ وکړی، نو د هغه څخه وروسته ئې د بوډۍ کوډلي ته ځان راورساوی، او په دروازه کي ږغ کوي، چي موري! خدمت والا راغلی یم، ته پرده وکړه، چي زه ستا د کور خدمت سر ته ورسوم، نو هغه زنانه ورته وايي: چي خدمت والا وختي راغلی وو، او خدمت ئې پوره کړی، او واپس ولاړی.

حضرت عمرؓ ورته وايي: موري خادم څوک دی، چي ستا د خدمت دپاره راځي، نو هغه بوډۍ زنانه ورته وايي: چي بچيه! زه ئې نه پېژنم، او نه مي تر اوسه پوري ليدلی دی، بس يو سړی دی، زما دروازه ته ودرېږي، ږغ وکړي، زه پرده وکړم، دی خدمت وکړي، واپس ولاړ سي.

حضرت عمرؓ ورته وايي: موري د دې خادم نوم څه دی؟ دا بيا ورته وايي: چي بچيه! نه ما نوم ځني پوښتلی دی، او نه ده راښوولی دی، چي راسي، د خدمت ږغ وکړي، زه په پرده کي سم، او چي کله ځي، نو راته وايي: موري! خدمت وسو، ته پرده ختمه کړه، زه درڅخه ولاړم، خو د ډېري زمانې څخه په دغه شکل زما کورته راځي، نه ئې ما شکل ليدلی دی، او نه ئې نوم رامعلوم دی؛

حضرت عمرؓ چي کله دا خبره واورېدله، نو ډېر حيران سو.

آخر خو دی هم عمرابن الخطابﷺ دی، نو دریمه ورځ د ماخستن د لمانځه کولو څخه وروسته چي کله تیاره وغوړېده، نو د کوډلو په مابین کي راغلی، او د هغه بوډۍ د کور په لار کي پټ په یو تیاره ا وسایه ځای کي کښېناستی، چي دا وځان ته معلومه کړی، چي د دې بوډۍ د کور خدمت کونکی مرد خدا څوک دی.

چي کله شپه وغوړېدله، او خلګ په خواږه خوب باندي ویده سول، نو که ګوري، یو انسان ډېر سوکه سوکه او په لځو پښو د کوډلو وسایو ته په تاریکي کي د هغه بوډۍ د کوډلي وطرف ته را روان دی.

حضرت عمرﷺ چي کله ولیدی، نو وروړاندې سو، او ږغ ئې ور باندي وکړی، چي سړیه! څوک ئې، چي په دې نیمه شپه کي او په توره تیاره کي د خلګو د کورو په درمیان کي ګرځې.

په جواب کي د حضرت ابوبکر صدیقﷺ اواز راغلی، او وایي: زه ابوبکر یم.

حضرت عمرﷺ حیران سو، ورته وایي: اې خلیفة المسلمین! ته دلته یوازي په دې توره تیاره کي څنګه راغلې، نو هغه په جواب کي ورته وایي: اې عمره! د دغه بوډۍ د کور خدمت ما پر خپله غاړه باندي اخستی دی، نو د هغې د خدمت دپاره راغلم.

حضرت عمرﷺ پو ښتنه څني کوي، چي اې د مسلمانانو خلیفه! ستا د پښو چوټي (څپلۍ) چیري دي؟ او ته په لځو پښو ولي را روان ئې، او دا نیمه شپه وخت دي ولي د هغه بوډۍ د خدمت دپاره انتخاب کړی دی؟

حضرت ابوبکرﷺ ورته وایي: چي ما چوټي په کور کي پرېښوولې، او په لځو پښو تر دې ځای پوري راغلم، هغه په دې وجه چي زما د چوټو په ږغ سره څوک د خوب څخه راویښ نه سي، او د هغه په خوب کي خلل واقع نه سي.

او نیمه شپه مي په دې وجه انتخاب کړې ده، چي زما په دې عمل زما د رب څخه سوا بل څوک خبر نه سي، او زما دغه عمل صرف او صرف د الله د رضا دپاره وګرځیږي.

...... سبحان الله ....... دا هغه مبارک انسانان وو، چي کم چا د پیغمبر ﷺ د ژبي څخه د جنت زیري او بشارتونه اورېدلي وو، د هغه باوجود ئې خپل اعمال په داسي پټه طریقه د الله د رضا دپاره کول.

نن که پر دې معیار باندي موږ خپل اعمال وتلو، نو یقیناً به موږ او تاسو ته خپل اعمال ضائع سوي را معلوم سي، او چي څومره اعمال مي کړي دي، خپله عمل نامه به د هغو څخه خالي را معلومه سي، نن دي زموږ پر حال الله تعالی رحم وکړي، چي کله مي څه کړي نه وي، بیا په فیس بوک او نیټ کي زموږ تصویرونه دي، چي فلان حاجي صاحب او فلان مولوي صاحب دا وکړل، نو د اردو ژبي هغه مشهور متل را باندي صادق سي، چي: نیکی برباد... گنہ لازم.

نو که بنده خپل اعمال د الله تعالی په دربار کي د قبولیت په شکل لیدل غواړي، نو هغه دي په خپلو اعمالو کي اخلاص پیدا کړي، او خپل اعمال دي، د ریاکارۍ څخه محفوظه کړي.

ځکه چي انسان هر څومره لوی اعمال وکړي، او په هر څومره ښه طریقه سره ئې وکړي، او پر هغه باندي خپل وخت ضائع کړي، لیکن خدانخواسته که چیري په هغه کي د ریاکارۍ شائبه او دخل راسي، نو د الله تعالی په دربار کي د یو وربښته قدر او قیمت هم نه سي پیدا کولای.

نو په اعمالو کي دا ضروري نه ده: چي هغه به په کثرت سره وي، یعني چي انسان به په ژوندکي کي ډېر اعمال کوي، بلکه ضروري خبره دا ده: چي هر څومره اعمال چي کوي لږ وي، او که ډېر وي، په هغه کي به خپل ځان د ریاکارۍ څخه ساتي، او خپل اعمال به د ریاکارۍ د علامو څخه خوندي کوي.

## د رياکار انسان درې علامې دي:

زموږ اکابرينو د رياکار انسان درې(۳) علامې ليکلي دي، چې د هغه څخه انسان د خپل ځان اندازه معلومولای سي، چې زه په کم حالت کي يم.
(۱)...... اوله علامه د رياکار داده: چې د هغه د خلوت او جلوت په حالت کي فرق وي، يعني د خلوت په حالت کي سست وي، او د جلوت په حالت کي چست او تکړه وي، يعني چې کله يوازي په تنهائي کي عبادت کوي، نو ډېر د غفلت او سستی په حالت کي ئې سره رسوي، لمونځ کوي، نو ډېر مختصر چې نه د هغه رکوع او نه د هغه سجده او نه قيامه او نه قعده، په صحيح شکل سره وي.
لېکن چې کله د خلکو په محفل کي راسي، نو بيا خو ډېره چستي ښکاره کوي، يعني چې کله ئې خلک ويني، او وده ته گوري، نو بيا دَی ډېر صوفي وي، په هغه وخت کي فقط نفلونه نه بيا خو ده ته قضا سوي لمونځونه هم په ياد ورسي، او په لمانځه باندي بلکل نه ستړی کيږي، لېکن چې کله ئې خلک نه ويني، نو بيا فرض لَمونځ کول، هم مشکل ورمعلوميږي، دا صرف په لمانځه کي نه بلکه په هر عمل کي د ده دا حال وي.
زموږ او ستاسو معاشره ده، او په حالاتو ښه سره خبر يو، نن سبا چې کله په مسجد کي يا په عامو محفلو کي د چاندې او د خير او خيرات ږغ وسي، نو چې کله د نامه ځای وي، او د تربورگلوی ځای وي، او خلک ئې ويني، نو بيا خو صاحب بهادر وهر څومره پيسو ورکولو ته تيار وي، چې د ده د سخاوت او ميړاني نوم په خلکو کي ولاړ سي.
لېکن چې کله خلک نه وي، نو بيا يو غريب چې ده ته ودرېږي، او د خدای روی ورته ونيسي، او دا ورته وايي: چې زما بچيانو بيگاه په لوږه شپه تېره کړې ده، نو بيا هم د ده په زړه کي يوه ذره دلسوزي نه راځي، او د پنځو(۵) روپو د ورکولو سره ئې ساه خيږي، ځکه چې په دې صورت کي د ده سخاوت او ميړانه

خلګو ته نه ورښکاره کيږي، الله تعالی دي زموږ او ستاسو اعمال د دغه سي بدترينې رياکارۍ څخه محفوظه وساتي.

(۲)....... د رياکار دوهمه علامه داده: چي هغه پر دې خپل عمل باندي د انسانانو څخه د تعريف طمع لري، يعني په معاشره کي بيا خاص د مالدارانو څخه دده د تعريف او صفت کولو تمنی وي.

تاسو ګورئ! چي د رياکار تعريف هم خلګ کوي، او د مخلص بنده تعريف هم کول کيږي، مګر د دواړو په درميان کي فرق دا وي: چي د رياکاره زړه د تعريف اورېدلو په وخت کي باغ باغ وي، يعني د خوشحالۍ څخه په خپلو جامو کي نه ځاييږي، لېکن د مخلص بنده چي کله انسانان تعريف کوي، نو د هغه پر دې زړه باندي د ډېره غمه اري چليږي، او د ده زړه په دې وخت کي په ژړا کولو کي مشغوله وي.

د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په باره کي راځي: چي کله به يو چا د ده تعريف کاوی، نو ده به هميشه په تنهائي کي، دا دعا کوله، ای الله! تاچي وذې خلګو ته زما متعلق کم حسن ظن ورکړی دی، اوس ما د دوی د حسن ظن مطابق جوړ کړې.

(۳)....... د رياکار دريمه علامه داده: چي کله د مخلوق د طرفه يو انسان د دين په کار کي ملامتيا ووينی، نو هغه د دين کار دستي څني پاته سي، چنانچه د ده ومخته لږ مانع او رکاوټ پيدا سي، نو د ده دستي پر سنت طريقه باندي عمل کول ختم سي.

تاسو به اورېدلي وي: چي د ودونو او ښاديو پر موقع باندي چي کله يو نارينه دې زنانو ته د سنت طريقې خبره وکړي، نو اکثره زناني په جواب کي ورته وايي: که مي داسي وکړل، نو خلګ به څه وايي، حالانکه دا د دوی په دماغ کي نه راځي: چي زموږ د نافرمانيو پر اعمالو زموږ رب څه وايي، الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم په باره کي د دوی هيڅ سوچ او فکر نه وي، بلکه د دوی سره د اسوچ

او فکر ورسره وي: چي که موږ په دې واده کي سنت طريقې پر ځاى کړې، نو زموږ پزه به پرېسي، حالانکه د دنيا به څه پزه پرېکېدل وي، د پزي پرېکېدل د قيامت په ميدان کي ډېر نقصاني وي، چي ټول مخلوق ورته ګوري.

يعني دريمه علامه د رياکار داده: چي هغه پر نيکو اعمالو باندي استقامت نه لري، چي د نيکو اعمالو کولو په وخت کي د ده ومخته معمولي رکاوټ او مانع پيدا سي، نو دى دستي د نيکو اعمالو د کولو څخه پر شا کيږي.

حالانکه الله تعالى ته په ټولو اعمالو کي خوښ عمل استقامت دى، چي يو بنده خپل اعمال د استقامت په شکل کوي، او چي د چا په اعمالو کي بې استقامتي وي، نو هغه اعمال د الله تعالى په دربار کي په لوړه درجه قبوليت نه سي پيدا کولاى.

## د درختي سره يو عجيب مکالمه:

يو ځل حضرت سري سقطي رحمة الله عليه پر لار روان دى، د غرمې وخت سو، او د روژې مبارکه مياشته ده، نو ده لره خوب ورغلى، نو د قيلولې په نيت تر يو درخته لاندي وسايه ته ويده سو، د يو ساعت ويديدلو وروسته چي کله د ده سترګي را روڼي سوې، نو په غوږو کي ئې يو اواز راځي، حالانکه يو طرف او بل طرف ته څوک نه معلوميږي.

چي کله دى هغه اواز ته ډېر متوجه سو، نو دا ور معلومه سوه: چي دا اواز د دغه درختي د تنې څخه را پورته کيږي، چي د کمي درختي وتنه ته دى مبارک ويده وو.

چي کله الله تعالى اراده وکړي، نو کله کله داسي واقعات خپل يو بنده ته ښکاره کوي، د غوږ نيولو څخه وروسته هغه درخته ده ته وايي:

﴿يا سرىّ كن مثلي﴾ اى سرى سقطي! زما غوندي سه، ده چي کله دا اواز واورېدى، نو ډېر حيران سو، نو دد هغه درختي څخه پوښتنه وکړه:

...... ﴿كَيْفَ اَكُوْنُ مِثْلَكَ﴾ ای درختي! زه څنګه ستا غوندي سم، ته کم عمل کوې، چي زه هغه وکړم.

درختي په جواب کي ورته وويل:

...... ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنِي بِالْاَحْجَارِ فَاَرْمِيْهِمْ بِا الْاَثْمَارِ﴾ ای سر ی سقطي! خلک ما په کاڼو ولي، او زه پر دوی میوې راشوه کوم، تاسو به د میوې د پخیدلو په وخت کي لیدلی وي، چي ماشومان د دې خوا کاڼي او ډبري ور غورځوي، او د لوړ طرفه پر دوی میوې رالویږي، نو درخته وایي: چي زما غوندي جوړ سه، د انسانانو د بد عمل بدله په نیک عمل باندي ورکوه.

ده چي کله دا خبره واورېده، نور هم زیات حیران سو، مګر الله تعالی خپلو نیکو بندګانو ته یو قسم فراست ورکړی وي.

لهذا د ده په ذهن کي فوراً دا خیال راغلی، که چیري دا درخته دومره نیک عمله ده، چي د خلکو د ډبرو ویشتلو جواب په میوو سره ورکوي، نو بیا الله رب العزت دا درخته ولي آخر د اور غذا جوړه کړې ده.

لهذا ده پوښتنه ځني وکړه، چي ای درختي! چي ته کله دومره ښه ئې، نو:

...... ﴿فَكَيْفَ مَصِيْرُكَ اِلَى النَّارِ﴾ نو دا راته ووایه: چي الله تعالی ته ولي آخر د اور غذا جوړه کړې ئې.

هغه درخته په جواب کي ور ته وایي: ای سِري سقطي! په ما کي ډېري لوی خوبې سته، مګر د هغه سره یوه خامي هم را پکښېده، چي هغه خامی زما پر ټولو خوبیو باندي اوبه تیري کړي دي، او الله تعالی ته زما هغه خامي دومره ناخوښه ده، چي د هغه یوې خامی په وجه زه د اور غذا جوړه کړی یم.

دی پوښتنه ځني کوي، چي هغه کمه خامي ده؟ درخته په جواب کي ورته وایي: زما هغه خامي دغه ده:

...... ﴿فَاَمِلْتُ بِالْهَوَاءِ هٰكَذَا وَ هٰكَذَا﴾ چي زه د هواګانو سره ګرځم، چي د کمي خوا هوا راباندي زور وره سي، زه د هغه ...

زما دغه عدم استقامت الله تعالى ته دومره مبغوض عمل دی، چې زما پر ټولو ښو صفاتو د دې یو عمل په وجه اوبه تیري سولې، او زه د اُور غذا جوړه سولم.(۱)

الله تعالی دي موږ او تاسو د ریاکارۍ د دې ټولو اعمالو څخه محفوظه وساتي، او الله تعالی دي موږ ته په ټوله زندګي کې په اخلاص سره د اعمالو کولو توفیق رانصیب کړي، الله تعالی دي دا څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

---

(۱) تجربے برتی: جلد نمبرد: صفحہ نمبر ۲۸۰

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایہ)

# د علماؤو توهين نه كول

(بيان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريــــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾(۱).

﴿عن عمروبن عوف المزنيﷺ قال: قال رسول الله ﷺ اِتَّقُوْا ذَلَّةَ العَالِمِ وَلَا تَقْطَعُوْهُ وَانْتَظِرُوْا فَيْئَتَهُ﴾(۲).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو په مخ كي ما د پيغمبرﷺ يو حديث مبارک پيش كړى، هغه حديث كه څه هم د سند په اعتبار سره ضعيف دى، لېكن د معنٰى په اعتبار سره ټوله امت قبول كړى دى.

په دې حديث مبارک كي پيغمبرﷺ د خپل امت دپاره يو ډېر اهم نصيحت بيان كړى دى.

د دې حديث راوي حضرت عمروبن عوف مزنيﷺ دى، دَى مبارک روايت كوي: چي پيغمبرﷺ به فرمايل: چي د عالم د لغزش او گناه څخه ځان وساتئ، او د عالم سره تعلق مه قطعه كوئ، او د هغه د واپس راگرځېدلو انتظار كوئ.

---

(۱) سورة الزمر آية: ۹

په دې حديث مبارک پيغمبرﷺ دعامي معاشرې و انسانانو ته د علماؤو سره د ګزارې او ژوند تيرولو بهترين هدايات بيان کړي دي، چي تاسو به د عالم سره څنګه ژوند تيروی، او د هغه سره به ښه تعلق ساتئ، او د هغه څخه به ددين متعلق رهنمائي اخلئ.

د "عالم" څخه مراد هغه سړی دی: چي هغه ته الله تعالی د دين علم د قرآن کريم علم د احاديثو علم د فقه علم، ورکړی وي.

نو اول هدايت دادی: که چيري تاته په يقين سره دا درمعلومه سي: چي دغه عالم د فلان فلان ګناه عمل کوي، او ته ښه ورته ګوري، چي دغه عالم د ګناه په عمل کي او په غلط کار کي مبتلا دی.

نو دا فکر هيڅ کله مه کوه: چي فلان عالم دومره لوی علم والا دی، يا هم د ګناه کار کوي، نو زه به ئې هم وکړم، او ماته ئې هم کول جائز دي.

بلکه ته د دغه عالمَ د هغه غلطي او ګناه څخه ځان ساته، او ده ته په کتلو سره خپل ځان په هغه ګناه کي مه مبتلا کوه.

## د ګناه په کارو کي د علماوو اتباع نه کول.

د دې حديث په اوله جمله کي پيغمبرﷺ د هغه خلګو اصلاح کړې ده: چي هغه يو څوک د ګناه څخه راګرځوي، او د ګناه څخه ئې منع کوي، چي دغه کار ناجائز او ګناه ده، دا کار مه کوه.

نو دَی د خبرو منلو او اورېدلو پر ځای فوراً ستا ومخ ته دلائل شروع کړي، او مثالونه بيانوي، چي دغه کار خو فلانکی عالم هم کوي، او فلانکی مولوی صاحب ما په خپلو سترګو ليدلی دی، چي دغه کار ئې کاوی.

پيغمبرﷺ پر اول قدم د دغسي دليل پيشولو بنياد ختم کړی دی، چي ته به د عالم د غلط عمل پيروي او تابعداري نه کوې، بلکه ته به صرف د هغه د نيکو او ښو اعمالو تابعداره اوسې، هغه که چيري د ګناه کار يا غلط کار کاوی، نو بايد ستا په زړه کي دا جرأت پيدا نه سي، چي زه به ئې هم کوم.

بلکه دځان سره دا سوچ او فکر کوه: که چیرې هغه عالم د جهنم پر لاره روان وو، نو ایا ته به هم د هغه په تابعداري کې جهنم ته ځان رسوې؟ که چیرې هغه و اور ته ورغوته کیدی، نو ایا ته به هم په هغه اور کې خپل ځان سوزې؟ ښکاره خبره ده: چې ته هیڅ کله داسې نه کوې، نو بیا څه وجه ده: چې ته د ګناه په کارو کې د هغه اتباع او پیروي کوې، او د هغه عمل دځان دپاره دګناه د جواز دلیل ګرځوې.

## د عالم عمل معتبر نه دی:

په دې وجه علماء کرامو فرمایلي دي: چې هغه عالم چې رشتونی او په صحیح معنٰی عالم وي، د هغه فتوٰی معتبره ده، او د هغه په ژبه سره بیان سوې مسئله معتبره ده، لیکن د هغه عمل معتبر بلل ضروري نه دي.
که چیرې هغه یو غلط کار کاوی، نو د هغه څخه پوښتنه وکړه، چې ایا دا کار روا دی او کنه؟ هغه عالم به تاته دا جواب در کوي، چې دا عمل روانه دی، نو ته د دغه ښوول سوي مسئلې اتباع کوه، او د هغه د عمل اتباع مه کوه، لهذا دا ویل: چې فلانکی کار چې کله دومره لوی لوی علماء کوي، نو زه ئې هم کوم، دا استدلال او دلیل پیشول هیڅ کله صحیح نه دی.
د دې مثال داسې دی: لکه یو سړی چې داسې ووایي: چې دومره لوی لوی خلک په اور کې ځان سوزوي نو زه هم په دې اور کې ځان سوزم، نو لکه څنګه چې دغه طرز استدلال د ځان د سوزلو دپاره غلط بلل کیږي، داغه رنګه هغه طرز استدلال هم غلط دی.
څکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چې د عالم د لغزش او ګناه څخه ځان ګوره، یعنې د هغه د لغزش، ګناه او د غلط عمل اتباع هرګز مه کوه.

## د عالم څخه نه بدګمانه کیدل:

بعض خلک دوهمه غلطي دا کوي: چي کله یو عالم په یو غلطي او ګناه کي مبتلا ویني، نو بس فوراً د هغه څخه خپل تعلق قطع کوي، او د هغه څخه د بدګماني په شکل خپل ځان لیري کوي.

او بعض اوقات د هغه بدنامه کول، شروع کړي، چي دا علماء داسي دي، نو د هغه په ضمن کي د ټولو علماوو توهین او بدنامي هم کوي، چي نن سبا علماء داسي دي، او داسي کوي.

د دې حدیث په دوهمه جمله کي حضور اقدسﷺ د دې هم تردید بیان کړی دی، که چیري یو عالم د ګناه کار کوي، نو د هغه څخه د هغه ګناه په وجه تعلق مه قطع کوئ.

ځکه چي عالم ستاسو غوندي یو انسان دی، لکه تاسو چي د غوښي او پوست څخه جوړ سوي انسانان یاست، هغه هم ستاسو غوندي د غوښي او پوست څخه جوړ سوی انسان دی، هغه خو څه د اسمان څخه راشوه سوې فرښته نه ده.

کم جذبات چي ستاسو په زړو کي پیدا کیږي، هغه جذبات د هغه په زړه کي هم پیدا کیږي، نفس ستاسو سره ملګری دی، د هغه سره هم ملګری دی، شیطان په تاسو پسي لګیدلی دی، په هغه پسي هم لګیدلی دی، نه هغه د ګناه څخه معصوم دی، او نه هغه فرښته ده، بلکه هغه هم د دغه دنیا باشنده دی، د کمو حالاتو سره چي تاسو مخامخ یاست، د هغه حالاتو سره هغه هم مخامخ دی.

لهذا تاسو د کم ځای څخه دا خبره په دماغ کي کښېنولې ده: چي هغه به د ګناهونو څخه معصوم وي، او نه به د هغه څخه یو ګناه او غلطي صادریږي، ځکه چي کله هغه انسان دی، نو د بشري تقاضی په طبق د هغه څخه هم غلطي کیږي، ا و کله کله به په ګناه کي مبتلاکیږي، نو د هغه د ګناه کولو په وجه فوراً د هغه څخه مخ ګرځول او د هغه سره تعلق ختم کول او د هغه څخه خپل ځان بدګمانه کول صحیح کار نه دی.

نو ځکه پيغمبرﷺ فرمايلي دي: چي تاسو به فوراً د هغه څخه خپل تعلق نه قطع کوئ، بلکه دا انتظار به کوئ: چي هغه د دغه گناه څخه واپس راوگرځي، ځکه چي د هغه سره صحيح علم موجود دی، دا اميد دی، چي ددغه عمل په وجه به انشاءالله هغه يو وخت د دغه گناه څخه خپل مخ را اړوئ، او د دغه گناه څخه به توبه کاږئ.

## د علماوو په حق کي دعا کول:

او که چيري تاسو د هغه دپاره دعا وکړی، چي يا الله! فلانکی سړی ستا د دين حامل دی، او د ده په ذريعه موږ ته د دين علم رارسيدلی دی، او دا بيچاره د دي گناه په مصيبت کي مبتلا سوی دی، ای الله! دی په خپل رحمت سره د دي مصيبت څخه خلاص کړه.

د دي دعا کولو څخه ستاسو دوچنده فائده ده، يو به د دعا کولو ثواب پيدا کړی، او دوهم د يو مسلمان سره د خيرخواهۍ کولو ثواب به هم در نصيب سي، که چيري ستاسو دغه دعا قبوله سي، نو تاسو به د دغه عالم د اصلاح سبب جوړ سی، د هغه په نتيجه کي بيا چي دغه عالم څومره ښه کارونه کوي، هغه به ټوله ستاسو په عمل نامه کي هم ليکل کيږي.

لهذا بلاوجه د نورو په مخ کي د عالم بدنامي کول، چي فلانکی عالم هم دی، بيا هم دا عمل کوي، نو د دغه بدنامۍ هيڅ فائده نسته، او نه د دي څخه تاسو ته څه فائده رسيږي، بلکه ته د علماؤو په غيبت او توهين کي واقع کيږي.

هسي خو د عامو مسلمانانو غيبت کول، او د هغو عزت خرابول، پيغمبرﷺ بدترين سود او بدترينه گناه بللې ده.

لکه په يو حديث مبارک کي آنحضرتﷺ فرمايلي دي:

........قَالَ إِن الرِّبَا نَيِّفٌ وَسَبْعُوْنَ بَابًا أَهْوَنُهُنَّ بَابًا مِن الرِّبَا مِثْلُ مَنْ أَتى أُمَّهُ فِي الإِسْلَامِ﴾.

د سود د اويا(۷۰) څخه زياتي دروازې دي، په هغه کي د ټولو څخه د کمي دروازې ګناه داسي ده: لکه (نعوذبالله) يو سړی چي په حالت د اسلام کي د خپلي مور سره بدکاري کوي.

........وَدِرْهَمٌ مِنَ الرِّبَا أَشَدُّ مِنْ خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ زَنْيَةً﴾.

او د سود يو درهم د پنځه ديرش(۳۵) ځله ګناه کولو څخه هم سخت دی.

........وَأَشَدُّ الرِّبَا وَأَرْبَى الرِّبَا وَأَخْبَثُ الرِّبَا اِنْتِهَاكُ عِرْضِ الْمُسْلِمِ وَانْتِهَاكُ حُرْمَتِهِ﴾.(۱)

او د ټولو څخه سخت ترين سود او د ټولو څخه بد ترين سود هغه د مسلمان عزت او حرمت خرابول دي.

بيا خاص د علماؤو او بزرګانو غيبت او توهين کول، د عامو انسانانو د غيبت او توهين کولو څخه زيات شدت او قباحت لري، ځکه دا قرآني حاملين دي، او د دوی په باره کي پيغمبرﷺ فرمايي:

......حَامِلُ الْقُرْآنِ حَامِلُ رَايَةِ الإِسْلَامِ فَمَنْ أَكْرَمَهُ فَقَدْ أَكْرَمَ اللهَ وَمَنْ أَهَانَهُ عَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ﴾.(۲)

حاملين د قرآن دا د اسلام د بيرغ حاملين دي، چي کم څوک د دوی اکرام کوي، نو هغه په حقيقت کي د الله د ذات اکرام کوي، او چي کم څوک د دوی توهين کوي، نو پر هغو باندي به د الله تعالی د طرفه لعنت وي.

او د الله تعالی په نظر کي د علماء کرامو د جماعت درجه ډېره لوړه وي، ځکه چي د هغو بې عزتي او بې توقيري د الله تعالی ډېره ناخوښه وي.

(۱) الترغيب والترهيب: حديث نمبر ۴۲۷۹

(۲) کنز العمال: حديث نمبر ۲۲۹۴

د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

.......حَمَلَةُ القُرْآنِ أَوْلِيَاءُ اللهِ فَمَنْ عَادَاهُمْ فَقَدْ عَادَى اللهَ وَمَنْ وَالَاهُمْ فَقَدْ وَالَى اللهَ﴾.(١)

قرآني حاملین د الله تعالی اولیاء او دوستان دي، چې کم څوک ددوی سره دښمني کوي، نو هغه د الله تعالی سره دښمني کوي، او چې کم څوک د دوی سره دوستي کوي، نو هغه په حقیقت کې د الله د ذات سره دوستي کوي.

داغه رنګه معروف متل دی:

.......لُحُوْمُ الْعُلَمَاءِ مَسْمُوْمَةٌ﴾.

یعني د علماؤو غوښه ډېره زهریله ده، چې د دوی غیبت کونکي ته سخت نقصان رسوي.

نو د علماؤو تحقیر او توهین داسې جرم دی، چې د هغه سزا الله تعالی نه صرف په آخرت کې، بلکه په دنیا کې هم ورکوي، چې کم خلک په دې باره کې بې احتیاطي کوي، هغه قدرتي طور په دنیا کې هم د ذلت او رسوائي سره مخامخ کیدونکي دي.

## د حضرت مدني رحمة الله علیه واقعه:

حضرت مولانا حسین احمد مدني رحمة الله علیه د امر تسر پر استېشن باندې د ریل کاډۍ څخه راشوه سو، یو هلک چې د ده په مخالفینو کې وو، نو دی ئې پر مخ په چپلاخه وواهی، او ده هیڅ نه ورته وویل.

چې کله په ۱۹۵۲ کې په هندوستان کې د انګریز څخه د آزادۍ تحریک په زور کې وو، نو د حکومت یو مشر هغه هلک ژوندی پورته کړی، او دغسې ژوندی ئې د خښتو په بټۍ کې کباب کړی، چې د هغه جسد بیا چا نه ولیدی.

## عالم بې عمل هم قابل د احترام دی:

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوی رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي عالم ته خو مناسب دادي چي دی باعمله وي، لیکن که چیري یو عالم بې عمله هم وي، نو هغه عالم د خپل علم په وجه ستاسو دپاره قابل احترام دی، الله تعالی هغه ته علم ورکړی دی، د هغه یو مرتبه ده، د هغه مرتبې په وجه هغه عالم قابل احترام گرځېدلی دی، لکه د مور او پلار په باره کي الله تعالی فرمایلي دي:

.........وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا﴾.(۱)

که چیري مور او پلار کافران او مشرکان هم وي، نو په کفر او شرک کي د دوی خبره مه منه.

لیکن په دنیا کي د دوی سره نیک سلوک کوه، ځکه چي دوی ته د الله تعالی د طرفه د مور او پلار کیدلو شرف حاصل دی، نو بذات خود دوی قابل تکریم او تعظیم دي، ستا دپاره د دوی اهانت کول جائز نه دي.

داغه رنگه که چیري یو عالم بې عمله هم وي، نو د علم په وجه دی د عزت او احترام لائق دی، ځکه علم دا د الله تعالی صفت دی، او الله تعالی د هغه یو څه حصه ده ته ورکړې ده، نو د هغه علم احترام کول ضروري دي.

نو د بې عمله عالم په حق کي دعا کوئ، چي یا الله! ده ته د نیک عمل توفیق ورکړې، لیکن د ده د بدعملۍ په وجه د ده توهین مه کوئ.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه یو ځل علماوو ته خطاب کاوی، او وئې فرمایل: چي علم هیڅ شی نه دی، ترڅو پوري چي د ده سره عمل ملگری نه وي، لیکن دا به ئې هم فرمایل: چي زما معمول دادی: چي کله ماته یو عالم راسي، نو که څه هم ماته دا معلومه وي، چي ده فلانکی گناه اخته دی، د هغه باوجود د ده د علم په وجه زه د ده اکرام او عزت کوم.

(۱)سورة لقمان: آیت نمبر ۱۵

## د علماوو سره تعلق ساتل:

لهذا د علماوو غيبت كول، او علماء بدنامه كول، چي نن سبا ټول ملايان داسي دي، او نن سبا د علماوو دا حال دی.

دا اوس د موجوده زمانې يو فيشن جوړ سوی دی، چي كم خلګ بې دينه دي، د هغوی خو داغه طرزعمل دی، ځكه چي هغوی ته دا معلومه ده: چي ترڅو پوري علماء بدنامه نه كړو، تر هغه وخته پوري موږ دا قوم ګمراه كولای نه سو، چي كله د علماوو څخه د دوی تعلق ور ختم كړو، نو بيا به دا خلګ زموږ په اختيار كي وي، چي موږ څنګه غواړو نو په هغه شكل دوی د ګمراهۍ پر لار برابرولای سو.

حضرت مفتي محمد شفيع رحمة الله عليه به فرمايل: چي كله د شپانه د خپلي رمې سره تعلق ختم سي، نو بيا د "ليوه" دپاره ازادي وي، چي څنګه غواړي په هغه شكل پسونه سره څيرلای سي، لهذا د بې دينه خلګو خو كار داغه دی چي علماء بدنامه كول.

لېكن چي كم خلګ دينداره دي، د هغو هم دا فيشن جوړ سوی دی، چي هغه هر وخت د علماوو توهين كوي، او د هغو بې عزتي كوي، او د هغو مجلسونه د علماوو د توهين څخه ډك وي، حالانكه دين خو د يو څو فضائلو نوم نه دی، چي تا زده كړي دي، بلكه دين خو د پېري شعبې لري، لكه.

.......عقائد.

.......عبادات.

.......معاملات.

.......معاشرت.

.......اخلاق.

چي كله دي خلګ د علماوو څخه بدظنه او بدګمانه كړل، نو اوس به تاته د شريعت دغه ټول احكام څوك بيانوي؟ ايا اوس به شيطان تاته د شريعت مسائل

بيانوي؟ چي دا حلال دي، او دا حرام دي، او ته به د شيطان په اتباع کي ژوند تيروې، او خپله زندګي به د ګمراهۍ په شکل سرته رسوې.

## د علماوو څخه نفرت د معاشرې تباهي ده:

که چيري د علماوو او د عوامو په درميان کي نفرت راسي، يبا خو معاشره په داسي مصيبتو کي راځي، چي د هغه سدباب کول د انسانانو د وسع او طاقت خبره نه وي، لکه پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

........سَيَأْتِي عَلَى أُمَّتِي زَمَانٌ يَفِرُّوْنَ مِنَ الْعُلَمَاءِ﴾.

زما پر امت باندي به داسي زمانه راسي، چي خلګ به د علماوو څخه تښتي، يعني د علماوو او عامو خلګو په مابين کي به نفرت واقع سي.

........فَيَبْتَلِيْهِمُ اللهُ بِثَلَثَةِ بَلِيَّاتٍ﴾.

نو الله تعالی به دغه خلګ د علماوو څخه د تښتېدلو په وجه په درو (۳) مصيبتو کي راګير کړي.

........اَلْاَوَّلُ يُسَلِّطُهُ اللهُ عَلَيْهِمُ الظَّلَمَةَ﴾.

يو خو به الله تعالی پر دوی باندي ظالمان حکمرانان مسلط کړي، چي هغه به داسي حکمرانان وي، چي ﴿قُلُوْبُهُمْ قُلُوْبُ الذِّئَابِ وَلِسَانُهُمْ اَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ﴾ چي د هغو زړونه به د درندګانو وي، چي نه به د چا پر عزت او مال او دولت صرفه لري، او نه به د چا د ناموس خيال ساتي، بلکل په زړه کي به يو درنده وي، لېکن چي کله خبري کوي، نو دا ژبه به ئې ترشکرو ډېره خوږه وي، د هر سړي به دا ګمان وي، چي دا به پر ما باندي تر مور او پلار هم ډېر مهربانه وي.

..... وَالثَّانِي يَرْفَعُ مِنْهُمُ الْبَرَكَةَ﴾.

دوهم به الله تعالی د دوی د معاشرې څخه برکت پورته کړي، يعني د هر چا سره به د ضرورت اسباب پوره وي، لېکن د هغه باوجود به د ده په هغه سره ضرورت

نه پوره کیږي، یعني د مال او دولت درلودلو سره به د مسکنت او محتاجی زندګي تېروي.
کله کله خو د ده مال د هلاکت سره مخامخ سي، کله غلا او ډاکه ور باندي راسي، که نور هیڅ نه وي، نو د بې برکتی دا اثر به ضرور وي، چي د ده مال او دولت په عدد او شمار کي زیات وي، لېکن چي د هغه څخه کمه فائده حاصلیږي، هغه دی نه سي حاصلولای.
مثلاً پیسې خو زیاتي سي، لېکن په کور کي داسي بیماري پیښه سي: چي هغه ټولي د ډاکټر او د دوا رانیولو په شکل د ده د لاس څخه ووزي، یا د پیسو په وجه چي انسانان کم راحت پیدا کوي، هغه د ده په نصیب نه سي، ځکه چي په کور کي داسي بې اتفاقي وي، چي د هغه په وجه د ژوند ټوله لطف او راحت ختم سي.
چي په کم وخت کي معاشره د علماؤو سره په محبت کي وله، او د معاشرې سر پرستي د علماؤو په لاس کي وه، بیا خو الله تعالی پر دې معاشره باندي عجیبه برکت اېښی وو، او الله تعالی پر معاشره باندي عجیبه حکمرانان مقرر کړی وو.

## د حضرت عمر بن عبدالعزیز واقعه:

د حضرت عمر بن عبدالعزیز دور وو، او دی مبارک د خپلي صدی مجدد وو، د ده پر درې براعظمه باندي حکومت وو، لېکن د ده په دور حکومت کي پر مسلمانانو باندي داسي آبادي راغله، چي په ټوله ملک کي د زکوة مستحق څوک پاته نه سو، مالداره به سهار د زکوة مال په شا کړی، او ټوله علاقه به ئې و غوښته لېکن د زکوة مستحق به ئې څوک پیدا نه کړی، نو ماښام به واپس راغلی.
د ده په خپله د کور حالت په دا شان وو: چي یوه ورځ یو بوډی د ده کور ته د خپل بچي د وظیفې د بیت المال څخه د جاري کولو د پاره راغله.
که ګوري په کور کي یوه زنانه ده، هغه سرخی ورېشي، او یو سړی په کور کي لنګ تړلی د دیوال په جوړولو لګیا دی، هغه زناني چي دې کور ته وکتل، نو

وايي: چي دا كور په خپله د بربادۍ سره مخامخ دى، نو ما به څه آباده كړي، واپس روانه سوه.

په كور كي چي كمه زنانه ناسته وه، هغې ورېږغ كړلو، چي موري! څنګه راغلې؟ او بيرته ولي واپس ځې؟ هغه بوډۍ زنانه ورته وايي: چي زه خو په يو طمع راغلې وم، لېكن چي ددې كور حالت مي وليدى، نو مي طمع وختله، چي دا كور خو په خپله د بربادۍ سره مخامخ دى، نو ما به څه آباده كړي.

دهغه زناني په سترګو كي اوښكي راغلې، ورته وايي: اى موري! دې كور ډېر كورونه د آبادۍ سره مخامخ كړل، نو ځكه په خپله د غه بربادۍ ته ورسيدى.

هغه بوډۍ زنانه ورته وايي: چي دا ديوال جوړونكى څومره بې حيا خادم دى، دى تاته ګوري، او ته ده ته ګورې، دى كه پرده نه كوي، ته خو پرده ځني وكړه، هغه زنانه بوډۍ ته وايي: موري! دا د ټولو مسلمانانو امير عمر بن عبدالعزيز زما خاوند دى، چونكه په كور كي د مزدور درولو بندوبست نسته نو د كوز خدمت په خپله باندي كوي.

نو چي په كم عصر كي معاشره د علماوو په سرپرستي كي وله، نو په هغه وخت كي د مسلمانانو د آبادۍ او د هغو د حاكمانو دا حالت وو. (۱)

......﴿وَالثَّالِثُ يَخْرُجُ مِنَ الدُّنْيَا بِغَيْرِ إِيْمَانٍ﴾. (۲)

او دريم مصيبت به دا راځي: چي هغه خلګ به الله تعالى تر دنيا په داسي حال كي تيروي: چي د دوى سره به ايمان نه وي.

نو چي كله د معاشرې د انسانانو د علماوو څخه نفرت راغى، نو الله تعالى به بيا معاشره په د غه مرضو كي مبتلا كوي.

لهذا علماء كه څه هم بې عمله درمعلوم سي، بيا هم د هغو توهين مه كوه، بلكه د هغو دپاره دعا كوه، چي كله ته د هغه په حق كي دعا كوې، هغو ته چونكه الله

---

(۱) تاباك تارے صفحه نمبر ۱۸۱

(۲) دلائل ابونعيم

تعالى علم ور کړی دی، نو هغه به ستا د دعا په برکت انشاء الله پر صحيح لار باندي راسي، او د ګناه کولو څخه به توبه ګار سي.
او د عالم څخه په نفرت کولو کي عالم ته نقصان نه رسيږي، بلکه دې نفرت کونکي ته ډېر لوی نقصان دی، لکه: په "فتاوی عالمګيري" کي دا عبارت صراحةً رانقل سوی دی:

......مَنْ أَبْغَضَ عَالِمًا مِنْ غَيْرِ سَبَبٍ ظَاهِرٍ خِيفَ عَلَيْهِ الْكُفْرُ﴾.(۱)

چي کم سړی بغير د سبب ظاهري د يو عالم سره بغض کوي، نو پر هغه باندي د کفر ويره ده، يعني هسي نه چي په دې عمل سره دی د اسلام څخه خارج او په کفر کي داخل سي.

## د حضرت اسامه ﷺ د توهين سزا:

چي کله د پيغمبر ﷺ "حجة الوداع" يعني آخرني حج وو، نو د عرفات څخه چي کله پيغمبر ﷺ مزدلفې ته راتلی، نو تر مزدلفې پوري د ده رديف يعني شا ته ناست حضرت اسامه بن زيد ﷺ وو، او د مزدلفې څخه بيا تر جمراتو پوري يعني د شيطانانو تر ځلو پوري د ده رديف فضل بن عباس ﷺ وو.
چي کله پيغمبر ﷺ د عرفات څخه مزدلفې ته را روان سو، نو په لاره کي دا سامه بن زيد ﷺ د تقاضاء حاجت ضرورت وو، نو پيغمبر ﷺ او ټوله قافله د ده دپاره ودرېدله، او دی يو طرف ته قضاء حاجت ته ولاړی، او هلته يو څه وځنډېدی.
پيغمبر ﷺ په انتظار کي ولاړ دی، او دحجاجو ټوله قافله ولاړه ده، وعامو حاجانو ته دا نه ور معلوميږي، چي قافله د څه دپاره ولاړه ده.

چي كله اسامه بن زيد ﷺ راغلی، او د پيغمبر ﷺ تر شاه سپور سو، او ټولو خلګو وليدی، او دلته د خلګو په دې سر خلاص سو، چي دا ټوله قافله د ده د پاره په انتظار کي ولاړه وه.

د حضرت اسامه بن زيد ﷺ رنګ تور وو، او پزه مبارکه ئې کشنی وه، او دی چونکي په رنګ او شکل کي خپلي مور "اُمِّ ايمن" ته سوی وو، ځکه د ده مور د "يمن" وه، يعني دی په رنګ خوبصورت او ښائسته نه وو، لېکن په ډېرو صحابوو کي الله تعالی ده ته علم ورکړی وو، يعني دی په علماوو صحابوو کي شمارل کيدی.

د "يمن" يو څه خلګ چي په ايمان مشرف وو، او د پيغمبر ﷺ صحابه وو، او د ده سره په "حجة الوداع" کي شريک وو، هغو چي کله اسامه بن زيد ﷺ وليدی، نو د خولې څخه ئې د بې احتياطی په وجه د حقارت دا الفاظ وو تل، چي:

.......﴿اَلِهٰذَ الْاَ سْوَدِ اَخَّرْنَا﴾ (نعوذ بالله) ايا د دې تور مخي په وجه دا د حجاجو قافله دومره زياته وځنډېدله. العياذ بالله

د پيغمبر ﷺ دوفات څخه وروسته هغه ټول مرتد سول، او علماوو ليکلي دي: چي د هغو د ارتداد لويه وجه د اسامه بن زيد ﷺ توهين وو، چونکه هغه ته الله تعالی ډېر لوی علم ورکړی وو، نو د هغه د توهين په وجه الله تعالی دوی د اسلام څخه محروم او بې نصيبه وګرځول.(۱)

نو د علماوو په باره کي ډېر احتياط کول په کار دي، ځکه که چيري د هغو توهين او ناقدري په معاشره کي وسي، نو الله تعالی غيبي نظام د هغه توهين کونکو خلاف چليږي، تاسو ګورئ! دا خلګ د پيغمبر ﷺ صحابه دي، او د پيغمبر ﷺ سره په "حجة الوداع" کي شرکت کونکي دي، لېکن د يو لک پنځويشت

(۱) بيانات جميل، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۵۲۸

زره(۱۲۵۰۰)صحابه وو د لست او فهرست څخه کم سول، او بيا بغير د توبې څخه په حالت د ارتداد کي ټول قتل سول.
څکه چي د ابوبکر په خلافت کي د سهيل بن مقرن‌ﷺ او مهاجر بن ابي اميه‌ﷺ په امارت کي د مسلمانانو لښکر ورغی، او پر دوی باندي ئې حمله وکړه، او هغه ټول ئې په حالت د کفر او ارتداد کي قتل کړل، او وجه ئې علماوو د اسامه‌ﷺ توهين کول، بيان کړي دي.
نو د علماو و په مسئله کي د ډېر احتياط څخه کار اخستل که هر څومره پر بد عمل باندي يو عالم وليدل سي، نو د هغه څخه د نفرت کولو پر ځای بايد د هغه دپاره دعا وسي، چي الله تعالی ئې د دغه عمل څخه راوګرځوي، او پر دغه عمل باندي ده ته د توبې کښلو توفيق ورکړي، ډېر ځله د عامو انسانانو دعا د هغه عالم دپاره د بدعملی څخه د توبې کښلو او د هدايت وطرف ته د راګرځېدلو ذريعه جوړه سي.

## يو غل او ډاکو پير جوړ بدل:

حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمة الله عليه يو ځل خپلو مريدانو ته ويل: تاسو څه دپاره په ما پسې ياست؟ زما حال خو د هغه پير دی: چي په حقيقت کي يو ډاکو او غل وو، هغه ډاکو او غله چي کله دا وليدل، چي خلک په ډېر عقيدت او محبت سره پيرانو ته ورځي، او هغه ته تحفې وروړي، او د هغو لاسونه مچوي، نو دا خو ډېره اسانه پېشه، او اسانه کار دی، ما ولي خواه مخواه خپل ځان په تکليف کي اچولی دی، چي هغه د شپې راکښېنستل او ډاکې وهل دي، چي د هغه سره د نيول کيدلو او په جيل کي د بندي کيدلو خطر هم دی، او مشقت او تکليف هم را باندي تيريږي.
د دې څخه ښه دا ده: چي د ځان څخه پير جوړ کړم، او يو ځای کښېنم، خلک به مالره راځي، زما لاسونه به رامچوي، او تحفې به را لره راوړي، چنانچه په دې فکر سره ئې هغه غلا او ډاکې پرېښوې، او ځان ئې ...

هغه کي کښېناستی، اوږدې تسبيح ئې ځان لره پيدا کړې، او لويه چپنه ئې واغوسته، او د پير په مثل حليه ئې جوړه کړه، او ذکر او تسبيحات ئې شروع کړل.

خلګو چې کله ورته وکتل، چې د الله يو نيک بنده ناست دی، او ډېر لوی پير معلومېږي، نو هغه خلګو ئې په مريدي شروع وکړه، تر دې حده چې د مريدانو تعداد ئې ډېر زيات سو، څوک هديه ورته راوړي، او څوک تحفه راوړي، او نذرانې ورته راروانې دي، څوک ئې لاسونه مچوي، او څوک ئې پښې مچوي.

او دَی هر مريد ته جلا جلا ذکر ورکوي، چې ته فلان ذکر کوه، او ته فلان ذکر کوه.

اوس د ذکر دا خاصيت دی: چې د هغه په ذريعه الله تعالی د انسان درجات لوړه وي، چونکه هغه مريدانو په ډېر اخلاص سره هغه ذکر کاوی، د هغه په نتيجه کي الله تعالی د دوی درجات ډېر ور بلند کړل، او د کشف او کرامات لوړو مقاماتو ته ورسېدل.

## د مريدانو د دعا برکت:

يوه ورځ هغه مريدان په خپل مابين کي مجلس سره کوي، چې الله تعالی خو موږ ودې درجې ته ورسولو، راسئ! چې لږ دا هم وګورو چې زموږ شيخ پر کمه مرتبه باندي فائز دی.

چنانچه دوی مراقبه شروع کړه، اوس د کشف په ذريعه د خپل شيخ مرتبه خپلو ځانو ته معلومه وي، ليکن چې کله ئې مراقبه وکړه، نو د شيخ درجه هيڅ په نظر نه ورځي، مريدانو په خپل مابين کي دا سره وويل: چې شايد زموږ د شيخ دومره لوړ مقام وي، چې موږ نه هغه ته ورنژدې کيدای سو، او نه وموږ ته د هغه څه درک را معلومېږي.

آخر کار شیخ ته راغلل، او د دې خبرې مذاکره ئې ورسره وکړه، چې حضرت! موږ خو ستا د مقام ډېر تلاش وکړی، مګر ته دومره لوړ مقام ته رسېدلی ئې، چې موږ هلته هیڅ کله نه سو رسیدای، او نه موږ ته د هغه څه حقیقت رامعلومېږي.
په دې وخت کي شیخ خپل حقیقت ښکاره کړی، او د ژړا په شکل دوی ته وایي: چي زه به خپله درجه څه و تاسو ته بیان کړم.
زه په حقیقت کي یو ډاکو او غل وم، او ما د دنیا پید اکولو په خاطر دا ټوله ترتیب برابر کړی، الله تعالی د ذکر په خاطر تاسو لوړو لوړو مقاماتو ته ورسولاست او زه په "اسفل السافلین" کي پاته یم، تاسو ته به زما مرتبه څه درمعلومه سي؟ زه خو یو ډاکو او غل وم، زما سره هیڅ نسته نو تاسو زما څخه ولاړ سئ، او د خپلي اصلاح دپاره د یو بل پیر تلاش وکړئ، او د هغه سره خپل د مریدی ترتیب جاري وساتئ.
چي کله د شیخ په باره کي هغه مریدانو دا خبري واورېدلې، نو هغه ټولو مریدانو په خپل مابین کي سره وویل: چي تاسو راسئ! د دې خپل شیخ دپاره دُعا وکړو، نو هغه مریدانو د خپل شیخ دپاره په دې الفاظو دُعا شروع کړه:
چي یا الله! که غل دی که ډاکو دی، لېکن تا وموږ ته چي څه راکړي دي، هغه دي د ده په ذریعه راکړي دي، ای الله! اوس ته د ده هم اصلاح وکړې، او ده ته لوړه درجه ورنصیب کړې.
چونکه هغه مریدان په دعا کي ډېر مخلص وو، او د الله نیک بندګان وو، د هغه د دعا په برکت الله تعالی هغه پیر ته بخښنه وکړه، او هغه ته ئې لوړ درجات ورنصیب کړل.(۱)
بهر حال چي کله د یو عالم په باره کي یو غلطه خبره انسان واوري، نو د هغو د بدنامه کولو پر ځای باید د هغه دپاره د هدایت دُعا وکړي.

(۱) اصلاح ...

الله تعالى دي موږ او تاسو ټولو ته پر دا څو خبرو باندي د عمل کولو توفيق رانصيب کړي، او الله تعالى دي زموږ او ستاسو دا ټول اصلاحي مجلسونه دخپلي رضا دپاره وګرځوي، او دا څو جملې دي په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# قرآن د ژوندکي دستور دی

(بیان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم الله** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجی عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | ۱۳ ربیع الثانی ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوری ۲۰۱۸ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَأَشْهَدُ أنْ لَا إلٰهَ إلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾(۱).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ﴿اَلْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أوْ عَلَيْكَ﴾ (۲).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرینو ! ستاسو د جامعې د حفاظ کرامو د دستارفضیلت مجلس او پروګرام دی، زما څخه مخکي مشرانو علماء کرامو تاسو ته تفصیلي وینا ګاني وکړې، او شاید زما څخه وروسته به ئې هم وکړي، زه صرف د جامعې د منتظمینو د امتثال او تعمیل په خاطر ستاسو مخ کي یو څو مختصر ګزارشات پیشوم.

الله تعالی دي زموږ او ستاسو دغه پرګرامونه د خپلي رضا دپاره وګرځوي، او الله تعالی دي موږ او تاسو ته پر دې ټولو خبرو باندي د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

## آن کريم عظمت:

رمو! قرآن کريم دا د الله تعالی کلام دی، او دا د الله تعالی وينا ده، او د ټوله نيت پر نامه باندې د الله تعالی پيغام دی.

مه مبارک کتاب دی:

.. چې دې ته کتل عبادت.

.. او د دې ويل عبادت.

.. او د دې زده کول عبادت.

.. او مسلمان ته ور ښوول عبادت.

دې باندې عمل کول، او د ده پر احکامو خپله زندګي تېرول، د ټولو څخه عبادت دی.

ا د ټوله انسانيت د زندګۍ دستور دی، او د انسانانو د ژوند منشور دی، او عامي معاشرې دپاره ضابطه حياة دی، او د ټوله انسانيت د زندګي تيرولو نقشه او طريقه ده.

په کم عصر کې د مسلمان قوم زندګي پر قرآني نقشه برابره تېرېدله، نو بيا د مسلمان قوم په معاشره کې يو شان او شوکت وو، او د مسلمان قوم يو را او عزت وو.

خو د مسلمانانو خوف او هيبت د کفارو په زړو کې ځای نيولي وو، په ونو کلو ميټره ليرې کافران به د مسلمان د نامه څخه ببرېدل، او تر دې حده شيطانان به هم د مسلمانانو څخه په ببره کې وو.

: د حضرت عمر فاروق ﷺ په باره کې به راتلل: چې پر کمه لار به دی ېدی، پر هغه لار به شيطان لره د تېرېدلو همت نه وو.

دې حده پورې چې بيا به مسلمانانو د نورو قومو په مقابل کې خپل ځان ندی احساس کوی، او هغو ته به ئې د مړو په نظر کتل، او خپل ځان به ئې د په شکل ګڼی، او نورو قومو ته به ئې د کوترو په نظر کتل.

## د خالد ابن وليدﷺ جوانمردي:

چي کله انسان د هغو د ژوندون حالات ګوري، نو انسان ډېر حيرانيږي، او د هغو جوانمردي او غيرت ته به بلا اختياره په زړه کي افرين پېشوي.
په مدينه منوره کي يو ځل مشوره جوړه سوه: چي د زرو (۱۰۰۰) کافرانو مقابلې ته به څومره مسلمانان ورو زيځ.
بعض صحابه کرامو دا مشوره ورکړه: چي اويا (۷۰) کسان به ورځي، چا د څلويښتو (۴۰) کسانو مشوره پېش کړه، او چا د لسو (۱۰) کسانو.
حضرت خالدبن وليدﷺ هم په دې مشوره کي ناست دی، چي کله د ده څخه پوښتنه وسوه، چي ستا څه رايه ده: نو ده ورته وويل: چي مابه يوازي ور استوئ.
چي کله ده دا خبره وکړه، نو يو ملګري ورته وويل: چي اى خالده! ستا د دې خبري څخه د تکبر بوی راځي، ده په جواب کي ورته وويل: چي په خدای قسم تکبر نه کوم، صرف دا مي عقيده ده: چي د مسلمان مثال د باز دی، او د کافر مثال د هغه کوتري دی: چي په جال کي بنده پاته وي، نو هغه کوتري که هر څومره ډېري سي، يو بازئې کفايت کولای سي.
او بيا وايي: چي دا مي عقيده ده: چي د مسلمان مثال د ژوندي دی، او د کافر مثال د مړي دی، مړي که هر څومره ډېر سي، نو ژوندي ته هيڅ نقصان نه سي رسولای، او يو ژوندی د هر څومره مړو د مقابلې کفايت کولای سي، نو په دغه وخت کي د مسلمان دنورو قومو په هکله دا عقيده او ګمان وو.
بيا خو د الله تعالی په حضور کي د مسلمان قوم داسي عزت وو: چي د هغه په يو خط به دريابو نه بهيدل.
لکه په رواياتو کي راځي: چي د حضرت عمرﷺ په امارت کي يو ځل د مصر والي حضرت عمرﷺ ته دا خط وليکی: چي اى امير المؤمنين! د "درياب نيل" د اوبو د جاري کولو دپاره هر کال يو نوجوانه زنانه درياب ته د

...ورغورځولو په شکل قربانیږي، ایا په دې کال موږ څنګه وکړو؟حضرت عمر رضی الله عنه دوی ته جوابي خط ولیکی، چې دا خط به په دریاب کې وغورځوئ.
په هغه خط کې لیکلي وو: چې ای دریاب نیله! که چیرې ته په خپله مرضي سره بهیږې، خو مه بهیږه، لیکن که ته د الله رب العزت په حکم سره روان ئې، نو امیر المؤمنین عمر ابن الخطاب وتاته دا حکم کوي چې ته روان سه، د شپې خط دریاب ته وغورځول سو، او سهار د دریاب اوبه ډېره اندازه لوړې په جوش کې راغلې.
هغه: "دریاب نیل" اوبه نن هم رواني دي، او د عمر ابن الخطاب رضی الله عنه د عظمت ګواهي ورکوي.
نو په هغه عصر کې بیا د مخلوقاتو هر فرد د مسلمان قوم د خبرې و منلو ته تیار وو، او هم به ئې د مسلمان قوم نصرت او مدد کاوی.

## د حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه واقعه:

حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه "مدائن" ته د والي او حاکم په صفت راغلی، چې کله څو ورځې په "مدائن" کې تیروي، نو هلته غلاوې او ډاکې زیاتې دي، نو اول ځل خو ئې ډېر کوشش وکړی، چې حالات د غسې صحیح او په امن سي.
لیکن چې کله حالات په کنټرول کې نه راتلل، نو خپلو ملګرو ته ئې وویل: چې ماته یو قلم او کاغذ راوړئ، او خط لیکي، د "مدائن" د والي د طرف د ځنګله د حیوانانو پر نام او په هغه کې دا مضمون لیکي.
...... ای د ځنګله زمریانو! نن شپه چې تاسو ته هر څوک ګرځیدونکی را ګرځېدونکی مشکوک په نظر درغلی، هغه به تاسو سره څیرئ.
او د خط پر آخر باندي ئې خپل دستخط وکړی، او د ښار څخه دباندې ئې یولرګی جګ کړی، او په هغه ئې هغه خط راوځړاوی، او خپلو عسکرو ته ئې دا وویل: چې د ښار دروازه به نن نه بندیږي، تر سهاره پورې ئې د غسې خلاصه پرېږدئ.

چي کله شپه راغله، نو د ځنګله ژمریان د خپل مخصوص بړغ کولو سره سره راغلل، د ښار دروازه ئې ونیوله، په ټوله ښار کي چاته دا جرأت نه وو: چي هغه د شپې د ښار د دروازې څخه دباندي ووزي.

بیا چي څومره زمانه حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه په "مدائن" کي تیروي، نو په ټوله زمانه کي نه د غلا او نه د ډاکې یوه واقعه پېښیږي، او په دې ټوله زمانه کي چي حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه ئې په "مدائن" کي تیروي، د ښار د چوکیدارۍ انتظام د ځنګله حیوانان سمبالوي.

## د حضرت عقبه بن نافع رضي الله عنه حیرت انګیز واقعه:

حضرت عقبه بن نافع رضي الله عنه په "تیونس" کي د کهروان ښار ته چي اوس هم موجود دی، د حاکم په صفت راغلی.

د ښار سره څنګ ته یوولس(۱۱) کیلو میټره مځکه ټوله ځنګل وو، حضرت عقبه بن نافع رضي الله عنه دا اراده وکړه: چي پر دې ځای به د خپل حکومت لویه قلعه جوړه وو، لیکن چونکه ځنګل د حیواناتو څخه ډک دی، نو هیڅ تدبیر نه ورته برابریږي.

د ده سره په دې لښکر کي نولس(۱۹) صحابه کرام ور سره دي، نو هغه صحابه کرام ئې د ځان سره روان کړل، او د ځنګله څنګ ته پر یو لوړه غونډۍ پورته سو، د ځنګله د حیواناتو پر طرف ئې خپل مخ وګرځاوی، او د ځنګله حیواناتو ته دا اعلان کوي:

..... ای د ځنګله حیواناتو! موږ د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم غلامان یو، پر دې ځای باندي زموږ فوجي قلعې جوړولو ته ضرورت دی، تاسو ته دا وایو: چي تاسو به په درې(۳) ورځو کي دننه ځنګل ټول خالي کوئ، د درو ورځو بعد که یو حیوان موږ ته دلته را پیدا سو، نو موږ ئې قتل کوو، او د هغه ملامتیا پر موږ نه بلکه د ده پر خپل ځان باندي ده.

واقعه عيسائي مؤرخينو په خپلو کتابو کي هم رانقل کړې ده: که چيري صرف
لمانانو مؤرخينو ليکلې واى: نو مونږ به پر دې باندي څه چه ميګوياني
ولاى، لېکن عيسائي مؤرخين ئې هم ليکي، او هم د هغو دحقانيت اعتراف او
رار کوي.

په درې(۳) ورځي کي د ننه هغه حيوانان ليدل کيږي، چي هغه ځنګل خالي
وي، او هغو خپل بچيان پر شاګانو باندي اخستي او د ځنګله څخه نقل مکاني
وي.

ي کله دا منظر د افريقي قبائلو وليدى، نو په دغه ورځ په زرو افريقي قبائل په
سلام کي داخل سول، هغو به په خپل درميان کي سره ويل: چي کله د دې قوم
مره د ځنګله حيوانان مني، نو بيا ئې مونږولي منلو ته تيار نه يو.

و چي کله مسلمانانو پر قرآني دستور او منشور باندي ژوند تيراوى، نو الله
عالى په معاشره کي هغوته داسي عزت هم ور کړى وو، چي هغه عزت بيا په
ټوله معاشره کي د بل قوم په نصيب او قسمت کي نه وو.

په هغه زمانو کي د مسلمانانو د شجاعت او د اسلام سره د تعلق دا حال وو: چي
الله او د الله د رسول د طرفه د دوى د شجاعت په وجه دوى ته القاب حميده ور
کول کېدل.

لکه: د حضرت خالد بن وليد ﷺ په باره کي راځي: چي د ده د جنګي قابليت خو
ټولو اعتراف کاوى، لېکن د ټولو څخه لوى اعتراف دا وو: چي د الله او د
رسول ﷺ د طرفه وده ته د "سيف الله" لقب ور کړل سو.

چي د هغه تفصيل په دا شکل وو: چي په کمه ورځ د "موته" په ميدان کي د
اسلام غازيان د مدينې څخه په سوونو ميلونه د "مدينې منورې" څخه ليري په
معرکه کي مصروف وو، پيغمبر ﷺ ته په مدينه منوره کي الله تعالى د کشف په
ذريعه د جنګ د حالاتو اطلاع او خبر ور کړى.

پیغمبر ﷺ په دې وخت کې مسلمانان سره را جمع کړل، او منبر ته پورته سو، او وئې فرمایل: ستاسو د لښکر حال دادی: چې هغو د دښمنانو مقابله وکړه، زید رضی الله عنه شهید سو، الله تعالی هغه خپل حضور ته طلب کړی، او د هغه څخه وروسته حضرت جعفر رضی الله عنه په خپل لاس د اسلام بیرغ پورته کړی، دښمنانو د څلورو طرفو څخه محاصره کړی، تر دې حده پوری چې هغه هم شهید سو.

بیا حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه د اسلام بیرغ په لاس کې واخستی، او هغه هم شهید سو، د دې درو(۳) څخه وروسته د الله تعالی توري یعني خالدبن ولید رضی الله عنه بیرغ پورته کړی، او د مسلمانانو قیادت ئې سمبال کړی، د هغه ورځي څخه خالد بن ولید د "سیف الله" په نامه باندي مشهور سو.

چي کله په واپسي کي د حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه لښکر مدینې ته نژدې راورسیدی، نو پیغمبر ﷺ د مدینې منورې څخه څو منزله مخته د استقبال په شکل ورغلی، او حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه ته ئې د "سیف الله" د لقب خوشخبري او زیری ورکړی.

داغه رنګه حضرت جعفر رضی الله عنه چي کله خپل لاسونه مبارک د الله په لار کي قربان کړل، او د "موته" په میدان کي ئې اول څل لاسونه پرېسول، د هغه څخه ورسته دی شهید سو، نو د الله او د الله د رسول ﷺ د طرفه ده ته د "طیّار" لقب ورکول سو.

ځکه چي یو صحابي په خوب کي لیدلی وو: چي حضرت جعفر رضی الله عنه په جنت کي په دواړو بازوګانو سره په هواء کي الوتی وو، نو د هغه ورځي څخه د ده نوم په حضرت جعفر طیّار رضی الله عنه باندي مشهور سو.

په یو بل روایت کي لا داسي هم راځي: چي پیغمبر ﷺ په خپله وفرمایل: چي الله تعالی ده ته دوه بازوګان ورکړل، چي په هغه سره دی په جنت کي الوزي، د هغه ورځي څخه دی په "ذوالجناحین" او په "طیّار" سره موسوم وګرځیدی.

دې دوارو حضراتو چې کله د معرکې په سخت حالت کې خپل ځانونه د الله د رضا او د اسلام د دفاع او د خپل نبيﷺ د حکم پر ځای کولو دپاره و معرکې ته ور داخل کړل، نو الله تعالی هم د دوی د دغه ایمان افروز عمل او د اسلام سره د محبت په وجه یوه ته عالي شانه مرتبه د شهادت ورکړه، او په دنیا کې ئې لا د "طیّار" په لقب سره مشهور وګرځاوی، او دوهم ئې په دنیا کې غازي او د "سیف الله" په لقب سره موسوم او نامداره کړی.

## د حضرت ابوبکرؓ شخصیت او کردار:

حضرت ابوبکر صدیقؓ هغه شخصیت وو: د ټولو څخه مخکې ئې پر پیغمبرﷺ باندې ایمان راوړی، او هم ئې د ده د رسالت تصدیق وکړی، او په ټولو صحابوو کې ئې اول ځل د پیغمبرﷺ سره لمونځ وکړی، او په ټوله ژوند کې ئې د پیغمبرﷺ د اجازت بغیر هیڅ کله د ده څخه جدا نه سو، ده مبارک خپل اهل او عیال ټوله پرېښول، او د پیغمبرﷺ په محبت کې ئې هجرت وکړی، او په "غار حراء" کې د پیغمبرﷺ سره ملګری وو.

د حضرت ابوبکرصدیقؓ د اسلام دوستی او د خدا پرستی دا حال وو: چې عبدالرحمٰن چې د ده زوی وو، او د بدر په میدان کې د مشرکینو په لښکر کې شامل وو، چې کله هغه مسلمان سو، نو یوه ورځ ئې خپل پلار ابوبکرصدیقؓ ته ویل: چې د بدر په ورځ ډېر ځله زما د غشو په نوني کې راغلې، مګر ما به خپل غشی ستا څخه را ګرځاوی، ځکه چې ستا سره مې د پلار والي په خاطر دا احسان کاوی.

حضرت ابوبکرؓ ورته وایي: چې بچیه! زما په خدای قسم، چې د بدر په معرکه کې زما لوی خواهش او کوشش داوو: چې ته زما تر توره لاندې راسې، او زه ستا سر په خپله توره د بدن څخه جدا کړم.

نن هم که چیرې د مسلمانانو سره د هغه د لسمي حصې برابر د اسلام سره همدردي پیدا سي، نو هیڅ کله به د کفارو تسلط پر دوی باندې ممکن نه وي.

حضرت ابوبکر صدیقﷺ د اسلام دوستۍ د صفت سره سره د شجاعت، سخاوت، او علم او فضل پر اعلی درجه باندې فائزوو، چې کله ئې خپل ځان او مال او اولاد د الله تعالی په رضا کې او د پیغمبرﷺ په محبت کې هیڅ نه وبلل، نو د الله او د رسولﷺ د طرفه ده ته په دنیا کې د جنت زیرې ور کول کیدل.

او د پیغمبرﷺ څخه وروسته په ټوله امت مسلمه کې اول عظمت شان او لویه مرتبه د ده په نصیب سوه، ځکه زموږ د "اهل سنت و الجماعت" پر دې اتفاق دی: چې د پیغمبرﷺ څخه وروسته د ابوبکرصدیقﷺ شان او مرتبه په ټوله امت کې اعلی او ارفع ده.

د الله د طرفه دا اعزازات او اکرامات صرف او صرف د صحابوو تر عصره پورې خاص نه وو، بلکه په هر دور او زمانه کې چې کله مسلمان قوم د الله دین ته د قدر په نظر کتلي دي، او خپله زندګي ئې د قرآن کریم د احکامو تابع ګرځولې ده، نو بیا هغه اعزازات او اکرامات او شان او شوکت او وقار او عزت د دوی په قسمت او نصیب کې راغلي دی، چې بیانول ئې ګران دي، او الله تعالی په هر قسم حالاتو کې د دوی د وقار او عزت حفاظت کړی دی.

## د ابو مسلم خولانيرحمۃ اللہ علیہ عظیمه کارنامه:

حضرت ابو مسلم خولانيرحمۃ اللہ علیہ چې د تابعینو په طبقه کې تېر سوی دی، د ډېرې لوړې درجې بزرګ وو، مؤرخینو د ده د کامل ایمان او د ین دوستۍ یو عظیمه کارنامه په خپلو کتابو کې رانقل کړې ده.

چې د هغه څخه په انبیاء کرامعلیہم السلام کې د حضرت ابراهیمعلیہ السلام یاد تازه ګرځي، او د هغه د مضبوط ایمان په مثل حضرت ابومسلم خولاني هم د یو قوي او کامل ایمان مثال دنیا ته پیش کړی دی.

د "مسیلمة الکذاب" نوم د شیطان غوندې مشهوره دی، ډېر زیات انسانان د هغه څخه واقف دي، چې ده د نبي کریمﷺ په عهد مبارک کې د نبوت دعوه کړې وه، او دا اعلان ئې کړی وو، چې زه هم د محمدﷺ سره شریک نبوت یم.

یو بل د "مسیلمة الکذاب" غوندي دروغجن پیغمبر وو چي حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه ئې گرفتاره کړی، او خپل مخ ته ئې را حاضر کړی، او دا ورته وایي: چي ایا ته د دې خبري شاهدي ورکوې، چي زه د الله رسول یم؟

حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه ورته وایي: چي زه په غوږو نه اورم، هغه بیا پوښتنه څني کوي، چي ایا دا شاهدي ورکوې، چي محمد ﷺ د الله رسول دی؟ دی په جواب کي ورته وایي: چي د دې خبري شاهدي زه بېشکه ورکوم، چي محمد ﷺ د الله رسول دی.

هغه بیا دوهم ځل خپله پوښتنه تکراره وي، چي ایا ته د دې خبري گواهي ور کوې، چي زه د الله رسول یم. حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه فوراً جواب ورکوی، چي زه ستا خبره نه اورم.

هغه بیا هغه زړه پوښتنه را تکراره وي: چي ایادا گواهي ورکوې، چي محمد د الله رسول دی؟ دی په هو سره جواب ورکوي، هغه دریم ځل بیا د ده ومخته دا خپلي جملې تکراره وي: او د ده د طرفه هغسي جواب اوري.

آخر هغه په غصه کي راغلی، او خپلو پیروکارانو ته ئې حکم وکړی، چي یو عظیم الشانه د بټو کوره جمع کړئ، او هغه ته اور ور واچوئ، او ابو مسلم په هغه کي وسوځئ.

دا غه پیروکارانو د ده د حکم پر ځای کولو په خاطر یو عظیم الشان اور تیار کړی، او د ابومسلم خولاني رحمة الله علیه لاسونه او پښې ئې ور وتړل، او په ډېر ظلم او بې دردي سره ئې په هغه اور کي واچوی.

چي کم ذات د حضرت ابراهیم علیه السلام د پاره اور گل گلزار جوړ کړی، هغه حی او قیوم ذات په دې ورځ هم د خپل رسول په محبت کي قرباني کونکي ابو مسلم رحمة الله علیه ته و کتل، هغه په دې وخت کي بیا د معجزه ابراهیمي یو مثال دنیا ته ور ښکاره کړی، او د نمرود د اتباعو هغه ټوله کوشش ئې ضائع او په خاورو

کلوړ کړی، هغه ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه صحیح او سالم د هغه اُور څخه را وواتی.

د هغه څخه وروسته ابومسلم خولاني رحمة الله علیه د "یمن" علاقه پرېښوه، او مدینې منورې ته راغلی، چې کله په مدینه منوره کې مسجد نبوي ته را داخل سو، نو دیو ستني او تمبې و شاته پر لمانځه باندې ودرېدی، او په ډېر عاجزي سره خپل لمونځ ادا کوي.

د حضرت عمر رضی الله عنه نظر پر ده ولګېدی، نو یو ناولده او د بلې علاقې څخه راغلی مسافرور معلوم سو، د لمانځه ادا کولو څخه وروسته د ده څخه پوښتنه کوي: چې د کم ځای څخه راغلی ئې؟

حضرت ابومسلم رحمة الله علیه ورته وایي: چې د "یمن" څخه راغلی یم، حضرت عمر رضی الله عنه دوهمه پوښتنه ئني کوي: چې ایا په "یمن" کي د هغه سړي یو څه معلومات لرې، چې "مسیلمة الکذاب" په اور کي وسوائی؟

دی په ډېر ادب او احترام سره خپل نوم ورته پېشوي، چې هغه انسان خو "عبدالله ابن ثوب" یعني دی په خپله دی، حضرت عمر رضی الله عنه په قسم باندې پوښتنه ئني کوي، چې واقعي ته ئې په اور کي اچولی ئې؟ او دی هم د قسم په شکل جواب ورکوي، چې زه یقیناً صاحب واقعه یم.

حضرت عمر رضی الله عنه چې کله دا واورېدل، نو ور ولاړ سو، او د ده سره ئې معانقه وکړه، یعني غاړه په غاړه سو، او د سترګو مبارکو څخه ئې اوښکي راغلې، او دی ئې د خپل ځان سره روان کړی، او حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته ئې پېش کړی، او د هغه او د خپل ځان په درمیان کي ئې کښېنوی.

او حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته فرمایي: چې د الله تعالی شکر دی، چې موږ ته الله تعالی دومره ژوند را کړی، چې په خپلو سترګو مي دیو داسي سړي زیارت وکړی: چې د هغه سره هغه معامله سوې ده: چې د حضرت ابراهیم علیه السلام سره کمه معامله سوې وه.

**دابو مسلم خولاني رحمة الله عليه يو بل كرامت:**

حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه يو ځل د لښكر د امير په شكل روان دى، او دري زره(۳۰۰۰) لښكر ور سره دى، د شام په طرف كي د غرونو په مابين كي مخته درياب راغلى، او تاسو به ليدلى وي: چي د غره علاقه كښته پورته وي، او هلته درياب ډېر زيات په تېزي او طغياني كي وي.

چي كله مخته درياب راغلى، نو هلته نه كښتۍ سته، او نه په هغه درياب كي كښتۍ تګ كولاى سى، او بل طرف ته لښكر پر هغه درياب تيريدل ضروري دي.

نو حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه دوه ركعته لمونځ وكړى، او په دعا باندي ئې لاس پورته كړه، او وايي:

...... اى الله! موږ ستا د نبي ﷺ امت يو، تابني اسرائيلو ته په درياب كي لار ور كړه، موږ هم تر دې درياب پار كړه.

د هغه ځخه وروسته اعلان كوي: چي زه خپل آس په درياب ور ګډوم، زما ځخه وروسته خپل آسان په درياب را ګډ كړئ، چي د كم چا سامان او يو شى ورك سو، زه د هغه ذمه واريم، د يو انسان نفس ضائع كيدل، خو لويه خبره ده، لېكن كه چيري يو سامان ورك سو، لائې هم زما ځخه واخلئ.

چي كله دى آس په اوبو ګډوي، نو هغه آس د اوبو پر سر روان دى، او د ټوله لښكر آسان د اوبو پر سر روان دي، چي كله د درياب مابين ته ورسېدل، نو يو مجاهد قصداً خپله لوټه په درياب كي وغورځوله، چي كله د درياب هغه بلي كناري ته ورسېدل، نو دى د خپلو ملګرو ځخه پوښتنه كوي، چي ستاسو خو به ځه سامان ورك نه وي؟

نو هغه مجاهد ورته وايي: چي زما ځخه يوه لوټه په درياب كي ولوېدله، حالانكه لوټه خو ډېر معمولي شى دى، لېكن بيا هم ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه هغه مجاهد تر لاس ونيوى، او د درياب كناري ته ئې راوستى، چي كله درياب

ته ودرېدل، نو هغه درياب هغه لوټه د دوی و مخته پر کناره باندي را وغورځوله، او حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه هغه لوټه را پورته کړه، او هغه مجاهد ته ئې ور کړه، او ورته وايي: چي دا خپل امانت سمبال کړه.

## د وريځو آوازونه:

د تاريخ په کتابو کي ليکلي دي: چي د حضرت عمر رضي الله عنه په دور خلافت کي په ټوله جزيره عرب کي داسي قحطي راغله: چي د خورک او د ضرورت سامانونه په هيڅ قسم قيمت باندي نه پيدا کيدل، د لوږو د شدت په وجه عامو خلګو د جزيره عرب څخه انتقال کيدل شروع کړل.

په دې دروان کي حضرت عمر رضي الله عنه ته دا اطلاع وسوه: چي په مصر کي غله ډېر زياته ده، ځکه چي هلته پيداوار ډېر زيات سوی دی، او حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه د مصر والی وو، حضرت عمر رضي الله عنه هغه ته خط وليکی.

...... دلته په حجاز کي بالکل غله ختمه سوې ده، او ماته دا معلومه سوې ده: چي په مصر کي غله زياته ده، لهذا د دې ځای د انسانانو د غلې بندوبست د مصر څخه وکړه.

حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه په جواب کي ورته ليکي:

...... ای امير المؤمنينه: ته مطمئن اوسه، زه به دومره لويه قافله په غله بار در واستوم، چي د هغې اول اوښ مدينې ته رسيږي، نو آخرنی اوښ به ئې د مصر څخه د روزي.

حالانکه د مصر او د حجاز په مابين کي د يوې مياشتي لار وه، چي په هغه زمانه کي به انسانانو د اوښانو په ذريعه پرېکوله، يعني دا لار به زه ټوله د غلې څخه په بارو اوښانو ډکوم.

چنانچه د مصر څخه د غلې هغومره قافله راورسيده، لکه څنګه چي حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه ويلي وو، او دغومره په زيات مقدار غله مدينې ته

ضرورت وي، هغه دي راسي، په مدینه منوره کي د حضرت عمرﷺ پر دستر خوان باندي نفقه وخوري، او د چا چي څومره نفقه کور ته ورل زړه غواړي نو هغومره دي د ځان سره خپل کور او بچیانو ته یوسي.
چنانچه په زرو کسان را غلل د حضرت عمرﷺ پر دسترخوان باندي ئې نفقه وخوړله، او ډېرو انسانانو په ډېر زیات مقدار نفقه د خپلو ځانو سره د خپلو کورو او د بچیانو د ضرورت پوره کولو دپاره یووړه.
یو صحابي د مدینې منورې د اطرافو څخه لیري یو ځای په ځنګل کي اوسیږي، هغه هم د لاري د انسانانو څخه دا واورېدل: چي مدینې منورې ته زیاته غله راغلې ده، او په مدینه منوره کي تقسیمیږي.
د ده سره یوه بوزه ده نو ده د ځان سره فکر وکړی: که چیري زه ولاړسم، او دا بوزه دلې یوازي پاته سي، نو شاید یو حیوان به ئې وخوري، او شاید د دې د خورکې او نفقې بندوبست و نه سي، چي د هغه په وجه شاید مړه سي، نو آخر ئې په فکر کي دا راغلل: چي دا بوزه به حلاله کړم، او زه به ئې وخورم، نو زما په بدن کي به یو څه طاقت پیدا سي، نو بیا به زه مدینې ته ځان ورسوم.
چنانچه هغه بوزه ئې ذبح کړه، او غاري ئې ورپرې کړې، نو د هغه حیوان د غاړو څخه یو څاڅکی وینه نه را ووتله، هغه صحابي چي کله هغه منظر ولیدی، نو ډېر زیات ئې وژړل او پر هغه ځای باندي ناست دی، او وایي: چي یا الله! موږ کم حال ته ورسیدو، زموږ حیوانان کم حال ته ورسیدل، چي د هغو د بدن وینې خوشکي او وچي سوې، (ځکه په حیوان کي هلته وینه راځي: چي هغه کله وابنه خوري، او اوبه چښي، لیکن چي کله د حیوان نفقه او اوبه نه وي، نو د هغه په بدن کي وینه وچیږي).
هغه صحابي په دغه حال کي ناست دی، د خپل ځان پر حال او د خپل حیوان پر حال باندي د افسوس څخه دکه ژړا کوي، د داغه ژړا کولو په دوران کي خوب ورته راغلی، او ویده سو.

په خوب کي پیغمبرﷺ تشریف ورته راوړی، او ورته وایي: چي عمرؓ ته ورسه، زما سلام ورته ووایه، او د سلام ویلو څخه وروسته دا پیغام ورکړه: چي ته خو ډېر عقلمند انسان وې، ستا په عقل باندي څه وسو.
هغه صحابي چي کله د خوب څخه را پورته سو، نو په منډه د مدینې پر طرف را روان سو، د ډېرو زیاتو مشقتو او تکلیفو څخه وروسته مدینې منورې ته راورسیدی، د رارسیدلو څخه وروسته د حضرت عمرؓ دربار ته راغلی، او په دروازه کي ئې په زوره ندا وکړه: چي امیر المؤمنین! د رسول اللهﷺ قاصد راغلی یم، او ستا دربار ته د ننوتلو إجازت غواړم.
حضرت عمرؓ چي کله واورېدل: په لڅو پښو په منډه د خپل کور څخه د باندي را وواتی، او هغه صحابي ئې تر لاس ونیوی او خپل کور ته ئې دننه کړی، او پوښتنه ئې کوي، چي د رسول اللهﷺ کم پیغام دي تر ما پوري را وړی دی.
نو هغه صحابي د خپل خوب ټوله قصه ورته بیان کړه، حضرت عمرؓ په ډېر خوف او لرز کي مبتلا سو، او دا ئې عقیده سوه: چي زما څخه یو غلطي سوې ده.

نو په دې وخت کي چي په مدینه کي کم اهل الرأیه خلک موجود وو، هغه ئې ټول سره را جمع کړل، او ورته وایي: چي ما خو تاسو ته باربار دا ویلي وو: که چیري زما څخه یو غلطي کیدله، نو ماته به ضرور تنبیه او اګاهي را کوی لېکن دا خو یقیني ده: چي زما څخه غلطي سوې ده: ځکه زما سردار جناب محمد رسول اللهﷺ ماته دا پیغام را استولی دی.
نو اوس تاسو ماته دا خبره را ښکاره کړئ، چي زما څخه کمه غلطي سوې ده؟
صحابه ؓ ورته فرمایي: چي زموږ په عقل او سوچ کي خو ستا یوه غلطي هم نه راځي.
آخر یو صحابي په مجمع کي ولاړ سو او ورته وایي: چي زما په دماغ کي یوه خبره راځي، چي شاید دا به غلطي وي.

ه دا: چي کله په دې وطن کي قحطي راغله، او غله نه وه، او انسانان دلوږي
ه د مرګ سره مخامخ وو، د دې پر ځای چي موږ د الله تعالی څخه غوښتنه
ي وای، تا د مصر والي چي هغه ستا غوندي يو انسان وو، د هغه څخه د غلې
ښتنه وکړه، دا زما په خيال کي لويه غلطي وه.
ضرت عمرؓ ورته وفرمايل: چي واقعتاً داغه غلطي ده، او ټولو صحابه
مو هم دا غلطي تسليم کړه، حضرت عمرؓ په دې وخت کي دعا وغوښته،
: خپلي غلطۍ معافي ئې د الله په دربار کي طلب کړه.
ي څنګه ده د خپلي غلطۍ معافي طلب کړه، نو د اسمان په وريځو کي منډې
ډې شروع سوې، او شر او شور جوړ سو، او هره وريځ د هغه بلي څخه ځان
کي کوي، او مدينې ته را رواني دي، او يوه وبلي ته دا وايي:
......﴿اِذْهَبُوْا اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَاِنَّ الْعُمَرَ يَدْعُوْكُنَّ﴾(۱) درځئ مدينې لره ځکه چي حضرت
رؓ په مدينه کي ستاسو طلب کړې دی.
د مسلمان قوم په عامه معاشره کي يو وخت ډېر د وقار او د عزت ژوند وو، او
ئې د الله په حضور کي ډېر قدر او قيمت وو، ليکن نه معلوم چي نن څه وجه
، چي مسلمان د هغه بام عروج څخه فرش ذلت ته راغلي دي، او د اسلام د
اګانو غوړېدلو پر ځای په اسلامي معاشره کي توري تيارې وغوړېدلې.
په مسلمان کي د اخلاقو حسنه وو پر ځای اوصاف رذيله ورځ په ورځ پر مخ
ان دي، د مسلمان سخاوت په بخل بدليږي، او په مسلمان کي بزدلي پر
جاعت غالبه کيږي، مسلمان د خپل اسلام د دفاع او ترقۍ پر ځای په مال او
لت جمع کولو کي مشغول او مصروف دی.
سو راسئ! چي هغه کمي او علت ځان ته معلوم کړو، چي د هغه په وجه د
سلمانانو معاشره د بد امنۍ او د پرېشانۍ او د کفارو د طرفه د مغلوبيت
کار ده.

(۱) تاريخ کامل: جلد نمبر ۲: صفحه نمبر ۲۳۵

........﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ﴾.(۱)

چي کم فساد په وچه او لنده کي پېښيږي، دا د انسانانو د خپلو اعمالو نتيجه وي.

چي کله د مسلمانانو اعمال د الله تعالی د رضا خلاف سي، او معاشره په ګناهونو کي مبتلا سي، نو د هغه په وجه به هغه معاشره د دغه تکليفونو سره مخامخ کيږي.

حضرت ابن خيره رحمة الله عليه چی د حضرت علي رضي الله عنه شاګرد دی، هغه فرمايي:

........﴿جَزَاءُ الْمَعْصِيَةِ الْوَهْنُ فِي الْعِبَادَةِ وَضِيْقٌ فِي الْمَعِيْشَةِ وَتَعَسُّرٌ فِي اللَّذَةِ ا﴾ لخ.

د ګناه سزاء داده: چي د انسان په عبادت کي سُستي پيدا کيږي، او د انسان په رزق او روزي کي تنګي راځي، او په لذت کي کمي پيدا کيږي.

نن مسلمان فراخ عيش او اطمينان د مغرب په طور او طريقو کي لټوي، او د الله تعالی و طرف ته ورځ په ورځ د ده په غفلت کي اضافه راځي، د هغه عموماً نتيجه دا وي: چي د ده بې چيني او بې ارامي زياتيږي.

او د دې خبرو پېشنګوياني پېغمبر صلی الله عليه وسلم ډېري وړاندي کړي دي: او ده مبارک فرمايلي دي:

......﴿إِذَا اتُّخِذَ الْفَيْءُ دُوَلاً﴾ چي کله په معاشره کی مال غنيمت خپل دولت وبلل سي.

......﴿وَالْأَمَانَةُ مَغْنَمًا﴾ او د خلکو امانتونه مال غنيمت وبلل سي.

......﴿وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا﴾ او د زکوة ادا کول د مال تاوان و بلل سي.

......﴿وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّيْنِ﴾ او د خلکو زده کړه د دنيا دپاره سي.

......﴿وَأَطَاعَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ، وَعَقَّ أُمَّهُ﴾ او خلک د زناني فرمانبرداره او د خپلي مور نافرمانه سي.

......﴿وَأَدْنَى صَدِيقَهُ، وَأَقْصَى أَبَاهُ﴾ او دوست ته نږدې او د پلار څخه لېري سي.

(۱) سورة الروم: آيت نمبر ۴۱

... وَظَهَرَتِ الأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ،﴾ او په مسجدانو کي شراو شوږ شروع سي.
... وَسَادَ القَبِيلَةَ فَاسِقُهُمْ،﴾ او د قبيلې سردار د قبيلې فاسق سړی وي.
... وَكَانَ زَعِيمُ القَوْمِ أَرْذَلَهُمْ،﴾ او د خلکو نمائنده د ټولو څخه زيات بې عقل وي.
... وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الأُمَّةِ أَوَّلَهَا،﴾ او وروستني خلک پر مخکني باندي لعن طعن
ي.
ې کله په معاشره کي دا اثار ښکاره سي يعني د معاشرې د خلګو ژوندګي په دا
ن روانه سي.
...... فَلْيَرْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ، وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَقَذْفًا،﴾ نو په دې وخت کي
سرو بادونو او دوړو او د زلزلو او په مځکه د ننوتلو او د شکلونو د بدلېدلو
د کاڼو د باران انتظار کوئ.
...... وَآيَاتٍ تَتَابَعُ كَنِظَامٍ بَالٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ،﴾(۱) او د داسي نښانو انتظار کوئ،
ې يو د بل څخه وروسته په داسي تسلسل سره به راځي، لکه: د ملغلرو هار چي
کيږي، نو د ملغلرو دانې يوه د بلي څخه مخکي رالويږي.
دې وخت کي به د مسلمانانو معاشره مغلوبه او مرعوبه وي، او د مځکي د
ې پر کمه حصه چي مسلمان قوم آباد وي، نو هغه به زيرستم يعني د نورو
مو د ظلم او ستم سره مخامخ وي، او د دنيا په ګنج، ګنج کي چي مسلمان
ږي اوسيږي، هلته به د مشکلاتو سره مخامخ وي، د کفارو تر قوانينو او د
نو تر ظالمانه حکومتو لاندي به خپل ژوند تېروي.
. په دې وخت کي به د دوی مثال د وړې ګولې وي، او داسي به سپک او بې
سه قوم وي، لکه د اوبو پر سر چي ځک ځومره بې وسه معلوميږي، لکه
مبر ﷺ فرمايلي دي:
...... يُوشِكُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمُ الأُمَمُ كَمَا تَدَاعَى الْقَوْمُ إِلَى قَصْعَتِهِمْ﴾.

نور قومونه به پر دوی باندې داسې سره رابولي: لکه د غنم کور انسان چې خپل انسان و وره ګوله ته سره رابولي، یو صحابي د پېغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوي: چې ای د الله رسوله! دا مسلمانان به په دې وخت کې لږ وي، چې نور قومونه په دوی باندې داسې کانې کوي؟

...... قَالَ: لَا وَلَكِنَّهُ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ يُجْعَلُ الْوَهَنُ فِي قُلُوبِكُمْ، وَيُنْزَعُ الرُّعْبُ مِنْ قُلُوبِ عَدُوِّكُمْ﴾.

پېغمبر ﷺ ورته وایي: چې نه د دوی عدد به کم نه وي، بلکه تر ټولو به زیات وي.

لکه نن تاسو ګورئ! په دنیا کې د مسلمان عدد یو ارب پنځویشت کروړه انسانانو ته رسېدلی دی، او دوی ته نږدې عدد د عیسائیانو دی، چې هغه دوپنځوس کروړ دی.

لېکن دې دوپنځوس کروړه انسانانو د دې یو ارب او پنځویشت کروړه انسانانو په پزه کې مهار وراچولی دی، او د ځان ئې غلامان جوړ کړي دي، چې زړه ئې غواړي هغه قسم تماشې په کوي، او د خپلې مرضی مطابق ئې استعمالوي، او د هغو دلاسه د مځکې پرټوله کره باندې د مسلمان قوم زندګي په ډېر ذلت او رسوائي کې روانه ده.

صحابه چې کله د پېغمبر ﷺ دا پېشګویانې د مسلمانانو متعلق اوري، نو ډېر په حیرت او تعجب کې دي، ځکه هغوی چې د خپل وخت د مسلمان وقار او عزت او دلاوري او جوانمردي، ته ګوري، او د مسلمان قوم را روان حالات د پېغمبر ﷺ د خولې څخه اوري نو یو صحابي د پېغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوي:

......فَمَا المخرجُ مِنها يا رَسُولَ الله؟﴾.

چې ای د الله رسوله! د دې حالاتو څخه به مسلمان څنګه وزي، او د وتلو لار به ئې څه وي؟

........ قالَ: كِتابَ الله،﴾.

پيغمبر ﷺ ورته وايي: په قرآن کريم پوري منګولي لګول، او د قرآن کريم احکام په خپلو کوزو کي ژوندي کول، او خپل بچيان پر قرآن کريم باندي راګرځول، ددې حالت څخه د خلاصون لار ده.

......فِيهِ خَبَرُ مَا قَبْلَكُم، وَنَبَأُ مَا بَعْدَكُم، وَحُكمُ مَا بَينَكُم،﴾.

په دې قرآن کريم کي د دوی دپاره د مخکني قومونو حالات بيان سوي دي، او د وروستنيو نتائجو بيانونه دي، او د خپل مابين فيصلې پکښي موجودي دي، نو ر هغه څخه دې، دوی رهنمائي او عبرت واخلي.

...... هُوَ حَبْلُ اللهِ المَتِينُ،﴾.

دا د الله سره د تعلق مضبوطه رسۍ او واسطه ده،

......وَهُوَ الذِّكرُ الحَكِيمُ،﴾.

او دا ډېر محکم او د حکمته ډکه وينا ده.

...... وَهُوَ الصِرَاطُ المُستَقِيمُ﴾.

او دا د هدايت بهترينه سيده لاره ده.

......وَهُوَ الَّذِي مَن تَرَكَه مِن جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللهُ،﴾.

چي کم چا د جبر په وجه قرآن ته شا وګرځوله الله تعالى به ئې ټکړه ټکړه کړي.

......وَمَنِ ابْتَغى الهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللهُ،﴾.

او چي کم څوک هدايت د قرآن څخه بغير په نورو لارو کي طلبوي، هغه به الله تعالى ګمراه کوي.

......هُوَ الَّذِي مَن حَكَمَ بِهِ عَدَلَ،﴾.

چي کم څوک په قرآن کريم فيصلې کوي، هغه به د عدل فيصلې وي.

......وَمَن عَمِلَ بِهِ أُجِرَ﴾.

چي کم څوک په قرآن کريم باندي عمل کوي، الله تعالى به اجر او ثواب ور کړي.

......وَمَن قَالَ بِهِ صَدَقَ،﴾.

چي کم څوک په قرآن کريم باندي وينا کوي هغه ډېره صادقه وينا وي.

........ومَن عَمِلَ بِهِ أُجِرَ﴾.

چي کم څوک په قرآن کريم باندي عمل کوي، الله تعالی به اجر او ثواب ورکړي.

........ومَن قَالَ بِهِ صَدَقَ،﴾.

چي کم څوک په قرآن کريم باندي وينا کوي هغه ډېره صادقه وينا وي.

........ومَن دَعا إِلَيْهِ هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُستَقِيمٍ﴾.(۱)

چي کم څوک انسانان قرآن کريم ته را بولي نو دا به په حقيقت کي صراط مستقيم ته را بلل وي.

نو چي په کم عصر کي د مسلمانانو معاشره په مشکلاتو کي مبتلا سي، نو د هغه لوی علت او سبب د انسانانو خپله بدعملي وي، چي د دوی د بدو اعمالو په وجه د دوی معاشره په مشکلاتو کي مبتلا کيږي.

او د مشکلاتو څخه د وتلو لویه لار د دوی دپاره قرآن کريم ته توجه را ګرځول په خپلو کورو کي قرآن کريم عملي کول، او خپل بچيان پر قرآن کريم باندي راګرځول.

او هغو ته په ذهنو کي د قرآن کريم تعليم ورکول، او د خپلي زندګۍ ټوله طور او طريقې پر قرآن کريم باندي برابره ول.

الله تعالی دي زموږ او ستاسو د دې تباه معاشرې توجه قرآن کريم ته راوګرځوي، چي د مسلمان قوم يو ځل بيا هغه د مخکنيو وختونو وقار او عزت په نصيب سي.

او چي نن مسلمان قوم ته کم مشکلات ور پېښ دي، د هغو څخه د وتلو د دوی لوی علت او سبب وګرځي.

او الله تعالی دي زموږ او ستاسو د زندګۍ هره شعبه پر قرآن کريم باندي برابره کړي.

چي څه اورو، او څه وايو، پر هغه تولو دي موږ او تاسو ته الله تعالی د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

والله دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایه)

# تواضع او عاجزي كول

(بيان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــــريــر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعــت | اول |
| تــاريـــــــخ | ۱۲ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تــعــــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾(۱).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿مَنْ تَوَاضَعَ لِلَّهِ رَفَعَهُ اللَّهُ﴾ (۲).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! ستاسو په مخکي ما د تواضع متعلق د پيغمبرﷺ يو روايت مبارک رانقل کړی، چي د هغه معنٰی داده: چي کم سړی د الله تعالی د پاره تواضع او عاجزي اختيار کړي، نو الله تعالی به ده ته لوړ درجات ورنصيب کړي.

د انسان په زندګي کي تواضع کول ډېر اهم عمل دی، ځکه که چيري په انسان کي د تواضع صفت نه وي، نو بيا به د انسان په زړه کي تکبر راځي، او تکبر د ټولو ګناهونو بنياد بلل کيږي.

تاسو ګورئ! په دې کائناتو کي د ټولو څخه مخکي نافرماني او ګناه ابليس وکړه، چي د هغه څخه مخکي په دې کائناتو کي د ګناه کولو هيڅ تصور نه وو.

---

(۱)سورة لقمان آيت نمبر: ۱۲

چي کله الله تعالی حضرت آدم علیه السلام پيدا کړی، او ټولو فرښتو ته ئې حکم وکړی: چي سجده ورته وکړئ، نو ابليس د سجدې کولو څخه انکار وکړی، او دا ئې وويل چي:

......﴿أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ﴾.(¹)

زه خو د آدم څخه ښه يم، ځکه چي زه تا د اُور څخه پيدا کړی يم، او آدم دي د خاورو څخه پيدا کړی دی، او اُور د خاورو څخه افضل دی، نو زه هم د ده څخه افضل يم، نو زه و ده ته سجده ولي وکړم.

تاسو ګورئ! د ټولو څخه مخکي نافرماني دغه وه: چي په دې کائناتو کي وسوه، او د دې نافرمانۍ بنياد تکبر او لوئي وه، چي زه د آدم څخه افضل يم، يا ښه يم، او زه د ده څخه بهتر يم، بس د دغه تکبر په نتيجه کي الله تعالی دی د خپل دربار څخه ليري او رانده کړی.

نو تکبر د ټولو ګناهونو بنياد دی، چي کله د يو چا په زړه کي تکبر پيدا سي، نو نور ګناهونه د ده په زړه کي ضرور پيدا کيږي.

مثلاً د تکبر څخه غصه ضرور پيدا کيږي، د تکبر څخه حسد ضرور پيدا کيږي، د تکبر څخه بغض ضرور پيدا کيږي، د تکبر په وجه د مسلمانانو دل آزاري ضرور کيږي، د تکبر په وجه غيبت ضرور کيږي.

نو تر څو پوري چي د انسان په زړه کي د تکبر پر ځای د تواضع او عاجزي صفت راغلی نه وي، تر هغه وخته پوري مؤمن د دغه ګناهونو څخه محفوظ نه سي پاته کيدلای، نو ځکه د مؤمن دپاره تواضع حاصلول او خپل ژوند د عاجزي په شکل تيرول ضروري دي.

## د تواضع معنی:

تواضع عربي لفظ دی، د دې معنی ده: خپل ځان تر ټولو کمي درجې والا منل.

---

(¹) سورة الاعراف: آيت نمبر ۱۲

مثلاً دا خبره په دماغ كي كښېنول: چي په دې مخلوقاتو كي زما هيڅ حيثيت او هيڅ حقيقت نشته، كه چيري زه يو ښه كار كوم، نو دا محض د الله تعالى توفيق دى، او د الله تعالى عنايت او مهرباني ده، په دې كي زما هيڅ كمال نشته، دا د تواضع معنى او حقيقت دى.

چي كله د يو انسان په دل او دماغ كي د تواضع دغه حقيقت راسي، نو بيا به الله تعالى ده ته لوړ مقام او لوړ درجات وَر نصيب كوي.

## د پيغمبر ﷺ تواضع:

په يو حديث شريف كي حضرت انس رضي الله عنه رانقل كوي: چي كله به پيغمبر ﷺ د ملاقات په وخت كي ديو چا سره مصافحه كوله، نو چي تر څو پوري به هغه سړي خپل لاس نه پرېښوو نه واى پيغمبر ﷺ خپل لاس نه پرښا كاوى، او چي تر څو پوري هغه سړي خپل مخ نه ګرځولى نه واى، نو پيغمبر ﷺ مخ نه ګرځاوى، او چي څو مره زمانه په مجلس كي كښېناستى نو خپل ځنګونه مباركان به ئې هيڅ كله د نورو څخه نه مخكي كول، يعني دى په يو امتيازي شان سره په مجلس كي نه كښېنابستى.(۱)

په بعضو رواياتو كي راځي: چي په ابتداء كي به پيغمبر ﷺ د عامو انسانانو په شان په مجلس كي كښېناستى، يعني نه د ده په ناسته كي امتيازي شان وو، او نه و مجلس ته په راتللو كي امتيازي شان وو.

ليكن وروسته داسي وسول: چي كله به يو ناولده سړى مجلس ته راغلى، نو هغه ته به د پيغمبر ﷺ په پېژندلو كي تكليف وو، هغه ته به دا نه معلوميدله: چي په دې انسانانو كي پيغمبر ﷺ كم يو دى.

او په بعضو اوقاتو کي به چي کله انسانان ډېر سول، نو په مجمع کي وروسته ناست وو، انسانانو ته به د پیغمبرﷺ زیارت کول مشکل وو، او د ټولو انسانانو به دا خوهش وو، چي موږ د پیغمبرﷺ زیارت وکړو.
نو په دې وخت کي صحابه کرامو د پیغمبرﷺ څخه دا غوښتنه وکړه: چي موږ به ستا دپاره یو پورته ځای جوړ کړو، او ته پر هغه باندي کښېنه، چي ټولي مجمع ته ستا په زیارت کولو کي اساني وي، او مجمع به ستا خبره په اسانه سره اوري، نو پیغمبرﷺ دوی ته اجازت ورکړی، او د ده د پاره ئې یو میز غوندي چوکي جوړه کړه، چي پر هغه باندي به دی کښېناستی، او صحابه کرامو ته به ئې وعظ او نصیحت کاوی.

د دې څخه دا معلومه سوه: چي اصل خو دادی: چي انسان به د خپل ځان دپاره امتیازي شان او امتیازي مقام جوړ نه کړي، بلکه د عامو انسانانو په مثل به ژوند کوي، البته که چیري یو ځای د امتیازي شان جوړولو ضرورت پیدا سو، نو بیا پر هغه باندي عمل کول جائز او روا دي.

## په مخکني کتابو کي د پیغمبرﷺ تعریف:

د پیغمبرﷺ تعریف او صفت په مخکنیو اسماني کتابو کي دا بیان سوی وو:
...... ﴿لَوْ يَمْشِيْ عَلَى السِّرَاجِ لَمْ يَطْفِئْهُ تَحْتَ قَدَمَيْهِ مِنْ سَكِيْنَتِهِ﴾.
ده مبارک به په دومره عاجزي سره تګ کاوی، که چیري د تګ کولو په دوران کي پر بلېدونکي څراغ باندي ده پښه لګولې وای لاهم هغه د ده د پښې لګولو څخه نه مړه کېدی، حالانکه پر څراغ باندي که چیري معمولي بوج راسي، نو دی دستي مړي. مګر زموږ په نبي اکرمﷺ کي دومره عاجزي وله: او د ده ګرځېدل،

را ګرځېدل، په داسي عاجزي باندي وو: چي د ده قدمونه مبارک به پر ځمکه باندي په ډېر عاجزي سره اېښول کېدل.(۱)
که چيري پر وچو لګړو او بټو باندي د ده قدم مبارک اېښول سوی وای: لا به هم د ده د عاجزی په وجه د هغو ټکهاري نه وای راپورته سوي.
په يو حديث شريف کي د پېغمبرﷺ د تګ کولو صفت په دا شان بيان سوی دی:

......مَا رُئِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ مُتَّكِئًا قَطُّ، وَلَا يَطَأُ عَقِبَهُ رَجُلَانِ﴾.(۲)

يعني هيڅ کله پېغمبرﷺ د تکيه وهلو په وخت کي خورک نه کاوی، او نه هيڅ کله دی په داسي حالت کي وليدل سو، چي په ده پسي دي وروسته ورسته انسانان روان وي.
لهذا دا مناسب نه دی، چي انسان په خپله مخ ته مخ ته روان وي، او د ده معتقدين تر شا ورپسي وي، که هر څومره لوی عالم وي، او که هر څومره لوی امام وي، او که هر څومره لوی پير او بزرګ وي، ځکه تر پېغمبرﷺ هيڅ څوک لوی عالم او لوی امام او لوی بزرګ نه سي جوړېدای، چي کله پېغمبرﷺ دا عمل نه دی کړی، نو د هيڅ چا دپاره مناسب نه دی، که هر څومره لوی شخصيت وي.
ځکه په دې وخت کي انسان ته نفس او شيطان دوکه ورکوي، او دا په دماغ کي وراچوي: چي ګوره! په تا کي ډېره لويه خوبي او ښه والی دی، او ته ډېر لوی سړی ئې چي دادومره مجمع ټوله په تا پسې ده، او ستا تر شا را روانه ده.
نو ځکه حتی الامکان د دغه عمل څخه پرهيز کول، مناسب وي، چي کله انسان ځي، نو يا دي يوازي روان سي، يا د عامو انسانانو سره دي يک رنګه ځي، او د هغو څخه دي تر مخ هيڅ کله نه روانيږي.

---

(۱) شاهکار تقارير: صفحه نمبر ۲۰۲

## د بزرگانو تواضع:

د كمو بزرگانو چي د هغو د خبرو اورېدلو او ويلو څخه موږ او تاسو دين ازده كوو، د هغوى حالات چي كله انسان وايي، نو بيا به دا ور معلومه سي: چي هغو خلكو خپل ځانونه څومره بې حقيقته بلل، چي د هغه حد او حساب نه وو.
چنانچه د حكيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه دا وينا ما د خپلو استاذانو څخه بار بار اورېدلې ده: چي ده مبارک به ويل:
..... چي زما حالت دادى: چي زه هر مسلمان اوس حالاً او هر كافر احتمالاً د خپل ځان څخه افضل بولم، مسلمان خو ځكه چي هغه مسلمان او صاحب ايمان دى، كېداى سي: چي د الله تعالى سره به د ده يو خصوصي تعلق وي، زما خو نسته او كافر په دې وجه چي كيداى سي: الله تعالى به ورده ته د ايمان راوړلو توفيق وركړي، او د ده به خاتمه پر ايمان سي، او زما خاتمه نه ده معلومه چي څنگه سي.
يو ځل د حضرت تهانوي رحمة الله عليه خليفه خاص حضرت مولانا خيرمحمد جالندري رحمة الله عليه د حضرت تهانوي رحمة الله عليه يو بل خليفه حضرت مفتي محمد حسن رحمة الله عليه چي (د جامعې اشرفيه لاهور باني دى) ته وويل: چي زه چي كله د حكيم الامت په مجلس كي ناست يم، نو په ټوله مجلس كي چي څومره خلک ناست وي، نو تر ټولو ماته خپل ځان ناقص رامعلومېږي، او دا مي عقيده وي: چي دا د مجلس ناست انسانان ټول تر ما افضل دي.
حضرت مفتي محمد حسن رحمة الله عليه چي كله دا واورېدل، نو ورته وايي: چي زما هم يقيناً داغه حالت دى.
بيا دواړو مشوره وكړه، چي موږ به د حضرت تهانوي رحمة الله عليه و مخته دا خپل حالت پېش كړو، نه معلوم چي دا اوس ښه او كه بد حالت دى.

چنانچه هغه دواړه حضرات د حضرت تهانوي رحمة الله عليه خدمت ته حاضر سول، او خپل حالت ئې ورته بيان کړی، چي حضرت موږ چي کله ستا په مجلس کي يو، نو زموږ دا حالت وي.

حضرت تهانوي رحمة الله عليه په جواب کي ورته وفرمايل: چي دا هيڅ د تشويش خبره نه ده، ځکه: چي تاسو کم خپل حالت راته بيان کړی، حالانکه زه تاسو ته رشتيا خبره کوم، چي کله زه هم په مجلس کي کښېنم، نو زما هم دا حالت وي، چي په دې مجلس کي د ټولو څخه زيات ناقص او ناکاره زه يم، او دا ټول زما څخه افضل دي.

دا د تواضع حقيقت دی: چي کله د تواضع دغه حقيقت دانسان په زړه کي کښېني، بيا انسان خو انسان دی، وسړي ته خپل ځان تر حيوانانو هم کم تر او کمي درجې والا ور معلومېږي.

## حضرت سيد سلمان ندوي رحمة الله عليه او تواضع:

حضرت سيد سلمان ندوي رحمة الله عليه چي په خپل دور کي د علما ود فضل صاحب وو، او د ځمکي پر مخ د ده د علم او فضل شهرت او چرچه وه، دی خپله واقعه د خپلي ژندگۍ په داستان کي ليکي: چي کله ما د پيغمبر ﷺ سيرت په شپږو (۶) جلدو کي مکمل کړی.

نو بار بار مي په زړه کي دا خبره را گرځېدله، چي د کم ذات گرامي سيرت ما وليکی، ايا د هغه د سيرت يو عکس او نقشه زما په ژندگي کي را غله، او که نه؟ که چيري نه ده راغلې نو ايا څنگه به راسي؟

د دې مقصد دپاره ديو نيک او بزرگ انسان د تلاش او د هغه په تربيت کي د يو څو ورځو تيرولو فکر را سره پيدا سو، او دامي اورېدلي وو: چي حضرت مولانا اشرف علي تهانوي د "تهانه بون" په خانقاه کي مقيم دی، او الله تعالی تر ډېره حده پوري د هغه فيض جاري کړی دی.

چنانچه يو ځل مي د "تهان بون"د تللو اراده وکړه، او د څه سفر کولو څخه وروسته "تهانه بون" ته ورسېدلم، او هلته مي د حضرت سره اصلاحي تعلق قائم کړی، او يو څو ورځې مي ور سره تېرې کړې.

چې کله مي د واپسی دپاره رخصت ځني اخستی، نو حضرت تهانوي رحمة الله عليه ته مي عرض پېش کړی، چې حضرت! ماته يو نصيحت وفرمايه.

حضرت تهانوي رحمة الله عليه بيا يو بل ځای ليکلي دي: چې دې وخت کې زما په زړه کې دا خيال راغلی: چې دومره لوی علامه ته به زه څه نصيحت وکړم؟ چې د علم او فضل په اعتبار سره په ټوله دنيا کې د ده شهرت دی، چنانچه بيا مي د الله تعالی څخه دعا وغوښته، چې يا الله! زما په زړه کې داسې خبره را واچوې، چې هغه د ده په حق کې هم او زما په حق کې هم فائده منده وي.

د هغه څخه وروسته حضرت تهانوي رحمة الله عليه حضرت سيد سلمان ندوي رحمة الله عليه ته مخاطب سو، ورته وايي:

..... وروه! زموږ په طريقه کې د اول څخه تر آخره پوري دا خبره ده: چې خپل ځان گمنامه کول، او خپل نفس ختم کول.

حضرت سيد سلمان ندوي رحمة الله عليه فرمايي: چې د دې خبرو کولو په وخت کې حضرت خپل لاس زما پر سينه کېښوی، او بيا ئې داسې لاندې طرف ته را کش کړی، ماته داسې محسوسه سوه: لکه زما زړه چې يو څوک را څخه کش کړي.

حضرت ډاکټر عبد الحی رحمة الله عليه فرمايلي دي: چې ددې واقعې څخه وروسته حضرت سيد سلمان ندوي رحمة الله عليه خپل نفس داسې ختم کړی، چې د هغه مثال پيدا کول مشکل دي، همېشه به دی ليدل کېدی چې د خانقاه ومخته ـ ده د راغلو انسانانو چوټې سمولې.

دغه تواضع او فنائيت الله تعالي د ده په زړه کې پيدا کړی. نو د هغه نتيجه دا سوه: چې الله تعالی د ده څخه علمي خوشبوئي روانه کړه، او د کم ځای څخه ئې کم ځای ته ورساوی.

## حضرت مفتي عزيز الرحمان رحمة الله عليه او تواضع:

حضرت مفتي عزيزالرحمان رحمة الله عليه چې په خپل وخت کې د دارالعلوم دیوبند مفتي اعظم وو، د ده د زندګۍ په حالاتو کې لیکلي دي: چې د ده د کوریو طرف او بل طرف ته د یو څو ګنډو زنانو کورونه وه.

دده به روزانه معمول دا وو: چې کله به دارالعلوم دیوبند لره تلی، نو د هغه څخه مخکي به یو ځل د هغه زنانو دروازو ته ورتلی، او پوښتنه به ئې ځني کوله، چې بي بي! که چیري د بازار څخه سودا راغواړې نو ماته وو ایه زه به ئې راوړم، نو هغه زناني به خپل فرمائش په لاس ورکړې، چې دومره مرچ او دومره پیاز او فلان او فلان شی به ماته راوړې.

داغه رنګه به بیا د دوهمې زناني دروازې ته ورتلی، او بیابه د دریمې زناني دروازې ته ورغلی، او د هغو فرمائشونه به ئې د ځان سره واخستل، او بیا به ئې د بازار څخه سودا را وړله، او د هغو کورو ته به ئې ور رسوله.

بعض اوقات به داسي هم پیښه سوه: چې کله به ده سودا را ورسوله، نو یو زناني به ورته ویل: مولوي صاحب! دا سودا دي غلطه را وړې ده، ما خو ستا څخه فلانکی شی را غوښتي وو، او تا د هغه پر ځای بل شی راوړي دی، یا ماخو ستا څخه دومره مقدار را غوښتي وو، او دادي د هغه څخه کم یا زیات را وړي دی.

ده به ورته ویل: بي بي هیڅ خبره نه ده، زه ئې اوس دوباره د بازار څخه بیا را وړم، چنانچه دوباره به بازار ته تلی، او د هغو سودا به ئې را وړله، او دوی ته به ئې ورکوله، او د هغه څخه وروسته به د فتوی لیکلو دپاره دارالعلوم دیوبند ته تشریف راوړی.

حضرت مفتي محمد شفیع رحمة الله عليه به فرمایل: چې کم سړی د ګنډو زنانو د سودا راوړلو دپاره په بازار کي ګرځیدی، دا "مفتي اعظم هند" وو، هر چابه لیدی، لیکن د هیڅ چا دا ګمان نه پر کیدی، چې دا د علم او فضل دومره لوی "غر" دی.

د هغه د تواضع نتيجه دا راووته چي نن د ده پر فتواگانو باندي مشتمله فتاوٰی چاپېږي، چي د ېر جلدونه ئې تر چاپ لاندي دي، او نور هم پسي را روان دي، او ټوله دنيا د هغه څخه فيض پورته کوي، او الله تعالى مرگ هم په داسې حالت کي ورته راوستی: چي په لاس کي ئې فتوٰی ده، او د هغه فتوٰی په ليکلو ليکلو کي ئې روح د دنيا څخه رخصت سو.

## حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمة الله عليه او تواضع:

حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمة الله عليه چي د دار العلوم ديوبند باني دی، د ده په باره کي ليکلي دي: چي ده به همېشه يو "لنگ" او معمولي قميص زيب تن کړی وو، هڅ سړي چي به وليدی، هيڅ کله ئې دا نه پېژاندی، چي دا دومره لوی علامه دی، چي کله به مناظرې ته راغلی، نو بيا به هر څومره د علم او فضل انسانانو د ده مقابله نه سوه کولای، لېکن د تواضع او سادگۍ ئې دا حال وو، چي معمولي "لنگ" به ئې تړلي وو، او همېشه به ئې مسجد جارو کاوی، چونکه ده د انگرېزانو خلاف جهاد کاوی، او د هغو خلاف ئې فتواگاني پېشولې، او لوی تحريک ئې روان کړی وو، نو د انگرېزانو د طرفه د ده د گرفتارۍ وارنټ جاري سو.

يو ځل يو څه عسکر د ده د گرفتاره کولو دپاره را غلل، يو چا ورته وويل: چي دی په "چهته" مسجد کي اوسيږي، چي کله هغه عسکر مسجد ته را غلل، نو که گوري يو سړی دی، چي "لنگ" ئې تړلي دی، او "بنين" ئې اغوستي دی، او مسجد جارو کوي، د هغو سره په وارنټ کي دا ليکلي دي: چي حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمة الله عليه به گرفتاره کړی.

نو چي کم عسکر د ده د گرفتارۍ دپاره راغلي دي، د هغو د گمان دی، چي دا به په يو لويه جبه کي او په يو ممتاز لباس کي لوی علامه وي، چي د دومره لوی تحريک قيادت کوي، د هغو په گمان کي دا خبره نه راځي: چي د غه مسجد چي

جارو كوي، داغه مولانا محمد قاسم نانوتوي دی، بلكه د هغو گمان دادی: چي دا د مسجد يو خادم دی.

چنانچه هغو د ده څخه پوښتنه وكړه، چي مولانا محمد قاسم نانوتوي چيري دی؟ حضرت مولانا ته دا ور معلومه سوه: چي زما خلاف د گرفتاری وارنټ جاري سوی دی، نو يو طرف ته پوټهدل ضروري دي، او بل طرف ته بايد زه دروغ هم نه ووايم.

نو پر كم ځای چي ولاړ دی، دهغه څخه يو څه پر شا سو، او هغه عسكرو ته وايي: چي اوس لږ گړی مخكي خو لا پر دغه ځای ولاړ وو.

چنانچه د هغه عسكرو دا گمان سو: چي لږ گړی مخكي په مسجد كي وو، لېكن اوس د مسجد څخه وتلی دی، او په مسجد كي نسته نو د ده په تلاش كولو پسي واپس ولاړل.

د ده مبارك به همېشه دا وينا وه: كه چيري دغه دوه حرفه د علم تهمت د محمد قاسم په نامه پسي نه وای ليكهدلي، نو هيڅ چاته به دا معلومه سوې نه وای: چي قاسم څوك وو، او چيري پيدا سو، او چيري مړ سو، نو په دغه رنگه فنائيت سره به ما خپله زندگي تېره كړې وای.

## حضرت شيخ الهند او تواضع:

حضرت شيخ الهند مولانا محمود الحسن رحمة الله عليه چي كم چا د انگرېزانو خلاف د "هندوستان" د آزادی دپاره داسي تحريک وچلاوی: چي په ټوله "هندوستان" "افغانستان" او "تركيه" كي د زلزلې په شكل د ده تحريک حركت اختيار كړی، چي د ده د تحريک حمايت په ټوله "هندوستان" كي وو.

چنانچه د "اجمير" يو عالم مولانا معين الدين اجميري په دې اراده باندي ديوبند ته راغلی، چي د حضرت شيخ الهند سره ملاقات او د هغه زيارت به وكړي.

نو دی د "ریل گاډی" په ذریعه سره "دیوبند"ته راورسیدی، او هلته پر "استېشن" باندي یو "تانگې والا" ته وایي: چي ما د شیخ الهند د ملاقات په غرض د هغه تر کوره پوري یوسه.
اوس په ټوله دنیا کي هغه د شیخ الهند په نامه باندي مشهوره وو، مگر په "دیوبند" کي د "لوی مولوي صاحب" په نامه سره خلگو پېژاندی.
نو هغه "تانگې والا" ورته وایي: چي "لوی مولوي صاحب" لره ځې، دی ورته وایي: هو، نو دی ئې د حضرت شیخ الهند د کور ودروازه ته کښته کړی، د گرمي زمانه وه، ده چي کله د هغه د کور دروازه ټکوله نو یو بوډا سړی چي "لنگ" ئې پر ځان پیچلي وو، او معمولي "بنین" ئې اغوستي وو، د دروازې څخه را وواتی،
مولانا معین اجمیري ورته وایي: زمانوم "معین الدین" دی، او زه د "اجمیر" څخه د شیخ الهند سره د ملاقات په غرض راغلي یم، هغه بوډا سړی ورته وایي: حضرت! دننه تشریف راوړه، او د کور په "مهمان خانه" کي ئې کښېناوی، د څه گړي وروسته دی هغه بوډا ته وایي: ته مولانا ته اطلاع ورکړه، چي معین الدین اجمیري ملاقات لره راغلی دی، نو هغه بوډا و ده ته پکی وهي، او په مجلس کي ورسره شروع دی.
چي کله یو څه نور وخت تېر سو، نو مولانا اجمیري بیا هغه بوډا ته وایي: چي ته ورسه، مولانا ته اطلاع ورکړه، چي د "اجمیر" څخه یو څوک ستا ملاقات ته راغلی دی، نو هغه بوډا ورته وایي: چي زه اوس اطلاع ورکوم، کور ته دننه سو، او د هغې خوا څخه ئې نفقه او گوله را خستې ده، او د مولانا اجمیری رحمة الله علیه و مخ ته ئې کښېښووله.
مولانا اجمیري رحمة الله علیه بیا ورته وایي: چي حضرت! زه دلته د ډوډی خوړلو لره نه یم راغلي ته ماته د مولانا محمود الحسن سره ملاقات را وکړه، او ما د هغه سره میلاو کړه.

هغه بوډا ورته وويل: چي ته ډوډۍ وخوره، انشاء الله اوس به دي د هغه سره ملاقات وسي، چنانچه ده ډوډۍ وخوړله، او به ئې وچيښلې، په آخر كي مولانا معين الدين رحمة الله عليه ناراضه سو، او وايي: چي زه بار بار وايم، او ته وزې نئوزې، او مولانا ته اطلاع نه ور كوې.

نو هغه بوډا ورته وايي: چي حضرت! د لته شيخ الهند هيڅ څوک نه اوسيږي، البته "محمود" د دغه بنده نوم دی، چي ستا په خدمت كي حاضر دی، د دې څخه وورسته حضرت مولانا معين الدين رحمة الله عليه ته دا معلومه سوه، چي محمود الحسن او شيخ الهند دغه صاحب دی، چي زما په خدمت كي لګيا دی، او تر اوسه پوري ما د ده سره د ناراضګۍ په شكل خبري او وينا كوله، نو د هغه څخه وروسته دی ور ولاړيږي، او د هغه لاسونه ور مچوي، او د هغه څخه د خپلي بې ادبۍ معافي طلبوي.

دازموږ د بزرګانو تواضع او عاجزي وله، چي هغو خپله زندګي په دغه شان سر ته رسوله، چي په عامه دنيا كي د هغو د شهرت چرچې وې، ليكن د دوی شخصي زندګي د تواضع او عاجزۍ يو نمونه وه.

## حضرت ډاكټر عبدالحی رحمة الله عليه او تواضع:

حضرت ډاكټر عبدالحی رحمة الله عليه د حكيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه د اجلو خلفاؤ څخه وو.

ده به فرمايل: چي زه كله كله په خپل كور كي لڅي پښې ګرزم، ځكه چي په يو روايت كي مي دا ليدلي دي: چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم به كله كله لڅي پښې ګرزېدی، نو زه هم په دې وجه ګرزم، چي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم پر دغه سنت باندي هم عمل وكړم.

او بيا به ئې فرمايل: چي زه د لڅو پښو ګرزېدلو په وخت كي خپل نفس ته خطاب كوم، او ورته وايم: چي ای نفسه! ګوره ستا اول حقيقت دادی: چي نه په پښو باندي چوټه او نه پر سر باندي خولۍ او نه پر جسم باندي لباس او ستا آخر انجام په خاورو كي ذره ذره كيدل دي.

## د پېغمبر ﷺ خوښه طريقه:

د پېغمبر ﷺ په هره معامله کي هغه طريقه خوښه وه: چي په هغه کي عبديت وي، بندګي وي، او د شکستګۍ او عاجزۍ اظهار وي.
چنانچه يو ځل د الله د طرفه د ده څخه دا پوښتنه وسوه: چي که چيري ته غواړې نو ستا دپاره به د "أحد" غر سره زر جوړ سي، او په دې سره به ستا د معاش تکليف ليري سي.
ليکن پېغمبر ﷺ ورته فرمايي: چي نه ماته خو دا خوښه ده: چي:
......أجوع يوما وأشبع يوما فإذا شبعت حمدتك وشكرتك وإذا جعت تضرعت إليك ودعوتك﴾.(¹)
چي يوه ورځ وږي يم، نو په هغه ورځ به صبر کوم، او ستا څخه به غوښتنه کوم، او چي په کمه ورځ باندي موړ سم، نو به ستا شکر ادا کوم.
په يو حديث مبارک کي لاداسي هم راغلي دي:
......ما خير رسول الله صلى الله عليه وسلم بين أمرين قط إلا أخذ أيسرهما﴾.(²)
يعني چي کله به پېغمبر ﷺ ته په يو معامله کي د دوو لارو اختيار ور کړل سو، نو پېغمبر ﷺ به همېشه په هغو کي هغه اسانه لار اختيار وله.
اوفرمايل به ئې: په دې وجه اسانه لار اختيار وم: چي د مشکلي لار په اختيارولو کي د بهادرۍ دعوه راځي، چي زه خو ډېر لوی بهادر يم، چي دا دومره مشکل کار وسر ته رسولای سم، او په اسانه لار اختيارولو کي د عاجزۍ او بندګۍ اظهار دی، چي زه خو ډېر کمزوري يم، د هغه کمزورۍ په وجه دغه اسانه لار اختياروم، لهذا په دين کي که يو څوک لوړي مرتبې او مقام ته رسيدلی دی، هغه د عاجزۍ او فنائيت په لاره سره دی.

(¹) حلية الاوليا، وطبقات الاصفيا: صفحه نمبر ۱۳۲
(²) صحيح البخاري: حديث نمبر ۶۱۲۶

او د فنائيت معنىٰ داده: چي د الله تعالىٰ په مرضي او مشيت كي انسان د خپل ځان مرضي او مشيت فنا كړي، او چي كله ئې فنا كړه، نو په دې پوه سه: چي ده ته يو لويه برخه د دې فنائيت په وجه حاصلېدونكې ده.

## د سيداحمدكبير رفاعي رحمة الله عليه واقعه:

حضرت سيد احمد كبير رفاعي رحمة الله عليه زموږ به بزرګانو كي تير سوى دى، او د الله تعالىٰ په اولياؤو كي د ډېري لوړي درجې "ولي" وو، ده ته يو ځل داسي واقعه پېښه سوه، چي شايد په دنيا كي به بل چا ته داسي واقعه نه وي ور پېښه سوې.

هغه دا: چي ټوله عمر د ده په زړه كي د پېغمبر ﷺ د روضې (قبر) د حاضرۍ ارزو او تمنىٰ ګرزېدله ده، د ډېرو ارزو ګانو او تمناوو څخه وروسته الله تعالىٰ ده ته د حج سعادت ور نصيب كړى، او حج لره ولاړى.

د حج څخه د فراغت وروسته "مدينې منورې" ته راغلى، چي كله د پېغمبر ﷺ "روضه اقدس" ته حاضر سو، نو په دې وخت كي بې ساخته د عربي زبان دوه اشعار د ده پر ژبه راغلل:

﴿فِي حَالَةِ الْبُعْدِ رُوحِي كُنْتُ أُرْسِلُهَا ... تُقَبِّلُ الْأَرْضَ عَنِّي وَهِيَ نَائِبَتِي﴾

﴿وَهَذِهِ نَوْبَةُ الْأَشْبَاحِ قَدْ حَضَرَتْ ... فَامْدُدْ يَمِينَكَ كَيْ تَحْظَىٰ بِهَا شَفَتِي﴾

اى د الله رسوله! چي كله زه ستا څخه لېري وم، نو د لېري والي په حالت كي به ما "روضه اقدس" ته خپل روح را استوى، او هغه به زما نائب او قائم مقام وو، او ستا د "روضې" ځمكه به ئې مچوله.

نن چي كله الله تعالىٰ په خپل فضل او كرم سره ما ته جسماني طور حاضري رانصيب كړه، نو ته خپل لاس مبارک را وغځوه چي زما شونډان په هغه باندي سيراب او فيضيابه سي، يعني چي ستا لاس مبارک مچ كړي.

د ده د دې اشعارو د وينا څخه وروسته فوراً د قبر مبارک څخه يو نوراني لاس را ووتى، او چي څومره خلګ هلته حاضر وو، هغو ټولو د هغه لاس ...

وکړی، او حضرت سید احمد کبیر رفاعي رحمة الله علیه هغه لاس مچ کړی، د هغه څخه وروسته هغه لاس واپس قبر ته ولاړی، اوس حقیقت څه دی؟ الله تعالی په هغه بنه خبر دی.(¹)

د دې واقعې د پیښېدلو څخه وروسته د سید احمد کبیر رفاعي رحمة الله علیه په زړه کې دا خیال راغلی: چې نن خو الله تعالی ماته دومره لوی اعزاز را کړی، او زما سره ئې دومره لویه د اکرام معامله وکړه، چې تر نه پوري به داسي معامله د بل چا سره نه وي سوې، هسې نه چې د هغې په وجه زما په زړه کې عجب او تکبر او لوئي پیدا سي، او زما دپاره د هلاکت ذریعه وګرځي.

چنانچه د هغه څخه وروسته راغلی، او د "مسجد نبوي" په دروازه کې پرېوتی، او ټوله حاضرینو ته ئې وفرمایل: چې زما په خدای قسم یو سړی به هم تر هغه وخت پوري ونه وزي چي یوه پښه ئې زما پر ګردن(غاړه) اېښې نه وي، یعني چي هر سړی وزي یوه پښه به زما پر غاړه ایږدي، او دوهمه پښه به زما تر سر اړوی، او په دې شکل به د "روضې" څخه د باندي وزي، چې د لوئي او عجب او کبر شائبه زما د زړه څخه ووزي، نو په دې شکل هغه د خپل تکبر او عجب علاج وکړی، دا واقعه صرف بطور تعارف ستاسو مخته پیش کړه.(²)

اصل واقعه مې دا بیان وله، چې یو ځل سید احمد کبیر رفاعي رحمة الله علیه بازار ته روان دی، که ګوري په لاره کې یو خارښي سپی پروت دی، چې هغه د خارش او بیمارۍ په وجه تللی نه سي، او د ډېري بیمارۍ او تکلیف په حالت کې ژوند ور باندي تېرېږي.

چې کم د الله تعالی نیک بندګان وي، د هغو د الله د مخلوق سره هم بې پناه شفقت او محبت وي، او دا محبت او شفقت د دې علامه وي: چې د دوی د الله تعالی سره خصوصي تعلق دی، لکه: مولانا رومي رحمة الله علیه فرمایلي دي:

---

(¹) البیان المشید للظفر احمد العثماني: صفحه نمبر ۲۱ تا ۲۵

(²) نزهة المجالس منتخب النفائس: باب في فضل الجهاد: صفحه نمبر ۱۹۰

ز تسبیح وسجاده ودلق نیست ☆ طریقت بجز خدمت خلق نیست

يعني د تسبيح او مصلې او ګدړۍ نوم طريقت نه دی، بلکه طريقت په حقيقت کي د الله د مخلوق د خدمت کولو نوم دی.

حضرت ډاکټر عبدالحی رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي کله يو بنده د الله تعالی سره محبت کوي، او د الله تعالی هم د ده سره محبت وي، نو الله تعالی د ده په زړه کي د مخلوق محبت ور واچوي، چي د هغه په نتيجه کي د دغه انسانانو د الله په مخلوق کي انسانان خو څه کوې، بلکه د حيوانانو سره دومره محبت پيداسي، چي موږ او تاسو د هغه فکر او تصور نه سو کولای.

بهر حال چي کله سيداحمد کبير رفاعي رحمة الله عليه هغه سپی په دغه حالت کي وليدی، نو د ده پر هغه باندي رحم راغلی، او هغه ئې را پورته کړی، او خپل کور ته ئې راوړی، او د هغه دپاره ئې حکيم او ډاکټر را طلب کړی، او په هغه سره ئې د هغه سپي علاج او دوا وکړه.

او روزانه به ئې د هغه بدن په مرهمو باندي غوړاوی، او په خپل لاس به ئې د هغه خدمت کاوی، تر دې حده چي کله الله تعالی هغه سپي ته صحت ورکړی، نو خپلو مريدانو ته ئې وفرمايل: که چيري په تاسو کي يو سړی روزانه د دې سپي خورک او نفقه پر خپل ذمه باندي اخلي نو د ځان سره دي ئې يوسي، ورنه بيا زه په خپله د ده خدمت کوم، او د ده د نفقې او خورکې بندوبست برابره وم، په دې شکل ده د هغه سپي پرورش او خدمت وکړی.

## د يو سپي سره مکالمه:

د دې واقعې څخه وروسته يوه ورځ سيداحمد کبير رفاعي رحمة الله عليه پر يو لار باندی روان دی، او د باران زمانه ده د فصل او کښتو په مابين کي نرۍ لاره ده، چي د هغه دواړه طرفونه ډېري زياتي ختې دي.

چي کله ئې پر دې نرۍ لار باندي ډېر زيات مزل وکړی، نو د دغه نرۍ لار باندي،

دوارو طرفو ته ئې ختې دي، دی او سپی دواړه نه سي سره تیرېدلای، دي هم ودریدی، او هغه سپی هم ودریدی، او دواړه پر لاریو بل ته مخامخ ولاړ دي.
اوس به یا سپی ختو ته شوه کیږي، او دی به پر لار باندي تیریږي، او یا به دی ختو ته شوه کیږي، او سپی به پر لار باندي تیریږي، نو د هر یوه په زړه کي ئې کشمکش او سوچ او فکر روان دی، چي څه وکړي، اوڅوک به ختو ته شوه کیږي، ایا زه به شوه کیږم، او سپي ته به لار ورکوم، او که به سپی شوه کیږي، ماته به لار راکوي.
په دې وخت کي د حضرت سید احمد کبیررفاعی رحمۃ اللہ علیہ د سپي سره یو څه مکالمه او وینا وسوه، الله تعالی په دې ښه خبر دی، چي دا مکالمه څنګه وسوه، کیدای سي: چي الله تعالی بطور کرامت دې سپي ته د لږ ګړي دپاره د وینا کولو طاقت ور کړی وي، او واقعي دا مکالمه سوې وي، او دا هم کیدای سي: چي ده دي په خپل زړه کي دا مکالمه کړې وي.
بهر حال په دې مکالمه کي حضرت سید کبیر رحمۃ اللہ علیہ سپي ته وویل: چي ماته لار راکړه، او ته لاندي شوه سه، چي زه پر دې لار باندي تیرسم.
سپي په جواب کي ورته وویل: چي ته خو ډېر لوی درویش او د الله "ولي" ئې، او د الله د اولیاؤ خو دا حال وي، چي هغه همېشه د نورو سره د ایثار معامله کوي، او د بل د راحت دپاره قرباني ورکوي، ته څنګه د الله ولي ئې، چي ماته د شوه کیدلو حکم راکوې، او په خپله نه شوه کیږې؟
حضرت کبیر احمد رحمۃ اللہ علیہ په جواب کي ورته وایي: چي خبره دراصل داده: چي زما او ستا په مابین کي فرق دی، هغه دا: چي زه مکلف یم، او ته غیر مکلف ئې، زه لمونځ کوم، او ته لمونځ نه کوې.
که چیري ته لاندي شوه سې، نو په ختو کي ستا جسم ناپاکه سي، نو ستا دپاره غسل کول او طهارت حاصلول ضروري نه دي، که چیري زه لاندي شوه سم، زما کپړې ناپاکه سي، زه په لمانځه مکلف یم، او پرما باندي د لمانځه وخت رانزدې

دی، هسې نه چې زما په لمانځه كي خلل راسي، په دې وجه زه وتاته وايم، ته لاندې شوه سه، او ماته د تيرېدلو لار راكړه.

## د زړه ګندګي:

هغهٔ سپي په جواب كي ورته وويل: اى كبيراحمده! عجيبه خبره دې وكړه، چې زما به كپړې خرابې او ناپاكه سي، زه درته وايم، كه چيرې ستا كپړې خرابې او ناپاكه سي، نو د هغه علاج دادی: چې هغه وكاږه، او په اوبو ئې پرېوله، نو به پاكې سي.

لېكن كه چيرې زه لاندې شوه سم، نو ستا به زړه ناپاكه او ګنده سي، ځكه: چې ستا په زړه كي به دا خيال راسي: چې زه د دغه سپي څخه افضل يم، زه انسان يم، او دا سپی دی، نو ځكه ده ماته لار راكړه، او د دغه خيال په وجه به ستا په زړه كي داسې ګندګي پيداسي: چې د هغه د پاكولو به يا هيڅ لار نه وي، نو ځكه بهتره داده: چې د زړه د ګندګی پر ځای د كپړو ګندګي اختيار كړه، او لاندې شوه سه.

ده چې كلهٔ د سپي دا جواب واورېدی، نو دستي ئې ځان وشا ته كړی، او د لارې څخه و څنډو ته ور شوه سو، او سپي ته ئې لار وركړه، او ورته وايي: چې تا ماته صحيح مشوره راكړه، يقيناً هم كپړې دوباره په اوبو باندې پاكيږي، لېكن خدانخواسته كه مې چيرې زړه ګنده سي، نو د هغه د صفائي دپاره يا لار نه برابرېږي.

چې كله دا مكالمه وسوه، نو كور ته راغلی، د شپې په خوب كي الله تعالی وينې هغه ورته فرمايي: اى احمدكبيره! زما د يو مخلوق (سپي) سره دې احسان كړی وو، نن د هغه مخلوق (سپي) په ذريعه ما تاته دا سې علم دركړی، چې ټول علمونه د هغه په مقابل كي د يوې قطرې (څاڅكي) حيثيت لري، او هغه علم د دوی په مقابله كي د درياب حيثيت لري، او دا داسې علم دی: چې د دنيا ټول علوم پر هغه باندې قربان دي.

هغه علم دادی: چې انسان په دنیا کې خپل ځان باید تر سپې هم افضل نه وبولي، او سپی د خپل ځان په مقابله کې باید حقیر او خوار او سپک متصور نه کړي.(۱)

چې کله د انسان په دماغ کې دا حقیقت کښېني، نو داد ده دپاره د دنیا د ټولو علومو څخه لوی او بهترین علم بلل کېږي.

## د حضرت بایزید بسطامي رحمة الله علیه واقعه:

حضرت بایزید بسطامي رحمة الله علیه یو ډېر "جلیل القدر" بزرگ تېر سوی دی، د ده واقعه مشهوره ده، چې د مرګ څخه وروسته یو مرید په خوب کې ولیدی، او پوښتنه ئې ځنې وکړه، چې حضرت! الله تعالی ستاسره څه معامله وکړه؟ ده په جواب کې ورته وویل: زما سره ډېره زیاته عجیبه معامله وسوه.

هغه دا: چې کله زه د الله حضور ته پېش سولم، نو الله تعالی پوښتنه را څخه وکړه، چې څه عمل دې راوړی دی؟ ما د ځان سره فکر وکړی، چې څه جواب ور کړم، او خپل کم عمل د الله وحضور ته پېش کړم، ځکه چې زما سره خو هېڅ داسي عمل نسته چې د الله و حضور ته د پېشولو لائق وي.

نو ما دا جواب ور کړی: یا الله! هېڅ مې هم نه دي راوړي، خالي لاس راغلی یم، ستا د کرم څخه ماسوا زما سره هېڅ نسته.

الله تعالی راته وفرمایل: هسې خو تا لوی لوی اعمال کړي دي، لېکن ما ته ستا په اعمالو کې یو عمل ډېر خوښ ګرځېدلی دی: نن د هغه عمل په وجه ستا مغفرت کوم.

هغه عمل دادی: چې یوه شپه ته د تهجد د لمانځه دپاره را پورته سوې، چې کله دې وکتل نو د یو "پېشو" کشنی بچی د یخ څخه بلګ وهی، او رېږي، نو ستا پر هغه باندې رحم راغلی، او په خپله "چپنه" کې دې ځای ورکړی، او د هغه

(۱) اصلاحي خطبات: جلد نمبر ۵: صفحه نمبر ۴۶

هغه تكليف دي ليري كړي، او هغه د "پيشو" بچي په ارامه سره ستا په "چپنه" كي شپه تيره كړه، او تا خپله شپه د تهجد په لمانځه كي تيره كړه.
چونكه ستاد غه عمل پر ډېر اخلاص باندي بنا وو، او زما د رضا څخه علاوه په دې عمل كي ستا بل هيڅ غرض نه وو، بس ستا دغه يو عمل ماته دومره خوښ سو، چي د هغه په وجه نن ستا مغفرت كوم.(۱)
حضرت بايزيدبسطامي رحمة الله عليه چي په دنيا كي ئې ډېر لوی علوم او معارف حاصل كړي وو، او ژوند ئې ټول د الله په عباداتو او طاعاتو كي تير كړی وو، نو هغه ټوله هلته نيمګړي پاته سول، هلته صرف داغه يو عمل الله تعالى ته خوښ وګرځيدی، چي ژوند په عاجزي كي تيرول، او د الله د مخلوق سره احسان كول.

## د خبري حقيقت:

بهر حال حضرت سيداحمد كبيررفاعي رحمة الله عليه ته د الله د طرفه دا علم ور كول سو، چي ټوله علوم يو طرف ته او دغه علم چي "زه بې حقيقته شی يم" او زما په ذات كي هيڅ حقيقت نسته دا د ټولو علومو جان دی، او د ټولو علومو مغز، او لب لباب، او خلاصه ده، چي د الله د طرفه ور كول سو، د دغه علم دوهم نوم تواضع او عاجزي ده، چي انسان ئې په خپل نفس او زندګي كي پيدا كړي.

## د تواضع حاصلولو طريقه:

د تواضع حاصلولو طريقه داده: چي همېشه د خپل ځان متعلق دا خيال او فكر كوه، چي زه خو يو بنده يم، الله تعالى چي څه زما پر ذمه راكړي دي، هغه به كوم، كه مي چيري الله تعالى پر يو منصب كښېنوي، نو هم به هغه كار كوم، زه د ده بنده او غلام يم، لېكن الله تعالى چي څه راكړي يارا ښوولي دي، دا محض د ده عطا ده، نو په دې طريقه به د انسان په زندګي كي شكر او تواضع دواړه جمع

(۱) اصلاحي خطبات: جلد نمبر ۵: صفحه نمبر ۴۸

کیږي، نو ځکه صوفیاء کرام فرمایي: چي عارف جامع اضداد وي، یعني چي کم چاته الله تعالی معرفت ورنصیب کړی وي، نو هغه داسي اعمال سره جمع کوي، چي په ظاهر یو د بل ضد او نقیض معلومیږي.
مثلاً یو طرف ته به د خپل عمل تحقیر او سپکاوی هم نه کوي، او دوهم طرف ته به پر دغه عمل باندي عجب او خودپسندي هم نه کوي، او دا به ئې سوچ او فکر وي: چي زما په نسبت خو دا عمل حقیر دی، او د الله تعالی په نسبت دا عمل عظیم دی، ځکه داد الله تعالی د طرفه یو انعام دی، نو په دې شکل دا دواړه اعمال سره جمع کیږي.

## خلاصه:

اول په دې خبره سر خلاصول: چي تواضع که څه هم د زړه عمل دی، چي په زړه کي به انسان خپل ځان بې حقیقته بولي، لېکن د دې خبري د استحضار د پاره به انسان عملاً دا کوي: چي د هیڅ یو کار څخه به هم خپل ځان لوړ نه بولي او نه په یو کار کي شرم او عار محسوسه وي، او نه به دا سوچ کوي: چي دا کار زما تر مرتبه کم دی، بلکه د هر قسم کښني عمل د پاره به همېشه تیار وي.
او دوهم دا: چي په خپل نشست و برخاست په خپل تګ او راتګ، او په ناسته او ولاړه کي به داسي طریقه نه اختیاروي، چي په هغه کي تکبر راځي، بلکه د عاجزی او انکساری ژوند به خپلوي، که څه هم تواضع خو پر دې باندي منحصره نه ده لېکن دا هم د تواضع حاصلولو یو طریقه ده.
چي د هغې خلاصه دا: چي په ظاهري افعالو کي به هم انسان عاجزي او انکساري اختیاروي، انشاء الله د دې په ذریعه سره به الله تعالی د ده په زړه کي تواضع پیدا کوي.
الله تعالی دي په خپل فضل او کرم سره زموږ په ظاهر او باطن کي تواضع پیدا کړي. (آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د اسلام د ارکانو فلسفه

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعت | اول |
| تـاريـــخ | ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ﴾(١).

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ﴿بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ، شَهَادَةِ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللّٰهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ الْبَيْتِ﴾ (٢).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو په مخ کي ماد پيغمبر ﷺ يو روايت پيش کړی، د دې روايت راوي حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه دی.

دی مبارک روايت کوي: چي پيغمبر ﷺ به فرمايل: چي د اسلام عمارت پر پنځو(۵) ارکانو باندي بناء او جوړ دی.

١. ........شَهَادَةِ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللّٰهِ﴾ د الله د وحدانيت او د رسول الله ﷺ د رسالت گواهي پېشول.

٢. ........وَإِقَامِ الصَّلَاةِ﴾ د لمانځه پابندي کول.

٣. ........وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ﴾ زکوة ادا کول.

۴. ......... وَصَوْمِ رَمَضَانَ﴾ او د رمضان المبارک د میاشتي روژې نیول.
۵. ......... وَحَجِّ الْبَيْتِ﴾ او د "بیت الله" حج کول.

نو اسلام در حقیقت یو عمارت دی، چي د هغه عمارت ستني او ارکان دغه پنځه عبادات دي.
د دې ټولو عباداتو یو فلسفه او پس منظر دی، چي علماؤ په دې شکل باندي لیکلي دي.

## د پنځو (۵) ارکانو فلسفه و پس منظر:

د دنیا په انسانانو کي دا دستور او رواج دی: چي په دوی کي که چیري یو سړی یو مطلوب او مقصود حاصلول غواړي، نو د هغه د حصول دپاره اسباب او ذرائع استعمالوي، او د هغه د حصول دپاره دی تر یو څو مراحلو تیریږي.
تاسو لږ په ښکاره الفاظو په دې خبره سر خلاص کړئ: چي په دنیا کي یو عاشق حقیقي وي او یو عاشق مجازي.
عاشق مجازي چي کمي مرحلې تیروي، او د هغه څخه وروسته خپل منزل مقصود ته د ځان رسولو کوشش کوي، بعینه د جواز په درجه کي به عاشق حقیقي هم د دغسي مراحلو طی کولو څخه وروسته خپل محبوب حقیقي ته ځان رسوي.
داهیڅ کله هم کیدای نه سي: چي یو انسان د خپل مجازي محبوب د حصول دپاره مشقتونه برداشت کوي، او یو حقیقي عاشق دي د محبوب په حصول کي د هغه غوندي مشقتونه برداشت نه کړي، او بغیر د مشقته دي حقیقي محبوب ته خپل ځان وصل کړي.

## د کلمه توحید فلسفه:

یو مجازي عاشق چي کله د خپل محبوب د حصول میدان ته راشوه سي، او د خپل محبوب د وصل په تلاش کي روان سي، نو د ټولو څخه مخکي د محبوب د

اوصافو په قصيدو کي رطب اللسان وي، يعني د نظم او د نثر په ذريعه د خپل مجبوب داسي تعريفونه بيانوي: چي د هغه په اورېدو سره چي هر څومره سنگدل انسان وي، نو د هغه زړه د موم غوندي نرم کيږي.
د ی په خپلو تعريفو او قصيدو سره دا کوشش کوي: چي خپل محبوب تر يو حده پوري دې ته مجبور کړي: چي هغه د ده و طرف ته مائله سي.
چنانچه د عربي شعراء اوږدې اوږدې قصيدې او د عجمي شعراء اوږده اوږده نظمونه او غزلي زموږ او ستاسو و مخته ښکاره مثالونه دي.
کله کله هغه د خپلو محبوبانو د خوشحاله کولو دپاره د هغو د سترگو تشبيه د بيابان د "هوسيو" سره ور کوي، او کله خو د هغو د بدن د صفائي تشبيه د "شترمرغ" د "هگيو" سره ورکوي، کله خو لا داسي هم وسي: چي د هغه د ښائست تشبيه د سپوږمۍ او لمر د چمک او دمک سره ورکوي.

## د هوسيو تشبيه:

مجنون د ليلی د خوشحاله کولو دپاره آخر کمه کمي پريښې ده، يو ځل په صحرا کي گرځي، او د ده و مخته د "هوسيو" يو گله راځي، نو د ی هغه په دې شکل د ځان مخاطبين جوړوي، او په دې سره خپله محبوبه خوشحاله کوي.

﴿بِاللهِ يَا ظَبَيَاتِ الْقَاعِ قُلْنَ لَنَا ... لَيْلَايَ مِنْكُنَّ لَمْ لَيْلَى مِنَ الْبَشَرِ﴾.

ای د دښت او د صحرا "هوسيو"! د خدای په خاطر دا خو راته ووايأست: چي زما ليلی ستاسو د جنس څخه ده، او که د انسانانو.

﴿اُرِيدُ لِاَنْسى ذِكْرَها فَكَاَنَّما ... تُمَثَّلُ لِي لَيْلَى بِكُلِّ سَبِيلٍ﴾.

زه اراده لرم، چي دا هيره کړم، او د دې محبت د خپل زړه څخه ليري کړم، لېکن څه وکړم، چي په هره لار کي تيرېږي، زما ليلی ماته ولاړه ښکاريږي.

## د مجنون حج لره تلل:

چي کله مجنون د "ليلیٰ" په محبت کي د ليونيانو په شان گرځېدی، او د هغه په محبت کي به ئې ډېر اشعار ويل، نو يو ځل خپلو قربانو د ده و پلار ته مشوره ورکړه، چي د حج په موسم کي که چيري مجنون د "بيت الله" حرم ته ور وستل سي، او د "بيت الله" په پردو پوري منګلي ولګوي، او په دې دوران کي دی د الله تعالیٰ څخه دا دعا وغواړي:

......اَللّٰهُمَّ أَرِحْنِي مِنْ حُبِّ لَيْلَى﴾ ای الله! ماته د ليلیٰ څخه نجات را کړه، نو الله تعالیٰ به ده ته نجات ورکړي.

پلار چي کله دی د "بيت الله" حرم ته راوستی، او د طواف کولو څخه وروسته ئې ورته وويل: چي د "بيت الله" په پردو پوري منګلي ولګوه، او دا دعا وغواړه:

......اَللّٰهُمَّ أَرِحْنِي مِنْ حُبِّ لَيْلَى﴾ ای الله! ما د ليلیٰ د محبت څخه خلاص کړه.

دی چي کله "بيت الله" ته ودرېدی، او لاس په دعا پورته کوي، نو د خولې څخه ئې دا دعا وزي:

......اَللّٰهُمَّ زِدْنِي لِلَيْلَى حُبّاً إِلَى حُبِّهَا، وَأَرِنِي وَجْهَهَا فِي خَيْرٍ وَعَافِيَةٍ﴾ ای الله! زما په زړه کي د ليلیٰ محبت نور هم را زيات کړه، او ماته د دې مخ په خير او عافيت کي را ښکاره کړه، چي کله ده دا دعا وغوښته نو پلار دی وواهی، او د "بيت الله" په حرم کي ئې بې عزته کړی، نو دی د هغه په جواب کي خپله تمنّی د اشعارو په شکل د الله په دربار کي داسي پېشوي:

﴿اَللّٰهُمَّ لَا تَسْلُبَنِّي حُبَّهَا أَبَدًا ... وَيَرْحَمُ اللهُ عَبْدًا قَالَ آمِينَا﴾.

ای زما ربه! زما د زړه څخه هيڅ کله د ليلیٰ محبت مه ليري کوه، او زما پر دې دعا چي څوک امين وايي پر هغه باندي رحم وکړه.

﴿قَضَاهَا لِغَيْرِيْ وَابْتَلَانِيْ بِحُبِّهَا ... فَهَلَّا بِشَيْءٍ غَيْرِ لَيْلَى ابْتَلَانِيَا﴾.

زه دي د ليلٰى په محبت کي مبتلا کړم، او ليلٰى دي بل ته ورکړه، افسوس چي زه د ليلٰى څخه علاوه د بل چا په محبت کي مبتلا ولي نه سوم.
د مکې مکرمې په حرم کي ناست دی، او د الله تعالى څخه په دې الفاظو مناجات کوي.

﴿ذَكَرْتُكَ، وَالْحَجِيْجُ لَهُ ضَجِيْجُ ... بِمَكَّةَ وَالْقُلُوْبُ لَهَا وَجِيْب﴾.

ای الله! ما ته هغه وخت هم ياد کړی وې، چي کله په مکه مکرمه کي حجاج کرام په زور زور سره تا رابولي، او د هغوی زړونه وېرېدلي دي.

﴿فَقُلْتُ، وَنَحْنُ فِي بَلَدٍ حَرَامٍ، ... بِهِ لِلّٰهِ أُخْلِصَتِ الْقُلُوْب﴾.

موږ چي کله په بلد حرام کي وو: چي هلته هر زړه د الله و حضور ته خپل اخلاص ښکاره کوي، په هغه وخت کي مي دا وويل:

﴿أَتُوْبُ إِلَيْكَ، يَا رَحْمٰنُ! مِمَّا ... عَمِلْتُ، فَقَدْ تَظَاهَرَتِ الذُّنُوْبُ﴾.

ای زما ربه! زه تا ته توبه کاږم، د هغه ټولو ګناهونو څخه چي زما څخه بار بار سوي دي.

﴿وَأَمَّا مِنْ هَوَى لَيْلَى وَحُبِّيْ ... زِيَارَتَهَا فَإِنِّيْ لَا أَتُوْبُ لَا أَتُوْبُ﴾.(۱)

يا ته سو، د ليلٰى محبت او د هغې زيارت نو د هغه څخه زه توبه نه کوم، زه توبه نه کوم.
دا او د دې څخه علاوه د شعراؤو قصائد چي د خپلو محبوبينو د حصول دپاره ئې وايي، او په هغه سره دوی کوشش کوي، چي خپل محبوب و ځان ته مائل او متوجه وګرځوي.

(۱)المدهش ... [illegible]

## د یو مرغۍ واقعه:

په یو کتاب کي لیکلي دي، چي د سلیمان علیه السلام په زمانه کي یو کشني مرغه (چوغک) هغه د خپل جنس مؤنث مرغۍ (چوغکي) سره تعلق قائم کول، غواړي.
چونکه هغه د ده سره په تعلق قائم کولو باندي راضي نه ده، نو یو طرف او بل طرف ته خپل ځان ځني ګرځوي.
دی و هغه مرغۍ ته وايي: چي زما څخه یو طرف او بل طرف ته مه ځغله، او زما سره تعلق قائم کړه، ته زما څخه ځان نه سې خلاصولای، ځکه زما سره دومره طاقت دی، که وغواړم نو د سلیمان علیه السلام دا ټوله محل پورته کولای سم، او هم ئې په دریاب کي غورځولای سم.
حضرت سلیمان علیه السلام ته چي کله د دې مرغه د ګستاخۍ معلومات وسو، نو ده هغه مرغه را طلب کړی، او ورته وايي: چي دا دومره ګستاخي دي ولي وکړه؟
هغه مرغه په جواب کي ورته وايي: ای د الله نبي ﷺ هر عاشق د خپل محبوب د حصول دپاره د غه رنګه بې ځایه تعریفونه کوي، نو ما هم د خپل محبوب د حصول دپاره د خپل ځان په دا شان تعریف وکړی، چي زما محبوب زما طرف ته میلان وکړي، حضرت سلیمان علیه السلام د دې خبري د اورېدو سره دی معاف کړی.(۱)
لکه څنګه چي په مجازي عشق کي دمحبوب د حصول دپاره د تعریفاتو دا سلسله وي، بلکل داغه رنګه د جواز په حدود کي دننه یو مسلمان د خپل محبوب حقیقي د رضا دپاره د ټولو څخه مخکي زباني تعریفونه کوي، چنانچه د دې تصور شریعت مطهره په دې الفاظو بیان کړی دی:

(۱) طلی تقریر: جلد نمبر۲: صفو نمبر۲۸۶

........ ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾(١) ای مؤمنانو ! د الله تعالى ذكر په ډېر كثرت سره كوئ.

چنانچه په قرآن كريم كي د ټولوڅخه زيات اعلى او افضل هغه آياتونه او سورتونه دي: چي په هغه كي زيات د الله تعالى شان بيان سوى وي، او په هغه كي زيات د الله تعالى تعريفونه وجود لري.

او په حديث شريف كي هم پيغمبر ﷺ فرمايي:

........ ﴿أَكْثِرُوا ذِكْرَ اللهِ حَتَّى يَقُولُوا: مَجْنُونٌ﴾(٢) تاسو د الله تعالى ذكر په دومره كثرت سره كوئ: چي د انسانانو پر تاسو د ليونيانو گمان راسي.

نو دا هغه د عشق اوله مرحله ده، چي د انسان د ژبي او د تعريفاتو بيانولو سره تعلق لري.

## د لمانځه فلسفه:

د دنيا د مجازي عاشقانو دا دستور او رواج دی: چي كله په زباني قصائدو او تعريفاتو سره محبوب لاس ته رانه سي.

نو هغه خلک په دوهمه مرحله كي د خپل محبوب او معشوق په تعظيم كولو كي شروع وكړي، چي په دې شكل خپل محبوب لاس ته راولي.

نو دوی د خپل محبوب و مخته عاجزي كوي، نو كله د هغه و مخته دست بسته ولاړ وي، كله خپل سر ورته كږوي، او كله د ملا كږولو په شكل د هغه و حضور ته خپله تواضع پېشوي، او كله خو د هغه په پښو كي ور لوېږي، او خپل سر د هغه په پښو كي ور ايږدي.

نو شريعت مطهره د محبوب د رضا دپاره په دغه دوهمه مرحله كي د لمانځه په شكل د تعظيم كولو تصور پېش كړی دی.

---

(١) سورة الاحزاب: آيت نمبر ۴۱

(٢) ...... ۱۱۶۸۳

چنانچه لمونځ يو داسي عبادت دی: چي د اوله سره څخه تر آخره پوري د الله تعالی تعظيم دی، ځکه لمونځ گزاره هم اول ځل لاسونه تر غوږو پوري وړي، او بيا ئې پر نامه باندي يا لاندي ايږدي، او دست بسته د الله و حضورته ولاړ وي، او بيا به په رکوع کي تواضع او عاجزي کوي، او آخر د سجدې په شکل خپل سر بلا کيفه د الله تعالی پر قدمو باندي ايږدي.

ځکه په حديث شريف کي راځي:

........السَّاجِدُ يَسْجُدُ عَلَى قَدَمِ الرَّحْمَنِ﴾.(۱)

سجده کونکی چي کله سجده کوي، نو دا په حقيقت کي د خپلي عاجزۍ کولو په شکل سر د الله تعالی پر قدمو باندي بلاکيفه لگوي.

او ده نظر د لمانځه په وخت کي د الله تعالی پر ذات باندي وي، لکه په حديث شريف کي راځي:

...........اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ﴾.(۲)

ته به د الله تعالی عبادت په داسي شکل کوې: لکه ته چي الله تعالی په سترگو وينې، او که ته هغه نه وينې، نو هغه خو تاويني، نو د لمانځه د ارکانو د ادا کولو په وخت کي که قيامه ده، او که رکوع او سجده ده، نو دا په داسي شکل ادا کول: لکه بلاکيف چي د انسان و مخته د الله ذات موجود دی، او دی ئې په سترگو ويني، او په دې اشکالو عاجزي ورته پېشوي.

او که چيري انسان د الله ذات و خپل حضورته داسي نه سي متصور کولای، نو بيا کم ازکم دا تصور خو به کوي، چي الله تعالی ما ويني، او زما عبادت ويني، او چي زه په دې خپل عبادت کي په کمو اشکالو ده ته خپله عاجزي پېشوم، هغه ټول ويني.

---

(۱) حلية الاولياء و طبقات الاصفياء: صفحه نمبر ۷۱

(۲) صحيح البخاري: حديث نمبر ۵۰

د يو عاشق حقيقي دپاره د الله تعالى راضي کول او د ځانځه په شکل هغه ته خپله عاجزي پيشول، داد ده د عشق د سفر دوهمه مرحله وي.

## د زکوة فلسفه:

د دنيا د مجازي عاشقانو دا دستور او رواج دی، چي کله په زباني تعريف سره محبوب په لاس نه ورځي، او د تعظيم په طريقه کي هم کامیابه نه سي، نو بیا هغه د محبوب د حاصلولو دپاره مال خرڅوي، چنانچه په دغه لار کي بیا هيڅ ځوک بخالت نه کوي، بلکه چي ځومره بخيل انسان وي، نو په دغه لار کي بیا ډېر لوی فیاض او مال خرڅونکي جوړيږي.

شريعت مطهره د الله تعالى چي د ټولو انسانانو محبوب حقيقي دی، د راضي کولو دپاره اود ده د وصل او قربت دپاره په دغه مرحله کي د زکوة نظام رائج کړی دی.

چي هر صاحب حيثيت انسان به د خپل مال ځخه يو مخصوصه حصه باسي، او تر غريبانو پوري به ئې رسوي، چي محبوب حقيقي خوشحاله او راضي سي، ځکه چي ظاهراً په زباني تعريف او د تعظيم په لار د ده مطلوب تر اوسه پوري ده ته نه دی حاصل سوی.

او د زکوة په ورکولو سره د ده په زړه کي د الله تعالى د مخلوق همدردي او محبت پيدا کيږي، او الله تعالى خپل قرب او وصال هغه چاته ورکوي: او محبت د هغه چا سره کوي: چي د ده د مخلوق سره محبت لري.

لکه: پيغمبر ﷺ فرمايي:

﴿...... الْخَلْقُ عِيَالُ اللّٰهِ، فَأَحَبُّهُمْ إِلَى اللّٰهِ أَنْفَعُهُمْ لِعِيَالِهِ﴾.(۱)

مخلوق د الله تعالى عيال دی، او الله تعالى د هغه چاسره زياته مينه او محبت لري: چي د هغه نفع د ده و عيال ته زياته رسيږي.

(۱) مسند ابي يعلى الموصلي: حديث نمبر ۳۳۱۵

او د زکوة ادا کولو په وجه الله تعالی دي موږ په دنیا او آخرت کي د خپلي ناراضی او غضب څخه محفوظه وګرځوي.
لکه: پیغمبر ﷺ فرمایي:
........ إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ﴾. (١)
صدقه کول نفلي وي، او که فرضي دا د الله تعالی غضب او غصه سړوي، او د صدقې په ذریعه الله تعالی انسان د بېکاره مرګ څخه محفوظه ساتي.

## د روژې فلسفه:

چي کله یو انسان د خپل محبوب د حصول دپاره د ژبي تعریف سر ته ورسوي، یا د تعظیم ټولي طریقې اختیار کړي، او د هغه څخه وروسته مال هم خرڅ کړي، لېکن بیا هم د محبوب وصال ورته میسر نه سي، نو هغه سړی وایي: چي ما خو تعریف هم وکړی، او تعظیم او تواضع او عاجزي مي هم وکړه، او مال مي هم خرڅ کړی، لېکن بیا مي هم محبوب لاس ته نه راغلی.
نو بیا خو د دنیا د دغه مجازي عاشق دا دستور دی: چي په دغه څلرمه(۴) مرحله کي دی خورک او څېښل پرېږدي، او همېشه ئې شونډان وچ کلک او پړې سوي وي.
چي په دې شکل به د محبوب پر ما باندي رحم راسي، چنانچه دی لوږه پر لوږه برداشت کوي، او د دنیا ټول لذائذ د ځان څخه لیري کړي، او په لوږه تنده کي دکور په یو ګُنج کي پروت وي.
نو شریعت مقدسه د محبوب د حصول په دې څلرمه(۴) مرحله کي روژه مقرره کړې ده، چي کله یو عاشق حقیقي خپل خورک پرېږدي، او د یو ضابطې ما تحت ټوله ورځ په لوږه او تنده کي د محبوب حقیقي د راضي کولو دپاره تېره کړي، نو د دې عمل په ذریعه به د ده د خپل محبوب ملاقات او وصال په نصیب کېږي.

---
(١) سنن ترمذي: حدیث نمبر ۶۶۴

د ځان سره وايي: چي ما خو د محبوب په تعريفو کي قصيدې وويلې، او د ده مي تعظيمونه وکړل، او د ده د رضا دپاره مي مال او دولت خرڅ کړی، او خورکه او نفقه مي پرېښووله، چي کله په دې ټولو ماته د محبوب وصال نصيب نه سو، نو اوس زما د دې ژوند او زندګی نور ضرورت نسته.

لهذا دی اوس خپلي کيږې د ځان څخه غور ځوي، او دی دومره جذباتي کيږي: چي د سر څخه خولی او د پښو څخه چوټي کاږي، او د جذب په داسي کيفيت کي راځي: چي بالکل د ليونيانو په شکل د صحراء رخ کوي، او د آباديو او کورو څخه د ده نفرت او وحشت پيدا کيږي.

او دی کور او کلي پرېږدي، او په دې اميد په صحراء او ځنګلو کي ګرځي، چي دی هغه مقامات او ځايونه ويني، چي هلته په يو زمانه کي د ده محبوب اوسيدی، او د ليونيانو په شکل د خپل محبوب پر اثارو او کنډوالو باندي کرېږي، او په خپلو اشعارو او غزلو ويلو سره د خپل زړه تسلي کوي، په خپله هم ژاړي، او نور خلګو ته د خپل حالت په ور ښکاره کولو سره، هغه ژړا ته مجبوره کوي، او چي د محبوب هر څه اثار ويني، نو پر هغه باندي د غم او اندوه يو ماتم جوړوي.

لکه: يو عاشق چي د خپلي معشوقې د کور د بارېدولو وروسته د هغه پر اثراتو او کنډوالو باندي راسي نو د خپلو جذباتو اظهار په دې الفاظو باندي کوي:

﴿أَلَا يَا مَنْزِلَ سَلْمَىٰ سَلَامٌ عَلَيْكُمَا ... هلِ الأزمنُ اللّاتِي مَضَيْنَ رَوَاجِعُ﴾.

﴿وَهَلْ يَرْجِعُ التَّسلِيمَ أوْ يَكْشِفُ العَمَى ... ثَلَاثُ الأثَافِي والدِّيَارُ البَلَاقِعُ﴾.(١)

ای د سلمی محبوبې کوره! پر تا او سلمی دواړو دې زما سلام وي، ايا تير سوی وختونه به بيا راسي؟

او ايا زما د محبوب د دې خرابه کور د نغری درې ډبرې به زما څه رهنمائي وکړي، او يا به ماته زما د سلام جواب راکړي؟

---

(١) الموازنة: صفحه نمبر ۲۱۲

مجنون خو په دې میدان کې تر نورو لس(۱۰) قدمه مخکې تللی دی، یوه ورځ د خپلو ملګرو په ډله کې د لیلی د بار سوي کور پر کنډوالو باندې راغلی، نو د هغه د کور در او دیوار مچوي، او د طواف په شان پر هغه باندې را ګرځي، نو هغه ملګري ئې ملامتوي چې ته د دې سپیرو خاورو او دیوالو څخه څه غواړې، دی په جواب کې ورته وايي:

﴿أَمُرُّ عَلَى الدِّيَارِ دِيَارِ لَيْلَى ... أُقَبِّلُ ذَا الْجِدَارِ وَذَا الْجِدَارَا﴾.

﴿وَمَا حُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِي ... وَلٰكِن حُبُّ مَن سَكَنَ الدِّيَارَا﴾.

زه چې کله د خپل محبوبې لیلی پر در او دیوار باندې تیرېږم، نو زه د هغه د کور دیوالونه مچوم، د دې کور د دیوالو محبت زه دې ته نه یم مجبور کړی، بلکه چې کم څوک په دې کور کې اوسېدلی دی د هغه محبت ما دې ته مجبوره وي.

یو ځل مجنون د خپلو ملګرو سره روان دی، نو یو سپی په مخه ورغلی، هغه په ډېر عزت پر خپل پټو باندې کښېناوی، ملګرو چې کله ملامت کړی، نو دی په جواب کې ورته وايي: لکه یو شاعر دا نقشه په دې الفاظو پېش کړې ده:

﴿رَأَى الْمَجْنُونُ فِي الْبَيْدَاءِ كَلْباً ... فَجَرَّ عَلَيْهِ لِلْإِحْسَانِ ذَيْلاً﴾.

مجنون په صحراء کې یو سپی ولیدی، نو بطور اکرام او احسان ئې پر خپل چادر او پټو باندې کښېنوی.

﴿فَلَامُوهُ عَلَى مَاكَانَ مِنْهُ..... وَقَالُوا لِمْ مَنَحْتَ الْكَلْبَ نَيْلاً﴾.

خلکو مجنون پر دغه حرکت باندې ملامت کړی، او ورته وئې ویل: چې تا د دې سپي سره احسان ولې وکړی.

﴿فَقَالَ دَعُوْا الْمَلَامَةَ اِنَّ عَيْنِيْ .....رَأَتْهُ مَرَّةً فِي حَيِّ لَيْلَى﴾.

مجنون په جواب کې ورته وویل: چې ما پر دې عمل مه ملامت کوئ، ځکه چې زما سترګو یو ځل دی د لیلی په کوڅه کې ګرځېدونکی لیدلی دی.

د محبوب د حصول دپاره په دې پنځمه(۵) مرحله کې شریعت مطهره د حج رکن مقرر کړی دی، یو عاشق حقیقي چې کله دا سوچ او فکر کوي، چې ما خو د

محبوب حقيقي د رضا د پاره حمد او ثناء هم وويل، او بيا مي د لمانځه په شکل ډېر لوی تعظيم هم وکړی، او بيا مي مال هم خرڅ کړی، او د دې سره خورک او چيښل مي هم پرېښوول، لېکن د دې ټولو سره سره محبوب حقيقي په ظاهر ماته په لاس رانه غلی.

نو اوس دا عاشق حقيقي د خپل بدن څخه کپړې ليري کوي، او د کفن په شان چادر پر ځان پېچي، او خپل سر لڅوي، او په پښو باندي داسي چوټي اغوندي، چي په هغه سره د ده پښې نه پوټېږي، نو د دې ټولو باوجود دی په کور کي زنانه او بچيان پرېږدي، د ليونيانو او د عاشقانو او د مجذوبينو په شان د هغه وطن وطرفته رخ کوي، چي په کم ځای کي د ده د محبوب کور دی. او هلته د هغه جلوه ده، نو دی بلکل د يو عاشق ديوانه په شان "بلد الله الحرام" ته ځان رسوي.

په "بلد الله الحرام" کي چي دی کله د خپل محبوب کور وويني، نو د ټولو څخه مخکي د عاشق صادق د "لبيک" د آوازونو په زوږ کي د خپل محبوب د کور طواف شروع کوي، او په منډه پر هغه باندي راگرځي.

او د طواف ابتداء د "حجراسود" د مچولو څخه شروع کوي، گويا چي دی د محبوب حقيقي کور ته راورسيدی، نو د هغه لاس ئې مچ کړی، او د هغه څخه وروسته ئې د هغه پر کور طواف شروع کړی.

په حديث شريف کي راځي: چي کله حاجي يا معتمر په عشق او جذبه باندي د "لبيک" نداء کوي، نو د مخکي پر مخ د ده سره په نداء کولو کي ډېر مخلوقات شريک سي. لکه پيغمبر ﷺ فرمايي:

......مَا مِنْ مُلَبٍّ يُلَبِّي، إِلَّا لَبَّى، مَا عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ، مِنْ حَجَرٍ، أَوْ شَجَرٍ، أَوْ مَدَرٍ، حَتَّى تَنْقَطِعَ الْأَرْضُ، مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا﴾.(١)

---

(١) سنن ابن ماجه: حديث نمبر ٢٩٢١

چي کله يو تلبيه ويونکى په عشق او شوق سره "لبيک" وايي، د ده راسته او چپه طرفته چي کاڼي، درختي، او لوټي وي، نو هغه هم "لبيک" ورسره وايي، و دا سلسله د مځکي تر انتهاء پوري رسيږي.
زموږ مشائخو کرامو ليکلي دي: چي "لبيک" د هغه نداء جواب دى: چي د الله په حکم سره حضرت ابراهيم عليه السلام کړې وه، چي د هغې ذکر الله تعالى په قرآن کريم کي د ﴿وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ﴾(۱) په الفاظو باندي کړى دى.
او د "لبيک" ويلو په وخت کي د ده پر زړه باندي د اميد او خوف عجيبه حالت وي، لکه انسان چي په دنيا کي د يو لوى حاکم پر دربار باندي حاضري کوي، نو دا ويره ورسره وي: داسي نه چي زما د بدو اعمالو په وجه دا حاضري قبوله نه وي.

**د حضرت علي زين العابدين رحمة الله عليه واقعه:**

د حضرت علي زين العابدين رحمة الله عليه په باره کي راځي: چي يو ځل ده د حج احرام وتاړى، نو مخ ئې تک زېړ سو، او بدن ئې بلګ واهى، او د هر څومره کوشش سره ئې "لبيک" نه سو ويلاى.
يو چا پوښتنه ځني وکړه، چي تاخو د احرام په شروع کي "لبيک" نه وولين، ده ورته و فرمايل: چي زما سره دا ويره ده: چي هسي نه چي زما د "لبيک" په جواب کي لا "لبيک" را ته وويل سي، يعني چي ستا حاضري زموږ په دربار کي قبوله نه ده.
: هغه ځخه وروسته ئې په ډېر مشکل سره "لبيک" ووايي، نو پر ده باندي بې هوښي راغله، او د سوارلۍ (اوښي) ځخه را يله سو، د هغه ځخه وروسته چي به

ئې کله "لبیک" وایی، نو داغه حال به ئې وو، او ټوله حج ئې په دغه شکل سر ته ورساوی.(۱)

## یوه بله واقعه:

یو بزرګ احمد حوارانی رحمة الله علیه وایي: چې زه د ابو سلمان دارانی رحمة الله علیه سره حج ته راغلم، چې کله مې احرام تړل شروع کړل، نو ده "لبیک" نه ووایی، چې کله موږ یو میل ولاړو د هغه څخه وروسته پر ده باندې بې هوښي راغله، چې کله را پورته سو، نو ماته وایي: ای احمده! الله تعالی حضرت موسیٰ علیه السلام ته وحي وکړې، چې دې ظالمانو ته ووایه: چې زما ذکر کم کوئ.
ځکه چې کله انسان د الله تعالی ذکر کوي، نو د دې آیت په طبق:
......فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ﴾(۲) الله تعالی هم د ده ذکر کوي.
لېکن که چیرې هغه ذکر کونکی ظالم وي، نو الله تعالی په لعنت سره د ظالم ذکر کوي.
د دې څخه وروسته ابو سلمان دارانی رحمة الله علیه راته ووېل: ای احمده! ما ته دا وویل سو: چې کم سړی د ناجائزو امورو سره حج کوي، او "لبیک" وایي، نو الله تعالی د ده په جواب کې فرمایي: لا"لبیک"یعني ستا "لبیک" ماته قبول نه دی، چې تر څو پوري ته د دغه ناجائز امورو څخه پرهیز و نه کړې.(۳)

## د یو بل بزرګ واقعه:

مولانا زکریا رحمة الله علیه په فضائل حج کې یوه واقعه لیکلې ده: چې یو بزرګ په مکه مکرمه کې اولس(۱۷) کاله اوسیدی، او مسلسل به ئې حج او عمرې کولې، لېکن چې کله به ده د حج یا عمرې احرام وتاړی، او "لبیک" به ئې

---

(۱) فضائل حج، صفحه نمبر ۲۶
(۲) سورة البقره، آیت نمبر ۱۵۲
(۳) اتحاف بحواله فضائل حج: صفحه نمبر ۲۹

ووايي، نو په جواب کي به "لالبيک" ورته ويل کيدل، يو ځل نوجوان د ده سره احرام وتاړی، چي کله و ده ته "لالبيک" وويل سو، نو هغه نوجوان واورېدل، ورته وايي: اکاجانه! تاته خو "لالبيک" ويل کيږي.

دی ورته وايي: بچيه! تاهم واورېدل.

هغه نوجوان ورته وويل: هو ما هم واورېدل.

نو هغه بزرگ په ژړا سو، وايي: بچيه! دا اويا(۷۰) کالو څخه مسلسل دغه جواب اورم.

هغه نوجوان ورته وايي: چي بيا ولي دومره مشقت همېشه پورته کوې.

هغه بزرگ ورته وويل: بچيه! د دې څخه ماسوا بله کمه داسي دروازه سته، چي هغه وټکوم، او بل داسي څوک لرم، چي هغه ته ورسم، زما کار کوشش کول دي، دادِ ده مرضي ده، چي قبول ئې ګرځوي، او که ئې رده وي.

بچيه! د غلام دپاره دا ښه عمل نه دی، چي هغه پردومره خبره د خپل بادار دربار پرېږدي، چي کله ئې دا وويل: نو هغه شيخ په ژړا سو، تر دې حده چي سينه او ږيره ئې په اوښکو لنده سوه، د هغه څخه وروسته ئې د "لبيک" چيغه وکړه.

هغه نوجوان واورېدل، چي د هغه شيخ په جواب کي ورته وويل سو: چي ستا "لبيک" موږ ته قبول دی، او موږ د غسي کوو، د هر هغه سړي سره چي پر موږ ئې ښه ګمان وي.

ځوان چي کله دا واورېدل، ورته وايي: ای شيخه! تاهم هغه جواب واورېدی.

شيخ جواب ورکوي: چي ما هم واورېدی، او دومره زيات ئې و ژړل، چي د هغه چيغي په ټولو انسانانو کي سره خوري سوې.(۱)

بهر حال د عشق او ليونتوب څخه سرشار حاجي د خپل محبوب په حصول کي د محبوب د کور طواف د "لبيک" په ږوږ کي په داسي شکل سر ته رسوي، کله

---

(۱) فضائل حج، صفحه ۲۷

ځغلي، او کله ورې ښوروي، او کله حجراسود مچوي، او کله په ملتزم پوري منګولي لګوي.
چې کله د محبوب د کور د طواف په منډو کې ستړی سي، نو دوه(۲) رکعته لمونځ ادا کوي، او بیا د زمزم اوبه چښي، د هغه څخه وروسته بیا په جوش کې راځي، او د محبوب په تلاش کې د محبوب د کور و څنګ ته په خلاص میدان کې د یو غره څخه تر بل غره پوري منډې وهي، او د هر غره و سر ته چې ورسیږي، نو د محبوب و کور ته د امید په نظر ګوري:
او بیا د محبوب په تلاش کې د محبوب پر اثارو باندې "جبل رحمت" ته په تیز لمر کې ځان رسوي، او هلته د خپل محبوب و حضور ته په ډېره عاجزي سره خپله ژړا او فریاد پېشوي، وروسته د مزدلفې شلې ته په دې نیت شپه را رسوي، چې هلته به د محبوب رضا ماته پیدا سي، او په زوره زوره او په چیغو د "لبیک" نداء کوي.
او بیا د شیطانانو پر څلو کاڼي اورول دي، د دې څخه وروسته چې کله د ده و خپل ځان ته پام سي، نو د بدن وریښتان غټ سوي، نوکان اوږده سوي، او د برېتو او دسر د وریښتانو بد حال دی.
د دې ټولو کولو سره دی دې خپل ځان ته ګوري، او د اوله څخه تر آخره پوري نقشه د ده په دماغ کې راځي، چې د څه دپاره او تر کمه ځایه پوري ولاړم، او ولې ولاړم، او څه په لاس راغلل، نو په دې پس منظر باندې چې دی فکر کوي، نو دا ور معلومیږي: چې تر اوسه پوري خو ماته خپل محبوب ظاهراً په لاس نه دي راغلی.
نو په دې وخت کې بیا هغه عاشق حقیقي د خپل ځان په هکله یو بل فکر خپلوي، ځکه د دنیا مجازي عاشقان چې کله په عشق کې ناکامه سي، نو بیا دوی پر خپله غاړه چاړه تیروي، او خود کشي کوي.

نو د خپل ځان د قرباني په اراده عاشق حقيقي چې کله د ټولو ويشتلو څخه فارغه سي، نو د قربانګاه پر طرف روانيږي، چې دی د خپل ځان قرباني پېش کړي، ځکه چې د هر څه کولو باوجود ده لره محبوب په لاس ور نه سي، نو دی د ځان سره دا فيصله کوي، چې نور نو زما د زندګۍ ضرورت نسته خپله زندګي به نوره په خپل لاس سره ختموم.

چې کله د قربانۍ ځای ته راورسيږي، نو د محبوب حقيقي د طرفه د رحمت يو جلک او شغله و ده ته ور ښکاره سي، او هغه اشاره ورته کوي، چې د خپل ځان پر ځای باندي حيوان ذبح کړه، هغه و ماته قبول دی، نو دی هغه حيوان په دې نيت ذبح کوي، چې اصل خو ما خپل ځان ذبح کاوی، نو دا د هغه پر ځای د فديې په نيت ذبح کوم.

چې کله دی په دې جوش سره تکبير وايي، او د حيوان قرباني کوي، نو اوس محبوب حقيقي د ده څخه راضي سي، او د محبوب حقيقي قرب او وصل او وصال و ده ته ور نصيب سي، نو پردې ځای د خپل مقصود او محبوب په حاصلولو کي دی کامياب سي.

چې کله د محبوب د وصال سفر دې ځای ته راورسيږي، نو د محبوب وصل ده ته ور پيدا سي، او د هغه په نتيجه کي دی په خپل مقصد کي کامياب سي.

نو د هغه څخه وروسته دی په هوش کي راسي، دې خپل ځان ته ګوري، نو خپل نوکان د پر غټ ور معلوم سي، نو دی حيران سي، چې زما نوکان ولي دومره غټ سوي دي، او زما وربښتان ولي دومره سره پراګنده دي، او زما جامې ولي دومره خيرني دي.

نو دی د غسل خانې طرف ته ځي، غسل کوي، صابن استعمالوي، او خپل ځان صفا کوي، نوي کپړې اغوندي، او نوکان کشني کوي، او عطر استعمالوي، ظاهراً او باطناً خپل ځان داسي صفا کوي: لکه په دغه ورځ چې دی د خپلي مور څخه پيدا سوی وي.

ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

.........مَنْ حَجَّ هٰذَا الْبَيْتَ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ كَانَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ﴾.(۱)

چي کم چا د بیت الله حج وکړی، او په هغه کي ئې فسق او فجور نه وکړی، نو د ګناهونو څخه به ئې الله تعالی داسي پاک کړي، لکه په کمه ورځ چي دی د مور څخه پیدا سوی وي.

نو په دې شکل د ده د عشق هغه داستان او عبادت سر ته ورسیږي، نو اوس د انسان په فهم کي د دې حدیث شریف مطلب راسي:

.........بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ، شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَصَوْمِ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ الْبَيْتِ﴾.

الله تعالی دي زموږ او ستاسو په ذهنو کي د دې خبرو حقیقت راولي، او الله تعالی دي پر دې خبرو باندي د عمل کولو توفیق رانصیب کړي، او الله تعالی دي زموږ او ستاسو د غه اصلاحي مجلسونه په خپل دربار کي قبول او مقبول وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

(۱) مصنف عبدالرزاق: حدیث نمبر ۸۸۰۰

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایه)

# بيماري او پرېشاني يو نعمت دی

(بيان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صـاحب |
| مـقــــــام | جامع مسنجد حاجي عبد الودود |
| اِشـــاعــت | اول |
| تــاريــــخ | ۱۳ ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تــعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ﴿إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ بَلَاءً الْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ﴾(۲).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو ومخته ما د پېغمبر ﷺ د يو حديث مبارک روايت پېش کړی، په دې حديث کي د هغه سړي د پاره بشارت او زيری بيان کړی دی: چي په مختلفو پرېشانيانو او تکليفو کي د مبتلا کيدلو سره سره د ده د الله تعالى سره تعلق او رابطه قائمه ساتي، او د دعا په ذريعه د خپلي پرېشانۍ او تکليف ليري کولو فکر کوي.

د دغه سړي دپاره په دې حديث کي پېغمبر ﷺ دا بشارت او زيري بيان کړی دی: چي ای سړيه! الله تعالى د خپل محبت په خاطر پر تا باندي دا تکليف راوستلی دی، او د دې تکليف د راتللو منشاء د الله تعالى ناراضګي نه ده.

---

(۱) سورة السجدة: آيت نمبر ۲۱

(۲) مسند اسحاق، حديث نمبر ۲۴۱۳

## تکليفونه دوه قسمه دي:

د دنيا په ژوندګۍ کې چې کله پر انسان باندې يو پرېشانې راسي، يا په يو بيماري او تکليف کې مبتلا سي، يا د مسکنت او د تنګدستۍ يا د قرض او د بېروزګارۍ تکليف وي، يا په کور کې دننه پرېشاني وي، نو د غه رنګه پرېشانۍ او تکليفونه چې پر انسان باندې راځي، عموماً دوه قسمه وي.

اول قسم: هغه پرېشانياني او تکليفونه وي: چې هغه د الله د طرفه د قهر او عذاب علامه وي، هسې خو د ګناهونو سزاء اصلاً و انسان ته په آخرت کې ور کول کېږي، لېکن بعض او قات په دنيا کې هم الله تعالی په انسان باندې د عذاب څکه کوي، په دې خاطر چې دی به د ګناه څخه راوګرځي، لکه الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايي:

.......﴿وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾.(۱)

يعني په آخرت کې چې کم لوی عذاب راتلونکی دی، موږ د هغه څخه مخکې په دنيا کې هم په انسانانو باندې د عذاب لږ څکه کوو، د دې دپاره چې دوی د خپلو بدعمليو څخه راوګرځي.

او دوهم قسم: تکليف او پرېشاني هغه وي: چې د هغه په ذريعه د بنده درجات لوړېږي، او د ده د درجاتو د بلندۍ او د اجر او ثواب په خاطر ده ته دغه تکليفونه ورکول کېږي.

## د دواړو تکليفو په مابين کې فرق:

لېکن اوس به انسان د دې دواړو قسمه پرېشانيو او تکليفو په مابين کې فرق څنګه کوي.

چې ايا دا اوس اول قسم پرېشاني ده، چې د الله تعالی د قهر او عذاب په خاطر پر ما راغلې ده.

(۱)سورة السجدة: آيت نمبر ۲۱

او كه دوهم قسم پرېشاني او تكليف دى، چي زما د درجاتو لوړوالي دپاره پر ما راغلې ده.

## بعض تكليفونه د الله عذاب وي:

در حقيقت د دې دواړو تكليفو علامات جلا جلا دي، هغه دا: كه چيري د دغه تكليفو په دوران كي انسان د الله تعالى وطرف ته رجوع كول پرېږدي، او د هغه تكليفو په نتيجه كي دى د الله تعالى د تقدير څخه شكوې او ګيلې كوي.
مثلاً دا وايي: چي (نعوذ باالله) ايا په دې ټول قوم او كلي كي يوازي زه د دې تكليف دپاره انتخاب سوى يم، او پر ماباندي دا تكليفونه ولي راځي؟ او دا پرېشاني ماته ولي راكول كيږي؟ او د دې قسم نوري ګيلې او شكوې هم د ده په دماغ كي راګرځي.
او د الله تعالى د طرفه چي پر ده باندي كم احكام ضروري دي، ورځ په ورځ په هغه كي سُستي ځني كيږي، مثلاً مخكي به ئې لمونځ كاوى، اوس د پرېشانۍ او تكليف په وجه د لمانځه په كولو كي سستي كوي، مخكي به ئې ذكر او اذكار او دعا كوله، لېكن اوس ئې زړه نه ورغواړي.
د دې تكليف د ليري كولو دپاره نور ظاهري اسباب لټوي، لېكن د الله تعالى څخه توبه او استغفار نه كوي، دعا نه غواړي، او د تكليف ليري كولو په خاطر ئې د الله و طرف ته توجه نه راګرځي.
دا د دې خبري علامه ده: چي كم تكليف او پرېشاني پر ده راغلې ده: دا د الله تعالى د طرفه پر دغه انسان باندي قهر او عذاب دى، او دا د الله تعالى ده طرفه د ده د بدو اعمالو سزاء ده، چي ده ته وركول كيږي، الله تعالى دي هر مؤمن ځني محفوظه وساتي.(آمين)

## بعض تکلیفونه دالله رحمت وي:

که چیري د تکلیفو راتللو باوجود انسان د الله تعالی و طرف ته رجوع کوي، او دُعا کوي، چي یا الله! زه کمزوری یم، دغه تکلیف نه سم برداشت کولای، ماته په خپل رحمت سره د دغه تکلیف څخه نجات راکړه.
دی په خپل زړه کي د تکلیف احساس کوي، ژړا هم کوي، او د غم اظهار هم کوي، لیکن د الله تعالی د تقدیر او فیصلې څخه په زړه کي یو زره شکوه او ګیله نه راګرځوي.
بلکه په دغه تکلیف کي د مخکي څخه زیات اوس د الله تعالی طرف ته رجوع کوي، د مخکي څخه زیات لمنځونه کوي، او دعاګاني غواړي، او د تکلیف په وخت کي زیات الله تعالی ته متوجه دی.
نو دا د دې خبري علامه ده: چي دا تکلیف د الله تعالی د طرفه دده د درجاتو د بلندی ذریعه ده، او دا تکلیفونه د ده د پاره د اجر او ثواب او رحمت باعث دي، او دا د انسان سره د الله تعالی د محبت دلیل او علامه ده.

## سوال:

اوس د انسان په دماغ کي دا سوال پیدا کیږي: چي کله دیو چا د بل چا سره محبت وي، نو هغه د ده دپاره محبوب او معشوق وي، نو عاشق او مُحِب همېشه خپل محبوب او معشوق ته آرام رسوي، او د هغه د راحت په فکر کي وي.
اوس چي کله د الله تعالی د دې بنده سره محبت دی، نو په کار خو دا ده: چي الله تعالی دې بنده ته آرام او راحت ورسوي، بیا ولي الله تعالی ده ته تکلیف رسوي، او پر ده باندي غم او پریشاني راولي.

## جواب:

د دې جواب دادی: چي په دې دنیا کي هیڅ داسي انسان نه دی پیدا سوی، چي هغه ته دي هیڅ کله هم یو تکلیف نه وي رسېدلی، که هغه په معاشره کي هر

څومره لوی نبي، او پېغمبر، ولي، او صوفي وي، يا هر څومره لوی بادشاه، او سرمايه دار وي، دا نه سي کيدای: چي هغه دي په دنيا کي ژوند ولري، او د دنيا په ژوند کي دي ده ته هيڅ نوع تکليف نه ورسيږي.

ځکه چي دغه عالم يعني دنيا الله تعالی داسي جوړه کړې ده: چي په دې کي غم او خوشحالي، او راحت او تکليف، يو ځای سره چليږي، دنيا داد خالص خوشحالی او راحت مقام نه دی.

بلکه د خوشحالی عالم او مقام جنت دی، چي د هغه په باره کي الله تعالی په قرآن کريم کي فرمايلي دي:

﴿.......لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾.(١)

هلته نه خوف، او يېره سته، او نه غم او پرېشاني پر انسان باندي راځي.

﴿......وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ، نُزُلًا مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ﴾.(٢)

او هلته د انسانانو دپاره هغه دي، چي د دوی زړونه غواړي او د دوی اشتهاء ورته کيږي، هلته بنده ميلمه او الله تعالی کوربه او جنت مهمان خانه ده، نو د اصل خوشحالی او راحت مقام خو هغه دی.

د دنيا جوړښت الله تعالی داسي کړی دی: چي په دې کي به کله خوشحالي او کله غم وي، کله يخ کله به ګرمي وي، کله لمر او کله به سايه وي، نو دلته کله يو حالت او کله بل حالت پر انسان باندي راځي، نو دا ممکنه نه ده: چي يو سړی دي د دنيا زندګي او ژوند د غم او پرېشانی څخه بغير وسر ته ورسوي.

## يوه د عبرته ډکه قصه:

حکيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه په خپلو مواعظو کي يو قصه ليکلې ده: چي د يو سړي د حضرت خضر عليه السلام سره ملاقات وسو، هغه سړي

(١) سورة يونس: آيت نمبر ۶۲

(٢) سورة فصلت: آيت نمبر ۳۱

حضرت خضر عليه السلام ته وويل: چې حضرت! ما ته دعا وکړه، چې زما په زندګي کي ماته غم او تکليف راپېښ نه سي، او زما ټوله ژوند د غم او تکليف څخه بغير راباندي تېر سي.
حضرت خضر عليه السلام ورته وويل: چې دغه دعا خو زه نه سم کولای، ځکه چې په دنيا کي پر انسان باندي غم او تکليف ضرور راځي.
البته يو کار کولای سم، هغه دا: چې ته په دنيا کي وګرځه، يو داسي سړی پيدا کړه، چې هغه د ټولو څخه زيات تاته بې غمه يا لږغم والا در معلوم سي، بيا ماته د هغه سړي معلومات راکړه، زه به د الله تعالى څخه دا دعا درلره وغواړم، چې الله تعالى دي تاته هم د هغه سړي غوندي زندګي در کړي.
هغه سړی ډېر خوشحاله سو، چې په دنيا کي به داسي سړی پيدا کوم، چې په زيات آرام او راحت کي ژوند تيروي، او زه به هم د خضر عليه السلام په دعا سره د هغه غوندي آرام ژوند ځان لره غواړم.
نو هغه سړی د دغه سي سړي پيدا کولو په تلاش د کور څخه راووتی، او د هغه په تلاش کي روان سو، کله د يو سړي په باره کي په ذهن کي فيصله وکړي، چې د دغه سړي غوندي ژوند به غواړم، بيا د هغه څخه وروسته تر هغه زيات دولت مند په نظر ورسي، نو هغه خپله فيصله بدله کړي، چې يا د دې سړي غوندي ژوند به ځان لره د خضر عليه السلام په دعا سره غواړم.
غرض دا: چې د ډېر زيات طلب او تلاش کولو څخه وروسته ده ته يو جوهري او زرګر په نظر ورغلی، چې د سپينو زرو او سرو زرو او جواهراتو او قيمتي غميو تجارت ئې کاوی.
په ډېر لوی او ښائسته دکان کي ناست وو، او کور او محل ئې هم ډېر عالي شان وو، او د دکان مخته ډېره قيمتي او اعلی قسم د هغه وخت سوارلی ورته ولاړه وه، او نوکران ئې په خدمت کي لګيا وو، او د ده خپل بچيان ډېر ښائسته نوجوانان پر ده باندي راګرځېدلي وو.

ده چي کله د هغه ظاهري حالت وليدی، نو د هغه څخه ئې دا اندازه ولګوله: چي دا سړی به په ډېر زيات عيش او آرام کي وي، نو د ځان سره ئې دا فيصله وکړه: چي بس د دغه سړي غوندي ژوند به ځان ته غواړم.
چي کله واپس روان سو، نو په سوچ او فکر کي ئې راغله، چي د دغه سړي ظاهري حالت خو ډېر ښه دی، هسي نه چي په باطن کي په يو بيماري او پرېشاني کي مبتلا وي، چي د هغه په وجه زما دغه موجوده حالت هم راباندي ودرېږي، نو د دې دپاره هغه جوهري او زرګر ته ورغلی، چي پوښتنه ځني وکړي، چي دی په څه حالت کي دی.
چنانچه د دغه سړی هغه جوهري ته نزدې ورغلی، او په غوږ کي ورته وايي: چي سړيه! ته خو په ډېر عيش او آرام کي ژوند تيروې، پر تا باندي د مال او دولت پراخي ده، او نوکر او چاکر دي په خدمت کي لګيا دي، او الله تعالی ښائسته او خوبصورته بچيان در کړي دي.
زه د خضر عليه السلام په دُعا سره ستا غوندي ځان جوړول غواړم، داسي خو به نه وي: چي تاته باطني طور يو پرېشاني درپېښه وي، او يا په مصيبت کي مبتلا ئې؟ چي زه هم سبا په هغه مصيبت کي مبتلا سم.
نو هغه جوهري هغه سړی جدا کړی، او د دکان پسخانې ته ئې بوتلی، او ورته وئې ويل: چي ستا خيال دادی: چي زه په ډېر عيش او آرام کي يم، او لوی دولت مند يم، او نوکران او بچيان د خدمت د پاره راته ولاړ دي.
لېکن که مي په زړه کي وپوښتې شايد په دې دنيا کي به زما څخه زيات په غم او تکليف کي څوک نه وي.
بيا هغه جوهري د خپلي زناني د اخلاقي حالت عبرتناکه قصه ورته شروع کړه، او ورته وايي: چي دغه خوبصورت او ځوانان زامن چي ته وينې، دا په حقيقت کي زما زامن نه دي، چي د هغه په وجه زما يو ګړی د اذيت او پرېشانۍ څخه خالي نه دی، نو زه چي دوی ته ګورم؛ زما په زړه کي د غم او د صدمې اور بلېږي،

او په وس کي مي هيڅ نه راځي، نو د خدای په خاطر زما غونډي ژوند پيدا کولو دعا د هيڅ چا څخه مه غواړه.

نو هغه سړي ته دا ور معلومه سوه: چي څومره خلګ په مال او دولت او په عيش او آرام ژوند کي ظاهراً معلومیږي، نو هغه په باطن کي خوامخوا په مصيبت او په پرېشاني کي مبتلا وي.

چي کله هغه سړی واپس حضرت خضر علیه السلام ته راغلی، نو هغه پوښتنه څني وکړه، چي راته ووايه: چي د چا غونډي ژوند او زندګي پيدا کول غواړې.

نو هغه سړي په جواب کي ورته وويل: چي ماته هيڅ يو سړی د غم او پرېشانی څخه خالي را پيدا نه سو، چي د هغه غونډي ژوند ستا څخه په دعاکولو سره و غواړم.

حضرت خضر علیه السلام ورته وويل: چي ما تاته مخکي هم ويلي وو: چي په دې دنيا کي به هيڅ يو سړی تاته بې غمه در پيدا نه سي، البته اوس به ستا دپاره دا دعا وغواړم: چي الله تعالی دي تاته د عافيت ژوند در نصيب کړي.(١)

## د غم او خوشحالی ترکيب:

ما مخکي درته وويل: چي په دې دنيا کي هيڅ يو سړی د غم او تکليف څخه خلاص نه سي کيدای، البته چاته لږ تکليف وي، د چا تکليف زيات وي، او چاته يو قسم تکليف او بل چاته بيا بل قسم تکليف وي.

الله تعالی د دې کائناتو نظام داسي جوړ کړی دی: يو چاته ئې يو قسم دولت ور کړی وي، او بل قسم دولت ئې بيا څني اخستی وي، مثلاً يو چا ته الله تعالی د صحت نعمت ور کړی وي، لیکن د هغه په بدله کي ئې د مال او دولت څخه محرومه کړی وي.

(١) اصلاحی خطبات: جلد نمبر۷، صفحه نمبر۱۱۱

د چا دکور حالات ښه وي، لېکن معاشي حالات ئې خراب وي، د بل چا بیا معاشي حالات ښه وي، لېکن په کور کي د اختلاف او بې اتفاقۍ پرېشاني وي، خو بهر حال د هر سړي حال جلا دی، او هر سړی په خپل حال کي په یو تکلیف او پرېشانیو کي اخته وي.

لېکن که چیري دغه پرېشاني اول قسم وي، یعني دالله تعالی څخه د غفلت ذریعه جوړه سي، نو دا دالله قهر او عذاب دی.

او که دوهم قسم وي، یعني د الله تعالی و طرف ته د متوجه کېدلو ذریعه جوړه سي، نو بیا د ده دپاره د رحمت او د اجر او ثواب باعث ده.

## پرېشاني او د الله تعالی محبت:

په یو حدیث شریف کي راځي: پېغمبر ﷺ فرمایي:

......إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ تَعَالَى عَبْدًا صَبَّ عَلَيْهِ الْبَلَاءَ صَبًّا﴾.(١)

چي کله الله تعالی دیو بنده سره محبت کوي، نو پر هغه باندي مختلف قسم امتحانات راولي، او هغه امتحانات پر هغه سړي باندي د باران غوندي را وروي، یعني چي یو امتحان ختم سوی لا نه وي، نو دوهم امتحان وربلندي راوره سېږي.

په بعضو روایاتو کي راځي: چي فرښتې پوښتنه کوي، چي یا الله! دا خو ستا محبوب او نیک بنده دی، او ستا سره مخبت کونکی بنده دی، نو پر دغه بنده دومره زیات امتحانونه او تکلیفونه ولي راځي؟

الله تعالی په جواب کي ورته فرمایي: چي زما دغه بنده په دغه حال کي پرېږدئ، ځکه ماته دا خبره ډېره خوښه ده: چي زه د ده د دعا او د ژړا او د فریاد آوازونه واورم، اوس دا حدیث که څه هم د سند په اعتبار سره کمزوری دی، لېکن د دې سره هم معنی متعدد حدیثونه راغلي دي.

مثلاً په يو حديث شريف کي راغلي دي، چي الله تعالى فرشتو ته فرمايي: چي زما بنده ته ورسئ، او دی په امتحان کي مبتلا کړئ، ځکه چي زه د ده د زړا او د فرياد آواز اورېدل خوښوم.
نو خبره خو هغه ده: چي په دنيا کي تکليفونه او پرېشانۍ خو پر انسان راځي، نو الله تعالى د ټولو څخه مخکي تکليفونه او پرېشانۍ پر خپل محبوب بنده باندي راولي، د دې د پاره چي دغه تکليفونه د ده دائمي راحت ذريعه جوړه کړي، او په دې سره د ده درجات بلند کړي.
او چي کله دی په آخرت کي د الله حضور ته پېش سي، نو د دغه تکليفو په وجه د ګناهو څخه د ده عمل نامه بلکل صافه او شفافه وي.
نو الله تعالى دغه تکليفونه او پرېشانۍ پر خپلو محبوبو او خوښو بندګانو باندي د دغه حکمت او غرض په خاطر راولي.

## د تکليف راتللو حکمت:

نو ما درته وويل: د الله تعالى ترتيب داسي دی: چي په دنيا کي پر مقربينو انسانانو باندي تکليفونه او امتحانات راولي، چي په هغه سره د هغو انسانانو درجات ور بلند کړي، لکه په يو حديث شريف کي پيغمبر ﷺ فرمايي:
......﴿يَقُوْلُ الْبَلَاءُ كُلَّ يَوْمٍ: إِلَى أَيْنَ أَتَوَجَّهُ يَارَبِّ؟﴾ مصيبت، غم او پرېشاني هره ورځ د الله تعالى څخه اجازت غواړي، چي يا الله! نن د چا کور ته ورسم، څوک په غم او پرېشاني کي مبتلا کړم.
......﴿فَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: إِلَى أَحِبَّائِي، وَأَوْلِيَاءِ طَاعَتِي،﴾ الله تعالى ورته وايي: چي زما د دوستانو او زما د اطاعت ګزارانو کور ته ورسه، يعني چي کم څوک زما اطاعت کوي، او زما سره محبت لري، ورسه، هغه په غم او پرېشاني کي مبتلا کړه.
......﴿كَيْ أَبْلُوَ بِكَ أَخْبَارَهُمْ،﴾ چي ستا په وجه زه د دوی د خبرو امتحان واخلم.
......﴿وَأَخْتَبِرَ بِكَ صَبْرَهُمْ،﴾ او ستا په وجه زه د دوی د صبر امتحان واخلم.

.......﴿وَأُمَحِّصَ بِكَ ذُنُوبَهُمْ﴾ او ستا په وجه دوی د ګناهونو څخه پاک کړم.

.......﴿وَأَرْفَعَ بِكَ دَرَجَاتِهِمْ﴾(۱) او ستا په وجه د دوی درجات ور بلند کړم.

تاسو د دې امت د اکابرو تاريخونه ورګورئ! چي هغوی خپل ضرورتونه قربان کړل، او تکليفونه او لوږي ئې برداشت کړې، او پر چټاپانو باندي ئې خپله زندګي تيره کړله، او دغه دين ئې تر موږ او تاسو پوري راورساوی.

چي کله د قيامت په ورځ دوی راپورته سي، نو د الله تعالی د طرفه به داسي انعامات ور کول کيږي، چي د هغه تذکره الله تعالی په خپله په دې حديث قُدسي کي کوي:

......﴿أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ مَالَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ﴾.(۲)

چي ما د خپلو نيکو بندګانو د پاره داسي نعمتونه تيار کړي دي: چي هغه نه سترګو ليدلي دي، او نه غوږو اورېدلي دي، او نه د يو چا په دل او دماغ کي د هغه فکر او تصور راګرځېدلی دی.

نو الله تعالی به د قيامت په ورځ خپلو دغه بندګانو ته وايي: چي دا نعمتونه ستاسو د دنيا د زندګی د ستړيا او تکليفو بدله ده:

........﴿يَوَدُّ أَهْلُ الْعَافِيَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِينَ يُعْطَى أَهْلُ الْبَلَاءِ الثَّوَابَ لَوْ أَنَّ جُلُودَهُمْ كَانَتْ قُرِضَتْ فِي الدُّنْيَا بِالْمَقَارِيضِ﴾.(۳)

په دغه ورځ به هغه خلګ چي هغو په دنيا کي تکليفونه ليدلي نه وي، چي کله دې نعمتو ته ګوري، نو دا به ئې تمنی وي: چي کاش په دنيا کي مې بدنونه په غچيانو پرې سوي وای، خو نن د غه نعمتونه زموږ هم په قسمت او نصيب کي وای.

(۱) کنز العمال، حديث نمبر ۶۸۵۰

(۲) مسند الشامين للطبراني: حديث نمبر ۳۳۲۷

(۳) سنن ترمذي، حديث نمبر ۲۴۰۲

## د صحابه کرامو تکاليف:

زموږ دا عقيده ده: چې د دې امت غوره انسانان صحابه کرام وو، تاسو د هغو د تکليفونو داستان خو واورئ! دهغو د زندګۍ حالات په کتابو کې دا سې ليکلي دي:

......أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا صَلَّى بِالنَّاسِ يَخِرُّ رِجَالٌ مِنْ قَامَتِهِمْ فِي الصَّلَاةِ مِنَ الخَصَاصَةِ وَهُمْ أَصْحَابُ الصُّفَّةِ﴾.

چې کله به پېغمبرﷺ د جماعت لمونځ کاوی، نو د اصحاب الصفه څه کسان به د صف د ولاړې په دوران کې د ډېرې لوږې څخه غوځارېدل، او د ولاړې طاقت به ئې نه درلودی.

حالانکه صحابه داسې طاقتور خلک وو: چې پنځه سيره اوسپنه به ئې په لاس کې د ډال په شکل او اته سيره اوسپنه به ئې پر بدن باندې د ځغرې په شکل باندې پېچلې وه، او شپږ سيره اوسپنه به ئې د توري په شکل په لاس کې ټوله ورځ به د سهار څخه تر ماښامه پورې جنګيدل.

ليکن د لوږې څخه به و دا حال ته رسيدلي وو: چې د لمانځه کولو په دوران کې به ئې د ولاړې طاقت نه ذرلودی.

......حَتَّى تَقُولَ الأَعْرَابُ هَؤُلَاءِ مَجَانِينُ أَوْ مَجَانُونَ﴾ او د اطرافو څخه به چې کمو اعرابو په لمانځه کې شرکت کاوی، او د دوی حال ته به ئې کتل نو د هغو به پر دوی باندې د ليونيانو ګمان راتلی.

......فَإِذَا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ إِلَيْهِمْ، فَقَالَ: لَوْ تَعْلَمُونَ مَا لَكُمْ عِنْدَ اللهِ لَأَحْبَبْتُمْ أَنْ تَزْدَادُوا فَاقَةً وَحَاجَةً﴾.[1]

پېغمبرﷺ چې به کله سلام په وګرځاوی، نو دوی ته به راغلی، او راپورته به ئې کړل، او بيا به ئې د تسلې په خاطر دا خبره ورته کوله: چې ای صحابه وو! که چيرې تاسو د الله تعالی په هغه نعمتو باندې خبر سئ، چې کم نعمتونه الله

[1] سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۳۶۸

تعالى ستاسو د پاره تيار كړي دي، نو بيا به تاسو دا خوښه وبولئ: چي پر موږ دي يو څه نوره لوږه او تكليفونه لاهم تير سي، خو دغه نعمتونه دي زموږ په نصيب وي.

## د عيش او عشرت د الله څخه سوال:

لکه څنګه چي مصيبت او تكليف هر سهار د الله تعالى څخه سوال كوي، داغه رنګه راحت او خوشحالي هم هر سهار د الله تعالى په دربار كي سوال كوي، چي زه د چا كور لره ورسم، او څوک په غم او تكليف كي مبتلا كړم، لكه د حديث شريف الفاظ دي:

........وَيَقُولُ الرَّخَاءُ كُلَّ يَوْمٍ: إِلَى أَيْنَ أَتَوَجَّهُ يَارَبِّ؟﴾ عيش او عشرت خوشحالي او راحت هم هره ورځ د الله تعالى څخه غوښتنه او سوال كوي: يا الله! د چا كور ته ورسو، او څوک په عيش او عشرت كي راولو.

........فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: إِلَى أَعْدَائِي، وَأَهْلِ مَعْصِيَتِي،﴾ الله تعالى ورته وايي: تاسو زما دښمنانو او زما نافرمانه انسانانو ته ورسئ، او هغوی په عيش او عشرت كي اخته كړئ.

نن سبا د بعضو خلكو په عقيده كي كمزوري وي، نو كله كله دا شكوه او ګيله څني ښكاره سي: چي ياره! كم خلک چي د الله دښمنان دي، لكه "يورپ" او "مغرب" والا نو هغه په دومره عيش او عشرت كي ژوند تيروي، او د هغه سره مالونه او دولتونه دي، او د هغه سره حكومتونه او راحتونه دي.

او موږ چي د الله تعالى عبادت هم كوو، او د الله تعالى دوستان هم ځان بولو نو موږ ته يوه ګوله ډوډی په اسانه طريقه سره ميسره نه ده، آخر دا ولي.

نو موږ ورته وايو: چي د الله تعالى ترتيب داسي دی: چي په دنيا كي څومره الله تعالى ته مقرب بندګان وي، نو هغه به ژوند په تكليفو او مسكنتو كي تيروي.

## د حضرت موسىٰ عليه السلام حالت:

تاسو گورئ! حضرت موسىٰ عليه السلام د الله تعالىٰ "اولو العزم" پيغمبر دی، هغه يو لنگ لري، چي کله خيرن سي، نو ليري ولا‌ړ سي، او هغه پرېمنځي او پر د برو ئې هوار کړي، دی ورته ناست وي، چي کله وچ سي، نو بيا ئې پر ځان و پېچي، او "مصر" ته راسي، د فرعون مقابله کوي.

او بل طرف ته د ده مقابل فرعون هغه د مځکي د يو لوی حصې ځان مالک بولي، او پر تخت باندي ناست دی، او لاسونه ئې تر ورو پوري د سرو زرو په بنگړيو کي پټ دي، لکه قرآن د هغه د وينا او د حالتو حکايت داسي کوي:

......وَنَادَى فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾.(¹)

چي فرعون په خپل قوم ته ويل: ای زما قومه! ايا د "مصر" ټوله حکومت زما نه دی؟ او زما تر قصرونو لاندي نهرونه بهيږي، تاسو ئې نه وينی؟

......أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِنْ هَذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ﴾.(²)

ايا زه تر هغه سړي ښه نه يم، چي هغه ډېر زيات ضعيف او مسکين دی، او دا خپله خبره لا په ښه طريقه نه سي کولای.

نو دا د الله تعالىٰ نظام دی، چي د کافر دپاره د دنيا زندگي د جنت زندگي بلل کيږي، نو په دې کي به ضرور حکومت مال او دولت او عزت او راحت د ده سره وي، لېکن د مؤمن دپاره د دنيا زندگي د جيل خانې زندگي ده، نو په دې کي به ضرور د تکليفو سره مخامخ کيږي.

نو چي کله عيش او راحت د الله تعالىٰ څخه غوښتنه او سوال وکړي، نو الله تعالىٰ په جواب کي ورته وايي: چي ته زما نافرمانه انسانانو ته ورسه.

---

(¹)سورة الزخرف: آيت نمبر ۵۱

(²)سورة الزخرف: آيت نمبر ۵۲

........﴿وَاَزِيْدَ بِكَ طُغْيَانَهُمْ﴾ چي ستا په خاطر زه د دوی سره کښې او نافرماني نوره هم زياته کړم.

........﴿وَأضَاعِفَ بِكَ ذُنُوبَهُم﴾ او ستا په خاطر زه د دوی ګناهونه ور دوچنده کړم.

........﴿وَاَعَجِّلَ بِكَ لَهُمْ﴾ او چي په دنيا کي ئې کم نيک اعمال کړي دي، ای راحته! ستا په شکل د هغو بدله اوس لا په دنيا کي ورکړم.

........﴿وَاُكِيْرَ بِكَ عَلَى غَفْلَتِهِم﴾(۱) او چي د کم غفلت په وجه دوی په ګناهونو کي مبتلا سوي دي، ستا په وجه د دوی هغه غفلتنور هم ور زيات کړم.

## د قيامت په ورځ د فرښتې اعلان:

لېکن چي کله د قيامت ورځ راسي، نو يو فرشته به اعلان کوي:

........﴿اَيْنَ الاَئِمَّةُ؟﴾ د مسجدانو امامان چيري دي.

........﴿اَيْنَ الفُقَهَاءُ؟﴾ علماء چيري دي.

........﴿اَيْنَ المُؤَذِّنُوْنَ؟﴾ آذان کونکي انسانان چيري دي.

زموږ په معاشره کي چي څومره د خلګو په نظر کي کښته ورځي، نو هغه د طالب او د مؤذن په شکل په مسجد کي آذان کونکي دي.

چي د کمو خلګو زندګي او ژوند د سُود او د رشوت او د حرام کار او بار په شکل روانه وي، د هغه نفقه حرامه وي، او د هغه د ټوله کور ژوند پر حرامه نفقه تيرېږي، نو هغه هم راسي، کله و ده ته په غصه سي، چي تا تر اوسه پوري لا آذان نه دی کړی.

حالانکه د دغه قسمه انسانانو څخه که ټوله دنيا ډکه سي، لا هم د هغه مؤذن د پښو د خاورو سره نه سي برابر کيدلای.

ځکه چي هغه ته الله تعالی هغه درجه ورکوي، چي د قبر خاوره د ده بدن نه سي خوړلای.

(۱) کنز العمال: حديث نمبر ۶۸۵۰

نو فرښته به د دغه دريو (۳) طبقو اعلان کوي، او په حديث شريف کي راځي:
......﴿أطْوَلُ النَّاسِ أعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾(١) چي د دوی غاړي به د قيامت په ميدان کي د ټولو انسانانو څخه بلندي او لوړي وي.

يو ځل پيغمبرﷺ د آذان کولو فضائل بيانول، حضرت عمرؓ ورته وويل: چي ای د الله رسوله! داسي معلومېږي چي ستا څخه وروسته به موږ د آذان پر کولو باندي يو د بل په مقابل کي توري سره را اخلو.

پيغمبرﷺ ورته و فرمايل: چي ای عمره! داسي نه ده، بلکه زما څخه وروسته به داسي زمانه راځي: چي خلګ به په ټوله معاشره کي و آذان کونکو انسانانو ته په سپک نظر ګوري، او آذان به د کښتي درجې په انسانانو باندي کوي.

د قادسيه په معرکه کي مؤذن زخمي سو، نو د عربو سرداران په خپل مابين کي سره اخته سول، يوه ويل: چي آذان زه کوم، او دوهم به ويل: چي نه زه ئې کوم، حضرت سعدؓ د دوی په مابين کي قرعه اندازي وکړه، چي د کم پوه نوم راوخاتی، نو بيا به آذان هغه کاوی.

## کامياب او ناکام:

نود قيامت په ميدان کي به اعلان وسي، چي دا دري طبقات انسانان د ټول انسانيت څخه د باندي راووزئ، الله تعالی به د دوی دپاره د منبر اېښوولو حکم وکړي، او د الله په امر سره به دوی پر منبرانو کښېنول سي.

دا ټول مال داران او تاجران او حاکمان به د دوی و مخته په قطارونو کي ولاړ وي، او پر هغوی باندي به د حساب سختی تيرېږي، او دوی به د ملغرو پر منبرونو ورته ناست وي.

يو فرښته به د الله د طرفه اعلان کوي:

(١)صحيح ابن حبان: حديث نمبر ١۶٧٠

......﴿اَلَا وَ اِنَّکُمْ جَعَلْتُمْ نَسَبًا وَ جَعَلْتُ نَسَبِيْ﴾ ګورئ! يوه نسبنامه ستاسو وه، يوه نسبنامه زما وه.

......﴿جَعَلْتُ اَکْرَمَکُمْ اَتْقَاکُمْ﴾ زما نسبنامه دا وه: چي په دنيا کي مي هغه انسان عزتمند ګرځولی وو، چي هغه تقوادار‌ه وو.

......﴿وَ لٰکِنْ اَبَيْتُمْ وَ قُلْتُمْ اِنَّ فُلَانًا خَيْرٌ مِّنْ فُلَانٍ﴾ لېکن تاسو زما نسبنامه و غورځوله، او خپله نسبنامه مو را پورته کړه، او دا مو ويل: چي تقوٰی هيڅ شی نه دی، بلکه چي د کم چا سره مال او دولت سته، هغه د عزت مالک دی.

﴿اَلْيَوْمَ اَضَعُ نَسَبَکُمْ وَ اَرْفَعُ نَسَبِيْ اَيْنَ الْمُتَّقُوْنَ﴾ نن زه ستاسو نسبنامه کښته کوم، او زما نسبنامه را پورته کوم، نن د عزت مالکان تقوٰی داره انسانان چيري دي؟ او تقوٰی داره انسانان به الله تعالی را طلب کړي، او د ټولو څخه زيات د عزت مقام به د هغو په نصيب سي.

## د صبر کوونکو انعامات:

نو په دنيا کي تکليفونه راتلل، او د الله تعالی د طرفه و انسان ته پر هغه باندي د صبر توفيق ورکيدل، داهيڅ کله د الله تعالی څخه د ليري والي علامه نه بلل کيږي، بلکه په حقيقت کي دا د الله تعالی د محبت نښانه وي.

ځکه په دې کائناتو کي د انبياء کرامو عليهم السلام څخه زيات محبوب هيڅ څوک نه الله تعالی ته سته، او نه کيدای سي، لېکن د هغو په باره کي د پيغمبر ﷺ وينا ده:

......﴿اِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ بَلَاءً الْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ﴾.(١)

يعني په دې دنيا کي د ټولو څخه زيات امتحانات او تکليفونه پر انبياء کرامو عليهم السلام باندي راغلي دي، بيا چي کم سړی انبياء کرامو عليهم السلام ته څومره ور قريب وي، او د هغو سره ئې تعلق وي، پر هغه باندي راځي.

---

(١)مسند اسحاق: حديث نمبر ۲۴۱۲

حضرت ابراهيم علیه السلام ته وګورئ! چي د هغه لقب خليل الله يعني د الله دوست لېکن پر هغه باندي ډېر لوی لوی امتحانات او ډېر لوی لوی تکليفونه راغلل، چنانچه په اُور کي واچول سو، او د بچي د ذبح حکم ورته وسو، او زنانه او بچي د مکې مکرمې په تورو غرو کي د پرېښوولو حکم ورته وسو، غرض دا: چي ډېر لوی لوی امتحانونه ور باندي راغلل، د دې دپاره چي د ده درجات بلند سي.

چنانچه چي کله د قيامت په ورځ الله تعالی د دنيا د امتحاناتو په بدله کي تکليف زده انسانانو ته انعامات ور کوي، نو هلته به دا معلومه سي: چي د غه تکليفو د پاره د کاڼي حيثيت نه درلودی، او هغه د دنيا تکليفونه به ټول د انسانانو د دماغونو څخه ليري سي.

## پر ناجوړي باندي اجر او ثواب:

په حديث شريف کي راځي: چي کله الله تعالی پر يو بنده باندي بيماري او ناجوړي راولي، نو الله رب العزت ملائکو ته حکم وکړي: چي د دې مريض د خولې څخه چي کم د ځګيروي آواز راځي، نو د هغه د هر ځل په مرتبه کي د "سُبحَانَ الله" د ويلو اجر او ثواب ليکئ.

او که چيري د درد په وجه هغه مريض زيات ځګيروی کوي، او د خولې څخه ئې رغ خيږي، نو د هر ځل په بدله کي د ده دپاره د "لَاإلٰهَ إلّاالله" ويلو ثواب په عمل نامه کي ليکئ.

او چي کله هغه مريض د ناجوړۍ په دوران کي ساه اخلي، نو د هر ځل ساه اخستلو په بدله کي د ده دپاره د الله په لار کي د صدقه کولو اجر او ثواب د ده په عمل نامه کي ليکئ.

او چي کله هغه مريض په حالت د مرض او ناجوړۍ کي پر بستره باندي پروت وي، نو هغه بستره د ده دپاره د الله په حکم سره د تهجد کولو مصله جوړه سي، يعني چي څومره دورانيه د ناجوړۍ وي، هغه که شپه وي، او که ورځ وي، نو هغه ټوله د ده د تهجد د عبادت په کولو کي ور شمارېږي.

او چي کله هغه بنده د بيماری او د تکليف په وجه د يو اړخ څخه بل اړخ ته اوړي، نو الله تعالی ده ته د هغه مجاهدينو ثواب او اجر ورکوي: چي هغه د الله تعالی په لار کي پر دښمن باندي د يو طرف او بل طرف څخه حمله کوي.(١)

لکه په يو حديث شريف کي راځي: چي کله يو بنده ناجوړه سي، نو همېشه دي د خپلي ناجوړی په دوران کي په کثرت سره د دغه آيت تلاوت کوي:

...... أيّمَا مُسْلِمٍ دَعَا بِهَا فِي مَرَضِهِ أرْبَعِينَ مَرَّةً، لَا إِلَهَ إِلَّا أنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾.

که چيري يو بنده د بيماری په وخت کي دا آيت څلوېښت(۴۰) ځله ووايي.

........فَمَاتَ فِي مَرَضِهِ ذَلِكَ أعْطِيَ أجْرَ شَهِيدٍ﴾.

که چيري په داغه بيماري کي ده ته مرګ راغلی، نو الله تعالی به ئې د قيامت په ميدان کي د شهيدانو په قطار کي راپورته کړي.

........وَإِنْ بَرَأَ بَرَأَ، وَقَدْ غُفِرَ لَهُ جَمِيعُ ذُنُوبِهِ﴾.(٢)

او که چيري الله تعالی ده ته د دغه بيماری څخه صحت ورکړی، نو به ئې د ګناهونو څخه پاک کړي.

## مريض "مستجاب الدعوات" وي:

په يو حديث شريف کي لا دا هم راځي: چي کله تاسو د عيادت او پوښتني دپاره مريض ته ورسی، نو د هغه څخه د خپل ځان دپاره دعا وغواړئ.

ځکه چي د مرض په حالت کي الله رب العزت د بنده دعاګاني داسي قبلوي: لکه هغه چي د خپلو فرشتو دعاګاني څنګه قبلوي.(٣)

---

(١) خطبات فقير، جلد۵ صفو نمبر۵۳

(٢) مستدرک على الصحيحين للحاکم: حديث نمبر ۱۸۶۵

(٣) خطبات فقير، جلد۵: صفو نمبر۵۳

## امتحانات اضطراري مجاهدات دي:

حضرت داكټر عبدالحی رحمة الله عليه چي د حكيم الامت حضرت تهانوي رحمة الله عليه د اجلو خلفاؤ څخه وو، هغه فرمايلي دي:
........چي په تيرو زمانو کي به خلک د خپلي اصلاح کولو دپاره يو شيخ او بزرګ ته ور تلل، هغه په دوی باندي زيات مجاهدات او رياضتونه کول، او دا مجاهدات به د دوی اختياري اعمال وه.
لېکن اوس په موجوده دور کي لوی لوی مجاهدات په انسانانو باندي نه سي کيدای، ځکه د انسانانو صحت ئې برداشت نه لري.
لېکن الله تعالی دغه خپل بندګان د هغه مجاهداتو د ثواب څخه محروم نه ګرځوي، بلکه بعض اوقات د الله د طرفه څخه په بندګانو اضطراري او زبردستي مجاهدات کول کيږي.

او د دغه اضطراري مجاهداتو په ذريعه چي انسان ته د الله تعالی په قرب او وصل کي څومره ترقي ملاويږي، نو هغه د اختياري مجاهداتو په مقابله کي ډېره زياته او تيزرفتاره وي.

چنانچه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په زندګي کي اختياري مجاهدات دومره نه وه، مثلاً د دوی په عصر(زمانه) کي دا نه وه: چي يو سړی به قصداً پر ځان باندي لوږه تيروي، يابه قصداً يو تکليف کشوي.
لېکن د دوی په زندګي کي اضطراري مجاهدات بيشماره ول، چنانچه د کلمې طيبې د وينا په وجه پر ګرمو ريګو باندي پرې ايستل سوه او پر سينه باندي لوی کاڼي ور اېښول کيده.
او د نبي اکرم ﷺ د ملګری په خاطر نه معلوم پر دوی څنګه او څنګه ظلمونه کيدل، دا ټول د دوی اضطراري مجاهدات وه.

او د دغه اضطراري مجاهداتو په نتيجه کي صحابه کرامو ته هغه درجات ورکړل سو: چي اوس هيڅ کله غيرصحابي د دوی مقام ته ځان نه سي رسولای.
نو ځکه د اضطراري مجاهداتو په وجه درجات په زياته تيزرفتاري سره پورته کيږي، او انسان په تيز رفتاري سره په روحانياتو کي ترقي کوي.
نو ځکه پر انسان باندي چي کم تکاليف پرېشانۍ او بيمارۍ راځي، دا ټول اضطراري مجاهدات بلل کيږي، او کم شی چي موږ په خپل ژوند کي د ځان دپاره تکليف او امتحان بولو هغه په حقيقت کي د الله تعالی د رحمت او د محبت علامه وي.

## د حديث خلاصه:

بهر حال د دغه حديث خلاصه داده: چي کله الله تعالی د يو بنده سره محبت کوي، نو هغه په ازمائش او امتحان کي مبتلا کوي.
او دا فرمايي: چي ماته د دې بنده ژړا او فرياد او زارۍ او ربډل خوښي دي، نو ځکه زه پر ده تکليف او امتحان راولم، چي دی د تکليف په وخت کي و ماته عجز او زارۍ او ژړا کوي، او د هغه په وجه زه د ده درجات ور بلند کړم، او دی و اعلی مقام ته رسوم.
الله تعالی دي موږ او تاسو ټول د بيمارۍ او تکليف څخه په حفاظت کي وساتي، او که به چيري تکليف زموږ په مقدر او قسمت کي ليکلي وي: نو بيا دي د هغه تکليف په وخت کي پر هغه باندي د صبر کولو توفيق را نصيب کړي.

او الله تعالی دي د هغه تکليف په وخت کي و خپل طرف ته د رجوع کولو توفيق را کړي، که چيري پر تکليفو باندي زموږ څخه بې صبري سوې وي، يا د الله تعالی نافرماني را څخه سوې وي، قصداً وي، او که سهواً وي، نو پر هغه ټولو باندي دي الله تعالی موږ او تاسو ته معافي وکړي.

او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يا رب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د دنیا د محبت علاج

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم اللہ صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | ۱۲ ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أنْ لَا إِلَهَ إِلّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأنّ مُحَمّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أمّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشّيْطَانِ الرّجِيمِ

بِسْمِ اللّهِ الرّحْمَنِ الرّحِيمِ

﴿وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا﴾(١).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ﴿إِنّ مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكَهُ مَا لَا يَعْنِيهِ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِکَ مِنَ الشّاهِدِيْنَ وَالشّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! نن زه ستاسو په خدمت کي د پيغمبر ﷺ هغه پنځه(۵) احاديث پېشوم: چي هغه امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله عليه د پنځه لکه(۵۰۰۰۰۰) احاديثو څخه را منتخب کړي دي، او خپل صاحبزاده حضرت حماد رحمه الله عليه ته ئې په هغه باندي د عمل کولو وصيت کړی دی.

او تقريباً داغه خلاصه حضرت امام ابو داؤد رحمه الله عليه بيان کړې ده، چنانچه هغه دا هم فرمايلي دي: چي ما پنځه لکه(۵۰۰۰۰۰) احاديث وليکل، او په هغه کي مي د څلور زره اته سوه(۴۸۰۰) احاديثو څخه ابو داؤد شريف مرتب کړی.

په ابوداؤد شريف کي غالباً ټول حديثونه د سند په اعتبار سره صحيح دي، يا و صحيح ته ور نژدې دي، او يا ئې د هغه څلور زره اته سوه(۴۸۰۰) احاديثو خلاصه د څلورو (۴)حديثو په صورت کي بيان کړې ده.

---

(١)سورة الاسراء: آيت نمبر ١٩

## د دين د څلرمي حصې د علم حامل حديث:

په دې څلورو (۴) احاديثو کي يو هغه حديث دی، چي اوس ئې زه ستاسو په حضور کي پېشوم، او د حضرت امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه د پنځو لکو (۵۰۰۰۰۰) احاديثو څخه منتخب سوی حديث دی، او د حضرت امام ابو داؤد رحمة الله عليه د پنځو لکو (۵۰۰۰۰۰) حديثو څخه هم منتخب سوی حديث دی.

د دې څخه علاوه نورو علماء کرامو هم د دې حديث په باره کي فرمايلي دي: چي د ټوله دين د څلرمي حصې علم په دغه حديث کي موجود دی، بلکه بعض علماؤو دا هم فرمايلي دي: چي دا حديث "نصف العلم" دی، يعني نيم دين صرف د غه حديث دی، او هغه نور دين بيا په نورو حديثو کي بيان سوی دی، نو تاسو اوس په خپله د دې حديث د اهميت اندازه لګولای سی.

يعني که چيري يو سړی په دې حديث باندي ځان پوه کړي، او عمل په وکړي، نو تقريباً د ده به د دين پر نيمه حصه باندي عمل راسي، د حديث مبارک الفاظ دادي: چي سردار دو عالم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

......إِنَّ مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكَهُ مَا لَا يَعْنِيهِ﴾(١).

د انسان د اسلام يوه خوبي داده: چي په کم شي کي د دين يا د دنيا فائده نه وي، هغه پرېږدي.

## د بې فائدې کار څخه ځان ساتل د اسلام خوبي ده:

چي په کم کار کي د دين يا د آخرت يو فائده وي، يا د دنيا يو جائز فائده وي، نو هغه کول چي د هغه د کولو څخه د دين يا د آخرت فائده انسان ته ورسيږي، يا د دنيا يو جائز فائده کي راسي، داهم يو نفع ده.

ليکن داسي خبره نه کول، چي په هغه کي نه د دنيا څه فائده وي، او نه د دين او آخرت څه فائده وي.

(١) جامع معمر ابن راشد: حديث نمبر ٢٠٦١٧

که چیري بلکل بې فائدې وي، یا د هغه په کولو کي یو څه نقصان وي، نو په کار دادی: چي انسان پرهیز ځني وکړي، مثلاً گناه ده، او چي څومره د گناه کارونه دي، نو په هغه ټولو کي د دین او د دنیا دواړو نقصان دی.
چي د هغه څخه په دنیا کي هم تباهي او هلاکت راځي، او په بې قراري او قسم قسم ناجوړیو کي انسان مبتلا کیږي، او په آخرت کي هم نقصان دی.
د گناهونو دنیاوي نقصانات خو ډېر زیات او بې شماره دي، او د آخرت نقصان هم یقیني دی، چي په هغه کي هیڅ شک نسته د آخرت د ټولو څخه لوی نقصان چي پیغمبر ﷺ بیان کړی دی، هغه: د قبر عذاب او د دوزخ عذاب دی، (الله تعالی دي موږ او تاسو ټول محفوظ ځني وساتي). (آمین)

## دزندګۍ د لمحاتو قدر او قیمت:

بهر حال د فضول او لایعني خبرو اوکارو څخه د ځان ساتلو په باره کي چي کم اهم حدیث نبي کریم ﷺ فرمایلی دی، په هغه باندي زموږ او ستاسو دپاره عمل کول، ضروري دي.
ځکه چي دا زندګي او ژوند چي موږ ته راکول سوی دی، دا ډېر قیمتي دی، او پیغمبر ﷺ په ډېرو زیاتو احادیثو کي ذ دې اهمیت او قدر او قیمت بیان کړی دی.

## دژوند اهمیت:

د سردار دوعالم جناب محمد مصطفی ﷺ څخه را نقل سوي دي: چي یو ځل دی مبارک دیو قبر سره تیریدی، نو ده مبارک و هغه صحابه کرامو ته چي د ده سره ملګري ول وفرمایل: چي ای صحابه وو! تاسو چي کله نا کله یو دوه(۲) رکعته نفلي لمونځ کوی، نو ستاسو په دماغو کي هغه معمولي عمل معلومیږي، حالانکه هغه معمولي عمل نه دی.

د غه مړی چي په دې قبر کي پروت دی، هغه دا حسرت او تمنی کوي: چي کاش ماته په زندګي کي دوې(۲) دقيقې وخت راکول سوی وای، ما به هم دوه(۲) رکعته لمونځ کړی وای، د دغه مړي دپاره د غه دوه(۲) رکعته لمونځ د دنیا او مافیها څخه بهتر دی.
او په دنیا کي چي څومره نعمتونه دي، سره زر دي، او سپین زر دي، او عزت او منصب دی، سلطنت او بادشاهت دی، غرض دا: چي د دنیا څومره نعمتونه دي، چي هغه څوک شمارلای نه سي، نو د دنیا د دې ټولو نعمتو څخه دغه دوه(۲) رکعته لمونځ د دغه مړي په نزد بهتر او افضل دی.
او دی دا تمنی کوي: چي کاش ما ته نن دوې(۲) دقيقې وخت را کول سوی وای، ما به هم دغه دوه(۲) رکعته لمونځ کړی وای.
نو تاسو چي کم دوه(۲) رکعته لمونځ کوی، تاسو ته ئې پوره اهمیت نه در معلومیږي، د دغه اهمیت تاسو د دغه صاحبِ قبر څخه و پوښتئ.(۱)

## د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه معمول:

تاسو د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه معمول او عمل واورئ، چونکه ده مبارک د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه حدیث مبارک اوریدلی وو، (او د صحابه کرامو عادت مبارک دا وو: چي دوی به کله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه یو خبره واوریدله، نو په صحیح طریقه به ئې په هغه باندي د عمل کولو کوشش کاوی، الله تعالی دي موږ ته هم د هغو پر نقش قدم باندي زندګي رانصیب کړي).
نو حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه یو ځل په سفر کي وو، نو په لاره کي یو قبر مخته ورته راغلی، نو دی مبارک د هغه قبر سره د خپلي سوارلی څخه شوه سو، او د قبر سره ئې دوه(۲) رکعته نفل لمونځ وکړی، او د هغه څخه وروسته پر خپله سوارلي باندي بیرته سپور سو.

(۱) خطبات حکیم الاسلام ص ۲۹

چي کم احباب ور سره وو، نو د هغو دا گمان سو، چي شايد دا د يو خاص سړي قبر دی، چي حضرت عبدالله بن عمرؓ د هغه سره دوه(۲) رکعته لمونځ وکړی، نو هغه احبابو د ده څخه پوښتنه وکړه، چي حضرت دا دوه(۲) رکعته لمونځ دي په څه وجه دلته وکړی؟

ده په جواب کي ورته وويل: چي ما دغه دوه(۲) رکعته لمونځ ځکه وکړی، چي ما د پيغمبرﷺ څخه اورېدلي وو: چي مړی يعني صاحب قبر همېشه پر دې خبره حسرت او افسوس کوي، او دا تمنٰی کوي، چي کاش ماته موقع وای، نو ما به دوه(۲) رکعته لمونځ کړی وای، لېکن چونکه د ده عمل منقطع سوی دی، او د ده دعمل دروازه بنده سوې ده، که اوس هر څومره د عمل کوشش وکړي، او د دوه(۲) رکعته لمونځ کولو اراده ولري، نو هم ئې نه سي کولای.

نو ما د ځان سره فکر وکړی، چي ما ته خو الله تعالی اوس هم د عمل کولو اجازت راکړی دی، او زما سره دومره وخت سته چي زه د دوه(۲) رکعته لمانځه څخه زيات هم کولای سم، نو ولي دوه(۲) رکعته لمونځ نه وکړم.

نو مړی که څه هم حسرت کوي، د وخت پر تيرېدلو باندي لېکن بياهم د دوو رکعتو موقع نه سي پيدا کولای، ځکه چي دی غريب په قبر کي پروت دی، او ما ته خو الله تعالی موقع راکړې ده.

نو په کار دادی: چي زه د دغه موقع څخه فائده واخلم، او دوه(۲) رکعته لمونځ اداکړم، نو ځکه ما دوه(۲) رکعته لمونځ وکړی، فارغه سوم، چي کم ازکم دغه دوه(۲) رکعته لمونځ زما په عمل نامه کي جمع سي. (۱)

## د اعمالو صالحه وو قدر او قيمت:

صاحب قبر چي کله قبر ته ورسي، د حديث شريف د نکاه څخه دی د خپل مور پلار، خور، ورور، دوست، او احبابو د دعاگانو داسي محتاجه او منتظر وي،

(۱) [illegible]

لکه یو څوک چي په یو بې پایانه دریاب کي غرق وي، او د خپل ژوند د حفاظت په تلاش د یو چا د کومک او لاس نیوي محتاجه او منتظر وي.
ځکه چي هلته دی په سترګو دا ووینې، چي د نیکو کارو کم ثواب دی، او د ګناه کولو کم عذاب دی، نو هلته به هر شی د ده ومخته ښکاره سي، چي د "سُبْحَانَ اللّٰهِ" دا ثواب دی، او د "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ" دا ثواب دی، د دوه(۲) رکعته لمانځه دا ثواب دی، د تلاوت دا ثواب دی.
غرض دا: چي د هر عمل ثواب به د ده ومخته راښکاره سي، او بل طرف ته د آخرت چي کم نعمتونه دي، هغه هم د ده ومخته راښکاره سي، مثلاً ده ته دا ور معلومه سي: که چیري زما په عمل نامه کي فلان عمل راسي، نو ماته به د هغه په بدله کي دغه نعمت ورسیږي.
لیکن که چیري یو نعمت ده ته نه وي رسیدلی، نو دی چي کله هغه نعمت ته ګوري، نو دا تمنّی او حسرت کوي: چي کاشکي زما پلار، زما مور، زما دپاره دعا وکړي، او زما دپاره د "سورۃ یٰس" شریف تلاوت وکړي، او د هغه ثواب ماته راواستوي، او زما بچیان صدقه او خیرات وکړي، او د هغه ثواب ماته را ورسیږي، دی په داسي بې قراري او بې چیني سره د خپلو ژوندیو قریبانو د دعا او استغفار او د ایصال ثواب منتظر وي، لکه یو ډوب سوی انسان چي د ځان د حفاظت په انتظار کي د یو چا د مرستي طلبګار وي.

## د "کشف قبور" واقعه:

حضرت مو لانا عبد الرؤف سکهروي صاحب په خپل یو وعظ کي د یو بزرګ واقعه را نقل کړې ده، چي هغه د یو قبر سره تیریدی، نو الله تعالی پر ده باندي د صاحب قبر حال کشف کړی، او ده ته په قبر کي دننه یو مړی ناست د قرآن کریم په تلاوت کي مشغول په نظر ورغلی.
نو هغه بزرګ د هغه مړي څخه پوښتنه وکړه، چي سړیه! موږ خو دا اوریدلي دي: چي په قبر کي دننه عبادت نه کیږي، هلته یا آرام وي، یا عذاب، مګر زه چي تا ته

گورم، ته د قرآن کريم په تلاوت کي مشغوله ئې، ايا دلته هم د تلاوت کولو تاکيد تاته کيږي؟
هغه مړي په جواب کي ورته وويل: چي دلته انسان ته نه د يو عمل کولو حکم سته، او نه د يو عمل پرکولو باندي تاکيد کيږي.
نو دی ورته وايي: نو بيا ته ولي عمل کوې؟ هغه په جواب کي ورته وويل: چي دلته يو معمول دی، چي کله يو سړی د منکر او نکير د سوالو جوابونه په کاميابي سره ورکړي، او د عذاب قبر څخه محفوظه سي، نو ده ته دا ويل کيږي: چي اوس به ته تر قيامت پوري په دې قبر کي انتظار کوې، ځکه چي د دنيا والا وو چي تر څو پوري د دنيا زندګي آباده وي، نو تر هغه وخته پوري قيامت نه راځي، چي کله د دنيا زندګي ختمه سي، نو قيامت برپا کيږي.
د قيامت څخه وروسته حساب او کتاب دی، او د حساب او کتاب څخه وروسته د جنت يا د جهنم فيصله ده، لهذا ته به اوس تر قيامت پوري انتظار کوې.
او بيا ورته وويل سي: چي د غسي فارغه به ته تر کمه وخته انتظار کوې، چي يو څه مشغله درسره وای، چي په هغه کي ته مصروفه وای، نو بيا به پر تا باندي دغه وخت په اساني سره تير سوی وای، نو بيا د هر انسان څخه پوښتنه کيږي: چي ته خپل د خوښي کار راته ووايه، موږ به پر هغه باندي غور وکړو، که چيري هغه ستا په حق کي مناسب وو، نو تاته به د هغه کار اجازه درکړو.
نو هغه مړی ورته وايي: چي کله د الله په فضل او کرم سره زه په خپل امتحان کي کامياب سوم، نو الله تعالی په خپل فضل سره ماته د عذاب څخه نجات راکړی، او په قبر کي زما زندګي په سکون سره سوه، بيا زما څخه پوښتنه وسوه، چي ستا کم کار کول، خوښ دي، چي موږ تاته د هغه اجازه در کړو، او ته په هغه کي مشغوله سې.

زه چونکه په دنیا کي د قرآن کریم حافظ وم، او زما سره د قرآن کریم د تلاوت کولو ډېر شوق وو، او ما به په دنیا کي هم د قرآن کریم تلاوت د شپې او د ورځي کاوی، او الله تعالی ما ته د قرآن کریم د تلاوت ډېر ذوق راکړی وو.

چي کله زما څخه پوښتنه وسوه، نو ما دا غوښتنه وکړه، چي ماته دي د قرآن کریم د تلاوت اجازت وسي، چنانچه زما د غوښتني څخه وروسته ماته اجازت را کړل سو، نو اوس زه د لته د شپې او د ورځي د قرآن کریم تلاوت کوم.

دلته چونکه نه خوب سته، نه ستړیا سته، نه کمزوري سته، او نه بیماري سته، او نه لوږه او تنده سته، ځکه چي دا ټول د جسم لوازمات وه او هغه په دنیا کي پاته سول، دا "عالم برزخ" دی، دلته د روح څخه سواء نور هیڅ نسته، ځکه روح نه وږی کیږي، نه تږي کیږي، او نه بله بیماري ور لره راځي، او نه بل ضرورت ور ورته پیښیږي، نو ځکه زه شپه او ورځ د لته د قرآن کریم په تلاوت کي مشغوله یم.

د هغه څخه وروسته هغه مړی ورته وایي: چي د کم وخت څخه د دنیا څخه دې قبر ته را غلی یم، نو د راتګ څخه وروسته تر اوسه پوري ما په دې قبر کي اویا زره(۷۰۰۰۰) واره قرآن کریم ختم کړی دی، خو هغه ټول تاته درکوم، د هغه په عوض کي ستا د یو ځل "سبحان الله" ویلو، ثواب ماته راکړه.

نو هغه بزرګ ورته وایي: چي آخر ولي، دومره لویه ذخیره د قرآن کریم د تلاوت ته ماته راکوې، او د هغه په بدله کي د یو سبحان الله ثواب زما څخه غواړې، آخر د دې دوو(۲) عبادتو په درمیان کي هیڅ مناسبت نه معلومیږي، چي دیو سبحان الله په بدله کي اویا زره(۷۰۰۰۰) وراه د قرآن کریم د تلاوت ثواب ورکول سي.

نو په جواب کي هغه مړی ورته وایي: چي زما چي کم اویا زره(۷۰۰۰۰) واره د قران کریم د تلاوت د ختم ثواب دی، هغه هیڅ نسته ځکه زه په قبر کي یم، او قبر

"دار العمل" نه دی، بلکه "دار الجزاء" دی، دلته که اویا زره(۷۰۰۰۰) واره نه، بلکه اویا لکه(۷۰۰۰۰۰) واره د قرآن کریم تلاوت وسي، لا هم هیڅ ثواب نه لري.
او ته په دنیا کي ئې هلته یو ځل "سنبحان الله" ویل دومره ثواب لري، چي د هغه سره الحمد الله یو ځای وویل سي، نو د هغه په وجه د انسان د عمل نامې نیمه تله ډکیږي.
نو چونکه زما د قرآن کریم د ختم ثواب نسته، او ستا د "سبحان الله" ویلو، دومره لوی ثواب دی، نو زه دا عرض کوم: د قرآن کریم د تلاوت د دغه اویا زره(۷۰۰۰۰) واره ختم ثواب ته در سره واخله، او د هغه په عوض کي ما ته د یو ځل "سبحان الله" ویلو، ثواب راکړه. (۱)
نو دا ډېره د سوچ او فکر خبره ده: چي په دې وخت کي موږ د مځکي پر سر اوسیږو، موږ ته الله تعالی موقع او فرصت را کړی دی، چي هم "سبحان الله"، هم "الحمد الله"، او هم "الله اکبر"، او هم "لااله الا الله" ویلای سو، نو د دنیا زندګي دومره قیمتي ده، چي هغه اویا زره(۷۰۰۰۰) واره د قرآن کریم ختم کړی دی، بیا هم د ثواب طمع نه لري، او په دنیا کي استوګن انسان که چیري یو ځل "سبحان الله" ووایي، نو د هغه ثواب زیات ورباندي بلل کیږي.

## د اجر او ثواب وا لا دعا:

پیغمبر ﷺ بعض اوقات پر ډېرو معمولي معمولي اعمالو باندي داسي ثوابونه بیان کړي دي: چي د هغه د اورېدلو څخه د انسان عقل حیرانیږي.
مثلاً په یو حدیث شریف کي راځي: چي کم انسان:
.........سُبْحَانَ اللهِ وَ بِحَمْدِهٖ﴾ سل(۱۰۰) ځله ووایي، نو ده ته په آخرت کي دومره زیات بې حسابه اجر او ثواب و رکول کیږي، چي د هیڅ چا به دومره اجر او ثواب په نصیب کي نه وي، صرف د هغه سړي به وي: چي هغه هم داغه کلمه

ویلې وي، یا ئې د دې څخه زیات ویلي وي، نو "سُبْحَانَ اللهِ وَ بِحَمْدِهٖ" د ومره زیات ثواب لري.
که چیري انسان "سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِیْمِ" هم ور سره ملګرې کړي، نو نور هم دا ثواب زیاتیږي، ځکه چي څومره کلمات ور سره زیاتیږي، هغومره ئې ثواب زیاتیږي.(١)

## د لس زره(١٠٠٠٠)واره "درود شریف" ویلو ثواب:

یو کتابچه ده، د "درود شریف" حسینه مجموعه په نامه سره په هغه کي یو مختصر درود لیکلی دی:
......اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ اَفْضَلَ صَلَوٰتِکَ﴾.
په هغه کتابچه کي لیکلي دي: چي که یو ځل یو څوک دغه "درود شریف" ووایي: نو د دې ثواب د لس زره(١٠٠٠٠) واره "درود شریف" ویلو سره برابر دی.
داغه رنګه که یو څوک لس(١٠) واره دغه "درود شریف" ووایي، نو د یو لک(١٠٠٠٠٠) واره "درود شریف" ویلو سره ئې ثواب برابر دی.
اوس روزانه څوک یو لک واره "درود شریف" ویلای سي، یو لک واره خوپریږده، لس زره(١٠٠٠٠) واره هم درودشریف ویل اسانه کار نه دی، لیکن دغه "درود شریف" ویل، د ټولو دپاره اسانه دی، چي هر څومره مصروف انسان وي، نو د هر لمانځه په وخت کي ئې لس ځله په اساني سره ویلای سي.
چي انسان کله لمانځه لره را روان وي، نو په لاره کي ئې هم ویلای سي، چي مسجد لره راغلی، د لمانځه په انتظار کي ناست دی، هم ئې ویلای سي، او د لمانځه څخه وروسته ئې هم په لږ وخت کي ویلای سي.

(١) خطبات سکهروي: صفحه نمبر ٣۶

روزانه چي کله لس واره(۱۰) ئې وايي، نو په يو لمانځه کي ديو لک(۱۰۰۰۰۰) واره درود ويلو سره برابر به د ده ثواب وي.
اوچي کله ئې پنځوس(۵۰) واره ووايي، نو د پنځه لکه(۵۰۰۰۰۰) واره "درود شريف" ويلو سره د ده ثواب برابر دى.
تاسو اندازه ولګوئ! چي الله تعالى څپل رحمت او عبادت په کم شکل د انسانانو دپاره اسانه کړى دى.
د آخرت د زندګى چونکه انتها نسته، نو ځکه اجر او ثواب ئې هم بې انتها دى، الله تعالى دا ارداه لري: چي زما بنده د آخرت دپاره زياته سرمايه جمع کړي، او هلته راسي.
نو لکه څنګه چي هلته د ده زندګي لا متناهي ده داغه رنګه د هغه اجر او ثواب هم بې انتها وى، نو ځکه الله تعالى په دغه وجه د انسانانو دپاره د بې حسابه اجر او ثواب پيدا کولو دروازې راخلاصي کړي دي.

## د شل لکه(۲۰۰۰۰۰۰) نيکيانو ګټونکې دعا:

يوه بله عجيبه او غريبه کلمه ده، چي په هغه کي نيمه حصه خو ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾ دى.
........لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ﴾ خو د هر مسلمان ايزده ده، او د مسلمان د بچي بچي په دماغ کي ياده وي، البته د:
........لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ﴾ څخه وروسته دوه(۲) الفاظ نوي دي:
........اَحَدًا صَمَدًا﴾ د هغه څخه وروسته بيا:
........لَمْ يَلِدْ وَ لَمْ يُوْلَدْ وَ لَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ﴾ او س د دې کلمې اول او آخر خو د ټولو ياد دى، او صرف ﴿اَحَدًا صَمَدًا﴾ په درميان کي ور سره ويل، نو ټوله کلمه به په دا شان ده:
.....لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ اَحَدًا صَمَدًا لَمْ يَلِدْ وَ لَمْ يُوْلَدْ وَ لَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ﴾.

اوس د دې فضيلت دا دی: که چيري يو ځل يو څوک دا کلمه ووايي، نو هغه ته شل لکه(۲۰۰۰۰۰) نيکياني ور کول کيږي.
او که ئې پنځه(۵) ځله ووايي، نو يو کروړ(۱۰۰۰۰۰۰۰) نيکياني ور کول کيږي.
او که ئې لس(۱۰) ځله ووايي، نو دوه کروړه(۲۰۰۰۰۰۰۰) نيکياني ورکول کيږي. (۱)

اوس نيکياني څه دي: دا د آخرت سکه ده، لکه په دنيا کې د هر ملک خپله سکه وي، چي د هر چا سره ډېره وي، نو هغه په دغه سکه سره خپل ځان مالداره بولي، او خپل ژوند په راحت کي بولي.
داغه رنګه يوه زندګي د مرګ څخه وروسته را روانه ده، چي د هغه زندګی سکه دغه نيکياني دي؛ چي د هر چا په عمل نامه کي دا ډېري وي، نو هغه هلته مالداره بلل کيږي، او د هغه زندګي به هلته په عيش او په راحت کي تيريږي.
او د دغه نيکيانو د ګټلو زمانه او موقع دغه د دنيا زندګي ده، او د دنيا په زندګي کي بيا خاص په دغه کلماتو ويلو سره په ډېر لږ محنت او وخت کي انسان ته د نيکيانو ډېره لويه ذخيره په لاس ورځي، لکه په دې حديث مبارک کي تاسو واورېدل.
اوس تاسو ګورئ! د هر لمانځه څخه مخکي يا د هر لمانځه څخه وروسته دغه کشنى کلمې لس لس(۱۰) ځله ويل څه مشکل کار دی، او د دې څخه تاسي اندازه ولګوئ: چي زموږ زندګي څومره قيمتي ده، او په دې کي که موږ و غواړو، څومره ثواب او اجر پيدا کولای سو، ليکن موږ په څومره غفلت کي پراته يو، په فضول او لايعني کارو کي خپل ژوند بربادوو.

(۱) خطبات حکيم الامت جلد ۲

## د انسان ټول کارونه درې (۳) قسمه دي:

امام غزالي رحمة الله عليه فرمايلي دي: چې د انسان څومره کارونه دي، هغه درې (۳) قسمه دي.

## اول قسم کار:

اول قسم هغه کار دی: چې په هغه کي د دين يا د دنيا فائده وي، يعني د هغه د کولو څخه يا په دنيا کي انسان ته جائزه او حلاله فائده رسيږي، او يا په آخرت کي هم د هغه ثواب د الله تعالی د رضا او د مغفرت په شکل انسان ته ور کول کيږي، نو دا اول قسم کار دی.

## دوهم قسم کار:

دوهم قسم هغه کار دی: چې په هغه کي د آخرت يا د دنيا نقصان وي، مثلاً د دين نقصان وي، ځکه چې هغه کار ګناه وي، يا صغيره وي، او که کبيره وي، يا د ژبي ګناوي، که د سترګو ګناوي، يا يو بل ناجائز عمل وي.
نو په هغه کي د دنيا نقصان په دا شکل وي: چې د هغه په کولو سره انسان په دنيا کي د بې عزتۍ او بې حرمتۍ او رسوايي سره مخامخ کيږي، او په آخرت کي پر دغه عمل باندي د سزا په شکل و ده ته عذاب ورکول کيږي، نو دا هغه کار دی: چې په دې کي د دين يا د دنيا نقصان راځي.

## دريم قسم کار:

دريم قسم کار هغه وي: چې په هغه کي نه نفع او نه نقصان وي، نه د دنيا يو څه فائده کي کيږي، او نه د آخرت فائده انسان ته رسيږي.
او دا غه رانګه د هغه په کولو کي نه د دنيا نقصان راځي، او نه د آخرت نقصان کي پيدا کيږي، مثلاً يو جائز او مباح کار وي.

نو حضرت امام غزالي رحمۃ اللہ علیہ په آخر کي فرمایلي دي: که چیري انسان په حقیقت سره غور او فکر پکښي وکي، نو په اصل کي دا دریم قسم کار کول، هم نقصان دی، هغه ځکه چي څومره وخت انسان د دغه کار په کولو کي تیر کړي، نو هغه وخت ده په یو بې فائده او لایعني کار کي تیر کړی، که چیري دا غه وخت ده د یو نفعي په کار کي تیر کړی وای، نو نه معلوم چي ده به څومره فائده ځان ته رسولې وای.
امام غزالي رحمۃ اللہ علیہ د دې یو ډېر ښائسته مثال پیش کړی دی، هغه لیکلي دي: لکه یو انسان چي ډېر زیات غریب، محتاج، مسکین وي، او د خپل فقر او فاقې څخه تنګ او عاجزه راغلی وي.
نو اتفاقاً یو جزیرې ته ځان ورسوي، او هلته د سرو زرو پر یو غره باندي پیښ سي، او د هغه غره مالک هم په دا غه جزیره کي موجود وي.
نو هغه مالک چي د غه غریب سړی ووینې، نو د هغه د ده پر حالت باندي رحم راسي، او ده ته ووایي: چي ورور!ه! ته خو ډېر غریب او مسکین انسان ئې، او د خپل فقر او فاقې څخه عاجزه سوی ئې، زه اوس دغه ستا حالت نه سم لیدلای، او زما زړه ستا پر دغه حالت باندي ډېر درد کوي.
نو د هغه په نتیجه کي هغه مالک ده ته اجازت ور کړي، چي څومره سره زر د دې غره څخه ته وړلای سې، هغه یو سه، او چي څومره سره زر تا د ځان سره وا خستل هغه تو له ستا ملکیت ور ګرځېدل، زما د طرفه د هر څومره وړلو اجازت دی.
لیکن یوه خبره په دماغ کي په ښه شکل کښېنوه، هغه دا: چي کم وخت ما مناسب وبالی، هغه وخت تا د دې زرو د وړلو څخه منع کوم، لیکن اوس زه تا ته هغه وخت نه سم در ښوولای، چي څه وخت به زه تا منع کوم، هغه وخت هیڅ معلوم نه دی.
لیکن اوس ستا د پاره موقع ده، اوس لا خپل کار وکړه، زما د طرفه تا ته پوره اجازت تر هغه وخته پوري دی: چي کله دي زه منع کوم، او چي کله مي منع

کړي، نو بيا د يوې زرې مقدار سرو زرو ورلو اجازت نه در کوم، که هر څومره عجز او زاري راته وکړې، بيا دي دلته نه پرېږدم، بيا به د دې ځای څخه ځې، کنه تلې نو بيا دي په زور باندي د دې ځای څخه پسي اخلم.

نو اوس د عقلمندۍ کار خو دادی: چي په دغه وخت کي دغه انسان يوه لمحه هم په غفلت کي تېره نه کړي، بلکه د سرو زرو په راټولولو کي اخته وي، ځکه ده ته دا ور معلومه ده: چي ماخو ډېر د فقر او تنګدستۍ وخت تېر کړی دی، او اوس د لږ وخت دپاره موقع په لاس راغلې ده.

لهذا که شپه ده، او که ورځ ده، دی به ئې د سرو زرو په را ايستلو کي لګوي، ځکه دی په دې پوهيږي: چي دا ډېر قيمتي وخت دی، نو چي څومره ئې وس او طاقت وي، نو هغه به په دې خپل کار کي تمامه وي.

که چيري په دې وخت کي و ده ته يو سړی ووايي: چي اول د دې جزېرې سير او تفريح وکړه، د هغه څخه وروسته به خپل کار وکړې، دی به ضرور په جواب کي ورته وايي: چي زه سير او تفريح ته ور فارغه نه يم، زه د سرو زرو په را يستلو کي لګيا يم، دا يو موقع په لاس راغلې ده، چي را څخه ضائع نه سي.

نو دې به شپه او ورځ په دغه کار کي تيروي، او دا د عقلمندۍ تقاضا ده: چي څومره سره زر ده ته په لاس ورځي، هغه به راټوله وي، چي په هغه سره د ده زندګي او د ده د دراروانو نسلونو زندګي په راحت کي تيره سي.

او که چيري هغه سړی دا ټولې خبري د هغه مالک واوري، او بيا هم يو طرفته کښيني، او د سرو زرو دې غره ته ګوري، او لاس نه ور وړي، نو په دې کي خو بظاهر د ده هيڅ نقصان نه دی، ځکه چي هغه مالک و ده ته وايي: چي زما د ملکيت څخه يو څه سره زر در سره واخله، او دی ئې د ځان سره وا نه خلي، نو ظاهر خو ده د ځان نقصان نه دی کړی.

لېکن په حقیقت کي دا د ده دپاره ډېر لوی نقصان بلل کېږي، ځکه چي نه معلوم چي ده لزه به په دغه وخت کي څومره سره زر په اساني سره په لاس ورغلي وای، لېکن ده حاصل نه کړل.

چي کله هغه مالک ورته وویل: چي د دې ځای څخه وو زه، چي څومره دي در سره اخستي دي، هغه واخله، د نورو د اخستلو اجازت نسته، په دې حالت کي که د د ه څخه دغه وخت عبث او په غفلت کي تیر سوی وي، او یوه ذره ئې د ځان سره هغه سره زر نه وي راجمع کړي، نو بغیر ده مایوسۍ او پرېشانۍ څخه بل هیڅ په لاس نه ورځي، او هغه مایوسي او پرېشاني هم د ده هیڅ ځای نه نیسي.

نو د غه حال د بې فائدې کارو په مشغولیت کي دی، چي دنیا ته انسان راغلی وي، چي د آخرت سره زر حاصل کړي، یا د دنیا یو جائز نفع د ځان دپاره پیدا کړي، او د خپل آخرت دپاره سرمایه حیات برابره کړي.

لېکن انسان په دنیا کي دغه خپل قیمتي اوقات د سروزرو او د سرمایې حاصلولو پر ځای په داسي فضول او لایعني کارو کي تیر کړي، نو هغه انسان داسي دی: لکه یو چا ته چي د سرو زرو غر په لاس ورسي، او دی د هغه څخه یوه ذره هم حاصله نه کړي.

## خپل وخت قیمتي جوړول:

نن سبا موږ د خپلو اوقاتو په ضائع کولو کي روان یو، ځکه زموږ ډېر کارونه لایعني او فضول ګرځېدلي وي، چي په هغه کي زموږ د زندګۍ قیمتي اوقات ضائع کېږي، د ګناه خبره خو زه نه کوم، بلکه د ګناهونو یو لوی فهرست او لست دی، چي زموږ ټوله معاشره د هغه په کولو کي لګیا ده، چي د هغه په کولو سره سراسر د دنیا هم نقصان، او د آخرت هم نقصان دی.

لېکن د دې ګناهونو څخه علاوه یو ډېر اوږد فهرست زموږ د لایعني او فضولو کارو او خبرو دی، چي موږ شپه او ورځ په کمو مجلسو کي تیروو، او په ګانټو ګانټو سره ناست یو، یو طرف او بل طرف فضول خبري کوو، او په ګپ شپ کي

خپل وخت بربادوو، نو زما عرض دادی: چي زموږ په معاشره کي د فضول او لایعني کارو یو مستقله سلسله ده، چي په هغه کي سهار او ماښام زموږ د ژوندگۍ قیمتي اوقات او قیمتي لمحات ضائع او برباد کړځي، چي د هغه څخه زموږ د پاره خپل ځانونه محفوظ کرځول ضروري دي.

ځکه چي د دنیا ژندګي ډېره عارضي او فاني او ژر ختمېدونکې ده، هسي نه چي د غسي د غفلت په حالت کي بغیر د څه توبې د حضرت عزرائیل علیه السلام چمبه را باندي صافه سي، او د غسي د غفلت په حالت کي بغیر د څه تیارۍ مي د قبرو توره کنده ته ور شوه کړي.

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وینا ده:

........﴿مَنْ دَخَلَ الْقَبْرَ بِلَا زَادٍ فَكَأَنَّمَا رَكِبَ الْبَحْرَ بِلَا سَفِينَةٍ﴾.

چي کم څوک بغیر د تیارۍ څخه د قبر و توره کنده ته ور غوټه سو، نو ګویا دی یو بې پایانه سمندر، او دریاب ته بغیر د کښتۍ څخه ور شوه سو، او دا داوبو سمندر او دریاب نه دی، بلکه دا د الله تعالی د عذابونو سمندر او دریاب دی، چي هلته به نیا انسان د حدیث شریف د رویه د داسي حالاتو سره مخامخ کیږي:

.......﴿مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ﴾ چي سترګو به لیدلي نه وي.

.......﴿وَ لَا أُذُنٌ سَمِعَتْ﴾ چي غوږو به اورېدلي نه وي.

.......﴿وَ لَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ اِمْرَءٍ﴾ چي نه به د یو چا په دل او دماغ کي د هغه فکر او تصور راغلی وي.

نو په کار داده: چي د حضرت عزرائیل علیه السلام د حملې کولو څخه مخکي انسان د خپل ځان د پاره توښه تیاره کړي، او د خپل مرګ په انتظار کي ژوند سبا کړي. ځکه په حدیث شریف کي راځي:

........﴿مَنْ اَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ اَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ﴾.(۱)

چي کم سړی د الله تعالی ملاقات خوښوي، او د ده په زړه کي د الله تعالی د ملاقات شوق وي، نو الله تعالی هم د ده د ملاقات شوق لري.
د نسي خلک هر وخت د مرګ په انتظار کي ناست وي، او په زبان حال سره دا وايي:

﴿غدًا نلقى الأحبة ... محمدًا وحزبه﴾.(۱)

سبا به موږ د خپلو دوستانو يعني محمد ﷺ او د هغه د صحابوو سره ملاقات کوو، نو د مرګ د راتللو څخه مخکي د خپل قبر او آخرت دپاره تیاري کول، او توبه برابرول ضروري دي، ځکه چي د مرګ وخت نه دی معلوم چي کله به راځي.

## د "ملک الموت" سره مکالمه:

حضرت مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه یوه واقعه لیکلې ده: چي یو سړي د "ملک الموت" یعني حضرت عزرائیل علیه السلام څخه ګیله وکړه، چي ستا معامله ډېره عجیبه ده.
په دنیا کي خو چي کله یو سړی نیول کیږي، نو د دنیا د محاکمو دا قانون دی: چي یو ځل مخکي ده ته نوټس او ټکس ورا ستوي، چي ستا خلاف دغه مقدمه قائمه سوې ده، نو ته د دې د جواب ورکولو د پاره تیاري وکړه، لېکن ته چي کله د یو چا روح قبض کوې، نو د ټکس او د نوټس څخه بغیر یو دم پر هغه باندي حمله وکړې، او د غسي په ناخبري کي هغه و قبر ته ورسوې.
"ملک الموت" په جواب کي ورته وویل: چي سړیه! زه دومره نوټس او اطلاع مخکي ور استوم، چي هیڅ څوک دغومره زیاته اطلاع و چا ته نه وراستوي، لېکن زه څه وکړم، چي خلک زما اطلاع او نوټس پر اطلاع نه بولي، او نه د هغه پرواه کوي.

(۱) الجامع لابن وهب: حدیث نمبر ۲۲۴

هغه دا: چي کله د انسان پر بدن باندي تبه راسي، نو دا زما اطلاع ده، او چي کله د انسان په بدن کي سپین وربښته پیدا سي، نو دا زما اطلاع وي، او چي کله په کور کي لمسی پیدا سي، نو زما د طرفه اطلاع وي، چي نیکه ته تیاري وکړه، ستا د تللو وخت رانژدې دی، نو زه دومره زیات تکسان او نوتسونه ور استوم، خو خلک زما پر اطلاع باندي غوږ نه نسي.(۱)

بهر حال د پیغمبر ﷺ دا تعلیم او وصیت دی: چي د حسرت او د افسوس د وخت راتللو څخه مخکي خپل ځان په قابو کي کول، د صحت او فراغت وخت پر کار اچول، او د خپل آخرت دپاره توښه برابرول، او د فضول او لایعني کارو څخه خپل ځان ساتل، ځکه خدای په دې خبر دی: چي سبا د قبر په توره کنده کي او د قیامت په میدان کي انسان ته کم حالات را مخته کیږي.

## د ظاهر او باطن د اصلاح دپاره څلور (۴) کاره کول:

اوس به موږ خپل ژوند د آخرت دپاره څنګه استعمال کړو، د دې دپاره د څلورو خبرو ضرورت دی، پر هغه باندي د عمل کولو په وجه انشاء الله موږ د فضول او لایعني کارو څخه محفوظه کیدای سو، او زموږ د زندګۍ لمحات د دنیا د جائز نفعي او د آخرت د اجر او ثواب دپاره استعمالیدلای سي.

۱. د ټولو څخه مخکي خبره داده: چي څومره ګناه او ناجائز کارونه دي، د هغه څخه رشتوني توبه وکړو، او د را روان ژوند دپاره دا عهد وکړو: چي بیا به دا ګناه نه کوو، او خپل همت پر کار واچوو، او د الله تعالی څخه توفیق هم وغواړو.

۲. اوس هغه کارونه چي په هغه کي د دین او د دنیا نفع ده، چي په هغه کي بعضو ته عبادت ویل کیږي، او بعضو ته جائز او مباح ویل کیږي، د هغه په کولو کي موږ صرف د الله د رضا نیت وکړو، د سهار څخه تر ماښامه

پوري چي څومره کارونه کوو، په هغه کي عبادات هم راځي، او هغه کارونه هم راځي، چي په هغه کي د دنیا حلاله او جائزه نفعه وي، د دې ټولو د کولو په وخت کي صرف د الله د رضا نیت کول، نو په نیت کولو سره هم دا اعمال عبادت جوړیږي، یعني په هر عمل کي صحیح نیت کول، د ځان معمول جوړول.

۳. دریم دا: چي د شپې او د ورځي په کثرت سره د الله تعالی د ذکر عادت جوړول، دا دومره لوی دولت دی: چي د هغه اندازه موږ په دنیا کي نه سو کولای، او دا دولت حافظ بن حجر رحمة الله علیه ته الله ور نصیب کړی وو، چي کله به ئې قلم تراشی، نو هم به ئې ژبه د الله الله په ذکر کولو سره مشغوله وه، چي کله یو څوک د الله د ذکر کولو سره عادت وي، نو د زندګۍ په ټولو اعمالو کي د ده پر ژبه د الله ذکر جاري وي، او چي کله پر ژبه باندي ذکر جاري سي، او آهسته آهسته پر زړه باندي هم جاري کیږي. نو په دې شکل د انسان اندامونه د سر څخه تر پښو پوري ټول په ذکر کي روان وي، حدیث شریف کي راځي: ﴿الَّذِينَ إِذَا رُؤُوا ذُكِرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ﴾(۱) د الله نیک بندګان هغه وي: چي کله دوی ته و ګوري، نو انسان لره الله تعالی په یاد ورځي، نن موږ د الله د نیکو بندګانو ذکر ولي کوو، ځکه چي دوی د الله تعالی دومره ذکر کړی دی: چي اوس دوی هم قابل ذکر ګرځیدلي دي. نو ذکر د الله تعالی د ډېر لوی نعمت دی، چي د هغه اجر او ثواب هم بې انتهاء دی، او د هغه په وجه د انسان سهار او ماښام او څلرویشت(۲۴) ساعته لمحات د الله په یاد کي په اسانۍ سره تیریدای سي.

۴. څلرم کار دا کول: چي څومره فضول او لایعني خبري دي، او فضول او لایعني کارونه او مجلسونه دي، او فضول او لایعني مضامین او

(۱) الزهد و الرقاق: لعبدالله بن مبارک: حدیث نمبر ۲۱۷

پروګرامونه دي، د هغو ټولو څخه ځان ساتل، او د ځان ساتلو پوره اهتمام کول، او روزانه په دې څلورو (۴) خبرو باندي عمل کول.

## د خوب څخه مخکي محاسبه کول:

د سهار څخه تر ماښامه پوري د خپل ژوند محاسبه کول، یعني دا سوچ کول: سهار چي ما کمه اراده کړې وه، چي فرض او واجبات به ادا کوم، او د ګناه څخه به خپل ځان ساتم، او د لایعني کارو څخه به پرهیز کوم، او ټول کارونه به د الله د رضا دپاره کوم، ایا ما خو اوس ورځ د سهار څخه تر ماښامه پوري را ورسوله، زما څخه په دې کارو کي تقصیر سوی دی، او کنه، که چیري تقصیر نه وي سوی، نو د الله تعالی شکر ادا کول.

او که چیري د انسان څخه په دې خبرو کي تقصیر سوی وي، د پښېماني په شکل د الله تعالی څخه معافي غوښتل، ځکه د دنیا په ژندګي کي د هغه تلافي کول، اسان دي، د مرګ څخه وروسته بیا انسان ته ډېر مشکل ګرځي.

ماښام د ویدېدلو څخه مخکي د خپل تقصیر معافي غوښتل، ځکه دا معلومه نه ده: چي سبا ورځ د انسان په نصیب کې وي، او کنه وي، او دعا کول، چي یا الله! را روانه ورځ ما ته په خپل فضل سره ژندګي رانصیب کړې، چي زما هغه ورځ هم ستا د رضا مطابق تیره سي.

که چیري موږ روزانه دا معمول جوړ کړو، نو انشاء الله د ګناه څخه د ځان ساتلو توفیق به پیدا کړو، او کم لایعني کارونه چي زموږ پر ژندګي باندي غوړېدلي دي، د هغه څخه به هم په ښه طریقه خلاصون پیدا کړو، او زموږ د کور او د کور څخه دباندي ژندګي به انشاء الله اکثریت وخت د الله تعالی په عبادت کي او په نیکو کارو کي تیرېږي، او د هغه په وجه به د قیامت په میدان کي د لوی اجر او ثواب مستحقین جوړ سو.

الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته پر دغه خبرو باندي د عمل کولو توفیق راکړي، او الله تعالی دي زموږ او ستاسو دغه مجلس او ټول مجلسونه د خپلي رضا دپاره وګرځوي. (آمین یا رب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د اسلام محافظین

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب و تخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــخ | ۱۳ ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق ۱۱ جنوري ۲۰۱۸ |
| تـعــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ﴾(۱).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿الدِّينُ النَّصِيحَةُ، الدِّينُ النَّصِيحَةُ، الدِّينُ النَّصِيحَةُ» ، قَالُوا: لِمَنْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: «لِلّٰهِ وَلِكِتَابِهِ، وَلِنَبِيِّهِ، وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ، وَلِعَامَّتِهِمْ﴾(۲).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! الله تعالى پېغمبر ﷺ د يو عظيم رحمت په شکل دې دنيا ته مبعوث کړځولی دی، او پېغمبر ﷺ دنيا ته د ځان سره دوه(۲) شيان راوړي دي.

......يو روښانه کتاب.

......دوهم روښانه زړه.

چې علماؤ د هغه ښځه تعبير په علم کامل، او په عمل کامل، سره کړی دی، نو د کائناتو چې څومره سعادتونه او نيک بختۍ دي، هغه ټول له الله تعالى په علم او عمل کې دننه ايښي دي.

(۱)سورة المائدة: آيت نمبر: ۴۴
(۲) ...

نن په معاشره کي د علم او د عمل د انحطاط دور دی، زموږ نوجوان نسل علمي طور او عملي طور د دين څخه ليري روان دی، هره راتلونکې ورځ د دوی او د دين په درميان کي فاصله زياتيږي، او دا زموږ د ټولي معاشرې دپاره د فکروړ خبره ده.

## د صحابه کرامو ﷺ ګواهي:

نبي اکرم ﷺ چي د الله رب العزت د طرف څخه کم دين راوړی دی، او ده مبارک هغه دين پوره پوره صحابه کرامو ﷺ ته رسولی دی.

حتی چي کله ئې د "حجة الوداع" پر موقع باندي د صحابه کرامو د اجتماع څخه د دين د رسولو ګواهي وغوښتله، نو يو لک څلرويشت زره(۱۲۴۰۰۰) صحابه کرامو يک آواز د ده تصديق وکړئ، چي تا د الله تعالی د طرفه د دين د را رسولو حق ادا کړی دی، د هغه څخه وروسته پيغمبر ﷺ د آسمان و طرف ته وکتل، او و ئې ويل: ای الله! ته ګواه اوسه، ای الله! ته ګواه اوسه.

## د نبي اکرم ﷺ قرباني:

نبي اکرم ﷺ چي صحابوو ته کم دين را رسولی دی، په هغه کي هغه څومره قرباني ور کړي دي، تاسو خو د سيرت کتابونه لږ وګورئ، چي په مکي زندګي کي د دين په غم کي به زموږ محبوب ﷺ ته د شپې خوب نه ورتلی، او د ژړا څخه به ئې سينه مبارکه خوټکيدله.

او په خپله به الله رب العزت ده د تسلی دپاره جبرائيل امين ورته را استوی، هغه به دا پيغام ورته پېشوی:

﴿.......وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا﴾.(۱)

ای پيغمبره ﷺ! ته صبر کوه، ته زموږ په نګراني کي ئې.

---

(۱) سورة الطور، آيت نمبر ۴۸

چي کله به د پيغمبر ﷺ زړه صبر نه کاوی، نو دوهم ځل به حضرت جبرائیل علیه السلام دا پیغام ورته راوړی:

﴿.......وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾.(١)

د خپل رب دپاره صبر کوه.

لېکن د پيغمبر ﷺ زړه به بیا هم قرار نه کاوی، نو دریم ځل به جبرائیل علیه السلام د الله د طرفه دا تسلي ورته راوړله:

﴿.......وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِمَّا يَمْكُرُونَ، إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ﴾.(٢)

ای پيغمبر ﷺ ته دېر غمجن او نفس تنګی کېږه مه، ته تقوٰی کوه، الله تعالی د تقوٰی کونکو ملګری دی.

ځکه د الله رب العزت د محبوب ﷺ به دا حالت وو: چي ټوله شپه به ئې ژړل، او مبارکي اوښکي به ئې د ملغلرو د لړی په شکل پر سینه مبارکه را توېدلې، نو صرف دا نه بلکه ټوله شپه به ئې اوږدې اوږدې سجدې کولې، نو د پيغمبر ﷺ مکي ژندګي د قربانیو یو داستان وو.

## ابوجهل ته د دین دعوت ورکول:

د سیرت په کتابو کي لیکلي دي: چي پيغمبر ﷺ د ابوجهل کور ته د دین د دعوت په خاطر درې زره(٣٠٠٠) واره ورغلی دی.

یو ځل د باران او د طوفان وخت وو، او خلګ د خوف څخه په خپلو کورو کي محصور پاته وو، د خپل هلاکت د خوف څخه څوک دباندي را وتلی نه سو، نو په دې دوران کي د ابوجهل د کور دروازه و ټکېدله.

(١) سورة المدثر، آیت نمبر ٧

(٢) [illegible] ١٢٨، ١٢٧

ابوجهل چې کله واورېدله، نو خپلې زنانې ته وايي: چې داسې معلومېږي، دا سړی ډېر زيات ضرورت مند او محتاجه دی، چې په دې طوفاني حالت کې ئې د هرڅه د پرواه کولو بغير زموږ د کور دروازې ته راغلی دی.
زما دې په رب د کعبې قسم وي، چې زه به د ده سوال ضرور پوره کوم، چې څه زما په وس او طاقت کې وي، هغه به نه ور باندې سپموم، ابوجهل چې کله دروازې ته راغلی، دروازه ئې خلاصه کړه، نو که ګوري محمد رسول اللهﷺ د ده د کور دروازې ته ولاړ دی.
ابو جهل پوښتنه ځنې وکړه، چې سړيه! په دې طوفاني حالت کې څنګه راغلې، او کمې مجبورۍ زما تر کوره پورې را وستې؟
د الله محبوبﷺ ورته وايي: چې زما په زړه کې دا خبره راغله، چې ممکنه ده، الله تعالی به ستا زړه د دين د قبوليت د پاره نرم کړی وي، نو هغه د دين پيغام مې ستا تر کوره پورې راورساوی، اميد لرم چې ته به و دغه پيغام ته غاړه کښېږدې.
ابوجهل چونکه شقي ازلي وو، او د هغه په قسمت کې ايمان راوړل نه وو، نو د څه ويلو بغير ئې دروازه بنده کړه، او خپل کور ته ننه واتی، پيغمبرﷺ تر يو وخته پورې هلته ولاړ وو، چې کله د ده څخه مايوسه او نااميده سو، نو د خپل کور پر طرف روان سو. (۱)

## د پيغمبرﷺ په مدني ژوند کې قرباني:

او چې کله ئې د مکې مکرمې څخه د دين د حفاظت په خاطر هجرت وکړی، او مدينې منورې ته راغلی، نو په دې وخت کې ده ته د جهاد اذن او اجازه د الله د طرفه څخه وسوله، نو هغه خپله ټوله مدني زندګي په جهادونو کې تيره کړه.

(۱) خطبات فقير، جلد نمبر ۹، صفحه نمبر ۱۹۵

ده په لس(۱۰) کلنه مدني زندګي کي بنفس نفيس په اوو يشت(۲۷) غزاګانو کي شرکت وکړی، او شپږ پنځوس(۵۶) جنګي تشکيلونه ئې په خپل لاس برابر او رخصت کړل.

او د دين د فاع دپاره په سختو معرکو کي شريک سو، او پر دې مبارک دين ئې خپله وينه توی کړه، او سر مبارک ئې زخمي او غاښونه ئې شهيدان سول.

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: چي کله د "أحد" ورځ وه، نو پيغمبر ﷺ د خپل بدن په وينو داسي رنګيدلی وو: چي ما هر څو مره ورته کتل، نه مي پيژاندی، آخر مي صرف پر سترګو مبارکوو پيژاندی، چي دا د پيغمبر ﷺ سترګي دي.

## د پيغمبر ﷺ د علم او عمل محافظين:

صحابه کرامو رضي الله عنهم د محبوب ﷺ څخه هغه دين ايزده کړی، او هغه ئې په خپله زندګي کي عملي کړی، دوی د پيغمبر ﷺ د علم او عمل دواړو محافظين جوړ سوه.

دوی هغه دين په خپلو دماغو کي محفوظه کړی، او په خپله زندګي کي ئې د عمل کولو په شکل هم د هغه حفاظت وکړی.

ځکه د صحابه کرامو رضي الله عنهم جماعت د نبي اکرم ﷺ د ټولو حالاتو او اعمالو محافظ وو، هغه د عشاق مجمع وه، او د الله تعالی يو منتخب جماعت وو، هغو چي به کله د نبي اکرم ﷺ يو عمل وليدی، نو په خپله به ئې دستي په خپله زندګي کي جاري کاوی.

د هغو د پيغمبر ﷺ پر مبارکو سنتو باندي دعمل کولو تر دې حده پوري شوق وو: چي د هغو د زندګی هر عمل ناسته، او ولاړه، رفتار، او ګفتار، غرض دا: چي هر څه ئې د پيغمبر ﷺ پر مبارکو طريقو باندي برابر کړل.

چي کله به د ليرو ملکو څخه وفدونه او ډلي د پيغمبر ﷺ د ملاقات دپاره راتلو، نو په هغه کي به تجربه کاره او جهانديده قسم خلک وو.

لیکن چې کله به د پیغمبرﷺ د ملاقات دپاره مسجد نبوي ته راغلل، چې کتل به ئې نو ټول انسانان به په ظاهري اعمالو او افعالو کې او په ګفتار او رفتار کې تر دې حده پوري یو رنګه وو، چې هغو به بیا پوښتنه کوله، چې په تاسو کې د الله نبي څوک دی؟

حقیقت داوو: چې نقل اصل ته دومره نژدې سوی وو، او تابع دخپل متبوع دومره تابع ګرځیدلی وو، چې د دوی په درمیان کې فاصلې او فرقونه بالکل ختم سوي وو، چې د هغه په وجه خلګو ته هیڅ معلومات نه کیدی، نو ځکه به پوښتنې ته مجبوره وه.

## حیرانونکې مماثلت:

د هجرت پر موقع باندې چې کله پیغمبرﷺ او حضرت ابوبکرؓ مدینې منورې ته راورسیدل، نو د "قباء" پر علاقه باندې د مدینې منورې ټول خلګ د دوی دواړو استقبال ته راوتلي وه، چې کله ئې دوی ته کتل، د دوی ټوله حالات او اعمال او حرکات یو رنګ وه، نو هغوته دا نه ور معلومېدله، چې په دې دوو کسانو کې نبي کم یو دی، او امتي کم یو دی.

حتی چې د مدینې منورې خلګو اول ځل د نبي اکرمﷺ په نیت باندې د ابوبکر صدیقؓ سره مصافحه شروع کړه، چې نبي دغه دی، او ده هم د دوی سره مصافحه کوله، ځکه د ده دا فکر وو: چې محبوبﷺ ستړی دی، چې د مصافحې په وجه نور ستړی نه سي.

نو دوی دواړه مبارکان د یو بوټي (خاشې) سایه ته کښېنستل، هغه خلګ شا او خوا ورته ناست دي، د دوی دیدار کوي، چې کله لمر راپورته سو، او د هغه شغلې د پیغمبرﷺ پر مخ باندې لګېدلې، نو حضرت ابوبکرؓ ولاړ سو، خپل چادر او پټو ئې پر هغه بوټي (خاشه) باندې واچوی، چې پر پیغمبرﷺ باندې سایه جوړه کړي.

دده د دغه عمل د لیدلو په وجه د مدینې خلک حیران سول، چې موږ کم سړی نبي بللی وو، او د هغه سره مي مصافحه وکړله، نو هغه په حقیقت کي امتي دی؛ او نبي ﷺ هغه څوک دی، چي دی د هغه خدمت کوي.(۱)

## د ابن عمر رضی الله عنه د سنت اتباع:

په روایاتو کي راځي: چي یو ځل حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه د حج پر سفر باندي روان وو، په لاره کي هغه یو ځای خپله سوارلي و دروله، او ځني را شوه سو، او د صحرا طرف ته دا رنګه ولاړی، لکه یو څوک چي د قضاء حاجت دپاره ځي، یا یو ځای کښیناستی، لکه یو څوک چي د قضاء حاجت څخه ځان فارغه کوي.

لیکن دی د قضاء حاجت د ضرورت پوره کولو څخه بغیر د غسي واپس راغلی، او پر اوښ باندي سپور سو، او پر مخ روان سو.

ملګرو پوښتنه ځني وکړه، چي حضرت! ستا ددې عمل په وجه موږ دلته ټوله ودرېدلو، حالانکه ستا د قضاء حاجت څخه د فراغت ضرورت نه وو، آخر ولي؟

دی مبارک په جواب کي ورته وایي: چي زما د قضاء حاجت ضرورت نه وو، بلکه اصل خبره داوه: چي ما یو ځل د پیغمبر ﷺ سره پر دغه لار باندي سفر کاوی، او پر دغه ځای باندي زما محبوب پیغمبر ﷺ ودرېدی، او دغه ځای ته ورغلی، او د قضاء حاجت څخه ئې ځان فارغه کړی، زما زړه هم دا غوښته: چي زه د محبوب ﷺ د دې عمل مطابق خپل عمل وکړم.(۲)

د دې څخه تاسو اندازه ولګوی! چي هغه د پیغمبر ﷺ د اعمالو څومره محافظین ول، هغو چي به هر څه د پیغمبر ﷺ ژبی مبارکي څخه اورېدل، یا به ئې د هغه اعمال لیدل، نو هغه به ئې دستي په خپله زندګي او عمل کي راوستل.

(۱) خطبات فقیر جلد نمبر ۸ صفحه نمبر ۱۵۷

## د پيغمبر ﷺ د وينا خيال ساتل:

د پيغمبر ﷺ په دور كي د مسجد نبوي يوه دروازه وه، چي د هغه څخه به اكثريت وخت زناني مسجد ته راتلې، او چي كله به زناني نه وې، نو كله ناكله به نارينه هم د هغه دروازې څخه راتلل.
يو ځل پيغمبر ﷺ صحابه وو ته و فرمايل: چي څومره ښه به واى: كه چيري تاسو دغه دروازه د ښځو د پاره مختصه كرځولې واى، يعني نارينه د دغه دروازې څخه مسجد نبوي ته نه راتلاى.
صحابه كرامو چي كله دا واوريدل: نو هغو د دغه دروازې څخه مسجد نبوي ته راتلل، پرې ښول.
حتى چي حضرت عبد الله بن عمر ﷺ د پيغمبر ﷺ د دې خبري دا اوريدلو څخه وروسته ټوله زندګي بيا د دغه دروازې څخه مسجد نبوي ته راداخل نه سو، ځكه چي هغه د پيغمبر ﷺ د خولې څخه دا اوريدلي وه: چي ددې دروازې څخه مه راځئ، نو بيا هم مجال نه وو، چي دى دې د هغه دروازې څخه مسجد نبوي ته راننوتلى واى، او تر مرګه پورې ئې هغه خبره په غوږ كي نيولې وه.
نو صحابه كرامو د پيغمبر ﷺ د خبري په دا سې شان باندې خيال ساتى، الله رب العزت دوى ته د پيغمبر ﷺ سره دومره عشق ور نصيب كړى وو، چي دوى ته به د پيغمبر ﷺ هر خبره ياد وه، او دوى به په خپلو دماغو كي هم د پيغمبر ﷺ علم ياد ساتى، او په هغه سره به ئې خپل ايمان تازه كاوى، او پر خپل بدن باندې به ئې په عملي شكل سره جاري كاوى.(۱)

## د يو صحابي ﷺ اتباع سنت:

د يو صحابي ﷺ په باره كي راځي: چي هغه د "حبشه" استوګن وو، هغه چي به هر كله غسل وكړى، نو زړه به ئې دا غوښتل چي زه هم په خپل سر او وريښتانو

(۱) خطبات فقير جلد نمبر ۸ صفحه نمبر ۱۵۹

کي داسي لارو باسم، لکه د پیغمبر ﷺ د سر په وربښانو کي چي څنګه لار وتلې ده.

لیکن دی د "حبشي النسل" کیدلو په وجه د ده وربښتان پیچیلي او سخت وو، او په هغو کي لار نه وتله، دی به همیشه د دغه سوچ او فکر په وجه چي زما سر د پیغمبر ﷺ د سر سره مشابه نه دی، پریشانه وو.
یو ځل ئې اوزبل کړی، او پر هغه باندي ئې یو "او-پنا" گرمه کړه چي کله هغه بنه سره سوه، نو د خپل سر په درمیان کي ئې د لاري ایستلو پر ځای ولګوله.
د هغه گرمي او سپني په وجه د ده وربښتان او د سر پوست دواړه وسوځل سوه، او د هغه څخه د ده په سر کي زخم جوړ سو، چي کله د ده سر د هغه زخم څخه جوړ والي پیدا کړی، نو بیا به د ده د سر په درمیان کي یو سپینه لیکه معلومیدله.
نو ملګرو پوښتنه ځني وکړه، چي آخر د دومره تکلیف کشولو څه ضرورت وو؟
ده په جواب کي ورته وویل: چي تکلیف خو مي برداشت کړی، لیکن په دې خبره ډېر خوشحاله یم، چي د لږ تکلیف کشولو وروسته ما خپل سر د ټول عمر دپاره د پیغمبر ﷺ مبارک د سر سره مشابه وګرځاوی.

## د دین د حفاظت اصل وجه:

په اولنیو دورو کي پر دین باندي لوی لوی حملې سوي دي، کله د کفارو د طرف څخه، او کله په اسلام کي دننه د منافقینو د طرف څخه.
لیکن الله تعالی دي جنتونه ور نصیب کي د صحابه کرامو جماعت ته چي په هر دور کي ئې د هغه حملو مقابله کړې ده، او په خپله جاني او مالي قرباني سره ئې د دین حفاظت کړی دی.
دغه وجه ده، چي د نن څخه څورلس سوه (۱۴۰۰) کاله اوږدې زمانې د تیرېدلو وروسته هم دین په اصلي شکل زمونږ سره محفوظ دی، دا دین تر مونږه پوري د

خورک نه دي را رسيدلی، بلکه دا دين د قربانيو په ذريعه تر موږ پوري را رسيدلی دی.

## د صحابه کرامو قرباني:

صحابه کرامو ته هم پر دې دين باندي بې حده زيات تکليفونه ورکول سو، خپل کورونه ئې پاته هجرتو ته مجبوره کړل سو، د هغو کورونو خراب او بچي ئې شهيدان سول.
حضرت بلال رضي الله عنه ته څومره تکليفونه ورکول سوي دي، په سخته ګرمي کي به ئې پر ګرم ريګ باندي پرې ايستی، او پر سينه مبارکه به ئې لويه ډبره ور کښېښوله، چي ده به حرکت نه سو کولای، مګر د دې ظلم او ستم سره سره به ئې هم د خولې څخه د اَحد ،اَحد نعره ختله.
سيده زنيره رضي الله عنها د بوډاتوب په زمانه کي دومره ووهل سوه، چي دهغې د سترګو بينائي ختمه سوه.
ابوجهل چي به کله وليدله، نو به ئې ورته ويل: چي زموږ د "لات" او "منات" ازار در پسي سو، چي دسترګو بينائي دي ختمه سوه، دې خوبه اول ځل هغه تکليفونه برداشت کول، لېکن چي کله به ابوجهل د لات او منات دغه خبره ورته وکړه، نو دې پر هغه باندي ډېر زيات ژړل.
يو ځل د ابوجهل پر دغه خبره باندي د ژړا په دوران کي حجرې ته ننه وتله، او په سجده کي پرېوتله، او د الله حضور ته خپل فرياد پېشوي.
...... اي زما پروردګاره! دوی زه دومره ووهلم، چي زما بينائي ختمه سوه، ما ستا په خاطر هر قسم تکليف برداشت کړی، لېکن اوس دوی ما ته دا طعنه را کوي: چي "لات" او "منات" ستا بينائي در ختمه کړه، ای مالکه! چي کله بينائي نه وه، هم تا راکړه، او چي کله وه، نو هم تا را څخه واخسته، ای زما مولی! زما بينائي بيرته ما ته راکړه.

چي کله دې خپل فرياد د الله دربار ته پيش کړی، او تر دې وخت پوري ئې سر لا د سجدې څخه راپورته کړی نه وو، چي الله تعالی دې ته خپله بينائي دوباره ورکړه.

## د دين د دشمنانو مقابله:

دا دين د پيغمبر ﷺ څخه صحابوو ته رسيدلی دی، او د صحابوو څخه تر موږه پوري را رسيدلی دی، او دا سلسله به په تسلسل سره په هر دور او زمانه کي روانه وي.

د وخت بادشاهانو او مفات پرست انسانانو د دين پر خزانه باندي هر وخت د ډاکې وهلو کوشش کړی دی، او دوی دغه دين د خپل مرضی مطابق د راګرځولو ترتيبونه برابر کړي دي، چي دا دين زموږ د خواهشاتو مجموعه جوړه سي.

ما مخکي درته وويل: چي الله دي جزاء خير ورکړی، د علماؤو جماعت ته چي هغوی په هر دور کي د هغو و مخته په ډېر کلک عزم سره پيش سوي دي، او دا ئې ويلي دي: چي دا هيڅ کله کيدای نه سي، چي موږ تاسو ته د دين په احکامو کي د رد او بدل کولو اجازت در کړو، په دغه مقصد او مشن کي دوی ډېري زياتي قرباني ورکړي دي.

## د امام اعظم ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ وفات:

امام اعظم ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ چي کله د زندګۍ آخري دورانيې ته رسيږي، نو په دې وخت کي د ده د ژوند آخري شيبې د وخت د ظالمانو په جيلو کي تيريږي، ځکه چي هغه ظالمانو دا خبره محسوسه وله: چي د ده په شاګردانو کي ورځ په ورځ اضافه راځي، نو هغوته دا خدشه وه، چي هسي نه زموږ دپاره خطره جوړه نه

نو د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه زكندن په داسي حال كي راځي: چي د ده په لاسو او پښو كي د جيل خانې "هتكړۍ" دي، او د ده لاسونه او پښې د جيل خانې په زنځيرو او هتكړيو كي تړلي دي، او هغه د ده د وفات كيدلو څخه وروسته د ده دلاسو او پښو څخه خلاصيږي.

او د ده جنازه د جيل خانې د تورو كوټو او سنګلاخو څخه رايستل كيږي، نو هغه د خپل دين او اسلام د حفاظت په خاطر د داسي حالاتو سره مخا مخ كيږي، او د څه پر واه كولو بغير د خپل دين او اسلام د حفاظت دپاره هر قسم قرباني ته تيار وي:

## د امام مالک رحمة الله عليه جرأت:

امام مالک رحمة الله عليه په خپل وخت كي د "مدينې منورې" تر ټولو لوی عالم وو، لكه پيغمبر ﷺ د ده متعلق دا پيشن ګوئي هم كړې وه، چي انسانان به د ليري ځايو څخه د مدينې منورې لوی عالم ته د علم د زده كړي دپاره راځي، لكه: په حديث شريف كي مذكور دي:

......يُوشِكُ أَنْ يَضْرِبَ النَّاسُ أَكْبَادَ الإِبِلِ يَطْلُبُونَ العِلْمَ فَلاَ يَجِدُونَ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْ عَالِمِ الْمَدِينَةِ﴾.(١)

قريبه ده چي خلک به پر اوښانو باندي د علم د طلب دپاره راځي، او دوی به د عالِم د مدينې څخه بل لوی عالِم نه سي پيدا كولای.

عام محدثين پر دې خبره دي: چي د عالِم د مدينې څخه مراد: امام مالک رحمة الله عليه وو، چي په خپل وخت كي تر ټولو زيات علم الله په نصيب وركړی وو، او اوولس(١٧) كاله ئې مسلسل د پيغمبر ﷺ پر مسند باندي د حديثو درس وركړی، ليكن چي كله ئې د وخت د حاكمانو د رضا مطابق فتوی ور نه كړه، هغو هر څو مره مجبوره كړی، ليكن دی د هغو پر مرضي نه ورسره تلی.

(١) سنن ترمذي: حديث نمبر ٢٦٨٠

نو د سزا په طور ئې پر خره باندي سپور کړی، او مخ ئې ور تور کړی، او د حاکم په حکم ئې په ټوله مدینه باندي و ګرځاوی.
لیکن تاسو د امام مالک رحمة الله علیه جرأت ته ګوریٔ! چي کله به پر خره سپور یو ځای ودرول سو، نو خلګ به ور باندي راټول سو، نو ده به هغو ته ویل: ای خلګو! چي کم څوک ما پېژني، هغه خو مي پېژني، لیکن چي کم څوک مي نه پېژني زه مالک بن انس یم، او ﴿وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ﴾ زه د دین په معامله کي د ملامت کوونکو د ملامت کولو هیڅ پرواه نه لرم.(۱)

**پر امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه باندي ظلم او ستم:**

تاریخ پردې ګواه دی: که چیري په مسلمانانو کي دوه(۲) کسان نه وای، نن به اسلام نه وای.
لکه د تاریخ الفاظ دي:
......لَوْ لَا أَبُوْ بَكْرٍ لَمَا عُبِدَ اللهُ﴾ که چیري ابوبکر نه وای، نن به د الله عبادت نه وای.
......لَوْ لَا أَحْمَدُ لَمَا عُبِدَ اللهُ﴾ که چیري احمد بن حنبل نه وای، نن به اسلام نه وای.
امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د "خلق القرآن" په مسئله کي داسي سختي "دُرې" برداشت کړې: که چیري هغه "دُرې" د ده د جسم پر ځای پر یو فیل باندي لګیدلي وای، لا به ئې چیغې پورته سوي وای، لیکن ده په ډېر صبر او استقامت سره برداشت کړلې.
د ده د بدن پر کمه حصه چي به "دُره" و لګېدله، نو د بدن غوښې به ئې مړې سوې، بیا به ئې په غچي ځني پرې کولې، او پر هغه ځای به ئې مرهم لګول.
چي کله د غه فتنه را پورته سوه، نو ټوله علماء د خپل ځان د حفاظت په خاطر پټ سول، څوک وتښتېدل، څوک جلا وطنه سول، لیکن امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه

مقابلې ته راوړاندي سو، او دا ئې وويل: که څوک زما سر پرې کوي، خو پرې دې ئې کړي، لېکن زما دژبې به د حق څخه سوا بله کلمه نه وزي.
آخر دی ونیول سو، او ډېره زمانه ئې په جيلو کي تيره کړه، يو ځل ئې په جيل کي د ډېر وخت تيرولو څخه وروسته د مناظرې دپاره را وياستی، درې(۳) ورځي مسلسل "مناظره" شروع وه، او درې(۳) سره ورځي معتزله وو، ماتې خوړله.
څلرمه(۴) ورځ چي کله راغله، نو امام احمد بن حنبل ته دا ور معلومه سوه: چي نن به يا زما مرګ وي، يا به ما په وهلو تباه کوي، نو د جيل څخه د مناظرې دپاره د عسکرو په پيره کي را روان دی.
په زړه کي ئې دا خيال ورغلی: چي زه خو بوډا سوم، او د "بنو عباسيه وو" "دُرې" ډېرې سختي دي، شايد زه به ئې برداشت نه کړم، نو د خپل ځان د بچا وولو دپاره که زه نن زه د خلق القرآن اقرار وکړم، نو الله تعالی ما ته اجازت را کړی دی، چي زه خپل ځان بچاو کړم.
نو په دې فکر او سوچ کي مناظرې ته را وړاندي کيږي، د خلګو ډېره لويه اجتماع جوړه ده.
چي اچانک يو سړی د اجتماع د درميان څخه را وغورځيدی، او په منډه امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه ته قريب راغلی، اوپه غوږ کي ورته وايي: ای احمده! ته ما پيژنې، دی مبارک ورته وايي: نه، هغه بيا ورته وايي: زمانوم "ابو الهيثم" دی، او زه د بغداد مشهوره غل يم، ما د "بنو عباسيه وو" "دُرې" خوړلي دي، په خدای قسم د هغو په وجه ما تر اوسه غلا نه ده پرې ايښې.
هسي نه چي ته د "بنو عباسيه وو" د "دُرو" د بيرې په خاطر د حق کلمه پرېږدې، خدا نخواسته که چيرې د حق کلمه در څخه پاته سوه، نو ټوله امت به د تباهی سره مخامخ کړې.
امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه چي به کله يادوی: نو ده به ويل: ﴿رَحِمَ اللهُ اَبَا الْهَيْثَم﴾ الله تعالی دې پر "ابو الهيثم" باندي رحم وکړي، پر ډېره نازکه مرحله باندي ئې

زما دستګیري وکړه، ځکه چي د ده په تسلي باندي ما د ځان سره دا فیصله وکړه: که زما جسم ټکړه ټکړه کیږي، خو زه به د حق کلمه نه پرېږدم.
چي د کم چا سره د ده "مناظره" وه، د هغه نوم: هم احمد وو، خو هغه احمد بن داؤد او دی احمد بن حنبل وو.
چي کله د "دُرو" د وهلو په وجه د ده بدن په وینو کي لت پت سو، نو هغه نږدې ورته راغلی، ورته وایي: ای احمده! که اوس هم دا خبره را سره ومنې، چي قرآن مخلوق دی، نو زه به دي د خلیفه د عذاب څخه خلاص کړم.
دی د بې هوښۍ په حالت کي ورته وایي: ای احمده! که ته اوس هم دا خبره را سره ومنې: چي قرآن د الله کلام غیر مخلوق دی، نو زه به تا د الله د عذاب څخه خلاص کړم.(۱)
د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د بې نظیر ثابت قدمۍ او استقامت په خاطر دغه فتنه د همېشه دپاره ختمه سوه، او مسلمان قوم د یو ډېرې لوی خطرې څخه محفوظه سو.
چي کمو خلګو په دغه دیني ابتلا کي د وخت د حکومت سره ملګري وکړه، او د موقع پرستۍ او مصلحت شناسۍ څخه ئې کار واخستی، نو هغه په دنیا کي د خلګو د نظرو څخه ولوېدل، او د دنیا زندګي ئې په ذلت او رسوائي کي تیره سوه.
د دوی په مقابل کي حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه سره محبت کول، د "اهل سنت" او د "صحیح العقیده" مسلمانانو شعار او علامت جوړه سوه.
ځکه د ده په باره کي د یو عالم احمد بن ابراهیم الدورقي قول دی:
...... چي کم سړی د احمد بن حنبل په بدو الفاظو سره ذکر کوي، نو د هغه اسلام ته په مشکوک نظر سره ګوري.
یو بل عالم لیکلي دي:

..... چي كله تاسو يو سړی وويني، چي هغه د امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه سره محبت كوي، نو په دې پوه شئ، چي هغه د سنتو متبع دی.

د هغه قرباني نتيجه الله تعالى په دنياكي د داسي عظمت او مقبوليت په شكل كي ور كړه، چي كله په (۲۴۱) هجري كي د ده وفات وشو، نو د ټولو ښهر انسانان را ووتل، د ده پر جنازه باندي د انسانانو دا سي هجوم وو: چي د دې څخه مخكي داسي هجوم د هيڅ چا پر جنازه باندي نه وليدل شوی.

د ده د جنازې د لمانځه كونكو تعداد اندازه اته لكه(۸۰۰۰۰۰) نارينه وو، او شپيته زره(۶۰۰۰۰)زنانه وو د ده د جنازې په لمانځه كي شركت وكړی.(۱)

## د الله ديدار كول:

احمد بن محمد الكندي رحمة الله عليه وايي: چي ما امام احمد رحمة الله عليه په خوب كي وليدی، پوښتنه مي څني وكړه، چي الله تعالى څه در سره وكړه؟ ده را ته وفرمايل: چي الله تعالى مي بخښنه په نصيب كړه، او دا ئې را ته وويل: ای احمده! زما د دين په باره كي ته په "دُرو" وهل شوی ئې، ما ورته وويل: هو ای زما ربه، ده را ته وويل: چي دا زما بلاكيفه چهره ده، ما تا ته هر وخت خپل ديدار مباح گرځولی دی.

## د "جسد" حفاظت:

ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمايلي دي: (۲۳۰) كاله بعد د ده د قبر سره نژدې د يو معزز سړي قبر جوړيدی، نو د ده "جسد" په خپل قبر كي اچانک ښكاره شو، خلكو چي ورته وكتل، نو د ده كفن بالكل صحيح او سالم وو، او د ده په "جسد" مبارک كي هيڅ قسم تغير نه وو راغلی، گويا دی دا اوس اوس پټ شوی وو.(۲)

(۱) تاريخ دعوت و عزيمت: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۹۶ تا ۱۰۲

(۲) كشكول معرفت: صفحه نمبر ۲۷۳ تا ۲۷۵

**د حضرت سعيد بن جبير رحمه الله استقامت:**

يو زمانه داسي هم تيره سوه، چي د حجاج بن يوسف د ظلمونو په مقابله کي حضرت سعيد بن جبير رحمه الله ودريدی، او هغه ته ئې د حق وينا وکړه.

ځکه د ظالم د ظلم په مقابل کي د حق وينا کول لوی جهاد بلل سوی دی، لکه پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

......أَفضَلُ الْجِهادِ مَنْ قالَ كَلِمَةَ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطانٍ جائِرٍ﴾.(١)

بهترين جهاد د ظالم بادشاه په مخ کي د حق کلمه ويل دي.

حجاج بن يوسف ورته وويل: چي زه به اوس تا "فنا في النار" کړم، مګر د استقامت لوی غر سعيد بن جبير رحمه الله ورته وايي: چي زه تا د دوزخ او جنت مالک نه بولم، او نه د دوزخ او جنت اختيار ستا په لاس کي بولم.

**زموږ علمي شجره:**

د صحابه کرامو څخه دغه دين "تابعينو" را واخستی، او د "تابعينو" څخه "تبع تابعينو" را واخستی، دا يو علمي تسلسل دی، چي تر موږه پوري ئې دا دين راورساوی، دا په تواتر سره تر موږ پوري رارسيدلی دين دی.

موږ په پټو سترګو نه بلکه بنابر بصيرت دا خبره کوو: چي زموږ يو علمي شجره ده، او يو علمي تعلق دی، چي د پيغمبر ﷺ څخه بيا تر موږ پوري هغه د استاذانو په ذريعه را رسيدلی دی.

**د علماء کرامو فريضه:**

اوس الله تعالی د دغه دين د حفاظت ذمه داري د امت د علماؤ او د مشايخو پر وږو باندي وراچولې ده.

لکه الله تعالی په قرآن کريم کي فرمايلي دي:

...... وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ ﴾.(١)

هغه رباني علماء او احبار يعني عالم با لله او عالم بكتاب الله د هغو فرض منصبي د قرآن كريم حفاظت دى، او دوى د قرآن كريم پر حقانيت او حفاظت باندي گواهان دي.

لكه په عام عرف كي چي كله يو اهم پُل وي، نو د هغه د حفاظت دپاره د عسكرو پوستې جوړي وي، نو علماؤ و هم د قرآن كريم پرهر آيت او د دين متين پر هر حكم باندي داسي پوستې اچولي دي، چي هر گړى او لمحه ئې د هغه حفاظت كړى دى.

علماء كرامو هيڅ چا ته هم د قرآن كريم په ظاهري الفاظو كي د بدلون اجازت نه دى وركړى، او هم ئې د هغه دغلطو تعبيراتو په ذريعه په دين كي د خلل پيدا كولو مخ نيولى دى، دا د علماؤو ذمه داري ده.

او په هر عصر كي د هغه دور علماؤو په ذمه داره طريقه سره دغه ذمه داري سر ته رسولې ده، په دې شكل دا دين په دې امت كي راغلى دى، الحمدلله د دې علمي تسلسل يو ډېر لوى پس منظر دى..

نن سبا چي په مدارسو كي نوي نسل ته څه ويل كيږى، هغه څه د نن نوې اختراع نه ده، بلكه دا غه د اكابرينو څخه رانقل سوي خبري دي، چي را روانو نسلونو ته په دغه ذريعه باندي رسول كيږي.

نو پر هر مسلمان باندي دوې(٢) ذمه دارى عائدي گرځي، يو دا: چي په خپله دين ايزده كول، او دوهم دا: چي را روان نسل ته ددين احكام رسول.

---

(١)سورة المائدة: آيت نمبر: ۴۴

## په برصغير کي د فرنګيانو ظلم او ستم:

زموږ او ستاسو په دې نږدې دورونو کي چي کله په (۱۸۵۷) کي د هندوستان د آزادۍ جنګ د انګريز په ګټه تمام سو، نو هغه پر مسلمانانو د ژوند دائره را تنګه کړه.
انګريزانو مبصرين را طلب کړل، او هغو ته ئې وويل: چي تاسو تجزيه وکړئ، چي د مسلمانانو تحريکونه به څنګه ختم کړو، هغه مبصرينو دا تجزيه وکړه، او درې(۳) خبري ئې ښکاره کړې، او وئې ويل: که چيري تاسو دغه درې(۳) کاره وکړی، نو د مسلمانانو تحريکونه به خود بخود ختم سي.

۱. د مسلمانانو څخه قرآن کريم را ټولول.
۲. د اسلامي معاشرې څخه علماء ختم کول.
۳. د عوام الناس بچيانو ته انګريزي تعليم په داسي شکل ورکول: چي هغوی د انګريز په رنګ او لباس کي راسي.

چنانچه انګريزانو د ټولو څخه مخکي د قرآن کريم په لکونو نسخې ضبط کړې، بيا هغو د علماؤ دپاره باقاعده تحريک وچلاوی، او څورلس زره(۱۴۰۰۰) علماء ئې "پانسی" کړل.
"انگریز کے باغی مسلمان" نامه کتاب کي ليکلي دي: چي د "دِهلي" څخه تر پېښوره پوري د "جي ټي" سړک پر يو طرف او بل طرف باندي چي څومره درختي وې، پر هغو ټولو باندي ئې د "پانسی" رسي تړلي وې، او پر هغه باندي به ئې علماؤ ته "پانسی" ورکولې، او د هغو جسدونه به په شپو شپو را ځړېدل، هيڅ چا به د هغه د شوه کولو جرأت نه سو کولای، او په دې عمل به دوی د عوام الناس په زړو کي ېيره اچوله.
د بادشاهي مسجد پر دروازه باندي به د "پانسی" رسی ځړېدله، او څلرويشت(۲۴) ساعته به "پانسی" شروع وله، علماء به "یکے بعد دیگرے"

**يوه د تشدده ډکه واقعه:**

حضرت مولانا جعفر تهانيسري رحمة الله عليه په خپل کتاب "تاريخ کالا پانی" کي ليکلي دي: چي زموږ د علماوو يو قافله وه، چي انگريز دغه قافله د "دهلي" څخه لاهور ته راواستوله، کم انگريز چي موږ د "دهلي" څخه لاهور ته راواستولو، هغه فقط موږ ته په لاسو کي "هتکړی" را وگولې، موږ په ډېر اطمينان سره د الله الله په ورد کولو سره د "دهلي" څخه لاهور ته راورسيدلو.

ليکن د لاهور د جيل چي کم انچارج وو، هغه ډېر جابر او متشدد غوندي انسان وو، هغه ويل: چي دا مولويان په ډېر آرام سفر سره دلته راورسيدل، زه به دلته اوس و دوی ته سبق ورښيم، چي دوی څنگه زموږ سره غداري کوي، او زموږ نمک حرامه دي.

نو هغه په "ريل گاډی" کي دننه کښني کښني سيټان جوړ کړل، او په هر سيټ کي ئې څلور طرفه تيره ميخونه ولگول، ده ليکلي دي: چي زموږ د ناستي دځای پر څلور طرفه يو يا دوه انچه پر فاصله باندي دغه تيره ميخونه لگيدلي وه.

موږ ئې په دغه سيټانو کي کښېنولو، چي کله "ريل گاډی" روانه سوه، او موږ ته به ئې جټکه راکړه، نو زموږ تر جسم به د شا د خوا ميخونه ختل، او چي کله به د راسته طرف څخه جټکه راغله، نو د چپه طرف ميخونه به په موږ جگېدل، او چي کله به د چپه طرف څخه جټکه راغله، نو د راسته طرف په ميخو به زخمي کيدلو، په روانه کاډی کي به موږ ته هيڅ معلومات نه کيدی، چي اوس به گاډی چلونکی بريک نسي، او که نه، ليکن چي کله به يو دم بريک ونيول سو، نو زموږ تر هغه زخمي بدنو به بيا ميخونه ختل.

دی فرمايي: چي کله به زموږ پر بدن باندي خوله راغله، او وينه به هم وه، نو بيا د ډېر تکليف څخه موږ بې قراره وو.

مونږ پوره يوه مياشت د ورځي به هم ناست وو، او د شپې به هم ناست وو، او پر دا غه ځاى به زمونږ بولي او تقاضاء حاجت كيدل، مگر زمونږ دپاره به د اوبو هيڅ بندوبست نه وو، او د هغه په وجه به بدبوئي ډېره زياته وه.
دومره سخته سزاء به دوى ځكه مونږ ته راكوله، چي مونږ تنگ سو، او دوى ته ووايو: چي بس تاسو څه واياست مونږ ئې درسره منو، مگر قربان تر داسي كلكو عزمو چي هغو تكليفونه خو برداشت كړل، مگر دوى هيڅ كله د فرنگي خبري منلو ته تيار نه سو.
دى فرمايي: د دغه يوې مياشتي پر مشقت سفر څخه بعد چي مونږ كله "مُلتان" ته راورسيدو، نو هلته موجود حاكم دا فيصله وكړه، چي دې خلگو ته به مونږ سبا "پانسى" وركوو، او د "پانسى" په دار به ئې را ځړوو، مونږ چي كله د "پانسى" خبره واورېدله، نو زمونږ زړونه ډېر خوشحاله سو، چي مونږ خو اوس خپل منزل مقصود ته رسيدونكي يو.
را روانه ورځ چي كله هغه د "مُلتان" حاكم مونږ ته د "پانسى" را كولو دپاره را غلى، نو چي كله ئې وكتل، زمونږ پر مخانو باندي خوشحالي او رونق دى، ځكه زمونږ ستړيا ختمېدونكې وه، او مونږ د شهادت په تمنى يو بل ته مباركي سره وركوله.
ده چي زمونږ د چهرو او مخانو تازگي او خوشحالي وليدله، نو ئې زمونږ څخه پوښتنه وكړه، چي دا ستاسو پر مخانو نن ولي دومره تازگي او خوشحالي معلوميږي؟
په مونږ كي يوه جواب وركړى: چي زمونږ مخان ځكه تازه او خوشحاله معلوميږي، چي ته مونږ ته د "پانسى" را كولو اراده لرې، نو مونږ به الله تعالى خپل منزل مقصود چي شهادت دى ورسوي، په دې مونږ خوشحاله او تز او تازه يو.

هغه چي کله دا خبره واورېدله، نو د هغه ځای شخه واپس خپل دفتر ته ولاړې، او د خپلو مشرانو سره ئې رابطه وکړه، او ورته وئې ويل: چي دا خلگ خو نن د "پانسی" اورېدلو په خاطر ډېر خوشحاله دي.

چنانچه واپس راغلی، او اعلان ئې وکړی، چي ای خلگو! تاسو خو نن د مرگ په اورېدلو خوشحاله ياست، لېکن موږ تاسو ته مرگ نه در کوو، چي تاسو خوشحاله سی، موږ دا فيصله کړې ده: چي تاسو به "کالا پانی" يعني د تورو اوبو والا جزيرې ته استوو، ستاسو نوره زندگي به تر مرگه پوري هلته تيرېږي.

حضرت مولانا جعفر تهانيسري رحمة الله عليه پر دې ځای باندي يو شعر ويلی دی:

مستحق دار کو حکم نظر بندی ملا ☆ کیا کہوں کیسے رہائی ہوتے ہوتے رہ گئی

چي کم څوک د دار مستحق وو، نو د هغه په بدله کي د نظر بندی حکم ور باندي وسو، څه ووايم، عجيب قسمت مي دی: چي خلاصوالی مي نصيب وه، خو آخر بيرته پاته سوه.

## يو صبر ازما لحه:

دی فرمايي: چي د دې څخه زيات د تکليف وخت هلته راغلی: چي کله دوی موږ "کالا پانی" جزيرې ته واستولو، په دې وخت کي دوی د يو منصوبه بندی ماتحت زموږ زامن او لونې او زناني او زموږ د کورو مشران او کشران را وغونښتل، او موږ ئې په ځنځيرانو کي ترلي او زموږ پښې او لاسونه په هتگړيو کي بند ئې د دوی و مخته پېش کړلو.

او دوی ته ئې وويل: چي تاسو په دوی دا يوه خبره وکړی: چي موږ د فرنگيانو غداره نه يو، که چيري دوی دا خبره وکړي، موږ دا اوس اوس دو ی ستا سو سره خپلو کورو ته استوو.

ده ليکي دي: چي کله موږ را ووتو، د ډېري زمانې څخه وروسته مي هغه خپلي زناني او کشني بچيان وليدل، چي هغه موږ ته گوري، او ټوله ژاړي، زما يو

کشنی بچی وو، هغه د زړا کولو په دوران کي په ما پوري و مبنتی، او وايي: ابو! ته ولي نه وايي؟ ته دا خبره وکړه، زموږ سره به کور ته ولاړ سي.
دی فرمايي: چي زما دپاره زما د زندګۍ لويه صبر ازما لمحه تر دې بله نه وه، چي کله زما هغه ماشوم بچي دېر را ته وژړل، نوما خپلي زناني ته اشاره وکړه، چي دا بچي په غېږ کي واخله، او دې بچي ته زما د طرفه دا خبره وکړه:
...... بچيه! که زندګي وه، نو ستا پلار به په دنيا کي ستاسو کور لره راسي، که چيري نه وه، نو بيا به د قيامت په ورځ پر "حوض کوثر" د رسول اللهﷺ په حضور کي ستاسره ملاقات وکړي.
زه سلام کوم، د علماؤو هغه عظمت ته او زه سلام کوم، د هغو استقامت ته چي هغو په دا شکل باندي قربانۍ ورکړې، او د دين کښتۍ ئې د درياب د ظلماتو او څپو څخه محفوظه وساتله.
د هغوی په برکت الحمد الله دا دين په محفوظه حالت تر موږ پوري را ورسيدی، او د پيغمبرﷺ وراثت موږ ته په محفوظ شکل کي په لاس راغلی.

## د نبي د وراثت حفاظت:

زموږ دپاره هم دا مناسب ده: چي موږ په دې وخت کي دا نيت وکړو: چي خپلو بچيانو ته به باقاعده د دين تعليم ور کوو، چي په هغه سره موږ د نبي اکرمﷺ د راوړل سوي نعمت په حفاظت کي شريکان سو.
چي د کم نعمت په خاطر پيغمبرﷺ خپلي اوښکي مبارکې توی کړې، او خپله وينه مبارکه ئې توئي کړه، د هغه نعمت د حفاظت په خاطر به موږ هم د قيامت په ميدان کي په روښانه مخ د ده مبارک په حضور کي پيش سو.
لله تعالی دي موږ او تاسو ته توفيق راکړي، چي خپل ځان مال او اولاد د پيغمبرﷺ د دين د حفاظت د پاره استعمال کړو.

حصه او ونډه در لودله، او الله تعالی دي په دي ټو خبرو د عمل کولو توفیق را کړي.
او الله تعالی دي زموږ او ستاسو دغه مجلس او ټول مجلسونه د خپلي رضا دپاره وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د موراوپلار خدمت

(بیان)


مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن


ترتیب وتخریج:


مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ١٣ ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق ١١ جنوري ٢٠١٨ |
| تـعــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ﴾.(۱)

﴿قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: الصَّلَاةُ عَلَى مِيقَاتِهَا، قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ، قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو په مخ کي ما د قرآن کريم د يو آيت تلاوت پيش کړی، او هم مي د پيغمبر ﷺ د يو حديث مبارک روايت پيش کړی.

د دې حديث راوي: فقيه صحابي حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دی، دی مبارک فرمايي: چي ما د پيغمبر ﷺ څخه پوښتنه وکړه: چي الله تعالی ته د ټولو څخه زيات افضل عمل کم دی؟

ده په جواب کي راته وويل: د ټولو څخه زيات افضل عمل دادی: چي لمونځ پر خپل وخت ادا کړل سي.

(۱) النساء: آيت ۳۶

ما دوهم ځل پوښتنه ځني وکړه: چي د لمانځه څخه وروسته بيا کم عمل الله تعالى ته زيات محبوب دى؟
ده په جواب کي راته وويل: د مور او پلار سره "حسن سلوک" کول.
دريم ځل مي بيا پوښتنه ځني وکړه: چي د "حسن سلوک" څخه وروسته الله ته کم عمل محبوب دى؟
ده په جواب کي راته وويل: د الله په لار کي جهاد کول.
په دې حديث کي ترتيب داسي بيان سوى دى: چي د ټولو څخه افضل او خوښ عمل لمونځ پر خپل وخت کول، دوهم نمبر د مور او پلار سره "حسن سلوک" کول، دريم نمبر په "جهاد في سبيل الله" کي شريک کيدل.

## د ښو کارو حرص:

دلته بايد انسان په دوو (۲) خبرو سر خلاص کړي.
اول دا: که چيري انسان د احاديثو پر ذخيره باندي نظر وکړي، نو دا به ورته ښکاره سي: چي ډېرو زياتو صحابه کرامو پر مختلفو موقعو باندي د پيغمبر ﷺ څخه د افضل عمل په باره کي پوښتنه کړې ده.
د دې څخه د صحابه کرامو زيات فکر او حرص ښکاره کيږي: چي دوى به دا غوښتل: چي کم عمل الله تعالى ته د ټولو څخه زيات محبوب دى؛ نو د هغه د عملي کولو کوشش به ئې کاوى، او دا فکر به ئې کاوى: چي هغه عمل زموږ په ژوند کي راسي.
نو ځکه چي هر وخت به د دوى پر دل او دماغ د آخرت فکر پروت وو، او دوى به دا غوښتل: چي په آخرت کي به څنګه د الله تعالى قرب او رضا پيدا کړي، نو هر وخت به د دې خبري د معلومولو په فکر کي وو، چي په کم عمل کي به و موږ ته زيات اجر او ثواب په لاس راسي.

نن مورږ انسانان د فضائلو احاديث وايو، چي په فلان عمل کي دا فضيلت دی، او په فلان عمل کي دا فضيلت دی، وايو ئې هم، اورو ئې هم، لېکن د هغه څخه وروسته کما حَقّه د عمل کولو داعيه نه پيدا کيږي.

حالانکه د صحابه کرامو دا حال وو: چي د هر څو مره مختصر عمل په باره کي به دا ور معلومه سوه: چي دا دثواب کار دی، نو د هغه و طرف ته به ئې منډي ور وهلې.

## د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ افسوس:

يو ځل د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ و مخته حضرت ابو هريره ﷺ د پيغمبر ﷺ دا حديث پيش کړی: چي پيغمبر ﷺ به فرمايل:

چي کم سړی د خپل مسلمان ورور د جنازې په لمانځه کي شريک سي، نو هغه ته به يو "قيراط" اجر ور کولو کيږي، ("قيراط" په هغه زمانه کي يو پيمانه وه، چي په هغه سره به سره زر او سپين زر تلل کيدل).

او چي کم سړی د لمانځه کولو څخه وروسته د هغه جنازې سره تر قبرستان پوري ولاړ سي، نو هغه ته به دوه(۲) "قيراطه" اجراو ثواب ورکول کيږي.

او که چيري د تدفين تر وخته پوري په جنازه کي شريک پاته سي، نو الله تعالی به ده ته درې(۳) "قيراطه" اجر ورکوي، هسي خو "قيراط" يو کښني پيمانه ده، لېکن په يو بل حديث شريف کي راځي: چي د جنت "قيراط" د احد د غره څخه هم زيات دی.(۱)

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ چي کله دا حديث واورېدی: نو ډېر زيات افسوس به ئې کاوی، چي ما دا حديث وختي نه وو اورېدلی، د هغه په وجه ما د خپل اجر او ثواب څخه ډېر "قيراطونه" ضائع کړل.

مقصد دا: چي ما ته مخ کي معلومه نه وه: چي د جنازې د لمانځه په کولو کي او د جنازې سره په تللو او تر تدفین پورې په هغه کي د شرکت کولو دومره فضیلت دی، که دا ماته وختي معلومه وای: نو ما به د هغه اهتمام کولای، او د اهتمام نه کولو په وجه زما ډېر "قیراطونه" ضائع سوي دي.

## یو سوال مختلف جوابونه:

نو څکه صحابه کرامو به باربار د پیغمبرﷺ څخه پوښتنه کوله، چي ای د الله رسوله! کم عمل ډېر افضل دی؟
په روایاتو کي دا خبره هم ښکاره کیږي: چي پیغمبرﷺ مختلفو صحابه کرامو ته مختلف جوابونه ورکړي دي، مثلاً په دې حدیث کي پیغمبرﷺ د ټولو څخه افضل عمل په خپل وخت باندي لمونځ کول بللی دی.
په یو بل حدیث کي بیا پیغمبرﷺ د دغسي پوښتني په جواب کي یو صحابي ته ویلي دي: چي افضل عمل دا دی: چي همېشه دي ژبه د الله په ذکر سره لنده وي، نو دغه عمل الله تعالی ته ډېر محبوب دی.(۱)
یو بل صحابي چي کله داسي پوښتنه تکراروي: نو پیغمبرﷺ جواب ورکوي: چي د ټولو څخه افضل عمل د مور او پلار اطاعت او د هغه سره "حسن سلوک" کول دي. (۲)
او بل ځای بیا پیغمبرﷺ "جهاد في سبیل الله" د ټولو څخه افضل عمل بللی دی.(۳)
غرض دا: چي پیغمبرﷺ د داسي پوښتني په وخت کي صحابه کرامو ته مختلف جوابات پیش کړي دي، بظاهر اگر چه په دې جواباتو کي تضاد معلومیږي، لېکن په حقیقت کي هیڅ تضاد نسته.

---

(۱) الزهد والرقاق لابن المبارک، حدیث نمبر ۹۲۵
(۲) اصلاحی خطبات. جلد نمبر ۲. صفحه نمبر ۵۶
(۳) الاحاد والمثاني لابن ابي عاصم: حدیث نمبر ۲۶۳۶

## د هر سړي افضل عمل جدا دی:

خبره په حقيقت کي دا ده: چي د هر انسان د حالاتو په وجه د هغه افضل عمل ادل بدل گرځي، د يو چا دپاره لمونځ کول، افضل عمل دی، د بل چا دپاره د مور او پلار اطاعت کول، افضل عمل دی، د يو چا دپاره جهاد في سبيل الله افضل عمل دی.

مثلاً د بعض صحابه کرامو په باره کي د مخکي څخه دا معلومه وه: چي دی هسي هم د لمانځه پابنده دی، نو هغه ته د لمانځه د فضيلت بيانولو ضرورت نسته، لېکن هغه د مور او پلار په حقوقو کي کوتاهي کوي، نو پيغمبرﷺ هغه ته فرمايي: چي ستا په حق کي افضل عمل د مور او پلار اطاعت او د هغو سره "حسن سلوک" دی.

کله کله بيا د يو صحابي د عبادت و طرف ته زياته توجه وي، مگر د جهاد پر طرف ئې رغبت نه وي، نو هغه ته بيا پيغمبرﷺ دا جواب ور کړی دی: چي د ټولو څخه افضل عمل د الله په لار کي جهاد کول دي.

کله بيا يو صحابي نور ټوله اعما ل په ښه طريقه ادا کوي، لېکن: د الله د ذکر و طرف ته ئې زيات التفات نه وي، نو هغه ته بيا پيغمبرﷺ ذکر افضل عمل ور ښوولی دی.

## د لمانځه افضليت:

خو په دې حديث کي پيغمبرﷺ د افضلو اعمالو ترتيب داسي بيان کړی دی: چي د ټولو څخه افضل عمل پر خپل وخت لمونځ کول، يعني صرف لمونځ کول نه، بلکه د وخت د لحاظ کولو سره لمونځ کول.

بعض اوقات انسان ددې خيال نه کوي، وخت ځني تير سي، نو د ده فکر بيا ور ته راوگرځي، چي زما څخه خو لمونځ قضا سو، حالانکه دا د انسان دپاره مناسب نه وي.

بلکه باید انسان هر لمونځ په خپل وخت کي ادا کړي، لکه قرآن کريم فرمايي:

......﴿وَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ، الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾.(¹)

يعني د هغه لمونځ کونکو پر حالت دي افسوس وي: چي د خپل لمانځه په هکله غفلت کوي، د لمانځه وخت راسي، او تير سي، د ده د لمانځه و ادا کولو ته فکر نه وي، تر دې حده چي هغه ځني قضا سي.

په يو حديث شريف کي پيغمبرﷺ فرمايلي دي:

......﴿الَّذِي تَفُوتُهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ: فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ﴾.(²)

چي د کم سړي څخه د ماځيګر لمونځ فوت او قضا سي، هغه داسي دی: لکه د ده چي ټوله کور او مال لوټ او هلاک سي.

لکه څنګه چي هغه سړی چي کور او مال ئې لوټ سي، تنګدست او مفلوک الحال دی، دا غه رنګه دا سړی هم مفلوک الحال دی، چي د هغه څخه د ماځيګر لمونځ قضا سي، نو لمونځ قضا کول، ډېره درنه خبره ده، او پر هغه باندي سخت وعيدونه راغلي دي.

## د مور او پلار حق:

په دې حديث کي دوهم نمبر افضل عمل د مور او پلار اطاعت او د هغه سره "حسن سلوک" کول، او دريم افضل عمل: "جهاد في سبيل الله" بلل سوی دی.

خو پيغمبرﷺ د مور او پلار اطاعت او "حسن سلوک" په افضليت کي تر "جهاد في سبيل الله" مقدم ګرځولی دی.

(¹) سورة الماعون، آيت نمبر ۴-۵

(²) موطا امام مالک، حديث نمبر ۵۷۹

نو ځکه زموږ بزرګانو ليکلي دي: چې څومره "حقوق العباد" د انسان پر ذمه راځي، په هغو کي د ټولو څخه مقدم حق دمور او پلار دی، د دې څخه زيات واجب الاحترام حق په دنيا کي د بل هيڅ چا دا نسته.

ځکه الله تعالی مور او پلار د انسان د وجود ذريعه جوړ کړي دي، نو ئې د دوی حق د ټولو حقوقو څخه مقدم ګرځولی دی، الله تعالی د دوی سره په "حسن سلوک" کولو کي دومره اجر او ثواب ايښی دی: چې په حديث شريف کي راځي:

......که چيري يو انسان يو ځل د خپل مور او پلار و مخته د محبت په نظر سره وګوري، نو د هغه په بدله کي الله تعالی و ده ته د يو حج او عمرې برابر ثواب ورکوي.(۱)

## بې غرضه محبت:

تاسو ګورئ! په دې دنيا کي څومره محبتونه او تعلقات دي، په هغو ټولو کي څه ناڅه د انسان يو غرض وابسته وي، په دې دنيا کي بې غرضه محبت نه پيدا کيږي، صرف د مور او پلار چې کم محبت د اولاد سره وي، نو هغه محبت بې غرضه وي، په هغه کي د دوی هيڅ مفاد او غرض شامل نه وي.

مثلاً خاوند چې د خپلي زناني سره محبت کوي، نو په هغه کي خپل غرض لري، او زنانه چې د خپل خاوند سره محبت لري، هغه هم بې غرضه نه وي، ورور چې د ورور سره محبت کوي، يا يو دوست د بل دوست سره محبت کوي، غرض دا: چې څومره تعلقات دي، نو په هغه کي ضرور يو غرض وجود لري.

لېکن يو محبت چې هغه د غرض څخه پاک محبت دی، هغه د مور او پلار محبت د اولاد سره دی، د هغو دا جذبه وي: چې زموږ زندګي دي ختمه سي، لېکن

اولاد ته دي نقصان نه رسيږي، نو ځکه الله تعالى په حقوقو کي د دوی درجه تر ټولو زياته کړې ده، او تر "جهاد في سبيل الله" ئې هم مقدمه کړځولې ده.

## د مور او پلار خدمت:

په حديث شريف کي راځي: يو صحابي د حضوراقدسﷺ خدمت ته حاضر سو، او عرض کوي: چي ای د الله رسوله! زما زړه ډېر غواړي، چي زه د الله په لار کي جهاد وکړم، او د جهاد څخه زما مقصد صرف دادی: چي الله تعالى زما څخه راضي سي، او ما ته اجر او ثواب راکړي، صرف په دغه نيت او غرض جهاد کول غواړم.

پيغمبرﷺ ورته فرمايي: ايا ته واقعتاً د ثواب حاصلولو په نيت جهاد کول غواړې؟ ده په جوا ب کي ورته وويل: هو، ای د الله رسوله! زما نيت د جهاد کولو څخه صرف ثواب او اجر پيدا کول دي.

بيا پيغمبرﷺ ورته فرمايي: ايا ستا مور او پلار ژوندي دي؟ دی ورته وايي: هو، زما مور او پلار ژوندي دي، نو پيغمبرﷺ ورته وايي: چي ورسه، د هغو خدمت وکړه، ځکه چي د مور او پلار په خدمت کولو کي چي تاته کم اجر او ثواب پيدا کيږي، نو هغه اجر او ثواب د جهاذ په کولو کي ته نه سې پيدا کولای.

لکه د هغه حديث شريف الفاظ دادي:

........فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ﴾.(۱)

يعني ورسه! د هغو په خدمت کي جهاد وکړه، نو په دې رواياتو کي هم د مور او پلار خدمت ته تر جهاد زيات فوقيت ورکول سوی دی.

(۱) صحيح البخاري: حديث نمبر ۳۰۰۴

## خپل شوق پوره کول دين نه دی:

زموږ بزرګانو يو خبره ليکلې ده: چې انسان کله خپل شوق پوره کوي، نو هغه ته دين نه ويل کيږي، بلکه دين د الله او د الله د رسولﷺ د اتباع نوم دی، په کار دادی: چې په هر وخت کي انسان دې ته وګوري، چې په دې وخت کي د الله او د الله د رسولﷺ د طرفه ما ته کم امر متوجه دی، د هغه امر پوره کول په حقيقت کي دين دی.

مثلاً يو سړی د دې خبري شوقي دی: چې زه همېشه په صف اول کي لمونځ کوم، او د بل سړي سره بيا دا شوق ورسره دی: چې زه همېشه جهاد ته ځم، او بعض انسانان بيا د دې شوق لري: چې زه همېشه د تبليغ او د دعوت په سفرو کي روان يم.

که څه هم دا ټوله کارونه د دين دي، او د ډېر اجر او ثواب باعث دي، لېکن اول دې ته کتل: چې په دې وخت کي د الله او د الله د رسولﷺ ما ته څه امر دی، مثلاً په کور کي مور او پلار ناجوړه دي، او هغه ستا خدمت ته ضرورت لري، لېکن ته په دې شوق کي ئې، چې زه مسجد ته ولاړ سم، او په صف اول کي په جماعت سره لمونځ وکړم، حالانکه مور او پلار دومره بيماره دي، چې د حرکت کولو قابل نه دي.

اوس په دې وخت کي ستا دپاره د الله د طرفه دا امر متوجه دی: چې د صف اول لمونځ پرېږده، او د مور او پلار خدمت وکړه، او د هغو سره "حسن سلوک" وکړه، او لمونځ په کور کي يوازي وکړه.

او که په دې وخت کي تا مور او پلار پر داغه حال پرېښوول، چې هغه د حرکت کولو قابل نه دي، او ته د خپل شوق پوره کولو دپاره مسجد ته ولاړې، او په صف اول کي دي په جماعت سره لمونځ ادا کړی، نو تا د الله د امر اتباع و نه کړه، او نه دي دغه عمل ته دين ويل کيږي، بلکه دا ستا خپل شوق پوره کول دي.

زما مقصد دادی: چي دغه حکم پوره کول په هغه صورت کي دي: چي مسجد د انسان څخه لیري وي، او مسجد ته په تللو را تللو کي ډېر وخت تیرېږي، او د مور او پلار حالت داسي وي: چي ستا د تللو په وجه هغو ته تکلیف وي.

لېکن که چیري مسجد د کور سره بلکل نزدې وي، او د مور او پلار حالت داسي وي، چي ستا په لږ ځنډ باندي دوی ته تکلیف نه رسیږي، یا یو بل څوک د دوی خدمت کونکی موجود وي، نو په دې صورت کي مسجد ته تګ او په جماعت سره لمونځ کول یيا بهترین عبادت بلل کیږي.

یا مثلاً په کور کي مور او پلار ناجوړه دي، او زنانه او بچي دي، او هغه ستا خدمت ته ضرورت لري، لېکن تا ته دا شوق در ولاړ سوی دی: چي زه خو په تبلیغ کي ځم، او ثواب ګټم، تاسو ګوریځ! هسي خو په تبلیغ کي سفر کول، د ثواب او د اجر پیدا کولو کار دی.

لېکن په دې حالت کي چي کله د مور او پلار یا د زناني او بچیانو ستا و خدمت ته ضرورت دی، او ستا د خدمت څخه بغیر د دوی کار نه روانیږي، او دوی ته تکلیف رسیږي، نو په دې حالت کي تا لره په تبلیغ کي سفر کول خپل شوق پوره کول دي، او د دین تقاضا نه ده.

او دین د خپل شوق پوره کولو نوم نه دی، بلکه د الله او د الله د رسولﷺ د حکم منلو نوم دی، چي کم وخت د کم کار تقاضا او ضرورت وي، هغه کار سر ته رسول په کار دي:

تاسو په دې حدیث شریف کي واربدل: چي صحابي د جهاد اجازت غواړي، لېکن پیغمبرﷺ ئې منع کوي، او ورته وایي: چي ستا د پاره جهاد دغه دی: چي ورسه د مور او پلار خدمت وکړه.

## حضرت اویس قرني رحمة الله علیه :

حضرت اویس قرني رحمة الله علیه د پیغمبر ﷺ په زمانه کي موجود وو، او په اسلام مشرف وو، هغه دا غوښتل: چي د پیغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سم، او د ده زیارت وکړم.

ځکه د پیغمبر ﷺ زیارت کول هغه سعادت او خوش نصیبي ده: چي شاید د مځکي پر مخ به د دې څخه زیات بل سعادت او خوش نصیبي نه وي، ځکه چي د پیغمبر ﷺ د دنیا څخه د رخصت کیدلو څخه وروسته بیا دا خوش نصیبي او سعادت چا ته په لاس نه ورځي.

لېکن حضرت اویس قرني رحمة الله علیه د یو چا په ذریعه پیغمبر ﷺ ته دا حال ور استوي: چي ای د الله رسوله! زه ستا په خدمت کي حاضرېدل غواړم، لېکن زما بوډۍ مور بیماره ده، او هغه زما خدمت ته ضرورت لري، نو زه څه وکړم.

پیغمبر ﷺ ئې د خپل ملاقات څخه منع کوي، او ورته وایي: ته دلته زما زیارت او ملاقات ته مه راځه، بلکه د خپلي مور خدمت کوه.(۱)

تاسو دې ته ګورئ! چي هر څنګه انسان وي، خو چي صاحب ایمان وي، د هغه په زړه کي به د پیغمبر ﷺ د روضې د زیارت څومره شوق وي، چي کله پیغمبر ﷺ په دنیا کي موجود وو، نو په هغه وخت کي به د ده د ملاقات او د زیارت د شوق د انسانانو په زړو کي څه حال وو.

چي نن دا حالت دی: چي د ده امتیان د ده د قبر د زیارت د پاره څومره بې تابه او بې آرامه دي، چي هر سړی دا کوشش کوي: چي یو ځل دي مي د پیغمبر ﷺ د قبر مبارک زیارت نصیب سي.

لېکن اویس قرني رحمة الله علیه د پیغمبر ﷺ ملاقات او زیارت کولو شوق د مور پر خدمت قربان کړی، ځکه چي د پیغمبر ﷺ د طرف څخه دا حال ورته راغلی: چي د خپلې مور خدمت وکړه، او زما د زیارت او ملاقات سعادت پرېږده.

---

(۱) صحیح مسلم: کتاب الفضائل: حدیث نمبر ۲۵۴۲

چنانچه ده د پیغمبرﷺ په حکم باندې هغه سعادت پرېښووی، چې د هغه په نتیجه کې دی د "صحابیت" مقام ته نه ورسیدی، ځکه چې د "صحابیت" درجه د پیغمبرﷺ پر ملاقات او زیارت باندې موقوفه وه، او د "صحابیت" هغه مقام دی، چې یو سړی د ولایت او بزرگۍ هر څومره لوړ مقام ته ورسیږي، مگر هغه د "صحابیت" درجې ته ځان نه سي نژدې کولای.

## د "صحابیت" مقام:

حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه د تبع تابعینو په دور کې ډېر لوی بزرگ، فقیه، محدث، تیر سوی دی.

یو ځل یو سړي د ده څخه یو عجیب سوال وکړی، سوال دا وو: چې حضرت! معاویه رضی الله عنه افضل دی؟ که حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه افضل دی؟

سوال کوونکي سړي دا سوال دا رقم وکړی: چې په صحابه کرامو کې ئې د هغه صحابي انتخاب وکړی: چې د هغه په باره کې د خلګو مختلف قولونه او مختلفې خبرې مشهورې دي.

لیکن د "اهل سنت" عقیده داده: چې د حضرت معاویه رضی الله عنه چې کم جنګونه د حضرت علي رضی الله عنه سره وسو، نو په هغه کې حضرت علي رضی الله عنه بر حق وو، او د حضرت معاویه رضی الله عنه څخه اجتهادي غلطۍ وسوې، او پر اجتهادي غلطۍ باندې هم الله تعالی و انسان ته اجر ورکوي.

ځکه د پیغمبرﷺ حدیث دی: چې مجتهد که حق ته ورسیدی، نو دوه(۲) اجر ئې دي، او که خطا سو نو یو اجر ئې دی، پر دې عقیده باندې تقریباً ټوله امت متفق دی.

بهر حال هغه سړي په صحابه کرامو کې هغه صحابي یاد کړی: چې د هغه شخصیت متنازع فیه راغلی دی، او بل طرف ته ئې په سوال کې د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه انتخاب وکړی، چې و هغه ته په عدل، انصاف، او تقوی

کي "عمرثاني" ویل کیږي، او تقریباً د دوهمي هجري صدی مجدد وو، الله تعالی ده ته ډېر لوړ مقام ورکړی وو.
بهر حال حضرت عبدالله بن مبارک د دغه سوال په جواب کي ورته وفرمایل: چي سړيه! ته خو دا پوښتنه کوې: چي حضرت معاويه افضل دی، که عمربن عبدالعزیز، زه خو دا درته وایم: چي حضرت معاويه رضي الله عنه خو پرېږده، بلکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره دجهاد کولو په دوران کي چي کمه خیره او ګرز د حضرت معاويه رضي الله عنه د آس په پزه کي پیدا سوی دی، هغه ګرز او خیره زر چنده د عمربن عبدالعزیز څخه افضله ده.
ځکه چي هغه ته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د زیارت په برکت الله تعالی د "صحابیت" مقام ور کړی دی، او د "صحابیت" هغه مقام دی: که چیري یو انسان ټوله زندګي کوشش وکړي، نو هیڅ کله د "صحابیت" مقام ته نه سي رسیدلای.(۱)

## د مور خدمت کوه:

بهر حال حضور اقدس صلی الله علیه وسلم حضرت اویس قرني رحمة الله علیه ته حال ور استوي: چي زما زیارت او ملاقات کول ضروري نه دي، او دصحابیت مقام حاصلول ضروري نه دی، بلکه د خپل مور خدمت کول ضروري دي.
که چیري زموږ غوندي یو نا واقفه انسان وای، نو هغه به دا ویلای: چي دغه د صحابیت دولت خو بیا نه پیدا کیږي، که څه هم مور بیماره ده، نو انسان خو د یو ضرورت په خاطر د کور څخه وزي، نو د دغه ضرورت په خاطر دي، د کور څخه ووزي، او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم زیارت او ملاقات ته دي ځان ورسوي، او د مور خدمت ته دي واپس راسي.

مگر هلته خپل شوق پوره کول د انسانانو په دماغ کي نه وو، چي دی به خپل ذاتي خواهش پوره کوي، بلکه هلته صرف د الله او د الله د رسول ﷺ د اطاعت کولو شوق وو.
نو ځکه ئې د هغه زيارت پرېښووی، او د مور په خدمت کي ئې ژوند تير کړی، حتٰی چي پيغمبر ﷺ وفات سو، او حضرت اويس قرني رحمة الله عليه د پيغمبر ﷺ زيارت او ملاقات نه وکړی.

## د مور د خدمت بدله:

بيا الله تعالی حضرت اويس قرني رحمة الله عليه ته د مور د خدمت دا بدله ورکړه، چي پيغمبر ﷺ به فرمايل: چي زما په امت کي يو سړی دی، چي هغه به زما د امت د دومره گناهگارانو شفاعت کوي: لکه څومره چي د "قبيله ربيعه" او "قبيله مضر" د پسو پر بدنو ورېښتان دي.
صحابه وو پوښتنه ځني وکړه، چي هغه به څوک وي؟ ده ورته وفرمايل: چي د الله د بندگانو څخه به يو بنده وي، صحابه کرامو پوښتنه ځني وکړه، چي د هغه نوم څه دی؟ ده ورته وفرمايل: "اويس"، هغو بيا پوښتنه ځني وکړه، چي هغه چيري اوسيږي؟ ده ورته وفرمايل: چي په "قرن" کي.
صحابه کرامو بيا پوښتنه ځني وکړه، چي ای د الله رسوله! "اويس" ته ليدلی ئې، او کنه، ده ورته و فرمايل: چي هغه زه د ظاهر په سترگو نه يم ليدلی، صحابه کرام ورته وايي: چي "اويس" عجيب عاشق دی، چي تر تا پوري ئې د راتللو زحمت نه دی کړی.
پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: چي هغه د خپلي بوډۍ مور د خدمت کولو شرف حاصلوي، او په "قرن" کي داوښانو شپني کوي، او د هغه مزدوري په خپله خوري او خپله مور په ساتي.

صحابه کرامو پوښتنه ځني وکړه: چي ای د الله رسوله! موږ به ئې ووينو، او که نه؟ پيغمبرﷺ حضرت صديق اکبرؓ ته فرمايي: ته ئې نه سې ليدلی، بلکه ای "عمر او علي" تاسو ئې ليدلی سی.

د هغه ځخه وروسته پيغمبرﷺ اويس قرني رحمة الله عليه يو علامه ورته بيانوي، چي د هغه په چپه اړخ او پر چپه ور غوي به ديو درهم مقدار سپين سپين نښان وي، چي د "فيس" د ناجوړی په شکل به نه وي.

او ورته وايي: ای زما صحابه وو! چي په تاسو کي د هر چا د ده سره ملاقات وسو، نو زما سلام به ورته واياست، او زما دامت د گناهکارانو د پاره به د مغفرت د دعا طلب ځني وکړی.

د پيغمبرﷺ د وفات ځخه وروسته حضرت عمر او حضرت عليؓ کوفې ته ولاړل، او هلته ئې د حضرت اويس قرني رحمة الله عليه تلاش او پوښتنه وکړه، خلگو ورته وويل: چي "اويس" نامه يو سړی دی، چي هغه په "وادي عرفه" (چي په يمن کي يو دره ده،) کي اوسيږي، او د اوښانو رمه گوري، او د انسانانو سره هيڅ تعلق نه ساتي.

دوی چي دا واورېدل: نو دواړه حضرات هغه وادي ته راغلل، که گوري، نو "اويس" په لمانځه کي مشغوله دی، او د الله د طرفه يو فرښته مقرره ده، چي د ده د اوښانو نگاه باني کوي.

چي کله حضرت اويس قرني رحمة الله عليه لمونځ ختم کړی، نو حضرت عمرؓ سلام ورته وايي، اويس قرني د سلام جواب ورکړی، حضرت عمرؓ پوښتنه ځني وکړه: چي ستا اسم گرامي څه دی؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي عبدالله، يعني د الله بنده، نو حضرت عمرؓ ورته وايي: چي د الله بندگان خو موږ ټوله يو، خو زه ستا ځخه خاص ستا د نامه پوښتنه کوم.

دی ورته وايي: زما نوم "اويس" دی، حضرت عمرؓ ورته و فرمايل: چي ستا راسته لاس را ښکاره کړه، ده چي کله خپل راسته لاس ور ښکاره کړی،

حضرت عمر رضي الله عنه هغه نښان چي پیغمبر ﷺ بطور علامه ورته ښوولی وو، بعینه ور باندي ولیدی، نو حضرت عمر رضي الله عنه د هغه لاس را ونیوی، او هغه ورغوی ئي ورمچ کړی.
او درخواست څني کوي، چي ته زما په حق کي بلکه د پیغمبر ﷺ د ټولو امت په حق کي دعا وکړه، او د دعا سره سره د پیغمبر ﷺ سلام او پیغام ورته پېشوي.
هغه چي دا واورېدل، ورته وايي: ای عمره! د دې دعا کولو دپاره ته تر ما ډېر زيات اولی او لائق ئې، چي ته ئې په خپله وکړې، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وايي: چي د دعا مستحق ته ئې، ځکه چي ستا په باره کي پیغمبر ﷺ د خپل امت دپاره د دعا کولو وصیت کړی دی، او ما تر تا پوري هغه وصیت راورساوی، لهذا د هغه وصیت پرځای کړه، او د امت دپاره د مغفرت دعا وکړه.
د دې څخه مخکي پیغمبر ﷺ د سلام او پیغام را ستولو سره حضرت عمر رضي الله عنه ته یو قمیص هم ورکړی وو، چي دا د اویس قرني رحمة الله علیه ته ور واغونده.
چنانچه حضرت عمر رضي الله عنه هغه قمیص حضرت اویس قرني ته ور کړی، ده هغه قمیص خپل مخ ته کېښوی، او خپل دواړه لاسونه ئې په دعا باندي د الله دربار ته پورته کړل، او د امت دپاره ئې چي څه غوښتل هغه ئې وغوښتل.
په بعض روایاتو کي دا هم را غلي دي: چي پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي د قیامت په ورځ به اویس قرني رحمة الله علیه په داسي شان جنت ته ننوزي: چي اویا زره (۷۰۰۰۰) فرښتي به د ده په شکل او صورت باندي پر ده را ګرځېدلي وي، چي دي څوک نه وپېژني، مګر چي د کم چا متعلق د ده د پېژندلو الله تعالی اراده کړې وي، هغه به ئې وپېژني.(۱)
په دنیا کي د الله تعالی د عبادت شاقه د محنت برداشت کولو او د الله تعالی د رضا تلاش کولو دا انتهائي عمده نتیجه ده: چي په دنیا کي ئې د غیرالله د

---

(۱) بستان الاولیاء: صفحہ نمبر ۱۳

ستر گو څخه څان کتلی وو، نو په آخرت کي به هم د مخلوق د نظر څخه پټ په انتهائي اعزاز سره جنت ته دا خلیږي.

په دوهم روایت کي یو مضمون داسي هم راغلی دی: چي اویس د پیغمبر ﷺ سره په دومره اندازه کي محبت وو: چي هغه د پیغمبر ﷺ د غم او تکلیف د اوریدلو برداشت نه سو کولای.

یو ځل خبر ورته راغلی: چي د پیغمبر ﷺ د اُحد په معرکه کي یو غابښ شهید سوی دی، نو اویس په دې وخت کي خپل یو غابښ مات کړی، دستي ئې خیال سو، چي شاید د پیغمبر ﷺ به دغه غابښ نه وي، شهید سوی، نو ئې دوهم غابښ مات کړی، بیا داغه رنګه "یکے بعد دیگرے" ئې دوديرش (۳۲) غابښونه مات کړل، دا د هغه د پیغمبر ﷺ سره محبت او مینه وه.(۱)

په یو روایت کي راځي: چي یو ځل اویس قرني رحمة الله علیه مسلسل درې ورځې او شپې وږی او تږی په ځنګله کي اوسیدی، چي کله پر ده باندي د لوږي ډېره غلبه راغله، نو یو غره ته پورته سو، او هلته ئې د درختو پاڼي خوړلې.

یکایک د ده نظر پر مځکه ولګیدی، نو که ګوري: ډېري زیاتي اشرفۍ پرتي دي، ده د هغه و طرف ته ئې هیڅ توجه و نه کړه.

بیا که ګوري یو پسه ګرمه ډوډۍ په خوله کي نیولې، ده ته راغلی، او ده ته نږدې پرېوتی، ده بیا د هغه و طرف ته هیڅ توجه و نه کړه، بلکه خیال او ګمان ئې داوو: چي نه معلوم دا پسه دغه ډوډۍ د چا د پاره را وړې ده.

چي کله ده دغه خیال په دماغ کي راوګرځوی، نو هغه پسه په صفا ژبه ورته وویل: چي ای اویسه! دغه ډوډۍ ستا رزق دی، او رازق حقیقي ستا د پاره راستولی دی، ده چي کله دا واوریدل: نو هغه ډوډۍ ئې ځني واخستله، او د الله تعالی ئې شکر ادا کړی.(۲)

(۱) بستان اولیاء: صفحہ ۱۳

(۲)

تاسو ګورئ! حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه غوندي جليل القدر صحابي ته دا ويل کيږي: چي د ده څخه د خپل ځان په حق کي او زما د امت په حق کي د مغفرت دعا وغواړه.

دغه فضيلت ده ته څنګه ور نصيب سو؟ دا هغه شی دی: چي د مور د خدمت او د پيغمبر ﷺ د اطاعت په وجه الله تعالی ده ته ورکړی وو.

ده ته چي کله د پيغمبر ﷺ دا هدايت راغلی، چي ما لره مه راځه، د خپلي بوډۍ مور خدمت کوه، نو ده به ويل: زما محبوب ﷺ چي ما ته د کم کار حکم راکوي: نو زه به پر هغه باندي عمل کوم، چي هر څه کيږي، هغه دي وسي.

## د مور او پلار د خدمت ګزارۍ اهميت:

د مور او پلار د خدمت په باره کي الله تعالی او د هغه رسول ﷺ دا بيان کړی دی: چي د مور او پلار خدمت د ټولو عباداتو څخه مقدم دی، لکه په قرآن کريم کي د مور او پلار د خدمت په باره کي يو دوه نه بلکه متعدد آياتونه راغلي دي، چنانچه په يو آيت مبارک کي الله تعالی فرمايلي دي:

.......﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا﴾.(١)

يعني موږ انسان ته د مور او پلار سره د احسان کولو نصيحت کړی دی، چي د دوی سره به انسان د نيکۍ معامله کوي.

په يو بل آيت کي الله تعالی فرمايلي دي:

.......﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾.(٢)

يعني د يوه خدای څخه ما سوا د بل چا عبادت مه کوه، او د مور او پلار سره احسان کوه.

(١) سورة العنکبوت: آيت نمبر ٨

(٢) سورة الاسراء، آيت نمبر ٢٣

تاسو ګورئ! په دې آیت کي د مور او پلار سره احسان کول الله تعالی د توحید سره یو ځای ذکر کړي دي، د دې معنی دا ده: چي د توحید څخه وروسته دانسان لویه فریضه داده: چي دی به د مور او پلار سره "حسن سلوک" کوي.

بیا د دې څخه مخته په څومره ښائسته انداز الله تعالی د مور او پلار متعلق ارشاد فرمایلی دی:

........﴿إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ﴾.(۱)

که چیري ستاسو په ژوندګي کي ستاسو مور او پلار بوډا والي ته ورسیږي، نو بیا هیڅ کله دوی ته د "اُف" مقدار کلمه هم مه وایاست.

د بوډاوالي ذکر الله تعالی ځکه کړی دی: چي کله مور او پلار بوډا سي نو د بوډاوالي د اثر په وجه بعض اوقات د انسان ذهن پر خپل اصلي حالت پاته نه وي، نو د هغه په وجه کله کله پر بعضو غلطو خبرو باندي اصرار کوي.

نو ځکه الله تعالی خاص د بوډاوالي ذکر کوي، یعني که څه هم په دغه وخت کي ستا مور او پلار تا ته داسي خبري کوي: چي ستا په خیال او ګمان کي ناحقه هم وي، لیکن ستا کار دا دی: چي ته به "اُف" نه ورته وائې، او نه به د دوی سره په تیز انداز خبره کوې، او همیشه به د دوی سره د عزت او احترام معامله کوې.

.......﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا﴾.(۲)

او د دوی و مخ ته خپل ځان عاجزه او ذلیله ښکاره کوه، او دا دعا غواړه: چي یا الله! پر دوی باندي رحمت وکړه، لکه دوی چي د ماشوم والي په زمانه کي زما پالنه کړې ده.

نو د بوډاوالي په زمانه کي که د مور او پلار په مزاج کي لږ خرابي راسي، نو د هغوی د خبرو برداشت کول او هغو ته تیزه خبره نه کول، او د هغو سره د احسان معامله کول دا د هر انسان د پاره په کار دي.

(۱) سورة الاسراء: آیت نمبر ۲۳

## د مور او پلار د نافرمانۍ وبال:

بهرحال ما ستاسو په مخ کي دا خبره عرض کوله: چي د مور او پلار اطاعت واجب دی، که چيري مور او پلار يو سړي ته د يو کار حکم وکړي، نو هغه کار کول د اولاد پر ذمه باندې فرض ګرځي، او بالکل داسي فرض کيږي: لکه لمونځ چي څنګه فرض دی، خو په دې شرط چي مور او پلار چي د کم کار حکم کوي، هغه به شرعاً جائز وي.

که چيري اولاد هغه کار نه وکړي، نو دا داسي ګناه ده: لکه لمونځ پرېښول چي څنګه ګناه ده، د غه ته "عقوق الوالدين" ويل کيږي، يعني د مور او پلار نافرماني.(۱)

زموږ بزرګانو ليکلي دي: چي الله تعالی د عامو ګناهونو سزا انسان ته په آخرت کي ورکوي، لېکن بعض ګناهونه داسي وي: چي د هغو سزا انسان ته په دنيا کي هم ورکول کيږي، په هغه ګناهونو کي يو د مور او پلار د نافرمانۍ ګناه هم ده، چي د هغې يوه سزا داده: چي بعض اوقات د انسان پر ژبه د زکندن پر وخت د شهادت کلمه نه جاري کيږي.

## د مور او پلار د نافرمانۍ عبرت ناکه واقعه:

د پيغمبر ﷺ په زمانه کي يوه زنانه پيغمبر ﷺ ته حال را استوي: چي زما خاوند علقمه صحابي دی، پر هغه باندي د څو ورځو څخه د زکندن کيفيت طاري دی، لېکن زموږ د هر څومره تلقين سره سره د هغه پر ژبه د شهادت کلمه نه جاري کيږي.

پيغمبر ﷺ د حضرت بلال رضی الله عنه په ملګرتيا کي د هغه زناني کور ته راځي، که ګوري نو يقيناً هم د هغه پر ژبه د شهادت د کلمې ورد نه جاري کيږي، پيغمبر ﷺ پوښتنه کوي، چي د ده مور او پلار څوک دي؟ نو پيغمبر ﷺ ته ويل

---

(۱) اصلاحي خطبات: جلد ۳، صفحه ۱۰۱

کیږي: چي پلار خو ئې وفات سوی دی، البته مور ئې ژوندۍ ده، او د ده څخه یو څه ناراضه ده، په بل کور کي اوسيږي.
نو پیغمبرﷺ هغه ته حال ور استوي، او هغه خپل حضور ته را طلبوي، هغه چي کله راغله، نو پیغمبرﷺ ورته وايي: چي ستا د دې بچي څخه څه شکایت دی؟ دا ورته وايي: چي زما خو دبچي څخه د ده د دین متعلق څه شکایت نسته، ځکه دی همېشه تهجد ګزار او عبادت ګزاره وو.
لیکن ای د الله رسوله! د ده په دې ژبه کي تیزي وه، ده به همېشه دا خپله ژبه تیزه استعمالوله، زه د ده مور وم، ما ده ته د خپلي سینې شیدې ورکړي دي؛ ای د الله رسوله! چي کله به ده ما ته تیزه خبره کوله، نو په خدای قسم د ده د تیزي ژبې په وجه به زما سینې درد کاوی.
چي کله اولاد مور او پلار ته وايي: چي تاسو نو زما دپاره څه کړي دي، که چیري دنیا دارالامتحان نه وای، نو پر هغه ځای به پر هغه بدبخته د دې خبري کولو په وجه د اسمان څخه دبري را اورېدلي وای.
زه و تاسو ته یو عجیبه خبره کوم: د الله د نبيﷺ څخه د قیامت د وخت پوښتنه کیږي، چي قیامت به کله راځي.
نو دی ورته وايي: چي الله په خبر دی، بیا د قیامت دیو نښانی پوښتنه ځني کیږي، نو دی دا نه ورته وايي: چي کله شرک زیات سي، یا کفر زیات سي، یا شراب او زنا زیاته سي، یا سود او رشوت زیات سي.
بلکه دی ورته وايي: چي کله تاسو ووینئ: چي اولادونه د خپل مور او پلار سره دنوکرانو غوندي سلوک کوي، نو الله تعالی دې کائناتو یعني لمر او سپوږمۍ او ټوله نظام ته وايي: چي دا معاشره اوس د انسانانو نه بلکه د د. ندګانو سوه، او د درندګانو دپاره دا ټوله نظام زه نه چلوم، نو الله تعالی پر کائناتو امر کوي:

چي تاسو خراب او سره ګډ سئ، او چي کله دا نظام سره ګډ سي، نو په هغه ورځ قيامت دی.([1])

نو پيغمبرﷺ هغې ښځي ته وايي: چي ته ئې معاف کړه، هغې ته دا معلومه نه ده: چي زما بچی د مرګ په حالت کي دی څکه دا د ناراضی په شکل په بل کور کي اوسيږي.

دا ورته وايي: چي ای د الله رسوله! ده ما ته ډېر تکليف را رسولی دی، زما زړه د ده معاف کولو ته نه ورغواړي، پيغمبرﷺ حضرت بلال ته وايي: چي بوټي او لرګي را جمع کړه، چي علقمه په اور کي وسوځو، ځکه په بل شکل د ده ساه نه خيږي، او نه دا د زکندن تکليف ځني ختميږي.

هغه مور ورته وايي: ای د الله رسوله! دا ته څه وائې، او ولي ئې په اُور کي سوځې، او دا خبره دي ښځګه وکړه.

پيغمبرﷺ ورته فرمايي: چي علقمه د سکرات الموت په حالت کي دی، که چيري تا معاف نه کړی، نو يو خو د ده پر ژبه د شهادت کلمه نه جاري کيږي.

او دوهم به د ده زکندن ډېر سخت وي، او که چيري هم زکندن ور باندي تير سي، نو سيده به جهنم ته ځي، نو زه ئې په دې وجه سوځم، چي الله تعالی به زما د سوځولو په وجه دی د جهنم څخه خلاص کړي.

هغه مور چي کله دا واورېدل: وايي ای د الله رسوله! خو آخر بيا هم زما بچی دی، او زما د زړه ټکړه ده، نو زما هيڅ کله پر ده باندي د اُور سوځل نه پېرزو کيږي، نو زما سره چي ئې هر څه کړي دي، هغه ټول زما د طرفه ور معاف دي، او زه د خپل طرفه و ده ته بخښنه کوم، چي ښځګه مور معاف کړی، نو هلته د ده پر ژبه کلمه د شهادت جاري سوه.

بيا پيغمبرﷺ په خپله د ده د جنازې لمونځ وکړی، او تر د فن تر وخته پوري په جنازه کي ورسره شريک وو، چي کله د قبر او د تدفين کار پای ته ورسيدی، نو

---

([1]) ماں کا احسان: صفی لسبہ ۲۳

پیغمبر ﷺ د قبر و سر ته ودریدی، او صحابه کرامو ته وایي: تاسو زما دا خبره واورئ.

چي کم چا په خپل زندګي کي مور او پلار ته تکلیف ورکړی، او هغه ئې د ځان څخه ناراضه کړل، نو پر هغه باندي به د الله تعالی او د فرشتو لعنت، او پر ده باندي به د مځکي او آسمان لعنت وي، نه د ده لمونځ قبول دی، نه د ده روژه قبوله ده، او نه ئې صدقه قبوله ده.(۱)

## د حضرت موسٰی علیه السلام واقعه:

حضرت موسٰی علیه السلام د الله تعالی دربار کي عرض کوي: چي
......﴿یَارَبِّ اَرِنِيْ جَلِیْسِيْ فِي الْجَنَّةِ﴾.
یا الله! زما د جنت ملګری به څوک وي؟
الله تعالی ورته فرمایي: چي فلان "قصاب" به ستا د جنت ملګری وي، حضرت موسٰی علیه السلام حیران سو، چي "قصاب" زما ملګری څنګه سو، او کم عمل کوي، چي هغه د هغه عمل په وجه په جنت کي زما ملګری جوړیږي.
حضرت موسٰی علیه السلام بیا عرض کوي: چي یا الله! زه به هغه "قصاب" چیري پیدا کړم؟ ما ته د هغه ځای راوښیه، نو الله تعالی ورته وایي: چي ته فلان محل او کلي ته ورسه، هلته یو "قصاب" دی، چي هغه غوښي خرڅوي، نو هغه به ستا د جنت ملګری وي.
حضرت موسٰی علیه السلام پوښتنه پر پوښتنه هغه ځای ته ځان راورساوی، یو عام "قصاب" دی، خپله دوکانداري کوي، حضرت موسٰی علیه السلام تول ورځ و هغه ته د حیرت په نظر ګوري، او د هغه د اعمالو نګراني کوي، چي دا کم عمل دی، چي د هغه په وجه ده ځان دې درجې ته رسولی دی، چي د وخت د پیغمبر ملګری به وي.

(۱) ماں کی عظمت: صفحہ نمبر ۲۹

تر مابنامه پوري ده د هغه په اعمالو کي څه خاص عمل نه وليدی، چي کله مابنام راغلی، نو هغه خپله دوکانداري پای ته ورسوله، نو د دکان د بندولو په وخت کي هغه د غوښو يو ټوټه په ټوکری کي واچوله، او د ځان سره ئې واخستله، دکان ئې بند کړی، د کور پر طرف روان سو.

حضرت موسٰی علیہ السلام ورته وايي: چي زه يو مسافر يم، د شپې تيرولو ځای نه لرم، که چيري ماته په خپل کور کي شپه راکړې، نو دا به دي زما سره احسان وي.

نو هغه ورته وايي: چي راځه، چي کله دواړه کور ته راورسيدل، نو د هغه غوښو څخه ئې ښوروا او سالن تيار کړی، او ډوډۍ ئې برابره کړه.

د کور په کنج کي يو بوډۍ زنانه په بستره کي ويده ده، هغه ئې راپورته کړه، چي هغه د خپل عمر په آخري دورانيه کي ده، نو د هغه نفقې څخه يو ګوله جوړوي، او د هغي زناني په خوله کي ئې ورکوي.

چي کله هغه زنانه مړه سوه، نو ده خوله ور صفاکړله، او هغه ئې خپلي بسترې ته ورسوله، نو هغه چي کله پر خپله بستره پرېوزي نو خوله د آسمان طرف ته پورته کوي، او يو څه کلمات ادا کوي: چي حضرت موسٰی علیہ السلام په هغه نه پوهيږي.

حضرت موسٰی علیہ السلام د هغه سړي څخه پوښتنه کوي، چي دا بوډۍ څوک ده؟ هغه "قصاب" په جواب کي ورته وايي: چي دا زما مور ده، سهار چي زه کله دوکانداری ته ځم، نو د هغه څخه مخکي د دې خدمت ور پوره کړم، بيا د کور څخه وزم، او مابنام چي کله راسم، نو د ټولو څخه مخکي د دې خدمت کوم، او د هغه څخه وروسته بيا بچو ته ورځم.

حضرت موسٰی علیہ السلام بيا پوښتنه کوي: چي دا بوډۍ چي خوله ښوروله، دې څه ويل؟ هغه "قصاب" ورته وايي: چي دا زما مور ده، چي کله زه د دې خدمت وکړم، نو دا همېشه ما ته دا دعا کوي: چي الله تعالی دي په جنت کي د موسٰی پيغمبر سره ملګری کړه.

زه حیران سم چي زه چیري او موسٰی پیغمبر چیری، زما به څنګه د هغه سره ملګرتیا نصیب کیږي، خو بس دا بوډی ده، نور ئې په څه باندي سر نه خلاصیږي، بس دغه خبره یو چا په خوله کي ور اچولې ده، او دا ئې زما په حق کي همېشه ادا کوي.

نو د حضرت موسٰی علیه السلام دلته په دې خبره سر خلاص سو، چي دغه "قصاب" د مور خدمت او دعا دغه حال ته رسولی دی. ([1])

## د جنت د پیدا کولو اسانه لار:

چي تر څو پوري د انسان مور او پلار ژوندي وي، نو دا دومره لوی نعمت دی: چي د مځکي پر مخ د انسان دپاره تر دې لوی نعمت بل نسته.

لکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: که چیري یو سړی د محبت په نظر سره د خپل مور او پلار مخ ته ګوري، نو هغه ته الله تعالی دیو حج او عمرې ثواب ورکوي. ([2])

او په یو بل حدیث کي لا داسي هم راغلي دي: چي هغه سړی مردود دی: چي خپل مور او پلار د بوډاوالي په حالت کي پیدا کړي، بیا د هغو د خدمت په ذریعه خپله ګناه معاف نه کړي.

نو که چیري یو چا ته الله تعالی د مور او پلار د بوډاوالي په حالت کي د خدمت توفیق ورکړي، نو دا د ده دپاره د جنت حاصولو تر ټولو اسانه لار ده.

ځکه کله په لږ خدمت کولو د هغو د زړه څخه دعا را ووزي، او په هغه سره ستا آخرت آباد سي.

بهر حال مور او پلار چي کله ژوندي وي، هغوی د ځان دپاره نعمت بلل، او د هغوی قدر کول، ځکه که چیري مور او پلار د انسان څخه رخصت سي، نو په هغه وخت کي بیا انسان افسوس کوي، چي موږ خو په ژوندکي کي د دوی قدر نه

---

([1]) ماں کی عظمت: صفحہ نمبر ۳۰

([2]) دین اور دنیا اللہ کی رضا: صفحہ نمبر ۲۲

وکړي، او نه مي د هغو سره د حسن سلوک په وجه ځان لره جنت پیدا کړی، او وروسته د غه افسوس بیاهسي یو بې فائدې افسـوس وي.

## دوفاته بعد د تلافي صورت:

عام طور داسي وي: چي د مور او پلار د وفات څخه وروسته اولاد ته د دې خبري احساس وسي: چي مور څومره لوی نعمت د لاس څخه ورکړی، او مور د هغه حق ادا نه کړی.

د هغه د پاره هم الله تعالى يو لار خلاصه کړې ده، چي کله د مور او پلار په حقوقو کي د انسان څخه کوتاهي سوې وي، نو د هغه د تلافی دوې(۲) لاري دي.

یوه دا: چي د هغو دپاره إیصال ثواب یعني صدقه او خیرات او نوافل او عبادات او د قرآن کریم تلاوت په کثرت سره کول او هغو ته وربخښل نو دا د هغو د حقوقو د تلافی یوه لار ده.

دوهم دا: چي د مور او پلار د قریبانو او دوستانو سره حسن سلوک کول، او دهغو سره هم داسي سلوک کول: لکه يو څوک چي د مور او پلار سره ښه سلوک کوي، الله تعالى به د دغه عمل په نتيجه کي د هغه کوتاهی تلافي وکړي.

- الله تعالى دي مونږ او تاسو ټولو ته پر دغه خبرو باندي د عمل کولو توفيق رانصيب کړي، او الله تعالى دي دغه مختصره مذاکره په خپل دربار کي قبوله او مقبوله وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآيه)

# د اولاد اصلاح او تربيت

(بيان)


مولوی **اطيع الله** صاحب

استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاون) چمن

ترتيب وتخريج:

مفتی حافظ **کليم الله** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاون) چمن



مکتبه سلطانيه الهاشميه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ١٣ ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق ١١ جنوري ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللّٰهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ﴿أَدِّبُوا أَوْلَادَكُمْ عَلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ حُبِّ نَبِيِّكُمْ، وَحُبِّ أَهْلِ بَيْتِهِ، وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! ستاسو په مخ کي ما د "قرآن كريم" ديو آيت مبارک تلاوت پيش کړی، چي په دې آيت کي الله تعالى مسلمانانو ته د "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا" په الفاظو سره خطاب کړی دی، چي ای ايمان والا وو! ای هغه انسانانو! چي تاسو پر ما باندي ايمان راوړی دی.

د "حكيم الامت" مشهور خليفه مجاز معروف صوفي حضرت ډاکټر عبدالحی رحمة الله عليه ليکلي دي: چي په کم ځای کي الله تعالى مسلمانانو ته د "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا" په الفاظو سره خطاب کوي، نو په هغه خطاب کي د الله تعالى ډېر محبت او شفقت او الفت د انسانانو سره ښکاره معلوميږي.

(۱)سورة التحريم: آيت نمبر ۶

(۲) بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية، صفحه: ۱۴۸

څکه چي په عام عرف کي د خطاب دوې(۲) طريقې دي:
يوه طريقه دا: چي مخاطب ته په خپل نامه سره خطاب وسي، چي اى فلانه! اى محمده! دا زما خبره واوره.
او دوهمه طريقه دا: چي مخاطب د يوې رشتې او قرابت دارۍ په الفاظو سره ياد کړل سي، او د هغه څخه وروسته خطاب ورته وسي.
مثلاً يو پلار دى: هغه چي کله خپل بچى رابولي، او هغه ته خبره کوي، نو يوه طريقه خو داده: چي هغه بچى په خپل نامه سره راوبولي، چي اى فلانه! دلته راسه.
او دوهمه طريقه داده: چي هغه د بچي يا د زوى په الفاظو سره راوبولي، چي اى زويه! دلته راسه، دا ښکاره خبره ده: چي د زوى په لفظ يا د بچي په لفظ سره په رابللو کي چي کم شفقت او محبت دى، او د دې لفظ په اوربدلو کي چي کم لطف او راحت دى، نو هغه بيا هيڅ کله په نامه سره د يادولو په شکل کي وجود نه لري.
خو دا هم يو حقيقت دى: چي د دې قدر هغه سړي ته ور معلوميږي، چي د دغه وينا د کولو د جذبې سره اشنا وي، چي يو څوک ماته په بچي او زوى سره ووايي، په هغه کي څومره خوند او مزه سته.
چنانچه الله تعالى چي کله د انسانانو سره په دې آيت کي خطاب کوي، نو د "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا" په الفاظو سره دوى د ايمان په رشته او قرابت سره يادوي، چي کمه رشته او قرابت هر صاحب ايمان د خپل خداى سره لري، دا داسي ده: لکه يو پلار چي خپل زوى او بچي ته د بچي په لفظ سره آواز ورکوي.
او د دغه لفظ د استعمال کولو مقصد دا وي: چي را روانه خبره د شفقت او محبت او خيرخواهۍ څخه ډکه ده، نو په دې وجه الله تعالى هم په قرآن کريم کي مختلف ځايونه په دغه الفاظو سره مسلمانانو ته خطاب کوي، او د هغه ځايو څخه يو ځاى دا دى.

لکه الله تعالی فرمايي:

.......يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾.(۱)

ای ایمان والاوو! تاسو خپل ځانونه او دخپل کور انسانان د "اور" څخه وساتئ، هغه څنګه "اور" دی؟ وروسته الله تعالی د هغه "اور" صفت بیان کړی دی: چي هغه "اور" په لرګیو سره نه بلکه په ډبرو او د انسانانو په کوپړیو سره بلیږي.

او پر هغه "اور" باندي د الله د طرفه داسي غلیظي او سخت مزاجه ملائکي مقرري دي، چي هغه هیڅ کله د الله د امر نافرماني نه کوي، یعني د الله هر حکم پر ځای کوي، او دوی هغه عمل کوي، چي د الله د طرفه پر کم کار امر ورته کیږي.

## ذاتي عمل د نجات د پاره کافي نه دی:

په دې آیت کي الله تعالی مؤمنانو ته دا هدایت کوي: چي خبره صرف پر دې ځای باندي نه ختمیږي، چي بس خپل ځان د "اور" څخه وساته، او په اطمنان ورته کښېنه، چي ما خو خپل کار وکړی، بلکه خپل اهل او عیال هم د "اور" څخه ساتل د انسان ذمه داري بلل کیږي.

نن سبا په معاشره کي په کثرت سره انسان لره په نظر ورځي، چي انسان خو دخپل ذات په اعتبار سره دینداره وي، د لمنځو اهتمام کوي، او په صف اول کي حاضر وي، روژې نیسي، زکوة ورکوي، او د الله په لار کي مال خرڅوي، او چي څومره اوامر او نواهي دي، په هغه ټولو باندي د عمل کولو کوشش کوي.

لیکن چي کله د ده کور ته وګورې، د ده اولاد ته وګورې، او د ده د کور د زنانو حالات ستا تر غوږ پوري را رسیږي، نو د ده او د ده د اولاد او د کور د انسانانو

په درمیان کي د مځکي او آسمان فرق وي، دی پر یو طرف روان، او هغه پر بل طرف روان وي، د ده رُخ او توجه د مشرق طرف ته وي، او د هغو رُخ او توجه د مغرب طرف ته وي.

د هغو سره نه د لمانځه فکر وي، نه د دین د فرائضو پر ځای کولو احساس ورسره وي، او نه د ګناه څخه د راګرځیدلو فکر لري، بس د ګناهونو په سیلاب کي غرق خپل ژوند تیروي.

او دی صاحب په دې مطمئن دی: چي زه خو لمونځ په صف اول کي په جماعت سره کوم، او د ګناه څخه د خپل ځان حفاظت کوم، او د دین احکام ادا کوم.

تاسو په دې خبره ښه سر خلاص کړئ! چي کله د انسان سره د خپل کور د انسانانو د "اور" څخه د ساتلو فکر نه وي، نو په خپل ذاتي عمل سره د انسان نجات نه کیږي، انسان په دې سره د "اور" څخه خپل ځان نه سي محفوظه کولای، چي زه خو د خپل عمل مالک یم، او د خپل ځان اختیار لرم، که چیري اولاد ژوند په بې دیني کي تیروي، نو زه څه په وکړم.

دا ځکه چي د اولاد د "اور" څخه ساتل او دګناه څخه راګرځول هم ستا په فرائضو او ذمه داریو کي شامل دي، که چیري تا په دغه ذمه داري کي کوتاهي وکړه، نو په آخرت کي به ستا څخه د دې پوښتنه کیږي.

**سوال:**

په دې آیت کي الله تعالی مؤمنانو ته فرمایلي دي: چي تاسو خپل ځانونه او د کور انسانان د "اور" څخه وساتئ.

در حقیقت په دې آیت کي د یو سوال و جواب ته اشاره سوې ده: چي هغه سوال عام طور زموږ په زړو کي پیدا کیږي، او نن سبا د معاشرې د انسانانو پر ژبه د هغه تذکره وي.

سوال دادي: چې کله نن سبا يو چا ته دا ووايي: چې دغه اولاد ته د دين تعليم ورکړه، او د دين خبري ورازده کړه، او دوی د دين طرف ته متوجه کړه، او د ګناه څخه ئې د راګرځولو فکر وکړه.
نو دی به په جواب کي دا درته وايي: چې ماخو د اولاد د ديندراه کولو ډېر کوشش وکړی، په فلان مدرسه کي مي داخل کړل، او فلان استاذ ته مي په لاس ورکړل، او تر فلان ځايه پوري مي ديني تعليم په وکړی، لېکن څه وکړم، چي ماحول او معاشره دومره خرابه ده، چي زما پر هغه ټولو کوششو ئې اوبه تيري کړې، او زما بچيان ئې د بې دينۍ په سيلاب لاهو کړل، اوس که هر څه کوشش کوم، نو هغه زما خبره نه مني، او تر وس مي وتلي دي.
که چيري ته نوره خبره ور سره وپېچې، نو دی به ستا سره دلائل وايي، او لوی دليل به د حضرت نوح عليه السلام په بچي باندي پيشوي، چي مولوي صاحب! حضرت نوح عليه السلام د "اولوالعزم" پيغمبرانو څخه دی، هغه په خپل کوشش باندي خپل بچی د بدو اعمالو څخه نسي راګرځولای، نوزه به ئې څنګه راوګرځوم، ځکه چي زه هر څومره کوشش کوم، هغه زما خبره نه مني، نو آخر څه وکړم؟

## جواب:

چنانچه الله تعالی په دې آيت کي د "أور" په لفظ استعمالولو سره د دغه سوال جواب په ډېر واضح انداز سره ورکړی دی.
هغه دا: چي هسي خو خبره په اصولي طور صحيح ده، که چيري مور او پلار د خپل اولاد د بې دينۍ څخه د راګرځولو پوره کوشش وکړي، نو انشاء الله د مور او پلار ذمه فارغه ده، او د اولاد د بدعمل وبال پر اولاد باندي راځي.
لېکن اوس دې ته کتل کيږي: چي مور او پلار د اولاد د بې دينۍ څخه د راګرځولو په خاطر کوشش تر کمه حده پوري کړی دی.
قرآن کريم خو د "أور" لفظ استعمال کړی دی، په دې کي و دې طرف ته اشاره

لکه يو څوک چي خپل بچی د "اُور" څخه راګرځوي، نو انشاءالله د مور او پلار ذمه به فارغه وي.

مثلاً تاسو ئې فرض کړئ! چي پر دې میدانه باندي يو ډېر خطرناکه "اُور" بل دی، چي د هغه په باره کي د هر سړي دا يقين دی: که چيري يو انسان په دې "اُور" ور دننه سي، نو ژوندی نسي راوتی.

اوس ستا يو نادان او ناپوه بچی د دې "اُور" په حقيقت او په سوځلو نه پوهيږي، صرف د دې "اُور" و ظاهري ښائست او حسن منظر ته ګوري، نو د "اُور" پر طرف ورځغلی، او و "اُور" ته د ورننوتلو کوشش کوي.

اوس ته راته ووايه! په دې وخت کي به ته څه وکړې؟ ايا صرف پر دې به اکتفا وکړې، چي د ليري ځايه څخه به و ده ته نصيحت شروع کړې، چي بچيه! دې "اُور" ته مه ورځه، دا دي سوځي، او دا ډېر خطرناکه دی، ته به کي سوځل کيږې.

ايا مور او پلار به صرف پر دغه زباني نصحيت باندي اکتفا وکړي، که چيري د دې نصحيت باوجود د دوی بچی د دوی خبره نه مني، او "اُور" ته بيا هم ځان ور رسوي، ايا نو دا مور او پلار به په دې وينا خپل ځانونه بری الذمه و بولي، چي موږ خو خپله ذمه داري ادا کړه، او ورته و مي ويل، زموږ خبره نه مني، او په خپل خوښه "اُور" لره ورځغلی، نو موږ څه په وکړو.

بلکه زه خو دا وايم: چي اول به په ژړا باندي مور او پلار بچي ته ووايي: چي بچيه! څنګه خپل ځان سوځې.

که چيري هغه د دوی خبره نه و مني، نو بيا به ټول کلی او قربان ورباندي مرکه کړي.

که چيري په هغه هم کار نه وسي، نو آخر به دا خپله لنګوټه په پښو کي ور وغورځوي، او په هر شکل چي وي، دی به د "اُور" څخه راوګرځوي.

بلکه زه خو دا وايم: که چيري دوی د دغه بچي حقيقي مور او پلار وي، او د دوی بچی پر "اور" ور روان وي او دوی ئې ويني، نو پر دوی به خوب حرام، خوړکه حرامه، او سکون حرام سي، چي تر څو پوري ئې هغه بچی د "اور" څخه را نه گرځولی نه وي.

نو الله تعالی فرمايي: چي تاسو خپل بچی د دنيا د معمولي "اور" څخه راګرځوئ، او صرف د ژبي په وينا سره کفايت نه کوي، نو د جهنم "اور" خو د دنيا د "اور" څخه اويا(۷۰) درجې په ګرمي کي زيات دی، لکه حديث شريف د دې شاهد دی:

......نَارُكُمْ هَذِهِ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ لِكُلِّ جُزْءٍ مِنْهَا حَرُّهَا﴾.(۱)

نو د جهنم هغه "اور" دی: د هغه د ګرمۍ حد او نهايت نسته، او په دنيا کي د هغه تصور نه سي کيدای، د دغه "اور" څخه دخپلو بچيانو د راګرځولو دپاره صرف د ژبي وينا او نصحيت څنګه کافي بولئ، لهذا دا خبره کول: چي ما خو خپله ذمه داري او فريضه ادا کړه، دا به شايد پر ځای نه وي.

## د نوح عليه السلام په زوی دليل نيول:

او چي کم څوک د حضرت نوح عليه السلام د زوی مثال ورکوي، چي هغه کافر وو، او پلار دی د "اور" څخه نه راوګرځوی، هم صحيح نه ده.

ځکه چي تاسو خو دې ته وګورئ! چي هغه دخپل زوی د بدو اعمالو څخه د راګرځولو په خاطر نه نيم سوه(۹۵۰) کاله مسلسل کوشش وکړی، د هغه باوجود چي کله هغه راه راست ته رانه غلی، نو اوس حضرت نوح عليه السلام باندي څه ذمه واري پاته نه ده.

(۱)سنن ترمذي، حديث نمبر ۲۵۹۰

لېکن زموږ حال خو دادی: چې یو او دوه ځله مې ورته وویل، چې کله هغه نه ومنل، نو ورته کېنباستو، چې موږ نو خپله ذمه فارغه کړه، دا هيڅ کله صحیح نه ده.

ځکه چې هغه به ته د ګناهونو څخه په دا شان راګرځوې، لکه څنګه چې هغه د حقیقي "اُور" څخه راګرځوې، که دي چیري په دغه شان د ګناه څخه نه راوګرځوی، نو د دې مطلب دادی: چې تا خپله فریضه ادا نه کړه، نو د قیامت په میدان کي به ستا څخه د دې بازپُرس او پوښتنه کیږي.

## د دین فکر کول:

نن که سړی پر معاشره باندي نظر وکړي، نو دا ښکاره ده: چې د هر مور او پلار سره د اولاد متعلق د هر څه فکر سته، مثلاً دا فکر ورسره دی: چې د بچي عصري تعلیم دي ښه وي، او د بچي د لباس او د خورکې فکر سته، او د بچي د واده او د تجارت فکر سته، لېکن که د مور او پلار سره نسته، نو هغه د بچي د دین فکر نسته.

که چیري دغه دین زموږ او ستاسو په نظر کي دومره ناقابل توجه شی وي، نو بیا موږ او تاسو د لمنځو کولو او د روژو نیولو او د زکوتو ورکولو ولي تکلیف پر خپل ځان تیروو.

نن صباچي کله بچی پیدا سي، نو مور او پلار ئې دستي داسي مکتب او اداره ته ورحواله کوي، چې هلته صرف ده ته د "سپي" او "پشو" متعلق څه ور ازده کوي، لېکن د الله د نامه د زده کولو څه بندوبست نه کوي، او د دین د خبرو د زده کولو هیڅ خیال نه ساتل کیږي.

نو ځکه د هغه څخه داسي نسلونه تیاریږي، چې د هغو کردار زموږ و مخته دی، چې هغو د مسلمانانو د اقتدار جلو په لاس کي اخستی دی، او ټول مسلمان ملت ئې د کافرانو غلامان ګرځولي دي.

که چیري په دې وخت کي د مسلمانانو پر حاکمانو باندي نظر واچوې، نو شاید اکثریت به داسي انسانان په نظر درسي، چي هغه قرآن کریم په ناظره نه سي ویلای، او هغو لره د لمانځه کولو صحیح طریقه نه ورځي.

مسلمان باید په خپله زندګي کي د الله او د الله د رسول د غلامۍ طوق و غاړه ته واچوي، لېکن تاسو ئې وینئ، چي هغو ظالمانو د چا د غلامۍ طوق و غاړه ته اچولی دی.

پر مسلمانانو باندي چي کله د تنګۍ او سختۍ حالت راسي، نو د هغو توجه د الله تعالی و ذات ته وي، او د هغو غوښتنه د الله د ذات څخه وي.

لېکن زما او ستا پر حاکمانو چي کله د سختۍ وخت راغلی دی، نو د هغو توجه د چا و طرف ته ده، او د چا څخه غوښتنه کوي، هغه ما او تا بلکه ټوله معاشره په سترګو باندي وینو.

او حال دا دی: چي الله تعالی هغه قوم ته دېر زیات په غصه او غضب کي وي، چي هغه د سختۍ او پرېشانۍ په وخت کي د الله څخه سوا بل چا ته لاس ځغوي، او د هغه څخه مدد غواړي، او د الله تعالی و طرف ته ئې توجه نه وي.

## دوریځو آوازونه:

د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په دور کي په اتلس(۱۸) هجري سنه کي په ټوله "جزیره عرب" کي داسي قحطي راغله، چي د خورک او چیښلو اشیا په هیڅ قیمت نه پیدا کیدل، د لوږي او تنګۍ په وجه خلګو د "حجاز مقدس" څخه انتقالونه کول، او بل طرف ته تلل.

په دې دوران کي حضرت عمر رضي الله عنه ته اطلاع راغله، چي په "مصر" کي غله بې شماره ده، او "مِصر" د دې څخه مخکي فتح سوی وو، او حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه د هغه ځاې والی وو.

حضرت عمر رضي الله عنه هغه ته خط ولیکی:

...... چي دلته په حجاز کي بالکل غله نشته، او ماته معلومه سوې ده، چي په "مصر"کي غله زياته ده، لهذا ددې ځای د انسانانو دپاره د "مصر" څخه د غلې بندوبست وکړه.

حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه په جواب کي ورته ليکي:

...... چي ای د مسلمانانو اميره! ته مطمئن اوسه، زه به دومره قافله د غلې بار در ولېږم، چي د هغې اول اوښ به مدينه منورې ته رسيږي، او آخرنی اوښ به ئې د "مصر" څخه وزي.

د "مصر" او د "حجاز" په درميان کي د يوې مياشتي لار وه، چي په هغه زمانه کي پر اوښانو باندي سفرونه کيدله، يعني دا ټوله لار به د غلې څخه بار دا وښانو څخه ډکوم.

چنانچه غله راغله، او د غومره غله وه، په "مدينه منوره" کي او د هغه په اطرافو کي دا اعلانونه وسول: چي دکم چا زړه غواړي هغه دي دحضرت عمر رضي الله عنه پر دسترخوان باندي خورک وکړي، او چي د کم چا د څومره غلې ضرورت وي، هغه دي د ځان سره يوسي.

چنانچه په زرو انسانانو هلته پر دسترخوان باندي خورکونه وکړل، او ډېرو انسانانو غله د خپلو ځانو سره خپلو کورو ته يووړله.

يو صحابي د "مدينې منورې" په اطرافو کي په يو ځنګله کي په خپله کوډل کي اوسيدی، هغه هم پر لاره باندي د تېرېدونکو انسانانو څخه دا واورېدل: چي "مدينې منورې" ته غله راغلې ده، او هلته تقسيمېږي.

د ده سره يو "بُزه" ده، نو ده د ځان سره دا فکر وکړی: که چيري زه ولاړ سم، او دا "بُزه" دلې يوازي پرېږدم، يو خو د هغې دخورک بندوبست نسته، او بل طرف ته ليوان او درندګان دي، هغه به ئې وخوري، نو زه به دا "بُزه" حلاله کړم، او د ځان سره به ئې واخلم، د دې د غوښو دخوړلو په وجه به په ما کي تر مدينې پوري دځان رسولو طاقت پيدا سي.

چنانچه د هغه "بزې" غاړې ئې ورپرې کړې، د غاړو پرې کولو وروسته د هغه د ټولو رګو څخه یو څاڅکی وینه نه راووتله، هغه صحابي چې کله هغه منظر ته وکتل، نو پر هغه ځای په ژړا سو، او وایي: چې یا الله! موږ څه حال ته ورسیدو، او زموږ حیوانان څه حال ته ورسیدل، نو هغه صحابي پر هغه ځای ناست دی، او تر ډېره پورې ژاړي، او په ژړا کي خوب ورغلی، او بیده سو.

په خوب کي که ګوري نو ده ته پېغمبر ﷺ راغلی، او ورته وایي: چې عمر ﷺ ته ورسه، او زما د طرفه سلام ورته ووایه، چې ته خو ډېر عقلمند انسان وې، ستا په عقل باندي څه وسو.

هغه صحابي چې کله د خوب څخه راپورته سو، نو په منډه د "مدینې منورې" پر طرف را روان سو، د ډېرو ستړو او مشقتو څخه وروسته ئې "مدینې منورې" ته ځان را ورساوی.

د حضرت عمر ﷺ د دربار په دروازه کي ودریدی، او په زوره ئې چیغه کړه: چې ای امیر المؤمنینه! د رسول الله ﷺ قاصد راغلی یم، اجازت غواړم.

حضرت عمر ﷺ چې کله د ده نعره واورېدله، چې د رسول الله قاصد دی، نو لڅي پښې د خپل مکان څخه په منډه راووتی، او هغه سړی ئې تر لاس ونیوی، ورته وایي: چې د رسول الله ﷺ کم پیغام دي راوړی دی؟ هغه سړي د خپل خوب قصه ټوله ورته بیان کړه.

حضرت عمر ﷺ چې کله واورېدل، نو په لرزا او بیره کي مبتلا سو، او وایي: چې زما څخه کمه غلطي سوې ده؟ په دې وخت کي چې په مدینه کي کم "اهل الرأیه" خلګ وو، هغه ئې ټول راجمع کړل، او ورته وایي: چې ما خو تاسو ته بار بار دا ویلي وه: که چیري زما څخه یو غلطي کیدله، نو ما ته به تنبیه راکوئ.

لېکن زما څخه غلطي سوې ده، او تاسو ما ته تنبیه نه ده راکړې، نو ځکه زما آغا جناب محمد مصطفی ﷺ ما ته پیغام را استولی دی، اوس راته ووایاست: چې

زمل [illegible] ي ده؟ صحابه کرام ټول ورته وايي: چې زموږ په [illegible] لي موږ ته نه را معلومېږي.

د ډېر بحث او تفتيش څخه وروسته په آخر کې يو صحابيﷺ ولاړ سو، ورته وايي: اى امير المؤمنينه! زما په دماغ کې يوه خبره راګرځي، هغه دا: چې کله ستا په ملک کې قحطي راغله، او غله نه وه، او انسانان د لوږي څخه مړه کيدل، مه دې وخت کې د يو مسلمان حاکم شان دا وي: چې هغه د الله تعالى طرف ته متوجه سي، او د خپلو ضرورياتو غوښتنه د الله تعالى څخه وکړي.

مګر زموږ پر دې ملک چې قحطي راغله، او ته زموږ د مسلمانانو حاکم وې، تا د الله تعالى پر ځاى د "مِصر" طرف ته توجه کړه کړه، او د خپل ځان غوندي يو انسان چې د "مِصر" والي وو، د هغه څخه دي د خپلو ضرورياتو پوره کولو درخواست وکړی، دا زما په دماغ کې ستا لويه غلطي وه.

حضرت عمرﷺ چې کله دا واورېدل: نو ورته وايي: چې يقيناً هم دا زما لويه غلطي وه، او د مدينې ټولو خلګو د غه غلطي ورسره تسليم کړه.

حضرت عمرﷺ دستي د الله تعالى طرف ته متوجه سو، او د الله تعالى په دربار کې ئې د خپلې غلطۍ څخه توبه وکښه، او د الله تعالى څخه ئې معافي وغوښته، او ذ مدينې ټولو خلګو هم معافي ورسره وغوښته.

د معافي غوښتولو څخه وروسته ئې د الله تعالى څخه د باران طلب او غوښتنه وکړه، چې کله ده غوښتنه وکړه، د ده دغوښتني څخه سم دستي د آسمان په وريځو کې شر او شور جوړ سو، او هره وريځ د مدينې طرف ته په منډه را روانه سوه، او يوه د بلى څخه ځان مخکي کوي، او هره يوه بلې وريځې ته په زبان حال سره دا آواز ورکوي:

........﴿إِذْهَبْنَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ فَإِنَّ الْعُمَرَ يَدْعُوْ كُنَّ﴾.(۱)

درځئ مدينې لره، حضرت عمرﷺ په مدينه کې ستاسو غوښتنه کړې ده.

---

(۱) تاريخ کامل: جلد نمبر ۲: صفحه نمبر ۲۳۵

نو نن چي پر مسلمانانو باندي توره شپه غوړېدلې ده، دا د خپل بې دينه قيادت او د بې كيفيته حكماؤو په وجه چي هغوی د الله تعالى څخه د غفلت په خاطر د الله تعالى و طرف ته د توجه كولو پر ځای خپله توجه نورو اطرافو ته كړې كړې ده.

او د هغو د دغه اعمالو لويه وجه د هغو د اسلامي تعليماتو نشتوالى او د اسلامي تربيت څخه ليري روزنه ده، او د دې ټوله ذمه واره د هغو مور او پلار دي، چي هغو په داسي بې كفايته شكل د خپلو بچيانو روزنه او تعليم او تربيت كړې دی.

## د بچي ښه تربيت د مور او پلار ذمه واري ده:

بچی چي كله پيدا سي، نو د مور او پلار ذمه واري صرف د بچي پالنه او ساتنه نه ده، بلكه د مور او پلار لويه ذمه واري خپلو بچيانو ته اسلامي تربيت او تعليم وركول دي.

د بچي د تربيت اوله درسگاه د مور غېږ ده، يعني د ده د تربيت ابتداء د پيدائش د اولو ورځو څخه او د مور د غېږي څخه شروع كيږي.

ځكه د بچي مثال د يو گل د بوټي دی، لكه: په يو كور او يا باغيچه كي چي كله د گل بوټی راشين سي، نو انسان چي څنگه غواړي هغه هغسي ئې پاللای سي، كه ئې پر ديوال پورته كوي، يا ئې د درختي پر تنه را گرځوي، يا ئې دغسي پر مځكه هواره وي، نو په هر شكل چي غواړي هغسي ئې جوړولای سي.

لېكن كه چيري هغه غټ سي، او تنه او ښاخلې ئې مضبوطه سي، بيا د انسان په قابو كي نه راځي.

كله ناكله مور او پلار د محبت پر بنياد دا سوچ او فكر كوي: چي بچی خو اوس ماشوم دی، كه څه شرارت وكړي، نو پروا نه لري، ځكه چي كله لوی سي، بيا په خپله سمېږي، حالانكه دا د مور او پلار ډېر غلط سوچ او فكر وي.

ځکه د دې مثال خو داسي دی: لکه يو څوک چي کورته يو کاريگر د ديوال جوړولو دپاره راولي، هغه چي کله ديوال شروع کړي، نوپه ابتداء کي ځني کوږ سي، او د مکان مالک په دې سوچ د خاموشی په شکل ورته گوري، چي کله غټ سي، نو بيا په خپله سيده کيږي، حالانکه ديوال که چيري د ابتداء څخه کوږ روان سي، نو بيا تر آخره پوري کوږ وي، او د ده کوږ والی نور زياتيږي، لکه يو شاعر وايي:

خشت اول چون نهد معمار کج ☆ تاثریا میرود دیوار کج

نو د بچيانو د تربيت بعينه دغه ترتيب دی: که چيري په ماشوموالي کي د هغه صحيح تربيت نه وسي، نو چي څومره غټيږي، نو هغومره د ده عادات نور هم خرابيږي.

نو ځکه زموږ شريعت هم دا خبره موږ ته پيش کړې ده: چي بچی چي څنگه پيدا سي، نو د هغه په يو غوږ کي آذان او په دوهم غوږ کي اقامت ورکوئ، بچی که څه هم په دې وخت کي ماشوم وي، په څه نه پوهيږي، او نه څه ويلای سي، لېکن شريعت بيا هم د ده په غوږو کي د آذان او اقامت امر کړی دی، د دې راز دغه دی: چي تاسو د الله نوم د ده و غوږ ته ور ورسوئ، چي د ده و دماغ ته د ټولو څخه مخکي د الله د توحيد پيغام ور ورسيږي، او هغه د ده پر دماغ باندي اثر لري.

## د بچيانو د پرورش نکات:

د مور او پلار د پاره اوله نکته دا ده: چي هغه د خپل بچي پرورش په حلال مال سره وکړي، ځکه که چيري د بچي پرورش په حلال مال سره وسي، نو هغه بچی خود بخود نيک عمله او ديندار جوړيږي.

ځکه چي د بچي پر بدن که چيري غوښه په حرام مال سره راسي، او د بچي د بدن قوتونه په حرام مال سره وده وکړي، نو بيا خو د هغه اثر دا وي: چي هغه بچي ته د ګناه کولو بغير اطمنان نه ورځي، ځکه د پيغمبر ﷺ حديث دی:

.......إنَّ اللّٰهَ تَعَالَى حَرَّمَ الْجَنَّةَ عَلَى كُلِّ جَسَدٍ تَغَذَّى أَوْ غُذِّيَ بِحَرَامٍ﴾.(¹)

چي کم بدن په حرامه غذا سره و پالل سي، نو جنت ورباندي حرام دی، نو په دنيا کي به ضرور د جهنم والا اعمال يعني په ګناه کي مبتلا کيږي.

نن خو د سائنس په دنيا کي دا خبره تجربې ته رسيدلې ده: چي کله بچی اتلس(۱۸) هفتې ته ورسيږي، نو په دې وخت کي د ده پر دماغ باندي اثرات مرتب کيدل شروع سي، او دا خبره دين اسلام ډېره پخواه کړې ده، چي د مور د نس څخه پر بچي باندي اثرات شروع کيږي.

فقهاؤو ليکلي دي: زنانه چي کله حامله سي، نو دا دي د حرامو څخه پرهيز کوي، د ګناهونو څخه دي پرهيز کوي، که چيري دا داسي وکړي، نو د دې دغه د رِحم بچی چي کله لوی سي، نو همېشه به د دې فرمانبرداره وي.

## بچي ته خپلي شيدې ورکول:

د اولاد په تربيت کي بچي ته خپلي شيدې ورکول، او د خپلي سينې په شيدو سره لويه ول اهم عمل دی، ځکه د مور د شيدو خپل اثرات وي، چي د هغه په وجه اولاد د مور سره محبت کوي.

ځکه د مور د بدن اجزاء د بچي د بدن په اجزاؤو کي تحليل وکړي، نو د هغه په وجه د بچي د خپلي مور سره محبت راځي، او د بچي په زړه کي د مور او د پلار احترام پيدا کيږي.

نن سبا بعض زناني د خپل بدن د خوبصورتۍ باقي ساتلو په فکر کي خپل بچي ته د شيدو ورکولو څخه ځان ېيچي، نو هغه په نورو شيدو لويه وي، اوس کم

بچي چي د ابتداء څخه د کوکې په شیدو، یا د بزې په شیدو، یا د غوا په شیدو و پالل سي، نو هغه د مور په محبت نه پوهیږي، او نه د مور محبت د ده په زړه کي ځای نیسي.
په یو حدیث شریف کي پیغمبر ﷺ فرمایي: چي کمه زنانه بغیر د عذر خپل بچی د سینې د شیدو څخه محرومه کړي، نو د هغې د سینې "تې" به د جهنم په کندو کي د جهنم ماران چیچي.(۱)

## د اولاد د تربیت ثواب:

که چیري مور او پلار په دنیا کي د اولاد تربیت وکړي، نو الله تعالی به په قیامت کي هغوی ته لوی اجر او ثواب ورکړي.
ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:
........أَيُّمَا امْرَأَةٍ قَعَدَتْ عَلَى بَيْتِ أَوْلَادِهَا فَهِيَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ﴾.(۲)
چي کمه زنانه کنډه سي، مګر د خپلو بچیانو په وجه بل واده و نه کړي، نو هغه به په جنت کي زما سره په یوه درجه کي وي.
په یو بل حدیث شریف کي لا دا هم راځي:
پیغمبر ﷺ فرمایي: چي کله زه جنت ته داخلیږم، نو زما سره به یوه زنانه هم جنت ته داخلیږي، زه به د دې څخه پوښتنه کوم: چي ته څوک ئې؟ او څه عمل دي کړی دی؟ چي زما سره یو ځای جنت ته داخلیږې؟ نو دا به راته وایي: چي زه کنډه زنانه وم، زما خاوند وفات سو، ما غوښتل چي دوهم واده وکړم، او د عیش او عشرت زندګي تیره کړم، لیکن پر ما باندي د بچو محبت غالبه راغلی، ما غربت برداشت کړی، او خپل بچیان مي په سینه پوري ونیول، او د هغو مي ښه

(۱) صحیح ابن حبان، حدیث نمبر ۷۴۹۱
(۲) کنز العمال: حدیث نمبر ۴۵۱۳۷

تربیت وکړي، هغه مي لوی کړل، او هغو ته مي ودونه ور وکړل، نو ځکه زه دا غوارم: چي د دغه عمل په وجه ستا سره یو ځای جنت ته ولاړه سم.
نو پیغمبر ﷺ ورته فرمایي: چي د دغه عمل په وجه یقیناً هم الله تعالی تا ته ډېر ژر جنت ته داخلېدل درنصیب کړي دي.(۱)
نو د بچیانو د تربیت یوه حصه دا هم ده: چي مور او پلار پر بچي باندي ښه نوم کښېږدي، او هغه نوم د یو نسبت په خاطر وي، مثلاً د الله سره ئې نسبت وي، چنانچه په حدیث شریف کي راځي: چي الله تعالی ته دوه(۲) نومه: (عبدالله، او عبدالرحمن) په ټولو نومونو کي ډېر خوښ دي.(۲)
یا د انبیاؤو پر نومونو باندي یا د صحابه کرامو پر نومونو باندي نوم کښېښول سي، ځکه چي د دې نومونو خپل برکات وي، نو دغه وجه وه: چي کله پیغمبر ﷺ ته یو څوک راغلی، نو دهغه به ښه نوم نه وو، او یا به ئې د نامه معنٰی خوندوره نه وه، نو ده به هغه نوم ذستي ور بدلاوی.
نو تر شپږو(۶) کالو پوري د بچي د تربیت ذمه داري پر مور باندي عائده ګرځي، ځکه چي تر دغه عمره پوري بچی همېشه د خپلي مور سره وخت تیروي، او د مور ټوله عادات او اعمال د ده په دماغ کي ځای نیسي.

## د خواجه قطب الدین بختیار کاکی رحمة الله علیه واقعه:

زموږ په دې امت کي عجیبه میندي تیري سوي دي، او د خپلو بچو ئې په څنګه اشکالو تربیت کړی دی.
د خواجه قطب الدین بختیار کاکی رحمة الله علیه مور دی د ماشوموالي په وخت کي د کلي مدرسې او مسجد ته د قرآن کریم د زده کړي دپاره ورروستی، او هلته ئې قاري صاحب ته کښېنوی، چي زما بچي ته قاعده ورازده کړه، قاري صاحب چي

(۱) مسند ابي یعلي: حدیث نمبر ۶۰۶۵۱
(۲) سنن ابي داؤد: حدیث نمبر ۴۹۵۱

کله ده ته د قاعدې شروع کولو په وخت کي بسم الله تلاوت کوي، نو هغه بچی د بسم الله څخه وروسته متصل په "سورة فاتحه" کي شروع کوي، او په هغه ورځ هغه بچي د خپل دماغ څخه قاري صاحب ته د قرآن کريم پنځلس(۱۵) سيپارې تلاوت اوروي.
قاري صاحب واپس هغه بچی مور ته راولي، ورته وايي: ای موري! ته زما سره مذاق او مسخرې کوې، چي بچی دي ماته د قاعدې د زده کړې دپاره راوستی، هغه خو نن د خپلي حافظې څخه ماته پنځلس(۱۵) سيپارې د قران کريم تلاوت واوروی.
نو هغه مور ورته وايي: چي قاري صاحب! زما بچی په قاعده نه پوهيږي، او نه هغه د قرآن کريم الفاظ پيژني، ده چي کم تلاوت تاته کړی دی، هغه صرف ده د حافظې څخه کړی دی، ورنه په الفاظو ئې هغه نه سره پيژني.
او د ده د تلاوت کولو وجه داده: چي ما به کم وخت ده ته "تی" ورکاوی، نو زه د قرآن کريم حافظه وم، ما به همېشه د قرآن کريم تلاوت کاوی، ده به هغه اوريدی، چونکه د ده د ماشومالي په وجه ذهن ډېر صفا وو، نو هغه د قرآن کريم تلاوت به د ده په ذهن کي نقش سوی دی، نو اوس ده تاته هغه د ذهن نقش سوی تلاوت کړی دی، ورنه ده تر اوسه پوري نه قاعده ويلې ده، او نه دی د قرآن کريم الفاظ پيژني.

## د پلار پر ذمه د بچي تربيت:

ما مخکي هم درته وويل: چي تر شپږو (۶) کالو پوري د بچي د تربيت ذمه داري پر مور باندي عائده کرځي، لېکن د هغه څخه وروسته د بچي زيات وخت د پلار سره تيريږي، نو ځکه د شپږو (۶) کالو څخه وروسته د تربيت ذمه داري د پلار و طرف ته منتقله کرځي.
په دغه عمر کي د بچي د تربيت په هکله د پېغمبر ﷺ حديث مبارک راځي:

.......مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا، وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ﴾.(۱)

اولاد چي کله اوه(۷) کاله ته ورسیږي، نو تاسو د لمانځه حکم ورته کوئ، یعني د اوو(۷) کالو څخه بچي ته د لمانځه کولو تاکید ور شروع کړئ، که څه هم د ده پر ذمه باندي لمونځ فرض نه دی، لېکن د ده د عادت جوړولو دپاره د اوو(۷) کالو څخه د لمانځه تاکید ورته شروع کړی.

او چي کله لس(۱۰) کاله عمر ته ورسیږي، او بیا هم لمونځ نه کوي، نو د لمانځه پر نه کولو دوی ته سزا ورکوئ، او په دې عمر کي د دوی بسترې سره ور جلا کړئ، دوه(۲) بچیان په یوه بستره کي مه بیده وئ.

## د اوو(۷) کالو څخه مخکي تعلیم:

په دې حدیث کي پیغمبر ﷺ اول حکم دا کړی دی: چي د اوو(۷) کالو په عمر کي تاسو د لمانځه کولو بچي ته تاکید کوی، د دې څخه دا معلومه ده: چي د اوو(۷) کالو څخه مخکي بچي د یو شي مکلف جوړول مناسب عمل نه دی.

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي د دې حدیث څخه دا خبره ښکاره کیږي: چي تر څو پوري د بچي عمر اوه(۷) کاله ته نه وي رسیدلی، نو پر هغه باندي بوج اچول مناسب نه وي.

لکه بعض خلګ د اوو(۷) کالو څخه مخکي د بچي د روژې نیولو فکر کوي، حضرت تهانوي رحمة الله علیه به د دې ډېر زیات مخالفت کاوی، او دا به ئې ویل: چي الله تعالی خو د اوو(۷) کالو څخه مخکي د لمانځه کولو حکم نه دی کړی، مګر ته د اوو(۷) کالو څخه مخکي د ده د روژې نیولو په فکر کي ئې.

داغه رنګه د اوو(۷) کالو څخه مخکي د لمانځه د تاکید کولو کوشش صحیح نه دی، او هم په دغه عمر کي بچي مسجد ته راوستل صحیح عمل نه دی، البته

(۱) سنن ابي داؤد: حدیث نمبر ۴۹۵

كله ناكله په دې شرط باندې بچې انسان مسجد لره راوستلای سي: چې كله دا اطمنان وي: چې مسجد نه ګنده كوي، چې دی د مسجد سره مانوس و ګرځي، خو د اوو(۷) كالو څخه مخكې پر ده باندې باقاعده بوج اچول مناسب عمل نه دی.

زموږ بزرګانو فرمايلي دي: چې د اوو(۷) كالو څخه مخكې بچې ته په نازولو كې يو څه ور ازده كول، مثلاً بسم الله ياد الله نوم ور ازده كول په كار دي، لېكن باقاعده پر بچې باندې د تعليم بوج نه اچول.

نن سبا زموږ په معاشره كې غلط رواج دی: چې كله بچې درې(۳)كاله عمر ته ورسيږي، نو دستي د هغه د تعليم فكر د مور او پلار سره پيدا سي، حالانكه صحيح طريقه داده: چې په دې عمر كې كه بالفرض ته و ده ته دتعليم شوقي ئې، نو په كور كې تعليم وركړه، د الله او د الله د رسول ﷺ كلمه ور ازده كړه، او د دين خبرې ور ازده كړه، چې څومره په كور كې دی ازده كولای سي، هغه ور ازده كړه، باقي دی مكلف جوړول باقاعده مكتب او مدرسې ته استول مناسب عمل نه دی.

## قاري فتح محمد رحمة الله عليه:

زموږ يو بزرګ قاري فتح محمد رحمة الله عليه چې هغه ټوله زندګي د قرآن كريم په تعليم كې تېره كړه، ډېر لوی صوفي او بزرګ وو، چې كم چا دی ليدلی وو، نو هغه به دی د قرآن كريم ژوندی معجزه بلله.

قاري صاحب به د قرآن كريم د تعليم په معامله كې ډېر سخت وو، چې كله به يو بچې راغلی، نو په ډېر اهتمام سره به ئې سبق ورته وايي، او هم به ئې د ويلو تاكيد ورته كاوی.

لېكن د دې سره سره به ئې دا فرمايل:چې تر څو پورې د بچې عمر اوه(۷) كاله ته نه وي رسيدلی، نه به پر هغه باندې د تعليم بوج اچوئ، او نه به ئې زما

درسګاه ته راولئ، ځکه چي په دې عمر کي د سبق ویلو په وجه د بچي نشو و نما درېږي، او بچی د کمزورۍ سره مخامخ کېږي.
او دلیل به ئې د پیغمبرﷺ په دغه حدیث باندي پېش کوی، چي هغه بچیانو ته د لمانځه کولو د حکم دپاره د اوو (۷) کالو د عمر قید لګولی دی.
چي کله بچی اوه (۷) کاله ته ورسیږي، نو بیا کرار کرار پر ده باندي د تعلیم بوج اچول، تر هغه وخته پوري چي دی لس (۱۰) کاله ته رسیږي، چي کله لس (۱۰) کاله ته ورسیدی، نو په دې وخت کي پیغمبرﷺ صرف دا نه چي د تادیباً وهلو اجازت ئې کړی دی، بلکه د وهلو حکم ئې کړی دی، چي که چیري اوس دی لمونځ نه کوي، نو تاسو به ئې وهئ.

## د بچیانو د وهلو حد:

په دې خبره هم سر خلاصول په کار دي: چي د استاذ دپاره یا د مور او پلار د پاره بچی تر هغه حده پوري وهل جائز دي، چي د هغه څخه د بچي پر جسم باندي تغمه یا نښان جوړ نه سي.(۱)
ننسبا چي کم د بې تحاشه وهلو دور او وخت دی، دا په هیڅ شکل جائز نه دي، لکه زموږ په بعضو مکاتبو او مدارسو کي چي د وهلو کم رواج دی، پښې ئې ور تړلي وي، او باقاعده ئې د وهلو دپاره نور انسانان ورته درولي وي، او په دا شان ئې وهي: لکه یو څوک چي په یو مجرم باندي اقرار کوي، چي د ډېرو وهلو په وجه د هغه پر بدن باندي زخمونه جوړیږي، او کله کله خو د هغه د بدن څخه وینه راوزي.
دغه عمل دومره لویه ګناه ده: حکیم الامت حضرت تهانوي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي زما په دې سر نه خلاصیږي، چي د دغه ګناه دمعافی به څه شکل وي، ځکه چي د دغه ګناه معافي به دی دچا څخه غواړي، که ئې د بچي څخه غواړي

(۱) ردالمختار: جلدنمبر ۳: صفحه نمبر ۲۰۸

نو هغه خو نابالغ دی، او د معافی اهل نه دی، که ئې چيزي معاف هم کړي، د هغه معافي شرعاً معتبره نه ده. (۱)

نو ځکه د استاذ او مور او پلار د پاره مناسب داده: چي بچی په دا شکل نه ووهي، چي د هغه په وجه د ده پر بدن زخم يا نښان جوړ سي، البته د ضرورت ماتحت چي په کم ځای کي وهل ضروري و ګرځي، نو صرف په هغه وخت کي شريعت د وهلو اجازت ور کړی دی.

## د بچيانو د وهلو طريقه:

د بچي د وهلو دپاره حکيم الامت رحمة الله عليه عجيبه نسخه بيان کړې ده: چي کله د اولاد د وهلو ضرورت دي محسوس کړی، يا دي و هغه ته د غصې کولو ضرورت محسوس کړی، نو چي کم وخت تالره غصه درغلې وي، نو هغه وخت ئې مه وهه، بلکه چي کله دي غصه سړه سوه، نو په دې وخت کي مصنوعي غصه پيدا کول او بچی وهل.

ځکه که چيري د غصې په وخت کي ته بچی وهې، نو په هغه وخت کي بيا انسان پر حد باندي قائم نه سي پاته کيدای، بلکه د انسان څخه د خپلي غصې په وجه تر حد تجاوز کيږي، او ډير ځله هغه دومره جرم نه وي کړی، صرف ته خپله غصه ور باندي کاږې، نو د هغه په وجه ډير درڅخه وهل کيږي، حالانکه پر چا باندي غصه کښل او د غصې کښولو په وجه وهل ګناه ده.

لېکن چي کله د غصې وخت تير سي، او بيا وروسته ته مصنوعي غصه پيدا کړې، او ده ته سزا ورکړې، نو بيا به انشاء الله ستا سزا د ده د جرم سره برابره وي، او په هغه سزا کي به ستا د خپلي غصې کښولو څه دخل نه راځي.

د دې څخه دا معلومه ده: چي د ضرورت په وخت کي بچي ته انسان سزا ورکولای سي، لېکن نن سبا زموږ په معاشره کي افراط او تفريط دی، کم څوک

---

(۱) اصلاحی خطبات: جلد نمبر ۶: صفحہ نمبر ۳۵

چي ئې وهي، نو هغه هم تر حد په هغه وهلو کي تجاوز کوي، او بعض خلګ بيا بالکل وهل پرېږدي، او دا وايي: چي د بچي وهل مناسب نه دي، حالانکه دا دواړي خبري غلطي دي، بلکه د اعتدال لار هغه ده، چي پيغمبرﷺ بيان کړې، ده.

## د اولاد سره دري (۳) سلوکه کول:

يو ځل حضرت معاويهؓ د احنف بن قيسؓ څخه پوښتنه وکړه، چي د اولاد سره څنګه سلوک کول مناسب دي؟

هغه په جواب کي ورته وويل: امير المؤمنينه! اولاد زموږ د زړونو ميوه ده، او زموږ د ملا تکيه ده، او زموږ حيثيت د دوی دپاره د نرمي او بې ضرره مځکي غوندي دی، او زموږ وجود د دوی دپاره د سايه کونکي آسمان غوندي دی، موږ د دوی په ذريعه د ډېرو لويو کارو انجامولو همت کولای سو، موږ بايد د دوی سره دري (۳) عمله وکړو، بيا به هيڅ کله دوی ناراضه نه سي.

1. که چيري دوی زموږ څخه څه مطالبه وکړي، نو بايد دوی ته پوره ورکړه وکړو.
2. او که چيري دوی پرېشانه وينو، نو د دوی د زړونو غم ليري کړو، د هغه په نتيجه کي به دوی زموږ سره محبت کوي، او زموږ پلارني کوششونه به دوی خوښوي.
3. او پر دوی بايد ناقابل برداشت بوج نه واچوو، چي په زندګي کي دوی زموږ د نزديکت څخه نفرت شروع کړي، او زموږ د مرګ غوښتونکي سي.

حضرت معاويهؓ چي دغه د حکمته ډکي خبري واورېدلې، نو ډېر متأثر سو، او وئې ويل: ای احنفه! په خدای قسم چي کم وخت ته مالره راتلې، نو په هغه وخت کي زه د خپل بچي يزيد په خلاف د غصې ډک ناست وم.

يا چي كله حضرت احنفﷺ د حضرت معاويهﷺ څخه رخصت اخلي، نو د ده غصه سره سوې وه، او د يزيد څخه راضي سوی وو، او په دې وخت كي ده يزيد ته دوه سوه(٢٠٠) دراهم او دوه سوه(٢٠٠) جوړې ورواستولې، يزيد ته چي كله هغه راورسېدل، نو برابر ئې سره تقسيم كړل، نيم ئې د ځان سره راوګرځولې، او نيم ئې د حضرت احنفﷺ حضور ته ورواستول.(١)

## د اولاد د تربيت بنياد:

زه ستاسو په حضور كي په آخر كي دا يوه خبره پېشوم: چي ګورئ! د اولاد د تربيت اصلي بنياد د مور او پلار زندګي ده، او اولاد اصلي اخذ د مور او پلار د زندګۍ څخه كوي.

كه چيري دوی د مور او پلار زندګي په ښه تربيت او ښو اعمالو كي ووېني، نو د دوی په زندګي كي ضرور ښه تربيت او ښه اعمال پيدا كيږي.

لېكن خدانخواسته كه چيري دوی د مور او پلار زندګي په نفرتونو، بغضونو او بدو اعمالو كي ويني، نو هغه د دوی پر زندګي ضرور اثر اچوي.

نو د اولاد د تربيت آسانه طريقه دا ده: چي مور او پلار دي د اولاد و مخته هغه زندګي تېره كړي، چي دوی خپل اولاد په كم شكلِ جوړول غواړي، د دوی زندګي د اولاد په مغزو كي په آسانه ځای نيسي.

الله تعالى دي مور او تاسو ته هغه اولادونه راكړي، چي زموږ د سترګو خنک والي جوړ سي، او الله تعالى دي موږ ته د دوی په هكله د ښه تربيت د نظم جوړولو توفيق رانصيب كړي، او الله تعالى دي دا څو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

---

(١) آداب زندګي: صفحه نمبر ١۶۴









مکتبۃ الهاشمیہ